# زرينې پاڼګي

سيال کاکړ

الګوري

دامې غاړې

برغازی

بلندی

پښتو کيسې

دکوشنيانو سندري

فالونه

فولکلوري کچکول

ناسري ګاون

تامېووالو بدلګي

افغان څېړنيز مرکز کوټه

Download from:aghalibrary.com

1

دغه ټوله اثاثه د لوی ملت ده

چې یادیږي په نامه افغان ملت دا

# زرينې پانګې

(د پښتني فولکلور د بېلا بېلو ټولونو او څېړنه)



پروفيسر سيال کاکړ

افغان څېړنیز مرکز، کوټه

Download from:aghalibrary.com

د «افغان څېړنيز مرکز» د خپرونو پر له پسې شمېره: ۱

افغان څېړنيز مرکز، کوټه

Afghan Research Centre,Quetta

مشر او مسؤول چلوونکی : پروفېسر سيال کاکړ

ددې اثر لنډې ځانګړنې


د کتاب نوم : زرينې پانګې

(د پښتني فولکلور د بېلا بېلو ډولونو ټولونه او څېړنه )

ليکوال : پروفېسر سيال کاکړ

خپرندويه ټولنه : افغان څېړنيزمرکز ،کوټه

لومړی چاپ : مارچ ۲۰۱۲ م

مخونه : ۴۱۶

کچه : ۱۶÷۳۶×۲۳

مطبعه : يونايټيډ پرنټرز،کوټه

طابع : ښاغلی رفيع الله جان

خطاطي او ډيزاينيګ : استاد ګل راز محمد راز

کمپوزر : ګران ضياء الله توخی

بيه :


Download from:aghalibrary.com

# ...فهرست...



| شمېره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | ...اهـــــــــــداء... | ۸ |
| ۲ | رنـګا رنګ پانګې راغلـې په کتاب کې پښتنې فولکلور په مینه ماخوندي کړئ | ۹ |
| | ۱. دامي غاړي | ۱۳ |
| ۱ | د اتڼ نارې یوه ملي اثاثه ده | ۱۴ |
| ۲ | د نارو بېلا بېل نومونه | ۱۵ |
| ۳ | اتڼ بازان او نارې | ۱۵ |
| ۴ | د نارو جوړوونکي او ویونکي | ۱۶ |
| ۵ | ځینې نارې په یوه ځانګړې سکنل پیل کیږي | ۱۷ |
| ۶ | د نارو تصنیف بندي | ۱۸ |
| ۷ | نارې که دیواني شعرونه ؟ | ۲۵ |
| ۸ | د نارو ادبي خصوصیات | ۲۶ |
| ۹ | د نارو جوړښت | ۲۷ |
| ۱۰ | د نارو ادبي سکښت | ۲۸ |
| ۱۱ | د نارو سرچینه کندهار که کاکړستان ؟ | ۳۶ |

| شمېره | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| | ۲. الاخوري | ۱۲۷ |
| ۱ | دا پانګه | ۱۲۸ |
| ۲ | د الاخورو بېلا بېل نومونه | ۱۲۹ |
| ۳ | د الاخورو تصنيف بندي | ۱۲۹ |
| ۴ | د الاخورو جوړښت او تقطيع | ۱۳۵ |
| ۵ | د الاخورو ادبي خصوصيات | ۱۴۰ |
| ۶ | د ښادۍ بدلي په چاپي آثارو او مجلو کي | ۱۴۰ |
| ۷ | د کاکړستان او کندهار د ښادۍ په بدلو کي يو والی | ۱۴۶ |
| | ۳. بلندۍ | ۱۶۲ |
| ۱ | بلندۍ د واده په ورځ ويل کيږي | ۱۶۳ |
| ۲ | د بلنديو ادبي خصوصيات | ۱۶۴ |
| ۳ | د ځينو لنډو بلنديو خوږجنه ژبه | ۱۶۵ |
| ۴ | د بلنديو سرچينه کاکړستان دئ | ۱۶۶ |
| ۵ | د بلنديو تصنيف بندي | ۱۶۶ |
| ۶ | د بلنديو جوړښت او تقطيع | ۱۶۸ |
| ۷ | د بلنديو په سمسوره لمن کي د ځينو کسانو نومونه ژوندي پاته دي | ۱۸۵ |
| | ۴. برغازۍ | ۲۰۲ |
| ۱ | د برغازيو بېلا بېل نومونه | ۲۰۳ |

| شمېره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۲ | د برغازیو پیدایښت او سرچینه | ۲۰۳ |
| ۳ | د برغازیو خصوصیات او نیمګړتیاوي | ۲۰۴ |
| ۴ | د برغازیو د ویلو یو ځانګړی انداز | ۲۰۵ |
| ۵ | پر برغازیو باندي سوی کار | ۲۰۶ |
| ۶ | اوس خلک په برغازیو شرمیږي | ۲۰۶ |
| ۷ | د برغازیو ادبي جوړښت او تقطیع | ۲۰۷ |
| | ۵. د کوشنیانو سندري | ۲۴۹ |
| ۱ | د کوشنیانو و سندروته یو ه لنډه کتنه | ۲۵۰ |
| ۲ | د کوشنیانو سندري ( ګړي ما ګړي=ګړي مړي) | ۲۵۳ |
| | ۶. پښتو کیسې | ۲۸۰ |
| ۱ | د پښتو و کیسیو ته یوه لنډه کتنه | ۲۸۱ |
| ۲ | پښتو کیسې په چاپي آثارو کي | ۲۸۳ |
| | ۷. فولکلوري کچکول | ۳۰۹ |
| ۱ | ښراوي ( ښېراوي) | ۳۱۰ |
| ۲ | دعاوي ( دعاګاني) | ۳۱۳ |
| ۳ | پښتني نومونه | ۳۱۵ |
| ۴ | د ناز نومونه | ۳۱۷ |
| ۵ | یوکاني ( لوړي) | ۳۱۸ |
| ۶ | تکیه کلامونه | ۳۲۱ |

| شمېره | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۷ | منظومي کېږي | ۳۲۳ |
| ۸ | لقبونه (کسرونه) | ۳۲۵ |
| ۹ | د لقبونو جوړښت او تقطيع | ۳۲۶ |
| ۱۰ | د لقبونو غوري نمونې | ۳۳۰ |
| ۱۱ | فولکلوري بدلي | ۳۳۵ |
| | ۸.فالونه | ۳۳۹ |
| ۱ | د فالونو پيدايښت | ۳۴۰ |
| ۲ | د فالونو جوړوونکي او ويونکي | ۳۴۰ |
| ۳ | د فالونو ځانګړي مطالب | ۳۴۰ |
| ۴ | د فالونو ځانګړي کسرونه | ۳۴۲ |
| ۵ | سيمه ايز فالونه يو و بل ته سره ورته دي | ۳۴۲ |
| ۶ | په پښتني ټولنه کي د فالونو ارځښت | ۳۴۴ |
| ۷ | د فالونو جوړښت او تقطيع | ۳۴۵ |
| ۸ | د برات په ېنځلسمه شپه فولکلوري مراسم | ۳۴۹ |
| ۹ | فالونه په چاپي آثاروکي | ۳۵۱ |
| ۱۰ | فالونه په کندهارکي | ۳۵۲ |
| ۱۱ | د لومړيتوب وياړ | ۳۵۶ |
| ۱۲ | پالې(PALE : فالونه) | ۳۵۶ |
| ۱۳ | د پالې (PALE)خوندوري نمونې | ۳۵۸ |
| | ۹.تامبُوالي بدلي | ۳۶۷ |

| شمېره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | د تامبُووالو بدلو جوړوونکي او ویونکي | ۳۶۸ |
| ۲ | د ناسري اتړ کسرونه | ۳۶۸ |
| ۳ | د تامبُووالو بدلو ادبي وېش | ۳۶۹ |
| ۴ | د تامبُووالو بدلو جوړښت او تقطیع | ۳۷۲ |
| ۵ | د تامبُووالو بدلو خصوصیات | ۳۷۷ |
| ۶ | ناسري ګړدود | ۳۷۷ |
| ۷ | د تامبُووالي بدلي: یوه څېړنه او څرګندونه | ۳۸۲ |
| ۸ | د تامبُووالو بدلو رنګیني نمونې | ۳۸۵ |
| | ۱۰. ناسري ګاوڼ | ۴۰۳ |
| ۱ | د ګاوڼ د بدلو پیدایښت | ۴۰۴ |
| ۳ | د ګاوڼ د بدلو جوړوونکي او ویونکي | ۴۰۴ |
| ۳ | د ګاوڼ بدلي<br>دپښتني فولکلور یو ځانګړي ډول تشکیلوي | ۴۰۵ |
| ۴ | د ګاوڼ د بدلو ځانګړی کسر | ۴۰۶ |
| ۵ | د ګاوڼ د بدلو ادبي سکښت او تقطیع | ۴۰۶ |
| ۶ | د ګاوڼ د بدلو ادبي خصوصیات | ۴۰۸ |
| ۷ | د لومړیتوب ویاړ | ۴۰۹ |
| ۸ | د ګاوڼ د بدلو ځیني غوره بېلګي | ۴۱۱ |
| ۹ | پوهاند سیال کاکړ | ۴۱۴ |

# اهداء

**لوی نوري او ګران رفیع راباندې ګران دي**
**انتساب ددې کتاب د دوی په نوم سو**

## زريني پانګې

چې زما یو نیمګړی زیار او ناموزه کار دی،

په خورا اخلاص او پښتني مینه و

ـــ ارواښاد علامه محمد ګل خان نوري

ـــ او شمس الادباء جناب حبیب الله رفیع

ته اهـداء سو.

**سیال کاکړ بل څه نه لري په لاس کې**
**چې نوري او ګران رفیع ته یې ډالۍ کړي**

په درناوي

سیال کاکړ

۱۷ / جنوري ۲۰۱۲ م کوټه

# رنګا رنګ پانګې راغلې په کتاب کې
# پښتني فولکلور په مينه ما خوندي کړې

دايو حقيقت دئ، چي پښتانه د دنيا په تاريخ کي د يو ښه نامه خاوندان دي . خپل جغرفيايي موقعيت لري، روښانه ماضی او وياړلی تاريخ لري . خپله ژبه لري . دود لري، دستور لري، د ژوندانه ځانګړی قانون لري . وياړونه لري، ملي مشاهير او منلي روايات (Traditions)لري . فولکلوري مواريث (Folk Heritage) او خورا په زړه پوري ليکلنی ادب (Written Literature)لري . پښتنو خپل ټول زباني روايات (Oral traditions)د پښتني فولکلور په ويړه لمن کي تر دا وخته پوري ژوندي ساتلي دي . خو د وخت په تيرېدو سره پښتني فولکلور ته زيات تاوان رسېدلی دئ . خو دا حقيقت به منو، چي اولينو پښتنو د ګراني پښتو رنګار رنګ فولکلوري پانګي و موږ ته خورا په ا يمانداري له يوې زماني څخه وبلې زماني ته، خوله په خوله او سينه په سينه (Orally transmitted)را سپارلي دي.

اوس زمانه چي خور، په بيړه مخ په وړاندي روانه ده، نو زموږ په دې ساينسي دور کي د پښتني فولکلور سباوون چنداني روښانه نه معلومېږي . او بيا په يو داسي چاپېريال کي چي ګرانه پښتو د نورو ژبو تر کلتوري يرغل لاندي وي، نو په داسي صورت کي لازمه ده، چي د پښتونخوا په بېلا بيلو سيمو کي د پښتو فولکلوري پانګي را ټولي او د علمي مؤسسو له خوا پس له څېړني په کتابو کي خوندي سي .

موږ باید د زماني و رفتار ته وګور او بیداري وکړو ، چي د پښتونخوا په غرو او رغو کي د پښتني فولکلور پاشلي او شو پټو ملغلري د ورکېدو څخه وژغوو . وخت نور زموږ انتظار نه کوي . زموږ ادیبانو او د پښتني فولکلور څېړونکو ډېر قیمتي وختونه له لاسه ورکړي دي . بیا ملي فولکلوریسټ استاد محمد ګل خان نوري نه را ژوندی کیږي ، چي د پښتني فولکلور په ښایسته اوربل کي رنګا رنګ فولکلوري ګلان وروټومبي . اوس دا د لویي تاریخي پښتونخوا د هري سیمي د ادیبانو او فولکلور څېړونکو ملي وظیفه ده ، چي دوی په پښتني احساس او افغاني جذبه د خپلي خپلي سیمي بېلا بیلي فولکلوري پانګي را غونډي او پخپلو ځانګړو آثارو کي يې خوندي کړي .

ښکاره خبره ده ، چي د دنیا ټول هېوادونه د خپلو ژبو و فولکلور (Folklore)او فولکلوري (Folkloric) اثاثو ته په خورا درنه سترګه ګوري . دوی خپل لرغوني فولکلوري مواریث را ټولوي او بیا يې په مجلو ، ځانګړو کتابونو،موزیمونو او ملي آرشیفونو کي خوندي کوي . د فولکلور په میدان کي روس جرمني ، فرانس ، امریکا ، انګلستان ، جاپان ، ایران ا و عربي هېوادونو د ویاړ وړ کارونه تر سره کړي دي .

خو له بده مرغه ، پښتانه لاتر اوسه پوري د پیل په غوږکي بیده دي . نه یوا زي دا چي زیاتره پښتانه و فولکلور ته چټیات او خرافات وایي ، بلکي دوی هغه کسان چي پښتني فولکلور راټولوي او یا يې په کتابو کي خوندي کوي ، همېشه يې پر سر سر وهي . او د ډاګیرني پر خای يې پر ملا غوټ ماتوي . نو دیوه ملت د وګړو چي دا حال وي ، نو د پښتني فولکلور دي خدای وزله

وکړي . کور يې د هغه ختيځ پوهانو (orientalists) ودان ،چي لومړی وار يې د پښتني فولکلور ځيني خوندوري او په زړه پوري پانګي په بيدو پښتنو وپيژندلې .

له ښه مرغه ، اوس په لره او بره پښتونخوا کي داسي ملي خادمان پيدا سوي دي ، چي دوی د پښتني فولکلور په اهميت (Importance) خبر او په خوندي کولو يې بوخت دي . هغه ورځ ليري نه ده . چي و پښتنو محصلينو ته به په ښو ونځيو، پوهنځيو او پوهنتونونو کي پښتني فولکلو ر ويل کيږي . او داسي وخت به راسي ، چي زموږ باسواده کهول به په پښتني فولکلور وياړي او دنياوال به د ژباړو له لاري پخپلو فولکلوري پانګو خبروي . موږ به نه يو ، خو په لويه تاريخي پښتونخوا کي به د پښتني فولکلور د اهميت او اځښت ازانګې شاوخوا خورې وي . او که خدای کول ، پښتانه به د پښتني فرهنګ په راژوندي کولو اوخپرولو بوخت وي .

ما پخپل ژوند کي د کاکړستان ټولي فولکلوري حوزې تر پښو لاندي کړي دي . د خلکو سينې مي شنلې او په ډېر مهارت مي د دوی له سينو څخه خام فولکلوري مواد را ايستلی دئ . د همدې ادبي مسافرتونو برکت ؤ ، چي و ماته د پښتني فولکلور خورا خوندوري او په زړه پوري پانګي په لاس راغلې . زما د غه نيمګړی کتاب و کاکړستان ته زما د ادبي مسافرتونو يو کتور محصول دئ .

په دې کتاب کي د پښتني فولکلور بېلا بېل ډولونه خوندي سوي دي . هر صنف مي په لنډ ډول څېړلی دئ ، او ماته ګوډه ليکنه مي پر کړې ده . اوس دا د درنو څېړونکو کار دئ ، چي زما ودې

نیمگړي زیار او خواري ته په کوم نظر گوري . ښه به دا وي ، چي پیاوړي نقادان د سالم نقد په رڼا کي « زرینې پنگې » وڅېړي . او د معیاري او اصولي نقد غوښتني پر ځای کړي . په همدې کي د پښتو خیر او زموږ د ټولو گټه ده .

په پای کي و منلي ملگري او پیاوړي خطاط استادِ گل راز محمد راز ته کوروداني وایم ، چي د خپل هنر په برکت یې زما د دې نیمگړي کتاب وټایټل (Title) ته لا فاني ځلا اوښکلا ورپه برخه کړه . دغه راز زه د گران ضیاء الله توخي د مینې او اخلاص پوروړی یم ، چي پخپلو هنري او سترو کوتو یې زما و فولکلوري زیار ته هنري ښایست او ابدي ژوند ور وبخښئ . دغه دواړه گلالي انسانان دې پخپل ژوند کي همېشه ښاد او آباد اوسي . نور نو « زرینې پانگې » ستاسي و درانه حضور ته وړاندي کیږي . ویې لولئ او په پښتني فولکلور ځانونه خبر کړئ . په پای کي تش دومره وایم چي :

گرځېدلی یم پر ټول کاکړستان زه
فولکلور ي پانگې خوندي کړې ما په مینه

په درناوي

سیال کاکړ

۱۷ / جنوري ۲۰۱۲ م کوټه

# دامی غاړي

## (کمري غاړي = د اتڼ ناري)

په کلتور باندي غني کاکړستان دئ
د امی غاړي سوغات دئ ددې خاوري

❀❀❀

فولکلوري ناري خوندي سوې په کتاب کي
ټولي کړي سيال کاکړ له خپل اولسه

❀❀❀

زما نوکان پسې وتلي کرانه وروره
خام مواد را ټولول څه اسان نه دئ

❀❀❀

شکر شکر د اتڼ تاري خوندي سوې
بيا بې وايي پښتانه په اتڼوکي

❀❀❀

پښتني اتڼ ته يو وار چې وګورم
احساسات زما يو دم په غورځنګ راسي

# د اتڼ ناري يوه ملي اثاته ده

د اتڼ تاريخ ښخي زوړ او لرغونى دئ . پښتنو په آريايي دوره کي لا اتڼونه کول ، خو ناري يې ييا وروسته جوړي سوي دي . زياتره پښتانه ډول ډول اتڼونه لري ، خو په پښتنو کي ييا ځيني قبيلې داسي سته ، چي اتڼونه خو لري ،خو ناري نه خو جوړي کړي او نه يې ورسره وايي .

حقيقت خو دا دئ ، چي د اتڼ ناري د پښتني فولکلور په منظومه برخه کي يو خورا درونـد باب تشکيلوي . دا ناري ښځمنو او سړيو په ګډه جوړي کړي دي ، چي البت د ښځمنو ونډه په کي زياته ده . دغه په زړه پوري او خوندوري ناري اوسني نسل ته له پخوا زمانې څخه خو له په خوله او سينه په سينه ورپاته دي . همدوی يې ساتندوی او راتلونکي کهول ته به يې د يو ملي امانت په ډول سپاري .

د اتڼ ناري په کاکړستان کي دي که په کندهار کي ، په زابل کي دي که په وردګو کي ، په پکتيا کي دي که په لوګر کي ، په تيراه کي دي که يا د لويي تاريخي پښتونخوا په بله ... سيمه کي ، د ټولو پښتنو ګډه فولکلوري پانګه او مشترکه ملي اثاثه ده . په دې ګډ ميراث کي ټوله پښتانه برخه وال او د ونډي حقداره دي .

زه دا خبره په ډاډه زړه کوم ، چي د اتڼ ناري نور ي نه جوړيږي بس هغه زړې بابولالي دي ، چي خلک يې په اتڼونو کي وايي . البت په لويه تاريخي پښتونخوا کي يوازي د کاکړستان فولکلوري حوزه داسي ده ، چي تر اوسه پوري ويرجني او انتقامي ناې په کي جوړيږي .

# د نارو بېلا بېل نومونه

په اتڼ کې چې کومې سندرې ویل کیږي ، هغه په لویه تاریخي پښتونخوا کې په عمومي ډول نارې (nāre) بلل کیږي . د کاکړستان په یوه ځانګړې کلتوري حوزه کې وهمدې نارو ته خلک «د امې غاړي» وایي . البت په همدې کاکړستان کې ځینې خلک بیا د اتڼ نارې یا په بله ژبه دامې غاړي «کمري غاړي: kamári gǎṛi » بولي ..و بیا پخپله د کاکړستان په ځینو سیمو کې کاکړان د اتڼ و نارو ته د اتڼ غاړي وایي .

خو خیر ... اتڼ دئ که امې ، لوبه ده که لبه ، کډا ده او که بل ... څه ، د ا تڼ په خیالو ور نارو او د امې په نازنینو غاړو یې خوند ښه او رنګ یې په ښایسته دئ . حقیقت خو دا دئ ، چې له یو کسیز اتڼ څخه نیولې بیا تر ملي اتڼه پورې د لرې او برې پښتونخوا ټول اتڼونه په لیدو ارزي .

# اتڼ بازان او نارې

پښتانه ډول ډول اتڼونه کوي . او بیا پخپله په پښتنو کې ځینې قبایل ځانګړي اتڼونه لري . د ساري په ډول د کاکړو ، بړیڅو ، غلجیو ، پکتیاوالو ، تیراه والو او لوګروالو اتڼونه وړاندې کولای سو . خو د هر چا د اتڼ خپل خوند او جلا رنګ وي . البت ځینې اتڼونه خورا جالب او ځینې بیا د خپلو سستو حرکاتو په وجه دنچسپ نه بریښي .

پښتانه اتڼچیان یا په بله ژبه اتڼ بازان د اتڼونو په بېلا بیلو ډولونو کې رنګ په رنګ نارې کوي . معمولاً په اتڼونو کې دوه ګروپونه (groups) تشکیل مومي . لومړی وار د یوه ګروپ یو اتڼ باز د اتڼ یوه ناره په ځانګړې انداز کې پورته کړي . او بیا وروسته دده خپل ملګري د هم هغې نارې لومړی بیت په مکرر ډول ورسره وایي . دغه راز په اتڼ کې د دوهم

کروپ یا ډلي اتنچیان د همدې نارې دوهم بیت پخپل ځانګړي وزن کي ورسره بشپړ کړي . اتڼ بازان د اتڼ په نارو کي ځیني مخصوص کلمات لکه: «وای : wāy» ، «های : háy» او یا بیا په ښځینه اتنو نو کي «هوشي : hūsi» «الاوی: alawə́y» ، «هو : ho» ، «یا : yā» ، «ای هم : ay hum » او یا بیا «تړي : Taṛi» ورزیاتوي. ددې مهملاتو لویه ګټه دا ده ، که ځیني وخت د اتڼ په یوه ناره کي سکته (break) راسي ، نو اتڼ بازان د همدې مهمل کلماتو په وسیله د نارې سکته وربشپړوي .

دغه راز د کاکړستان د بوري ، قلعه سیف الله کاکړ، خرسان او ږوب پښتني ښځمني او نرکاڼي د اتڼ په نارو کي ځیني ځانګړي کملمات ورزیاتوي ، چي مثالونه یې په دې ډول دي : جیو (jew)، وی (w ə́ y)، ای (aə́y) ، خوری (x̌orə́ y)، هوی (hoə́y) او یا بیا جار (jār)

## د نارو جوړوونکي او ویونکي

د اتڼ نارې چي یوه ډېره پخوانۍ او لرغوني فولکلوري پانګه ده ، زموږ و دې نوي کهول ته له وختیرو زمانو څخه خوله په خوله او سینه په سینه ور پاته ده . ددې جانانه او نازنینو نارو جوړوونکي او ویونکي پښتني ښځمني او نرکاړي دي . زموږ دې بې سواده وګړو داسي معیاري او خوندوري نارې جوړي کړي دي ، چي له هغه وخته بیا تر دې وخته دا تڼ په بېلا بیلو ډولونو کي ویل کیږي .

ښکاره خبره ده ، چي اتڼ د پښتني کلتور ښکارندوی دئ . د اتڼ کډون وال بې سواده او باسواده دواړه وي . نروي که ښځي ، خوانان وي که پېغلاني ، سپین ږیري وي که سپین سري ، ماشومان وي که کوشنیاني ، په پښتني تولنه کي هر څوک اتڼ خوښوي . او په ډیره مینه ، جذبه او ولوله برخه په کي اخلي . او ځانونه د ستړیا و آخري حد ته رسوي . چي ترڅو

پوري پښتانه ژوندي دي ، ډول ، سُرنا او اتڼ به په پښتني ټولنه کي د فولکلوري نارو په ملتيا ژوندی پاته وي . سمسور دي وي پښتني اتڼ ، پاته دي وي د اتڼ نارې. او ژوندي دي وي پښتانه اتڼ بازان او اتڼچيان .

# ځيني نارې په يوه ځانګړې سګنل پيل کيږي

په پښتني اتڼ کي که هغه د ښځمنو وي او يا د سړيو ، رنګ په رنګ خوندوري نارې ويل کيږي . خو د نرکارو په اتڼ کي ځيني نارې بيا داسي دي ، چي په کي هر ه يوه په يوه خاص آهنګ او ځانګړي سګنل (signal) پيل کيږي . په نارو کي دا مخصوص فولکلوري علامتونه د يوې نارې د يوې مسرې ضرورت په ښه ډول بشپړ وي . او په نارو کي يو ځانګړی خوند پيدا کوي . دلته ځيني سګنلونه (signals) چي د اتڼ په نارو کي خوندي سوي دي ، د نمونې په ډول وړاندي کيږي :

۞ دلـه دلـه دلـه ۞ دوري دوري دوري۞دنده دنده دنده۞ دونـه دونـه دونه ۞راسـه راسـه راسه۞ کشـه کشـه کشه۞کوسي کوسي کوسي۞نجونـه نجونه نجونه ۞هاره هاره هاره۞ ياره ياره ياره ۞ توري توري توري ۞ هېلـه هېله هېله۞ زيه زيه زيه ۞ کـنده کنده کنده۞ د هـنده دهنده دهنده ۞ هاړه هاړه هاړه ۞رسي رسي رسي ۞تخته تخته تخته او داسي نور ...۞ په ظاهره خو دغه توري مهملات ښکاري ، خو ډېر په زړه پوري او جالب کلمات دي . او دغه آهنګ داره توري د اتـڼ پـه نـارو کـي يو ځـانګړي نقش لري . ۞ ټولـه ټوله ۞ځـوبـه ځـوبـه ځوبه ۞ تُـند دئ تُـند دئ تُند دی ۞ رغبتـه رغبته رغبته ۞ دوري دوري۞ زکه زکه زکه

# د نارو تصنيف بندي

په پښتني فولکلور کي د اتڼ نارې ډيري غني ، شتمني او په ډول ډول رنګينو مطالبو پسوللي دي . دلته د همدې نازنينو نارو تصنيف بندي د نارو په ملتيا ته ستاسي و درانه حضور ته وړاندي کيږي :

# ۱. عشقي نارې

عشق او مينه د انسان په خټه کي اخښلي وي . په چا کي لږ او په چا کي بيا زياته وي . په دنيا کي به داسي سړی نه وي ، چي پر کو کل يې د ميني او عشق تودې لمبې نه وي را ګرځېدلي . موږ د اتڼ په نارو کي د عشق او ميني بل سوي اورونه له ورايه ليدلای سو . حقيقت خو دا دئ ، چي د اتڼ زياتره نارې په عشقي مطالبو پسوللي دي . اتڼ بازان د اتڼ په بېلا بيلو ډولونو کي اکثره عشقي نارې وايي . اوخپل ستړي او زهير زړونه په ګرموي . د ساري په ډول دالاندي نارې وګورئ :

ای د هـــنـــجــو نـــاره    تل مدام په ګرنګونو کي ولياړه
وســمــه تــه راتــوســه    ځي د وينم په ګج وهلکي غاړه

✿✿✿

زکـــه زکـــه زکـــه    ما د خوني پر سر وليده نازکه
يـوه يـې سپينـه خـولـه وه    بل يې تور پېکی لوکوي پر مځکه

# رزمي نارې

په دې نړانده دنيا کې چيري چي بزم وي ، په څنګ کي يې رزم وي . نو په همدې اساس موږ د اتڼ په بېلا بيلو نارو کي د بزميه شاعري په

رک ځنګ کي رزمیه سندري لیدلای سو . البت ددې دواړو خوند او رنګ سره بېل وي . پښتنو د تاریخ په اوږدو کي جنګونه کړي او لا تر اوسه پوري په اخته دي . دلته د نارو له سمسوري کروندې ځخه ځیني رزمي نارې د نمونې په ډول وړاندي کیږي :

کــه نــري دي د بـغـاوي نـل نـري دي
سـي جـنـګ کوي « لونې » دي　　سي سمندي کړیي ایدر زیي دي

✿✿✿

کړدي دي « میرزیي» ځوانان کړدي دي
پـــه مـلاکـــي کـمـــر بـنـدي　　پر اوږو یې د توپکو شنه لوکي دي

✿✿✿

# انتقادي نارې

د نارو ور پښمینه لمن په ډیرو ښایسته ګایو او ګڼو ور خبرو ډکه ده. په دې فولکلوري دریاب کي هر سړی د خپلي خوښي او مطلب ناره پیدا کولای سي . زموږ ښځمنو او نرګانو د پښتو په دې فولکوري پانګه کي خپل انتقادي نظرونه او نیوکې په ډېره ښایسته پیراکي ځای کړي دي ، چي د نـارو ارځښت او اهمیت یې ور زیات کړي دئ . د مثال په ډول دا لاندي نارې و ګورئ :

اصیـــلـــــه پـــتـــــه داره　　زبه نه لري د هري خر ې په غاړه
کـــــه دې زبـــــه درلـــوواي　　دا به هم واي د یوې یوې په غاړه

✿✿✿

پـــه لاس مـــه لاس مـــنـدي دي　　پر وهلي مه د سرو زرو غمي دي
یـــو بـــــه پـــر ورنـــــه کــم　　اوسني ځوانان ځلور په اباسي دي

✿✿✿

# طنزيه او مزاحيه نارې

طـنـز (satire)اومـزاح (humour )د ادب دوې څـانـګـړې برخـې بلل کيږي . د دنيا ټولې ژبې په طنزيه او مزاحيه مطالبو پسوللي وي . دغـه راز مورږ د ګراني پښتو پـه وګـړنـي (Folk)او ديواني ادب (written literature) کـې طـنـزيه ګايونه او مزاحيه مطالب ليدلای سو . د اتڼ نارې چې د پښتني فولکلور يو غني او خورا لوي څپرکی تشکيلوي ، پخپله قيمتي لمن کي و طنزيه او مزاحيه مطالبو ته لوی ځای ورکوي . په دې لړکي يو شمير خوندوري نارې د نمونې په ډول وړاندي کيږي :

| | |
|---|---|
| زمـوږ د ګـلـي نـجـونـه | پـه چمن کـي راتـه ګـرځـي لګـه پسونه |
| د نـجـونـو پـه لونګ وو | ای ، د دوی لـه ريـچـو ډک دي ټپـرونـه |

✿✿✿

| | |
|---|---|
| کـټ مه د کوټې وړوکي ! | کـټ مـه د کـوټـې پـه سوري پروت دئ |
| درځـئ سی سره ورسو | پلستکي پر چای ناست ګرنکې څڅري |

# انتقامي نارې

ښـکـاره خبره ده ، چي پـه پښتنو کي له هغه وخته خپل منځي جـنګونـه او قبـايلـي شخړی را رواني دي . د تاريخ په اوږدو کي پښتني ټولـنـي امنيت (Peace) پـه ستړګو نـه دئ ليدلـئ . پـه پښتنو کي تر بور ګلوي او ورور وژنه خورا زياته ده ، چي له بده مرغه ، دغه وير جنه سلسله په پښتني ټولـنـه کـي تر اوسه پوري جاري ده . موږ دغه روښانه حقيقت د اتڼ پـه نارو کـي پخلپو ستړکو ليدلای سو . دا لاندي نمونې وګورئ . او عبرت ځيني واخلئ:

اوور دئ — د تسیـــل پـــر ســـر اوور دئ
«خان بنکل» یې مړ کئ — اوس دې واخې زرېپ خان که زورور دئ

✿✿✿

کـــــه اوور دئ — د قبـــلـــې لــــه خـــوا اوور دئ
سي ژړ «بنکلې» مړ کئ — اوس دې واخې زرېپ خان که زورور دئ

# کلتوري نارې

د اتڼ نارې د پښتني چاپیریال ښکارندوی دي . موږ د پښتني فولکلور په دې هیندارکي د خپل کلتور ښه په زړه پورې ننداره کولای سو . یا په بل عبارت د اتڼ نارې د پښتني کلتور هغه فولکلوري خزانه ده، چې هر ډول او راز راز مطالب په کي خوندي سوي دي . د پښتنو په دې تاریخي او قیمتي هینداره کي پښتني کلتور له ورایه معلومیږي . په دې باب د اتڼ ځیني نارې د نمونې په ډول وړاندي کیږي :

چوری سي له څوهی څخه اوبه وړي
کـــوډی د چـــکـــبري — تر دا کوډې لاندي څه ملا له خوله وړي

✿✿✿

پـواتـــه ســر د لـوړ هـوا د زیـاتـــه
تـر بـور میږي پر پیایي — دا تـرلـې نجـونـه بې کوري لـه ولاتـه

✿✿✿

کـه کړدي دي بـابوکـان زنې کړدي دي
تـر مـلا یـه سره بندونـه — تـر اوروېـه د تـوپـکـو سـره لوکـي دي

✿✿✿

کـه کـلـکـه دا مـی میدانـه کـلـکـه
پښې مه باندي خوړ سي — بـابـاپـلاره! چـراسـی کـپـی را وکـه

✿✿✿

کمیس د ولونه ولونه — په پښو کړي د دي ځنګه پازیبونه
و ماتې ول: رانه سې — ستا و غاړه ته به واچومه ولونه

✿✿✿

# تاریخي نارې

دا یو حقیقت دئ، چې د اتڼ په نارو کې پښتني تاریخ خوندي دئ . همد غه فولکلوري نارې دي، چې موږ خپل ملي مبارزین، نومیالي پښتانه او منلي کسان پېژني . ویلای سو، چې د اتڼ نارې د پښتني تاریخ یو غوره مأخذ او مستنده سرچینه ده . د مثال په ډول په دې لاندي ناره کې د انګرېزانو ددورې دوه ملي مبارزین په څومره ښایسته انداز خوندي سوي دي:

خوپ دئ پر ملکونه — پر دا لوړو غرو را واوښتو ګرځونه
ایاز و پېرروز مړه دي — نرېدل به د وهاري ځیارتونه

# ویرجني نارې

د اتڼ نارو په پخپله سنګینه لمن کې ډېر د کار کایونه او ګټور مطالب را نغښتي دي . خو د بلي خوا د همدې نارو نازنینه لمن د انسانانتو په سرو وینو لړلې ښکاري . پښتانه یو و بل سره وژني . او همدغه ورور وژنه ده، چې انعکاس (reflection)یې موږ د اتڼ په نارو کې لیدلای سو . خدای دي وکړي، چې پښتانه خپل منځني جنګونو او قبایلي شخړو ته د پای ټکی کښېږدي . او پخپل تاریخي وطن کې امنیت راولي، چې احمدشاهي خاوره او میرویس خاني وطن ګل و ګلزار وګرځي . دلته ځیني ویر جني نارې د خپلو اوښکو په ملتیا ستاسي حضور

ته وړاندې کېږي :

پــــــر هــــــار دئ | د مــراد خـــان زړګــی پُـر هــار دئ
سردار اختر شاه مړ دئ | نړېدئ به پور سنډې تر څو ولیاړ دئ

✿✿✿

د چا ناوکی سر دئ غوړولی | د بنـګـل نـاوکـی سر دئ غوړولی
ســر بېـرتــه ګــوسـې کــه | ژړ بنـګـل د کلا برنج دئ نړېدلی

# مقایسوي نارې

د اتڼ په شنه کرونده کي خورا ښایسته او راز ګلان ټوکېدلي دي . د هر ګل خپل ځانګړی بوی اوبېل رنګ دئ . د پښتني فولکلور په دې منظومه ګلدسته کي مقایسوي نارې د لمر غوندي ځلېږي . تاسي زموږ د بې سوادو پښتنو و تخلیقي جوهر او شاعرانه استعداد ته نوکی ځیر سئ :

زایـپې ښـې دي کــه نجونـه | زایپې توري سلواغې نجونه ګلونه
د نــجــونــو تپــرونــــه | د زایپو پر سینو تنګ سول کرېوانونه

# دیني نارې

څه وخت چي د اسلام مقدسي شغلې د پښتونخوا و غرو او رغو ته راورسېدې ، نو پښتانه د ژوندانه وسپېڅلي او حقیقي چوکاټ ته په خورا ورین تندي او کامل اخلاص و دننه سول . البت خپل روایات ،عنعنات او دونونه یې ژوندي وساتل . خو په مرور د زمان و پښتني کلتور ته تاوانونه رسېدلي دي . چي البت دا وخت پښتني کلتور د یو لوی خطر سره لاس و ګرېوان دئ . په دې باره کي یوه ډېره جالبه ناره وړاندې کېږي :

اخـــره زمـــانــــه ده | ملایان یایي امی مه ګوه ګنده ده
پـــه نـورو روځـو ښــه ده | د اید پـه روځ تـوبـه وکلیمـه ده

په همدې باره کې ځيني په زړه پورې او خوندورې ديني نارې وړاندې کيږي:

| | |
|---|---|
| ښه کوي نمنځونه | ترمُردارو خولو بم وخېزې سهونه |
| په مځکه کې بم کښېږدې | په اوړ مې مابنام به غوارې جوابونه |

✿✿✿

| | |
|---|---|
| وړ دئ کوهلو لوړ دئ | سې پر سرې جماعت د پېغمبر دئ |
| لايکو نمونځ کې وکوي | د کم بختو د گزا دئ وارې تر دئ |

# دعايه نارې

د اتڼ نارې په دعاييه نارو خورا ښايسته بريښي. موږ د اتڼ په آباده کرونده کې راز راز د عاييه مطالب پخلپلو ستر کو ليدلاى سو. دعا يوه ديني عنعنه او پښتني خاصه ده. نو همدغه وجه ده، چې زموږ ښځمنو او سړيو د اتڼ زرغونه کرونده په دعاييه مطالبو پسوللې ده. د نمونې په دول ودې لاندې خوندورو نارو ته ځير سئ:

باران د په پرمان دئ

| | |
|---|---|
| خدايه! نظر وکې | خانې چُرمی د دوو اورو تر ميان دئ |

✿✿✿

| | |
|---|---|
| جانانه! د مېلې | اى جانانه! د مېلې د اومبارک سه |
| سې زما وخواته کورې | اې جانانه! پر ځوانې د برکت سه |

# په نارو کې ښراوې

د نارو ښايسته لمن د پښتني چاپېريال ښه په زړه پورې عکاسي کوي. دغه نارې د پښتني تولنې کره وړه پخپله غېږ کې را نغاړي. پښتانه چې په عملي ژوند کې کوم ناوړه کارونه کوي، غبرکون يې موږ د اتڼ په

ناروکي ليدلای سو . د پښتنو همدغه ناوړه عمل بالآخره د ښرا په صورت کي داسي څرګند سي :

تـر کـړدو ښايستي نجلی  ترکړدو ښايستي نجلی کلم د خوار دئ
و غـول مـوذي تـې ورکـې  خدای دې ونتي ستا څه نتلی پلار دئ

✿✿✿

دريا خـانـه ! اور د بل سکاره د مړه دئ

دريـاخـانـه ! اور د مړ ســه  نن جُمک و غلام ستا له لاسه مړه دي

✿✿✿

مـه کـاږه د نـجـونـو کـاوينـونـه

نـجـونـه بـه ښـرې کـي  سپين بګريه ملا! وخورې زوی ولونه

✿✿✿

کـلـکـه دا مـی میدانـه کـلـکـه

امـی د راسـره کـه  ښادي مـه وکـې د دو کلو هلکه

# نارې که ديواني شعرونه؟

ښکاره خبره ده ، چي داتې يو فولکلوري پانګه ده . او د پښتني فولکلور دغه غوري اولاثاني نارې بې سواده ښځمنو او سړيو جوړي کړي دي . خو که چيري د پښتو دغه لرغوني او بادي پانګه له ديواني ادب سره پرتله کړو ، نو ودې پايلي ته به ورسيږو، چي د کراني پښتو دغه خورا غني پانګه د شعريت ، فکري ژوتيا او ندرت له پلوه په هيڅ ګون تر ديواني ادب په کمه نه ده . دلته د اتې ځيني نارې د نمونې په ډول وړاندي کيږي . ويې ګورئ او پخپله انصاف وکړئ :

بـنـګړي د پـه مړوند کي  خال د ايښی د ورځکو په پيوند کي
پيـکـی د درګـي درکـي  لکه ښه غنم سي و دري په بند کي

۞۞۞

تـــور د دي لاړونـــــه | پر ځيکر يـه ښوروې لکه مارونه
مور مـارونـه نـه خوري | مور خوړلي دي د تورو مارو زړونه

۞۞۞

خــدايــه! وكــې وســه | سي پغله نجلی واخلي نوكي غوښه
دا بــه واخــلــي غـوښــه | زمور به پښې تر مځکه نه ځي له هوسه

۞۞۞

رالـــه بـــرابـــره | سپین تندي يه خولـه كړكي ده له لمره
نـوكـه نوكـه كـړي | لكـه آسپـه چي خوی واخلي لـه نوكره

# د نارو ادبي خصوصيات

د پښتني اتڼ خوندوري نارې په ډيرو ادبي خصوصياتو پسوللي دي ، چي ځيني دلته د نمونې په ډول وړاندي کيږي :

۞ ... د اتڼ نارې د پښتو په سوچه لغاتو ، نکه محاوراتو ، ژورو تشبيهاتو او ښايسته اصطلاحاتو پسوللي دي .

۞ ... د نارو ژبه ساده اسانه ، روانه او خوندوره ده .د جوړښت پيرايه يې ډيره معياري او په زړه پوري ده .

۞ ... نـرکـاري او ښـځـمـنـي پـه خپلـو خپلو خوړو او دردېدلو نـارو ناست انسانان و خپل لور ته جلبوي.

۞ .... نارې د سريو دي كه د ښځمنو ، خپل خپل رنګ او ځانګړی خوند لري .

۞ ... د اتڼ نارې د پښتني ټولني ښه په زړه پوري عكاسي کوي .

۞ ... نـارينه په ا تڼ كي نارې په يو مخصوص وزن سره وايي . چي البت د ښځمنو ييا خپل خـانګړي انداز او وزن وي . خو د دوارو آهنګ يو دبل سره توپير نه لري . د دوارو آهنګ پر خپل خپل ځای خوند کوي . او زړونه

تر تاثیر لاندي راولي .

۞ ... د اتڼ نارې له هر راز تشریفاتو (formilities) او تصنع څخه پاکي وي .دغه نارې زړونه لړزوي او په حرکت کې یې راولي .

۞ ... د اتڼ نارې په ملي بحوروکي جوړیږي . او ځانګړی ادبي سکښت لري .

۞ ... د اتڼ په نار کي زیاتره عشقي مطالب خوندي سوي دي ، چي البت د نارو سمسور او غني څپرکی په راز راز ګایو او خوندور خبرو ښایسته دئ . موږ د نارو په ویړه لمن کي ټولنیز ، کلتوري ، تاریخي ، وطني ، رزمي تنقیدي ، دیني او ویرجن مطالب له ورایه لیدلای سو .

۞ ... د اتڼ نارې په نازکو تشبیهات پسوللي او په ژورو مطالبو پوښلي دي .

۞ ... د اتڼ نارې پخپله پراخه لمن کي داسي شاعري را نغاړي ، چي ښخي معیاري ، خوندوره او په زړه پوري ده . په دې ناروکي زموږ د بې سواده نر ګاړو او ښځمنو فکري ژورتیا او د خیالاتو ځانګړتیا و خپل لور ته د خلکو نظر را جلبوي .

۞ ... په ناوکي ښایسته او نادري قافیې رانغښتل د بې سواده پښتنو یو لوی هنري کمال دئ .

## د نارو جوړښت

اتڼ (atanṛ) اوسنیو پښتنو ته له آریایي دورې څخه د یوې کلتوري اثاثي په ډول د خپلو مخصوصو نارو ( غاړو ) په ملتیا ور پاته دئ . د اتڼ نارې یاد کاکړو په اصطلاح دامی‌غاړي خپل یو ځانګړی جوړښت) (Composition) لري . په اتڼ کي چي څومره نارې (nare) ویل کیږي ، زیاتره یونیم بیتزه او دوه بیتیزه وي .البت د داسي ټولو نارو مسری یو دبل

سره ښکاره توپير لري .په يو نيم بيتيزه نارو کي دوهمه مسرۍ د قافيې له قيد څخه آزاده وي . البت په داسي ټولو نارو کي زموږ بې سواده پښتنو په لومړۍ او درېيمه مسرۍ کي خورا ښايسته او معياري قافيې راوړي دي .

دغه راز په دوه بيتيزه نارو کي لومړۍ ، دوهمه او څلورمه مسرۍ سره هم قافيه وي . خو درېيمه مسرۍ بيا د قافيې له قيد څخه بېخي آزاده وي . څرګنده دي وي ، چي د اتڼ نارې که هغه نرګاړو جوړي کړي وي او که ښځمنو ، په دواړو صورتونو کي دغه لرغوني او معياري شاعري د خلکو د ښه ذوق او فني مهارت ښکاروندوی دي . د اتڼ نارې که هغه يو نيم بيتيزه وي او که دوه بيتيزه ، ځيني مسرۍ يې په سيلابي لحاظ لنډي او ځيني يې بيا اوږدې وي . خو داسي ټولي نارې د ويلو په وخت کي څپل وزن له لاسه نه ورکوي . او نه يې و آهنګ ته ضرر رسيږي .

څرګنده دي وي ، چي د اتڼ د نارو په پراخه ساحه او ويره لمن کي ځيني وخت درې بيتيزه او کله هم يوه بيتيزه ناره په نظر راځي . خو د داسي نارو نمونې شاز و نادر پيدا کيږي .

## د نارو ادبي ښکښت

په دې پورتنيو کرښو کي تاسي د نارو د فني جوړښت په باره کي ځيني اساسي معلومات تر لاسه کړو . نو اوس ښه به داوي ، چي د اتڼ ځيني خوندوري نارې د تقطيع په عادلانه ترازو کي وتلو او څانونه د نارو په ادبي ښکښت خبر کړو :

## يو بيتيزه ناره

**اوښـــــه رالـــــه ســـــره لاســـونـــه**

**د اســلام پــرزړه يــي كښېښــوول داغــونـــه**

| ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ٧ | ٨ | ❀ | ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ٧ | ٨ | ٩ | ١٠ | ١١ | ١٢ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| او | ښه | را | له | سره | لا | سو | نه | ❀ | د | اس | لام | پر | زړه | يي | كښې | ښو | ول | دا | غو | نه |

## يو نيم بيتيزه ناره

**پـــواتـــــه ســـرد لـــوړ هـــوا د زيـــاتـــه**

**تـــربـــور ميـــږي پـــر پيـــايـــي داتـرلـي نجونـه بي كوري لـه ولاتـه**

| ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ٧ | ٨ | ٩ | ١٠ | ١١ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په | وا | ته | سر | د | لوړ | هـ | وا | د | زيا | ته |

| ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ٧ | ❀ | ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ٧ | ٨ | ٩ | ١٠ | ١١ | ١٢ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تر | بور | مي | ږي | پر | پيا | يي | ❀ | دا | تر | لي | نجو | نه | بي | كو | ري | له | و | لا | ته |

تـر دې مـځـکـه د تـل مـځـکـه پستـه ده

سـي لالــه پـر مېستــه ده                تر دا ښي مړوندې غاړه ښايسته ده

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ |
| تر | دې | مځه | که | د | تل | مځه | که | پس | ته | د |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ |
| سي | لا | له | پر | مېس | ته | ده | ❀ | تر | دا | ښي | مړ | ون | دې | غا | ړه | ښا | يس | ته | ده |

خـدايــــه لاهــورنــوي جــوړويـنــــه

خـدايــه جـوړيــه مــه کـې                لالی په سر تور سر خاوري راوړينه

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
| خدا | يه | لا | هور | نه | وی | جو | ړ | وي | نه |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ |
| خدا | يه | جوړ | يه | مه | کې | ❀ | لا | لی | په | سر | تور | سر | خا | وري | را | وړي | نه |

بــــاران د پـــــه پــــر مــــــان دئ

خــــدایـــــه! نـــظـــر وکـــي        *«خــانـي چُـرمـی» د دوو اورو تـر میـان دئ

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| با | ران | د | په | پر | مان | دئ |

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ✿ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خدا | یه! | نه | ظر | و | کي | ✿ | خا | ني | چُر | مى | د | دوو | او | رو | تر | میان | دئ |

## دوه بیتز ه ناري

آسپـــــه یـــم ســـر کښـــــه        پـر میدان مـه کرزوي نـه یم د خوښه

مــــا خپـل ولات لـــه یـوســـه        پـه پردي ولات بـه نـه درواخم غوښـه

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ✿ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| آس | په | یم | سر | که | ښه | ✿ | پر | میـ | دان | مه | کر | ز | وي | نه | یم | د | خو | ښه |

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ✿ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ما | خپل | و | لات | له | یو | سه | ✿ | په | پر | دي | و | لات | به | نه | در | وا | خم | غو | ښه |

تــر دغــه مـځـکــه لانــدي      تـر دا بلـه زرغـونـې اوبـه بهـانـدي

د نــجــونــو خــولــي مــلالــي      خدای دې نـه کـي تر کرجنو مرو لاندي

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ |
| تر | دغه | مځه | که | لان | دي | ❀ | تر | دا | به | له | زر | غو | نې | او | به | به | هان | دي |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ |
| د | نجو | نو | خولې | مه | لا | لي | ❀ | خدای | دې | نه | کي | تر | کر | جه | نو | مه | رو | لان | دي |

پــرغــولــي د انــځــر دئ      تـرنـغـري دراښـکـاره د انـځـر ولکي

لاس پــــه لاس کـــي راکــــه      سـي ارمـان د پـه ګـای وکرم سرلکي

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ |
| پر | غو | لي | د | ان | ځر | دئ | ❀ | تر | نغه | ري | د | را | ښکا | ره | د | ان | ځر | ول | کي |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ |
| لاس | په | لاس | کي | را | که | ❀ | سي | ار | مان | د | په | ګای | و | کا | رم | له | رل | کي |

# دونیم بیتیزه ناري

پر وسږ کال پردې مېنه مېسته وو  کـــمیـــــــس د تپــــاره وئ

د نـابودي دنیا غم را سره نه وئ  کـمیـــس د کـرېـوانـــه سـوئ

د نـــابــودي دنیـــا غـــم راســره وســوئ

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ٧ | ٨ | ٩ | ١٠ | ١١ | ❁ | ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ٧ |
| په | رو | سږ | کال | پر | دې | مې | نه | مېس | ته | وو | ❁ | که | میس | د | ته | پا | ره | وئ |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ٧ | ٨ | ٩ | ١٠ | ١١ | ١٢ | ❁ | ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ٧ |
| د | نا | بو | دي | دُن | یا | غم | را | سه | ره | نه | وئ | ❁ | که | میس | د | کري | وا | نه | سوئ |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ٧ | ٨ | ٩ | ١٠ | ١١ | ١٢ |
| د | نا | بو | دي | دُن | یا | غم | را | سه | ره | وس | وئ |

# درې بيتيزې نارې

کـــړ کـــړي کـــــه کـــړ ړي   د سپېلمـی پـاڼـکي کړکړي

نـــجـــونـــــه بـــــه ور ووزي   دا د اوس پـلستـو روکـي ولاړ ړي

د روکــــي مـــــانــــا د اده   سي وروووتي سهار در څه کايړي

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کړ | که | ړي | که | کړ | که | ړي | ❀ | د | سپېلمی | می | پاڼ | کي | کړ | که | ړي |

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نجو | نه | به | ور | وو | زي | ❀ | دا | د | اوس | په | لس | تو | رو | کي | و | لا | ړ | ړي |

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د | رو | کي | ما | نا | دا | ده | ❀ | سي | ور | و | و | تي | سه | هار | در | څه | کا | يه | ړي |

وه شپـــنـــه مـــالــداره     دا يـوه ځـړی د لـنګ بلـه پر غـاړه

راځـــه پـــه امـی کښېـوزه     ستـا میـا بـه زه پـه بل کم راکـراره

کـې نـــه کـــه راکــــراره     زې عـورتـه د خـاونـد غیم سي لاړه

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ✿ | ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ٧ | ٨ | ٩ | ١٠ | ١١ | ١٢ | |
| وه | شپه | نه | مال | دا | ره | ✿ | دا | یه | وه | ځه | ړی | د | لنګ | به | له | پر | غا | ړه | |
| ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ٧ | ✿ | ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ٧ | ٨ | ٩ | ١٠ | ١١ | ١٢ |
| را | څه | په | ا | می | کښېو | زه | ✿ | ستا | مه | یا | به | زه | په | بل | کم | را | که | را | ره |
| ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ٧ | ✿ | ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ٧ | ٨ | ٩ | ١٠ | ١١ | ١٢ |
| کې | نه | که | را | که | را | ره | ✿ | زې | عو | ر | ته | د | خا | وند | غه | یم | سي | لا | ړه |

# د نارو سرچینه کندهار که کاکړستان؟

پښتني اتـڼونـه ډېرپخواني او څو زره ... کلن تاريخ لري . حتیٰ چي دغه رنګينه سلسله ځان په آريايي دورې پوري نښلوي . پښتانه د لوی تاريخي وطن په هر سيمه کي چي اوسي ، د اتڼ پخوانی دود يې ژوندی ساتلی دئ . خو دومره ده ، چي ځيني پښتانه د خورا رنګينو او خوندور نارو په ملتيا اتڼ کرموي . اوورته ناست کسان په جوش کي وا ولي . البت ځيني پښتانـه بيا داسي دي ، چي اتڼونه خو لري ، خو د اتڼ فولکلوري نارې نه پـه کـي کوي . يا په بله ژبه مورږ ويلای سو ، چي داسي پښتنو نه خو له هغه وخته د اتڼ نارې جوړي کړي او نه يې دا وخت لري .

زه د خپلي فولکلوري تجربې (folkloric experience)له رويه د خبره په ډاډه کولای سم ، چي پښتني اتڼ لومړی اوبيا وروسته په مرور د زمان نـارې (nāre)ورسـره پيدا سوي دي . اوس بـايد دا پوښتنه وسي ، چي پـه لويه تاريخي پښتونخوا کي د اتڼ د نارو ابتدايي مرکز کوم ځای دئ ؟ په دې باره کي نوميالی فولکلوريست او ملي عالم ګران استاد جنـاب حبيب الله رفيع خپل شخصي نظر داسي څرکندوي : « د اتڼ د نارو لـه ژوري کتنـي څخـه داسي معلوميږي ، چي د اتڼ دا موجوده لاس تـه راغلي نارې لومړی ځل په کندهار او شاوخوا ځايو کي يې ويل شوي او بيا وروسته نورو ځايوته نقل شوي دي . په دې باره کي ډيري داسي نارې موجوده دي ، چي دا استنباط ترې کيدای شي ، چي يوه نمونه يې دا ده :

امـرت پـه ونـه توره کـنـدهـاره

زلـفـي مـي اوږدې شـوې        اوږدې زلفي به څو ګرځم بې ياره

زما په فکر د ګران استاد رفيع دغه پورتنی نظر د تأمل وړ دئ ، چي د اتڼ نـارې لومړی وار په کندهار کي پيل سوي دي . او بيا نوموړي

استاد پخپله لیکنه کي «او شا وخوا ځایو ؟ کي يې ويل شوي اويا وروسته نورو ځايو ؟ تـه نقل شوي دي . » سم وضاحت نه دئ کړی . او نه يې بشپړ معلومات راوړي‌دي ، نو ځکه خو دا ګران استاد شخصي نظر نیمګړی ښکاري او د تأمل وړ برېښي .

داخبره یقیني ده ،چي په کندهاري چاپېريال کي د اتڼ نارې جوړي سوي او ادبي رشد يې کړی دئ . خو داچي کندهارتش د يوې نارې په استناد د اتڼ د نارو سرچينه بلل سمه خبره او حقيقت نه معلومېږي .

زما پـه خيـال د کاکړستان په بوري ، ږوب ، کلا سيف ا لله او کـاکړ خراسان کي لومړی وار د اتڼ نارې پيل سوي او بيا وروسته پښين ، کـنـدهار ،هلمند ، ښوراوک او نورو ... سيمو ته رسېدلي دي . دا يو حقيقت دئ ،چي کـاکړستان د پښتني فولکلور زړه دئ . په دې تاريخي او وياړلي خاوره کي د پښتني فولکلور بېلا بېل ډولونه پيدا سوي ، سمسور سوي او بيا وروسته د پښتونخوا و نورو سيمو ته نقل سوي دي .همدغه حال د اتڼ د نارو دئ . د کـاکړستان په لويه فولکلوري حوزه کي د اتڼ ښځي ډيري نـارې جوړي سوي او لا سر اوسه پوري جوړيږي .د ساري په ډول دالاندي ناره وګورئ :

| | |
|---|---|
| نـن سيلون خـالي دئ | اختر شاه سردار لـه مړو سره بندي دئ |
| اتـه يې ساري نـه دي | اختـر شـاه سردار نيمـی د کبزيي دئ |

څرګنده دي وي ، چي د کاکړستان په مقابل کي په کندهار او دهغه په اطرافو کي نه خو پخوا دومره زياتي نارې جوړي سوي دي . او نـه دا وخت کـندهار او د هغـه شا وخوا سيمي د نارو په وړ ميدان کي د کـاکړستان مقابله کولای سي . پخپله زما دغه اوسنی کتاب دا خبره په زباد رسوي ، چي کاکړستان د پخوانيو او اوسنيو نارو پخواني سر چينه او اصلي منبع ده .

او دا چي ګران استاد دِ رفيع د کندهار په باره کي يوه پخوانۍ ناره د سند په ډول رواړي، خپل شخصي نظر په پخوي اوخپل ګای اثبات ته په رسوي ، ددې خبري دليل ښخي نه سي کېدلای ، چي کاکړستان د نارو اصيله او لرغوني سرچينه نه ده . د جناب استاد رفيع د راوړي نارې په مقابل کي زه د کاکړستان د بوري او ږوب په باره کي ځيني نارې د سند په ډول راوړم او خپل نظر اثبات ته په رسوم :

اتـڼ مـه د بـوري نـجونـه کـوينـه

تـور چـکـن پـر سـر کـي لـونګين يې د نامـه غوټۍ وهينـه

✿✿✿

اتـڼ سـي د بـوري نـجونـه کوينـه

تـور چـکـن پـر سـر کـي ګړده وړده روټۍ جوړه په تندي کي

✿✿✿

اتـڼ چـي د بـوري نـجونـه کـوينـه

پـر مـلاکـړې وړې سـي تـوتک يـې د نـامـه غوټۍ وهينه

✿✿✿

نـر لـوبـه د بوري ويـالـه نـر لـوبـه

يـو مسـت چيلم را ډک کـه تجلۍ ستا په نيت راغلۍ يم له ږوبه

✿✿✿

نستـه د ږوب رنـګـه مـلـګـونـه

پـر سـرې پـالېـزونـه پر ګرځي سپيني خولې ژړ پېزوانونه

هغه ناره چي ګران ا ستاد رفيع د خپلي خبري د پخلي په خاطر راوړې ده، په کاکړستان کي په دې ډول ويل کيږي

امـرت پـــه ونـــه تـوره کـنـدهـــاره

اوږدې زلپې‌سي خدای راکې اوږدې زلپې به څو کرځم بې یاره

۞۞۞

دغه راز د کندهار په باره کې یوه بله فولکلوري ناره ده:

بـــه ســې کــنــدهـــاره چي څلور دي دروازې څلور بازاره

زمـا یـار درکـي بندي سو چي په پښو یې زولنې ځینځیر په غاړه

اوبیـاپـه کـاکړستـان کي یو خورا په زړه پوري او خوندوره نـاره جوړه سوې، چي «کـندهار» یې پخپله فولکلوري سینه کي داسي ځای کړی دئ:

ځم ځم خره مه تیار دي راتـه ویـایـه تالې ! څـه د پـه کـار دي

انکور غواړې که اوځکي تالې ! تور انکور پاخه د کندهار دي

او دا هم د کاکړستان د کلتوري ناوې یوه خوندوره او په زړه پوري ناره ده، چي تاریخي کندهار داسي په کي راغلی دئ:

ړنگ ســې کــنــدهـــاره سي څلور دي دروازې څلور بازاره

نـه نجل کرزي بې یاره نـه بـه مخکـه کلان وکـي بې بارانه

خیر ... دا خو فولکلوري نارې دي . او ویونکي یې معلوم نه دي . مطلـب مي دا دئ، چـي د یوې نـارې پـه مـرسته کندهار د اتې د نـارو ابتدایي مرکز بلل او سرچینه کرځول سمه خبره نه بریښي.

اوس به دلته د جناب استاد رفیع ناره بلل او سرچینه کرځول سمه خبره نه بریښي .

دلته یو وار بیا د جناب استاد رفیع رواړې ناره د یوې بلې پورتنی نارې سره په پرتلیز ډول ړدم . او ستاسي پاملرنه و دواړو ته راکرځوم:

کران ا ستاد رفیع ددې لاندي غاړي په اساس کندهار د اتې د نارو ابتدایي سرچینه بللې ده:

امرت په ونه توره کندهاره

زلفي مي اوږدې شوې | اوږدې زلفي به څو کړځم بې یاره

۞۞۞

البت همدغه ناره په کاکړستان کي په لږ څه توپیر سره داسي ویل کیږي:

امرت په ونه توره کندهاره

اوږدې زلپي مي خدای راکې | اوږدې زلپي به څو کړځم بې یاره

۞۞۞

دغه دواړي پورتني غاړي فولکلوري او ویونکي یې نه دي معلوم . او نه له دا دواړو نارو څخه دامعلومیږي ، چي دا ناري دي لومړی وار په کندهار او یاد کندهار په اطرافو کي جوړي سوي وي . امکان لري ، چي د جناب استاد رفیع راوړې ناره اول ځل د کاکړستان په فولکلوري حوزه کي جوړه سوې اوبیا وروسته کندهار ته نقل سوې او خلکو لاس وهنه په کي کړې وي. په دې دواړو پوتنیو غاړو کي لږو ډېر توپیر تاسي پخپلو سترګو ولید . موږ په یقیني ډول ښخي نه سو ویلای ، چي د جناب استاد رفیع راوې ناره به لومړی وار آیا په کندهار کي جوړه سوې وي او یا په کاکړستان کي ؟

زما په فکر دغه پورتنی ناره چي کندهار په کي راغلی دئ ، دا ښخي نه ثابتیږي ، چي د اتې دغه ناره دي لومړی وار په کندهار کي جوړ سوې وي . او نه دا ځیني بریښي ، چي کندهار د نارو لومړی سر چینه او منبع ده .

که چیري موږ ودې ناري ته نوکی ځیر سو ، او په ژور نظر ورته وګورو ، نو دا خبره به پخپله سپینه سي ، چي نامعلوم ویونکي په دې ناره کي د قافیې د سموالي په خاطر «کندهار» د «یار» سره یو ځای راوړي

دئ . نه دا چې د ناري ویونکی کندهار د اتڼ د نارو منبع په ثابته کړي .
پخپله د کاکړستان په نارو کې د کندهار نوم په وار وار راغلی دئ . علت
یې شاید دا وي ، چې کندهار یو لرغونی ښار او د پښتنو یوکلتوري
مرکز او پایه تخت پاته سوی دئ . نو ځکه په پښتني فولکلور کې
خوندي سوي دئ .

زه د پورتنیو حقایقو په رڼا کې خپل نظر یو ځل بیا راغبرګوم ،
چې کاکړستان د اتڼ د نارو اصلي منبع او سرچینه ده ، نه چې کندهار . په
دې باره کې زما نظر حتمي نه دئ . کوټلی قضاوت دي اوسني ادیبان اویا
بیا د راتلونکي وخت نقادان وکړي .

# د اتڼ پر نارو باندې وچاپ سوو آثاروته یوه لنډه کتنه

د اتڼ خوندوري او په زړه پوري نارې چې د پښتني فولکلور په
سمسور لمن کې یو ځانګړی باب (chapter) تشکیلوي ، تر دا وخته پوري
د پښتو په بېلا بیلوځینې چاپي آثارو کې خوندي سوي اوخوندوري
څېړنې باندې سوي دي . دلته په دې باره یوشمېرچاپي آثار په لنډ ډول
و تاسي ته در پېژنو :

## ۱.پښتني سندرې

په پښتني دنیا کي تر هر څا د مخه اول وار د کابل پښتو ټولنې د
پښتني سندرې په لومړي ټوک کې د اتڼ نارې تر عنوان لاندې په ۱۳۳۴
لمریز کال د پښتني اتڼ ۱۰۳ خورا خوندوري نارې د الفبا په ترتیب د

ارواښاد محمد دین ژواک پـه اهتمام خوندي کړې . چې البت ارواښاد ژواک د «دا مجموعـه» تر سر لیک لاندي د د اتڼ د بېلا بیلو ډولونو او وزنونو په باره کي ځیني په زړه پوري معلومات راوړي دي . زه پخپل وار د پښتو ټولنـي دغه دروند پیل ستا یم . او د لومړیتوب و ویاړ ته یې په درنه ستر ګه ګورم .

## ۲.د خلکو سندرې

د پښتو نومیالي فولکلوریست شمس الادباء ګران حبیب الله رفیع پخپل درانه اثر چې « د خلکو سندرې» نومیږي ، تر ۷ شمېرې لاندي د اتڼ ناري په عالمانه ډول څېړلي دي . د جناب استاد رفیع دغه لا جواب کتاب د ځان ساري نـه لري . دا کتور کتاب پـه ۱۹۷۰ میلادي کال د افغانستان اکاډمي د تاریخ او ادب ټولني خپور کړی دئ ، چې پخپله شپږ مخیزه غېږ کي د اتڼ د نارو پیدایښت او منبع ، د اتڼ د نارو وېش او ویونکي تر عناوینو لاندي د اتڼ ناري پخپل ځانګړي انداز څېړلي اویو شمېر خوندوري ناري یې پخپل دې په زړه پوري اومعلوماتي کتاب کي زېرمه کړي دي.

## ۳.ترینو

تـرینو (Tárino) د هـر نـایـي او چوتېر د سپینو ترینـانو د لرغوني او ځانګړي لهجې (dialect)په باره کي د سیال کاکړ یوه وړه رسالـه ده. پـه دې کتاب ګوتي کي نوموړي لیکوال د نورو معلوماتو په څنګ کـي « د لبي بدلـي » تر عنـوان لانـدي د پښتنـي اتـڼ ۲۱ نـارې خونـدي کـړي دي .دغـه ۴۸ مخیزه رسالـه پـه ۱۹۷۳ میلادي کـال د کوټي پښتو ادبي دنیا ادبوالو ته وړاندي کړې ده .

## ۴.فولکلوري سوغات(د اتڼ ناري)

فولکلوري سوغات يا په بله ژبه د اتڼ ناري دپښتني فولکلور په سمسوره دنيا کي د سيالِ کاکړ يو ځانګړي زيار دئ . په دغه ۱۱۲ مخيزه کتاب کي لومړی وار د پښتني اتڼ په باره کي خورا مفصل څېړنيزه معلومات راغلي دي . او د پښتني سندري را وروسته « فولکلوري سوغات» هغه اثر دئ ، چي پخپله درنه غېږ کي يې د اتڼ ۳۰۵ ناري په مردف ډول خوندي کړي دي . دغه کتاب د کوټي « قلات پبلشرز » د ۱۹۷۸ ميلادي کال د جنوري په مياشت کي چاپ او ادبوالو ته يې وړاندي کړئ .

## ۵.غرنۍ سندرې

دجناب محمدعارف غروال دغه خوندور اثر په ۱۹۸۱ ميلادي کال د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو انستيوت خپور کړی دئ .ګران غروال پخپل دې څېړنيز کتاب کي «د اتڼ د ميدان بيتونه» ترسر ليک لاندي د پښتني اتڼ يو شمير ناري د خپلي څېړني په ملتيا راټولي دي . د نوموړي ليکوال دغه کار د ستايلو وړ دئ .

## د اتڼ ناري( څېړنه او پلټنه )

داتڼ ناري د ښاغلي سيد خير محمد عارف هغه په زړه پوري او ګټور اثر دئ ، چي په ۱۹۰۵ ميلادي کال د کوټي پښتواکاډمي خپور کړی دئ . ددې کتاب په پيل کي جناب سيد عابد شاه عابد « دوې خبري » ګران سرور سوداييي « خپلي خبري » او پخپله ښاغلي عارف د « يو څو خبري » تر سر ليکونو لاندي پخپل خپل انداز ښې او ګټوري خبري کړي دي .

د اتڼ نارې د ښاغلي عارف هغه خوندور فولکلوري کتاب دئ ، چې ښخپله غېږ کېږې ځېږنه او د اتڼ يوزيات شمېر نارې د الفبا په ترتيب را وړې دي . خو نوموړي ليکوال ښځپل دې اثر کې د سيال کاکړ د «فوکلوري سوغات» يو زيات شمېر نارې بې د څه حوالې په مکرر ډول را نقل کړي دي ، چې زما په فکر دغه ښځي يو نا مناسب او ناوړه کار دئ . خو ښاغلي عارف خپل ځان « د يو څو خبرې » تر عنوان لاندې داسې خلاصوي : « او بيا چې کله د اتڼ د نارو پر موضوع باندې د « فولکلوري سوغات » په نامه باندې د پروفېسر سيال کاکړ صاحب تأليف و منځ ته راغلئ ،خو زمونږ پر ارزوګانو باندې نوري اوبه تيري شوې . که څه هم ددغه تأليف زيات و کم ښځوس نارو زمونږ د کتاب له مواد سره سمون لرلو ، خو زما دپاره د موضوع ځانګړتيا په خپل حال پاته نه شوه . نو ځکه ما خپله دغه خواري په نه خواري شمار کړه او دغسې مې دغه سلسله مخ له پر ښوده .»

خو خير ... د ښاغلي عارف کړې خواري بالآخره تر « فولکلوري سوغات » تقريباً ۲۸ کاله وروسته په ۱۹۰۵ ميلادي کال « د اتڼ نارې » تر عنوان لاندې ادبوالو وليده . د نوموړي کتاب د ا وخت د نقد او انصاف په ميدان کي پروت دئ قضاوت به پر نقادانو اود انصاف پرخاوندانو پرېږدو ، چې حق و حقدار ته ور وسپاري . ما ښځپل ټول ادبي ژوند کي هيڅکله د ښاغلي عارف څخه نه خو ادبي مرسته غوښتې ده . او نه يې دی ثابتولای سي . سپينه خبره خو دا ده ، چې زه او ښاغلی عارف هيڅکله پريوه ادبي موضوع باندې نه يو سره رغېدلي . اوخدای شايد دئ ، چې و ماته د نوموړي ليکوال « د اتڼ نارې » نومي کتاب تر چاپ وړاندې ښځي معلوم نه ؤ . نو چې حقيقت داسې دئ ، نو بيا ښاغلی عارف و ماته او يا زما و « فولکلوري سوغات » ته شپيانه ولې ور اړوي ؟

ښکاره خبره ده ، چې د علم او ادب په میدان کې هر لیکوال او څېړونکی آزاد او خود مختار دئ . هر لیکوال چې څه وغواړي پر هره موضوع باندې په ډاډه زړه لیکنه کولای سي . ښاغلی عارف دې ثابته کړي ، چې یو وخت زه په ادبي میدان کې دده په لار کې خنډ جوړ سوی یم . نو چې داسې نه ده ، نو بیا سلا بلا « فولکلوري سوغات » د خپلې لارې خنډ بلل مناسب نه ښکاري .حقیقت خو دا دئ ، چې زما خپل زیار دئ او ښاغلي عارف خپله خواري . دا بېله خبره ده ، چې د پښتو دغه خواریکښ لیکوال پخپل تألیف کې « فولکلوري سوغات » د یوښه مأخذ او سرچینې په ډول نه دئ راوړی . او په لوی سر کې منابع نه رواړل د ښاغلي عارف لویه کمزوري ده .

د نوموړي لیکوال « د اتڼ نارې » یوداسې کتاب دئ ، چې بې ځایه عناوینو او بې مورده تفصیلاتو یې خوند ور کار کړی دئ . په مجموع کې د ښاغلي عارف « د اتڼ نارې » د پښتني فولکلور پرچاپي آثارو باندې یوه ښه اضافه ده . په تېره بیا په دې کتاب کې د نوو نارو خوندي کول یو خورا کټور کار دئ .

د ښاغلي عارف له پورتنی وینا څخه داسې بریښي ، لکه ماچې د نارو په میدان کې له نوموړي لیکوال سره ډېره لویه پړه او بې انصافي کړې وي . او یا مې په توره شپه ددغه ښاغلي ورور د اتڼ پر نارو باندې شو خون وهلی وي . او بیا وروسته مې خپل اثر « فولکلوري سوغات »د ده په نارو ښایسته کړی وي . او یا مې خپل پورتنی کتاب د نوموړي لیکوال د پورتني اثر په خام مواد او یا ځینو مطالبو پسوللې وي .خو حقیقت دادئ ،چې پخپله ښاغلي عارف زما له « فولکلوري سوغات» سره نه جبران کېدونکی ظلم کړی دئ. خیر ... دا وخت زه دګران عارف په ادبي عدالت کې قصور وار او د سزا وړکرځېدلی یم . البت د ادیبانو او

نقادانو په لوی عدالت کي د سمي پريکړي او انصاف په انتظار يم .

## د اتڼ نارې

ارواښاد غلام جيلاني جلالي يوپياوړی ليکوال ،غښتلی شاعر ، منلی اديب او تکړه څېړونکی ؤ . دې نامتو پښتون پخپل ژوند کي وپښتني فولکلور ته د وياړ وړ کارونه کړي دي . ده په ملي مينه پښتو لنډۍ راټولي کړې . د ښادۍ بدلي يې په ادبوالو پېژندلي دي . دغه راز ارواښاد استاد جلالي په پښتني احساس «د اتڼ نارې» راغونډي کړې او په ښه ډول يې څېړلي دي .

## ملي سندري

**محمد ګل نوري له دغه فخر بس دئ**
**لګي کړې د پښتو په خدمت ښې دي**

د پښتني فولکلور په سمسوره دنيا کي د کندهار خوشنوا بلبل استاد محمد ګل خان نوري يو ډېر اوچت مقام لري . زموږ لوی فولکلوريسټ ، منلي ليکوال ، نوميالی شاعر او پياوړي قاموس نويس لومړی سړی دئ ، چي د پښتني فولکلور بېلا بيلي پانګي يې را غونډې کړي او بيا وروسته يې په خورا تالمانه ډول څېړلي دي . د ارواښاد استاد نوري له ګڼو او خوندور آثارو څخه يوخورا په زړه پوري او درونډ کتاب «ملي سندري» دئ ، چي په ۱۳۲۳ لمريز کال چاپ او د کابل پښتو ټولني خپور کړ .

استاذ نوري پخپل دې فولکلوري اثر کي د پښتني اتڼ بېلا بېل ډولونه څېړلي او ۱۰۳ نارې يې په کي زېرمه کړي دي . په دې باره کي ګران عبد الکريم پتنګ پخپل تأليف کي چي « د غرونو څوکې»نوميږي ،

داسي کاږي : « له دې جملې څخه د مرحوم محمد گل نوري کار د ټولو په سر کې و دريږي . څکه دده کار په دې برخه کې هر اړخيز او جامع دئ . نوموړي محمد گل نوري په ۱۳۲۲ کال د کابل په کالنۍ کې د پښتني اتڼ د نرو او ښځو د اتڼ د اقسامو په باب معلومات وړاندي کړل .»

بيا وروسته ښاغلی پتنگ داسي ليکي : « بيا يې د «ملي سندري» په نامه کتاب په مقدمه کې د اتڼ په باب خبري وکړې . او ددې کتاب په دوهمه برخه کې د اتڼ « ۱۰۳» نارې وړاندي کړې .»

دغه راز ښاغلی پتنگ پخپل همدې اثرکې ادبوال داسي خبر وی : « کله چي په ۱۳۳۴ کال د پښتني سندرې لومړی ټوک خپرېده ، نو د کتاب ټولوونکي محمد دين ژواک د « ملي سندري » هماغه د اتڼ « ۱۰۳ » نارې واخيستې . او ددغه کتاب په سريزه کې يې د اتڼ په باب د مرحوم نوري او نورو ليکوالو له مخې څه وليکل . »

څرگنده دي وي ، چي لـه اروابـاد استاد نوري سره په ادبي ميدان کې داسي... او داسي نوري ... ډيري پرې سوي دي .خو بالآخره حق و حقدار ته رسيږي . او بيا زموږ په دې روښانه زمانه کې هر څه روښانه سوي او استاد نوري ته د هغه د زيار او کار ثمره رسېدلې ده .نور نو د لوی ليکوال اوستر څېړونکي علامه نوري علمي ، ادبي ، کلتوري او فولکلوري نه هېرېدونکي هڅي نور څوک غلا کولای او پټولای نه سي. په دې باب د ليکوالو پلټني جاري او ډېر ژر به نوي نوي انکشافات مخ ته راسي .

## د غروئو څوکې

د پښتنـي فـولـکـلـور په باب دغه پورتنی اثر ، چي ليکوال يې ښاغلی عبد الکريم پتنگ دئ ، په ۱۳۵۹المريز کال د کابل پوهنتون « د فلالوژي پوهنځي » چاپ کړی دئ . ددې فولکلوري کتاب خورا

لویه ، هر اړخیزه او جامع مقدمه د پښتو نومیالي محقق او لوی عالم ګران زلمي جان هیواد مل لیکلې ده ، چې د ویلو وړ ده او په ستایلو ارزي .

ښاغلي پتنګ په دې پاس کتاب کې د اتڼ او د اتڼ د سندرو په باره کې مفصل رڼغېدلې دئ . او د نارو په باب ځومره آثار چاپ سوي دي ، هغه یې په لنډ ډول ادبوالو پېژندلي دي .

ګران پتنګ پخپل دې خوندور او معلوماتي کتاب کې پر اتڼ او داتڼ پر ډولونو رڼغېدلی دئ . او هغه ټول آثار یې په خلکو پېژندلي ، چې د اتڼ او د اتڼ د نارو په باب لیکل سوي دي . د نوموړي لیکوال دغه فولکلوري اثر خورا خوندور او په زړه پوري‌دئ ، خو خط یې دومره باریک دئ ،چې ښځې نه ویل کیږي. که امکان ولري ، باید له نوي سره کمپوز او چاپ سي .

## ۱۰. د پښتو شفاهي ادبیات شکل او مضمون

د غوټۍ خاورې دغه پورتنی اثر ، چې په ۱۹۸۸ میلادي کال خپور سوی دئ ، د پښتني فولکلور پر چاپ سوو آثارو باندې یوه ښه اضافه بللای سو . نوموړي‌لیکوالې پخپل دې درانه کتاب کې «داتڼ نارې » تر عنوان لاندې پخپله ۵ مخیزه لیکنه کې د پښتني فولکلور دغه ځانګړی ډول په اړخیزه ډول څېړلی دئ .څېړنه او لیکنه یې د ستایلو وړ ده .

## ۱۱.کوچیانی پانګه

دپښتني فولکلور دغه درونـد او خوندور کتاب د پښتو پیاوړي لیکوال ښاغلي خان خادم کوچي لیکلی او ګران اسد ساپي په پېښور کې د «دانش خپروندیې ټولنې » له خوا په ۱۳۷۹ میلادي کال خپور کړی دئ .

د ښاغلي کوچي په دې کټور کتاب کې د پښتني اتڼ ځیني

په زړه پوري دولونه څېړل سوي او د اتڼ يو شمېر نارې په کي زېرمه سوي دي . زه د کران کوچي زيار ستايم . او خوندور کتاب يې د پښتني فولکلور پر چاپي آثارو باندي يوه ښه اضافه بولم .

# کاکړي

زما په دې نيمګړي کتاب کي چي د اتڼ ځومره نارې د الفبا په ترتيب خوندي سوي دي ، اصلي سر چينه او منبع يې د کاکړستان بېلا بيلي فولکلوري حوزې دي . په دې کمرو غاړو کي زموږ بې سواده وروڼو اوخوندو خپل تنکي احساسات او کوټلي جذبات زېرمه کړي دي .

د کاکړستان په تاريخي او کلتوري حوزه کي چي ځومره د اتڼ نارې يا په بله ژبه دامی غاړي جوړي سوي دي ،هغه ټولي د کاکړو د ځانګړي ګردو کاکړي (Kākáṛi) ښکارندوی دي . او دا چي زموږ زياتر ويونکي د کاکړي سره ولد (بلد ، آشنا) نه دي ، نو ما ددوی ستونځي په نظر کي نيولي او د ويونکو په خاطر مي د کتاب په لمن ليکونو کي د ګرانو تور معناوي راوړي او ځيني ګرامري ستونځي مي حل کړي دي .

## ﴿الف﴾

﴿۱﴾

ای د هـــنجـــو نـــاره　　تـل مدام پـه ګړنګونو کي وليـاړه
وسمــه تـــه راتــوســه　　ځـي د وينـم پـه ګج وهلکي غـاړه

﴿۲﴾

ای زرې زرې يـــــــم　　چـوری نـن د هـوادار د مـرکـې يـم
په تندي کي د شين خال يم　　په ګرېوان کي د خاسې ژړي کوبې يم

(۳)

امی په کتوري کي اوبه راوړه

اوبـه لـه خـاشـو ډکـي
امی یه په یاري دي خاوري واوړه

(۴)

اومـه دئ د کـلا
که اومه دئ د کلا پر سر اومه دئ

درخـوی[1] سـي امـی وکـو
نجونو نن د کښیده زړونو واده دئ

(۵)

اخـره زمـانـه ده
ملایان یایي امی[2] مه کوه ګنده ده

پـه نورو روخـو ښـه ده
د اید[3] په روځ توبه وکلیمه[4] ده

(۶)

انـکوره سـي وښـکـي[5]
جیو، انکوره سي وښکي د په اوبه کي

د نـجـلـی یـار یـو وئ
څکه پوه بي کل د ستر کو په کاته کي

(۷)

اصیلـه پـتـه داره
زبه نه لري د هري خري په غاړه

کـه دي زبـه درلـو وای[6]
دابه هم وای د یوي یوي په غاړه

(۸)

اوس خـوانـان ډیلـي دي
نجوني نه کوي بي اکله[7] خر چوکي دي

د چـای پیاله کي ورک دي
دوی د چای د پیالي مخ له ډېر خواهي دي

(۹)

ای څه سپینکی میدان دئ
سي بـنـکـري پـر جـورپـدلای

ددئ نـجـونو پـه لاس وای
اشـکـانو[8] زړونـه مـه ورمـاتولای

---

۱. درخئ ۲. اتي ، کړا ۳. عید، اختر ۴. کلمه ۵. وابنکي ۶. درلودای ۷. بي عقله ۸. عاشقانو

(۱۰)

اوور[۱] دئ — د تسیل[۲] پراوور دئ
خان بنګل[۳] يې مړ کړ — اوس دې واخي زرېټ خان[۴] که زوروړ دئ

(۱۱)

ای څه سپینکی میدان دئ — ارمان سړي بنګړي پر جوړولای
د ښونجونو په لاس وای — اشکانو زړو مه ورماتولای

(۱۲)

امرت په ونه توره — چار، امرت په ونه توره کندهاره
زلپي مه اوردې سوې — اوردې زلپي به څو کرزم بې یاره

(۱۳)

اوبه سوه که اوبه سوه — د بیالې غاړه اوبه سوه
پر یار مه سلام یایه — دغه کل مه د سینې یوسه

(۱۴)

اوري بارانونه — کال آباد دئ باندي وابه خلو پسلونه[۵]
څوانان به تپسر[۶] وکي — سپینې سپړي به پرځي په کتارونه[۷]

(۱۵)

درخواست[۸] یم[۹] ورکلویه[۱۰] — دتپسرو کارخانې[۱۱] ونرویه[۱۲]
څوانان د تپسر نه دي — سپین تپسر په غویو[۱۳] څله[۱۴] زوبلویه[۱۵]

(۱۶)

اوبښته ده اوبښته — د لالا پر کور اوبښته
موږ ماړه یو په دنیا — ما دا روځ له خدایه غوښته

(۱۷)

اخنه[۱۶] ورا دو که[۱۷] — د سر کوپری د لاندي سه تر خارو
توبرونه دایله کو — سنځري هندوان[۱۸] د راوست له وهاري

۱۸

اومـــــا ن دي د کـــلا
کـه اومـان دي د کلا پرسر اومان دي

د نجونو به لونګ ول[19]
اوس د دوی په تېروو[20] کي‌مکیان[21] دي

۱۹

اسـمـان پـــه مـرغسـنـي
دا واړه ستوري وډر[22] سترکي کرجني

ځوانـان پـه هوا سه وي
دا زاړه خواران وېـروړي پـر مرمني[23]

---

۱.ووره ۲. تحصیل (Tehsil) ۳. نواب ښنکل خان کاکړ ۴. ظریف خان ۵ . فصلونه ۶. tesar: یو ډول ټوکر دئ ۷. قطارونه ۸. Aplication: عریضـه ۹. بـه مي ۱۰ . ورکـاوئ ۱۱. فابریکې: factories ۱۲. ونړوئ ۱۳. پـه خرو ۱۴. ولـي ۱۵. ژوبلوئ ۱۶. Ax̌ana : د یو سړي نوم دئ. ۱۷. dao : منډه ۱۸. یومحـلـي روایـت دئ ، چـي د « سنځر نیکه » په دوولــس زامنو کـي یو « هـنـدو» سو . د همـدغـه هندو و اولادې ته « سنځري هـنـدوان»ویل کیږي . والله اعلم بالصواب ۱۹. وو ، وه، ، ولو ۲۰. táporo :تېرو: tapáro۲۱. makáyān، اردو : مکیـي ، پښتو دُزار (duzār)، بډغور (badáğwar) یا جواري ۲۲. پټ ۲۳. مړمني

## ﴿آ﴾

﴿۱﴾

آسپــــه یــم ســـر کښــــه — پر میدان مه ګرزوې[1] نه د یم خوښه

مـا خپل ولات لـه یوسـه — په پردي[2] ولات به نه درواخم[3] غوښه

﴿۲﴾

آسپــــه یــم ابـلـکـــــه[4] — د لـونکـو توبره خورم لـه خـارو ډکـه

ونـــړه[5] د مـــوذي یــم — وه موذي! لیا مـه ساته لیا مه ایله که

﴿۳﴾

آسپــــه یــم ســـر کښــــه — پر میدان مـه ګرزوې نـه دیم خوښـه

یار مه خپل وطن ته بوزه — پـه پـردي ولات بـه نـه درواخم غوښه

## ﴿ب﴾

﴿۱﴾

بوری کوڅې کوڅې دئ — وی عالمه ! بوری یو ځلوښت[6] ویالي دئ

پـه زاړوکـي یسپ[7] دئ — بل پـه نجونـو کـی پیکی د ماهرې دئ

﴿۲﴾

بـر[8] د کــــه وهـــاره[9] — سي خین کړه سوې ملکه سیدو خانه

بپرتــه بې وسیم کې — کـــه وراغـــې ســـدولا سپینـــه پـراره

﴿۳﴾

بـغـاوه ښــه اولـکــه ده — سنځـاوی پـه تورو منـو[10] ښـایسته ده

سلمن د ښورو میان دئ — پــه کـاکـره وړه کـی ریکـوړه وړه ده

﴿۴﴾

بغاوه ښه اولکه ده — سنځاوې په تورو مرو ښایسته ده
خدایه ! لیار به وکې — ماله ګرانه سره ایښکي[11] نن وادہ[12] ده

۞(۵)۞

بابکه ! په څه ناز — ای بابکه ! په څه ناز دلویولم
د ګرګو[13] او د بل کئ — بابکه ! پر لمبو د ګرولم

۞(۶)۞

باران د په پرمان[14] دئ
خدایه ! نظروکې — خانې[15] چُرمی د دوو اورو تر میان دئ

۞(۷)۞

ښنګړي د په مروند کي — خال د ایښی د ورځکو په پیوند کي
پېکی د درګي درګي — لکه ښه غنم سي ودري په بند کي

---

۱. ګرځوې ۲. پرپېدي ۳. در واخلم ۴. پارسي : ابلق ۵. برخه ۶. ځلوېښت ۷. یوسف ۸. برباد ۹. wáhāra: د بوري په کلتوري اولکه کي د وهاري په نامه د حمزه زیو سنځر خیلوکاکړانو دوه کلي دي ، چي د کمي او لویی وهاري په نامه یادیږي . پخپله د وهاري ریښه په « اور » پوري نښلي ، چي معنا يې اورتون یا په بله ژبه آتشکده ده. وهاره ددې خبري شاهدي ورکوي ، چي پښتنو د تاریخ په اوږدو کي د آتش پرستی پړاؤ تېر کړی دئ ۱۰ . مفردیې : منه ۱۱. ایښي ۱۲. وعده ۱۳. ګرګو (gargu) یو رقم بوټي دي ، چي خلک په ژمي اور په بلوي ۱۴. فرمان ۱۵. خانې (xā̃ne) په ختـه چُرمی (čurmáy) او په لوی سر کي ایسه خېل (عیسیٰ خېل ) سنتیا کاکړ ؤ .

(۸)

بــنــګنــه بــابــو! مـخ
بنګنـه بابو ! مخ د پـه خولې دئ

شـابـس د پر بـابـا سـه
خره وره جنګ دکړی تر غر مې دئ

(۹)

بـنـکـې نـاوکـی سترکـي
بــنــکــې نـاوکـی سترکي تورولـې

بـنـکـې د مرکي رغ سو
سلامـي [1] یــه تــر کـلا و غــورزولــه

(۱۰)

بـــدي د و کـــــه ډيــره
روغــه نــه کيې بـارانــه [2] برت خېلـه

مست اوبن يې په ګله کي
اوښي نـه در څخـه ځي بلي ګلې له

د لـم د شــر نــګهــار دئ
خـلک نـه درځي لـه وامـه ننداري لـه

(۱۱)

بـــدي د وکـــــه کــلــکــــه
له پيتاوه [3] د غوډل يوړئ [4] غونډکه [5]

په خپل سر که ښه ځوان يې
لـه ملکـه رشيد خانه سيالي مه که

---

۱.د رنجو سلـه يې (saláhi) ۲. بـاران برت خېل د کلا سيف الله د « چينه برت خېل » نومي ځای اوسېدونکی او په ختـه برت خېل ، سنځر خېل کاکړ ؤ . ۳. لـه پـيتاوه څخـه مراد « پـيتاؤ باځزيي » دئ ۴. يو وړئ ۵. ğundak: غونډک يو نـامي پښتون اوپـه ختـه باځزيی ، سنځر خېل کاکړ ؤ .

## پ

(۱)

پــر غــولــي نــري مــار خوري! پرغولي نري مار نري يه غاړه
خپل يار به ځين خوندي کم د دا نــور کــلــي دنـــه يم ذمــه واره

(۲)

پــه سـخـر کـي تـنـکـی لښتـه يم لـويـږم [1]
لاس مــه راوړه مـا تـږم [2] دبـي اکـلـي [3] زو [4] و تـاتــه درلويږم

(۳)

پــه غــره کـي د ښـکـــارزنـو اور بـلـږي [5]
د خولي احوالي راغئ اى د سترګو ديد بم [6] کلـه سره کړي [7]

(۴)

پـورتــه پـورتــه کـرې ميـدان خـتـه دئ تـالـي وبـه ښکړې [8]
کـالـي بــه د لانـده سي پر يار ګرانه يي تالي ستا به ساړه سي

(۵)

پـــه غـــاړه د عـجبــه غــاړکـی ده
مــزه کيــي مستـانــي مـا کـوتـکـي د راوړکي سور غمی ده

(۶)

پـه دا سپينـه سپوږمی لـويـه خدايـه ستن مـه ورکـه ده نرې
تــه يــه را ميـنـده کـې زه خـــالـونـــه پـــه وهـم د جـدايی

---

۱.لويـږم ۲. ماتږم ۳. بې عقلي ۴. د زوی مخفف دئ ۵. بليږي
۶.به مي ۷. کيږي ۸. ښکيږې ، ښويږې

(۷)

پر غولي دانځر دئ تر نغري د را ښکاره دا نځر ولګي
لاس په لاس کي راکه سي ارمان د په کای و کاړم لړلګي

(۸)

پر تندي د غوزپره [1] دئ داري داري
مړو ښي د مړو دي پغلي [2] نجونه د هرچا سره ولياړي

(۹)

په غره کي د ښکار زنو اور بلړي [3]
سي د خولې سلامې [4] رالئ دسترکو ديد به کله سره کړي [5]

(۱۰)

پر دې اولکه د ترخي پر دې اولکه د ترخي بوټی نسته
موړ به اتې وکو [6] له هغو ځوانانو يو راسره نسته

(۱۱)

پرته که ځنګونه وړکی پر ميدان جوت راړه لاسونه
له ياره شرم نسته جوړ هی هم که سي ډکر وکي دودونه

(۱۲)

پر سپينه خوله د خال دئ وه تر کړدو ښايستې کلم [7] د خوار دئ
زه خدای پر تا مين کم وه د سين شاپېری چيري د مکام [8] دئ

(۱۳)

په لاس مه لاس مندي [9] دي پر وهلي مه د سرو زروغمي دي
يو به پر ور نه کم اوسني ځوانان ځلور په اباسي [10] دي

---

۱. ǧorezá ۲. پېغلي ۳. بليږي ۴. سلام يې ۵. کيږي ۶. وکړو
۷. قلم ۸. مقام ۹. لاس وندي ۱۰. عباسي

﴿۱۴﴾

پُــــر هـــــار دئ ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ د مــراد خــان[1] زړکــی پـرهـار[2] دئ
سر دار اختر شاه[3] مړ دئ ‌‌‌‌‌‌‌‌‌ نړېدئ به پور سندېٖ[4] ترڅو ولیاړ دئ

---

۱.نومیالی پښتون سردار مراد خان کبزیی د خپل وخت یوه خورا مېړه ، غښتلی او نامداره سړی تېر سوی دئ . زموږ دغه باتور ورور او د پښتني وراشې خاوند د اوسني ږوب د «سیلانه» نومي ځای اوسېدونکی او په سنځر خیلو کاکړو کي د کبزیانو نومیالی سردار ؤ . نوموړی دا وخت په ګوسه کي د «سنځر نیکه» په څنګ کي په ابدي خوب بیده دئ . ۲. زخمي ۳. سردار اختر شاه د سردار مراد خان نازولی زوی اوپیاوړی فرزند ؤ . ۴. Porsande :پور سندېٖ په حقیقت کي د دوو تورو مرکب دئ ، چي اصل یې پـه فـورټ (Fort: قـلـعــه) او سـنـډېـمـن (sandeman)پوري اړه لري. او انګرېزانو دغـه نوم پر پخواني «اپزیي» او اوسني ږوب باندي ایښی ؤ . پورسندېٖ =فورټ سنډېمن په حقیقت کي و فاتح بلوچستان لارډ سنډېمن (Lord sandeman) ته منسوب دئ . پخـوانـي خـلـک تـر اوســه پوري اوسـنـی ږوب د اپزیي (Apzai) او پور سندېٖ په نامه یاد وی . زما په فکر د ښارونو او ځایونو نومونه بدلول انساني تاریخ تر پښو لاندي کول دي .

﴿۱۵﴾

په سپینه خوله مه موړ که په زانکوی مه زنګوه زانکوی را جوړ که
نوري ښادۍ نه غواړم بر سره [1] ستا چکڼ رابانديي خورکه

﴿۱۶﴾

پواتــه [2] سـرد لـوړ هـوا د زیـاتـه

تـر بـور میږی پر پیایي دا تـرلـې نـجونـه بې، ګوري لـه ولاتـه

﴿۱۷﴾

پـواتــه سـي پـر سـر د پـالېزونـه

د نـورو پـالېز پوخ سوئ د مستـانـي پـالــېـز اوس کـوي کلونـه

﴿۱۸﴾

پروسږ کال پر دې مېنه مېسته وو کــمیــــس د تپـــاره وئ
د نابودي دنیا غم راسره نه وئ کـمیــس د کـرېـوانــه سوئ

د نـابـودي دنیـا غـم راسـره وسـوئ

﴿۱۹﴾

پــه نیـل د دروازې دي که په نیل د دروازې چوکاټ په نیل دئ
زوی سي خدای پیدا کئ ښې ورندیاري نوم پر ایښی لونګین دئ

---

۱.بر سېره ، سر بېره ۲. پوات (páwāt) د کوهلو په سیمه کې یومشهوره غر دئ . ددې غره په لمن کې ادیاڼې مریان مېشته دي .

(۲۰)

پَلمَتري [1] مه خيږي | خوری! پلمتري مه خيږې مخ مه رکين دئ
تر بور سي مېږه نه کي | سپی تربور د مېږه قدر کمه وينه

(۲۱)

په لاس مه لاس مندي دي | پروهلي مه د سرو زروغمي دي
زما ونډه له اوږدوکي | دا د خدای د قهره ډک تندګي دي

(۲۲)

پر سر د زرغون شال دئ | وه تر کردو ښايستي کلم [2] د خوار دئ
سي ورکي ونتلي | رب دې ونتي ستا څه نتلی [3] پلار دئ

(۲۳)

په دې اتن کي کمه وروغي ده
هغه وروغي [4] ده | سي د وسي نری پرخې پر تندي ده

(۲۴)

په نجونو کي مه خپله تر له ښه ده
يو يه سپينه خوله ده | د دا شنو خالو يې بله نندارہ ده

(۲۵)

پاله لنکی وکه | لنکی ښه درسره ايسي
ستا په ...يه وم | سر سپروکی اواره دئ

---

۱. Palmátri ۲. قلم ۳. نخلی ۴. wároği : کته، فايده

﴿۲۶﴾

پـر و سـرِ کـال لیـا بـښـه ؤ — ای لالیــه ! تـر شهتـوت لانـدي ویده وو
د خـدای فضل که نه وای — ای لالیـه ! اوس بـه دواړه سره مړه وو

﴿۲۷﴾

پـر ځـنـګـل بانـدي د دوو زمر یو پل دئ
دا یـو زمـا لالــی دئ — دا بل زما وړوکی ورور ورسره مل دئ

﴿۲۸﴾

پوري خوا غوا لنکـه ده — ای پوري خـوا غـوا لنکـه ده تنـدی [1]
مرمن [2] یـه پر کور نسته — ورا ووتــه تــور سـتـرګــې نــاوکــی

﴿۲۹﴾

پـه دې وچـه بــیـالـه کي — الـی لالیه ! موذي وویستم [3] له مځکي
داســي تـکـي [4] راکـئ — زما لالیه ! تـر کیامتـه مـه پـه زړه کي

---

۱. تازه ۲. مېرمن ۳. وویشتم ۴. تک ئي : درزيې

(۳۰)

پــه پښـو مـه سلیل پـانـکي [1]ځـرخـړي [2]

خــود بــه را ځــرخــړي سپـړي [3] مـه دا بله میاست [4] ودړي [5]

(۳۱)

پر زنګه [6] د شین خال دئ تـر تـولـو ښـایستـی کـلـم د خوار دئ

سـې ورکـې و زاړه تــه رب دې و نتي ستا ځـه نتلی پلار دئ

(۳۲)

پـــه نیـــل دئ د کـــلا کـه پـه نیل دئ د کلا بازو پـه نیل دئ

زوی سي خدای پیدا کئ ښې ورند یاري نوم پر ایښی لونګین دئ

(۳۳)

په سپینه خوله د تُور دئ پر سینه د کوتي وړ ي د یاردستور دئ

دا یـار سي تـا ویستلی [7] لـه رغوسره دی ځـي په زړه انځور دئ

(۳۴)

پیکـی یـه ولونـه ولونـه دا مـی ومیــان تــه ولـوپـده لالـونــه

امـی پــه ښایستــه سوه امی خوند کیي [8] په دغه نمنه [9]نجونه

---

۱. پاڼي ۲. ځرخیږي ۳. saparə́y خوندکی ۴. میاشت ۵. ودیږي

۶. zanga : زنه ۷. ویشتلی ۸. کوي ۹ نمونه

(۳۵)

پـــوري اوري وري دي ادې! پـوري اوري وري دي رمېـدلـي
لالـــــه ورســـره ده دا سپـنـکـي سوڼـانـي پوخـه درپـدلي

(۳۶)

پـل بــه د پر پلــه وړم قــدم بـــه پـر قــدم درســره وړم
مــا د کـي رب خــواره چـي بـه ستا د خولې کـايـونـه هېروم

(۳۷)

پـرتــه کــه ځـنکـونــه چـي د وينـم د خوا وو[1] پـيـونـدونـه
اوږې ځلـه[2] کښېکارې نـا عـادت يـې د زړو[3] پـه لاسونـه

(۳۸)

پـر غـولـي د تـور مـار نـری يـه غـا ړه
دا خپل يا ر د را خوندي که د دا نـوري پيـدا[4] نــه يـم ذمــه واره

(ت)

(۱)

تـلـلــی وم بېـرولــه ما ول: رابـه سي نجلی د کټ اوبو لـه
کــه نــه راغــه اوبو لــه زه بـه عـذر ليـا چيـلم کم ليـا کـګوړه

(۲)

تـر دغـه مـخـکـه لاندي تـر دا بـلـه زرغـونـي اوبـه بهـاندي
د نـجونو خولې ملالي خدای دې نه کي تر ګرجنو مرو لاندي

---

۱. x̌wāoo: تي، تیان ۲. cála: ولي ۳. ځوانانو ۴. دنیا، خلکو

﴿۳﴾

تـلـلکي [1] وم نـارو لـه | مـا ول : رابـه سي چوری د کټ اوبو لـه
کـه نــه راغـه اوبو لـه | پاروندی [2] ګیله [3] مي [4] باندي ده عمروله

﴿۴﴾

تللی یم د سین [5] پرلوري | چته ناسته د بـاغي انځـر په سوري
یو خواستي [6] راتـه وکئ | لـونګ راړه د پتـکـی پـه پـلـو پوري

﴿۵﴾

تـر پـاڼ لاندي سرو کي سرويـه
یوغورپ مـه ځيني وکئ | زمـا ارمـان سپـینو پـایڅو توره پیکیه

﴿۶﴾

تــر یـارمــه ریبـاره ښـایستــه ده
یوه یې سپینـه خوله ده | دا شــنــه خــالـونـي [7] نـنـداره ده

﴿۷﴾

تـرې [8] درغـي [9] نــاري | تک د سور سه آسپـه وبـاسه له لیاری
باران په لښکر کښې دئ | ببر غوري ننکوي ایښکي [10] یه داري [11]

---

۱ . تللي ۲. پرونـی ۳. ګله ۴ . مه يې ۵. سیند ، سندهـ (sindh) ۶ . خواست يې ۷. خـالـونـه يې ۸. تېرې ۹ . درغلي ۱۰ ایښي ۱۱ . dāri: خیراتونـه ، البت د داري (dāri)مفرد دار (dār)چـي يې مطلب خیرات دئ .

۸

تردي مځکه د تل[۱] مځکه پسته ده

سي لاله پرمېسته[۲] ده    تر دا ښي مروندې غاړه ښايسته ده

۹

تلم د سند پر لوري    چته ناسته ده ياغي انځر په سوري

يو سوالي راته وکئ    لونگ راړه د پتکي تر پلو پوري

۱۰

پرته تندي وري دي رمبدلي

لاله ورسره ده    دا نري سوښاني[۳] پوځه درېدلي

۱۱

تر کټ لاندي تور مار    خوري! تر کټ لاندي تورمار نري يه غاړه

خپل يار به را خوندي کم    زه د نورو خلکو نه يم ذمه واره

۱۲

تر[۴] مه کو[۵] وخونه، هېر[۶] يم[۷] نه سي    د ځواني خواږه کايونه[۸]

تيکري به مه خواره کو    د آشناي تر سر يم لاندي کو لاسونه

۱۳

تر کړدو ښايستي نجلۍ    تر کړدو ښايستي کلم[۹] دخوار دئ

وغول موذي تي ورکي    خداي دې وتني ستا څه نتلي پلار دی

---

۱. Tal: د بوري د ډکي په سيمه کي تل يو ځاي دئ، چي د خپل وخت لوی عالم، پياوړی ليکوال او د خداي نازولي بنده حضرت ميا عبد الحکيم کاکړ په همدې تل چتيالي کي په ابدي خوب بيده دئ. ۲. مېشته ۳. سوښان يې: شوندان يې ۴. تېره ۵. کړو ۶. وېسر ۷. به مي ۸. خبري ۹. قلم

﴿۱۴﴾

تـر دې نـجلـی بېکـاره جـا ر ! تـر دې نـجلـی بېکـاره نسـتـه
د رود لـه هـغـې غـاړې تس[1] لستونی راوهي لاس په کي نسته

﴿۱۵﴾

تُند دئ تُند دئ تُند دئ شنې کوترې مشخلی[2] د مېړتون دئ
یـار د مـجلسـی دئ وچ کـوډی د پـروت پـر مشـخلي دئ

﴿۱۶﴾

تـر بـور مــه د دا پوري کلي شپـه دئ
حـال بـه ور لـېرمـه[3] سي دا غول موذي له ماسره کنده دئ

﴿۱۷﴾

تـور دئ مُـرغـه تور دئ مُـرغـه پـه هوا ځي کـا کل يه تور دئ
وس وکـوی ځـوانـانـو د پغلي[4] اسراحت[5] د پلار پر کور دئ

﴿۱۸﴾

تـور د دي لاړونـه پر ځيکـر يـه شوروي لـکـه مارونـه
مور مارونه نه خوري مور خوړلـي دي د تورو مـارو زړونـه

﴿۱۹﴾

تـختـه تـختـه تـختـه[6] انکور نه يم سي تاک واچوم پر درخته
اصيلـه دُرايـي[7] يـم موذي وکښم د سلطان باچا له رخته

---

۱. تـش ۲. Maṣ̌xáláý: د پـوسـه ۳. ورلېږمـه ۴. پېغـلـي ۵. استراحت ۶. Taxta، ځيني خلک بيا دغه مسری داسي وايي: تخـتـه انکور تخـتـه ۷. يو خورا قيمتي ډوکر دئ .

﴿۲۰﴾

تـربوره ! پـرنـغـري د[1] جار ، تربوره ! پرنغري دا وبه کښېږده
لیلا یــه درځـا[2] یوړه [3] ای تربوره ! ړیره وخریه برت [4] پرېږده

﴿۲۱﴾

تُوت [5] پــه ونــه تـوره کـنـدهــاره
جانان پښکې [6] بندي ده پـه پښو یـه هتکړی ځینځیرپه غاړه

﴿۲۲﴾

تر کټ لاندي تور مار نری یه غاړه
خپل یار به ځیني پټ کم د دانـور عــالـم یــه نــه یـم ذمــه واره

﴿۲۳﴾

تـر ایــه مـځـکـه لاندي تـر دابلـــه ارو بـې [7] اوبـــه بهــانـدي
د نجونو خولې ملالي خدایـه ! مـه کې تر کړجنو مړو لاندي

﴿۲۴﴾

تک د پـــه دا نــجــونـو نجلی ! تک د په دانجونو کي ښکاره دئ
پـه ملا بـاندي نری یې دا غــاړه غـزه یـې [8] دا حق دنــه دئ

﴿۲۵﴾

تـر سـتـرکو د راڅـا ځي تـر سـتـرکـو د راڅـاځـي وینو داري [9]
شـرم و حیـا نــه لـري د دا اوس زمـانې نجونـه دي بېکاري

---

۱. د ( da ) : دي ۲. درځخه ، درځخه ۳ . یووړه ۴ . برېت ۵ . tut ۶ . په کښې ، پښکې کي ، په کې ۷ . Arobe: د باران اوبه ، البت د کارېز و ابوته په کاکړي کي « زیندی : zendáy » ویل کیږي ۸ . ğazáe: غزوې ۹ .dāri ځلکي :caláki

﴿۲۶﴾

تــــره دراوهـــلـــــه — د سردار ځای له دراوسته «بنګله»
سردار له خلک پرده وړي — تــــه وراغــي دروازه د تــکــولـــه

# ﴿ ټ ﴾

﴿۱﴾

تـالـي نـظـر د لوړ دئ — پر يوه څنګ د هندو پربل زرګر دئ
لـه زرګـره د والـي دي — لـه هندو څـخـه د تور چکر [1] پرسر دئ

﴿۲﴾

تـالـي د انـګـور ونـــه — برکوي داني په غورزي [2] له اوربله
سي [3] نه خورم وړی کړم — سـي پـه خـورم د تـالـي لونی [4] کړم

﴿۳﴾

ټیکری [5] د تور سان دئ — سي يه نه ښکاره کوي در باندي ګران دئ
سي وخت د نيمو شپو سي — په ورو ورو [6] يې ړغوي يار د نادان دئ

﴿۴﴾

ټيک د پـر تـنـدي دئ — پر ملالـه خولـه د سوری د پیکي دئ
د ايـد پـه شپـه راووزه — چتي ! ګـل د اچـولـی پر ټيکري دئ

﴿۵﴾

ټـولـه ټـولـه ګـرړي [7] — مځکـه ختـه ده نجلی وبـه ښکړي [8]
ګـالـي بـه د لانده سي — پر يار ګرانه يې نجلی ستا به ساړه سي

﴿۶﴾

ټـولـه ټـولـه ټـولـه — نن به چيري يې د پلغو [9] نجونو ټوله
ليـار بـه ورتـه نسم [10] — ښايسته نجلی به بيا رځي اوبو له

**(۷)**

تک وهـئ لاسـونــه — ای بې دردو نجونو مه خورئ مروندونه
اوس لیـا د پلار کور دئ — یـا بـه ورسئ د موذیـانو پـه لاسونـه

**(۸)**

تـکـنـده غـرمــه ده — ښایسته نجلی په خونه کي ویده ده
راســه کــه یې کورې — تر سپین مروندې غـاړه ښایستـه ده

## (ج)

**(۱)**

جالَغ[11] د په توکان دئ — د سردار سمـنـدي سرد پـه اسمـان دئ
څوک نه پر پړدې و شاته — ناغېری[12] کوې سردې سپور د پاېند خان دئ

**(۲)**

جـار د و خـدایـي سم — که د راکه تور پیکی ډېر به راضي سم
په سپینه خوله بې مور سم — د پیکیـو پـه اوربـل بـي عـادتـي سم

**(۳)**

جـار وتـه[13] پـه خـونـه — ماول: کلـه بـه ښکاره سي کرده کُوره
زما اروا[14] یـه یورئ[15] — زه یـه کـمـه د غـول موذي مـزدوره

---

۱.čákar: چنکنُ تیکری ۲. غورځي ۳. چي ۴. لبونی ۵. پرونی، پوړونی ۶. سوکه سوکه، کرار کرار، میده میده ۷. کیږې، کاږې ۸. ښکیرې، ښویږې ۹. پېغلو ۱۰. نیسم ۱۱. jālağجالر ۱۲. nāgerə́y: اړي ۱۳. دننه سوه ۱۴. ارواح ۱۵. یووړئ

❀(۴)❀

جـانـانـه ! د مېلـې ای جـانـانه ! د مېلې د اومبارک [1] سه
سـي زما وخـواتـه ګورې ای جـانـانـه ! پر ځـواني د برکت سه

❀(۵)❀

جـار د مـوذي ګېنتـه موذيکيه ! پـروړ د ستـه ، غنم د نسته
ستا شکل د مرغونځي [2] مرغـونځـه ښايسته عملي [3] نستـه

## ❀ ( چ ) ❀

❀(۱)❀

چوری سي لـه ځوهي [4] ځخـه اوبـه وړي
ګـوډی د چـکـړي [5] تر دا ګوډي لاندي ځه ملاله خوله وړي

❀(۲)❀

چـوری پـر ديـوال ګـوړه مـاتـولـه
خولـه يـه هغو نوش کـه سي يـه غوښـه پـه غوړو پوري ګولـه

❀(۳)❀

چتـي نـجلـی چـتـي پـه غـوړو د مرکولې پـه پښو چوتي
خـوانـان د لوني [6] ګـړو دا زاړه خـواران د و ايستـو لـه کتـي

❀(۴)❀

چـاول : زمـا د ګوتکي [7] منداهی ول : زما د ګوتکي غمي تور دئ
زما زړه په زريپ [8] لوی دئ خدای دي راولي بنګل [9] پر سپرکی [10] سپور دئ

۱ . umbārak : مبـــارک ۲ . Marġŭnǰi : مـــره غـــونـــځـــي (Maráğunǰi) ۳ . عمل يې ۴ . cohǝy : خېزی ، چينه ۵ . ځځېړي
۶ . Lawáni : لېوني ۷ . ګوتي ۸. ظريف خان ۳ . توريالی پښتون نواب
بنګل خان کاکړ ۱۰ . آسپه

(۵)

چـا ویـل : پـه لاس کـي منډاهی[1] ویل : په لاس کي مه ګډېه[2] ده

ګـډېـه د ما در ونسئ[3] پـر بـنـګـل مـه د ډېډانو[4] مـرکـه ده

(۶)

چوری پـر دېوال ګوره چـوری پـر دېوال ګوره مـاتـه ولـه

هـغـو څـوانـانـو یووړه سي یـه غوښـه په غوري پوري کولـه

(۷)

چـي را و ختي سهېلـه خـوپ د واچـاوئ پـر مېـنـه

پـاروند لیـا راسره وي نن بـه چیـري یـې د شنو کوتـرو سېله

(څ)

(۱)

څـلـه د لـه خـوبـه مـا ول : څـلـه د لـه خـوبـه ویښولم

خوله کـه د په کار وای وه میـنـه ! لـه ویـدو د مـچـولـم

(۲)

څـه ګوري[5] څـوانان دي لویـه خدایه ! د لُنګیو[6] لایکان[7] دي

کاپې[8] په لاس کي ورکوی د زنګو[9] غه په پېشن[10] کي سرداران دی

(۳)

څـنګـه سپین میدان دئ زمـا ارمـان سړي بنګړي پرجوړ ولای

د ښو نجونو په لاس وای اشـکـانـو زنـو مـه ور مـاتـولای

---

۱. منډاهی (Mandāay) : د نواب بنګل خان کاکړ نازولې خور وه. ۲. ګډوه. ۳. درونسۍ (Darwansáy) در ونیسۍ ۴. انګریزانو. ۵. guri: ښایسته، ښکلي، کښلي
۶. مفرد یې لنګی ده ۷. لایقان ۸. copy: دفترچه ۹. zango: له زنګو څخه مراد د
بورې په ښار پورې زنګیواله (zangiwāla) نومې کلی دی. ۱۰. fation.

# (څ)

(۱)

څو بـه څوبـه څوبـه — دلالک پـــه ورا بـــه څــو
راغـلـي مېلـمـانـه يو — مـور د خـلـکـو خـذمتـونـه نـه کـوو

(۲)

خـدايـــه وکـې وســه — سي به پغله نجلی واخلي نوکي [1] غوښه
دابـــه واخلـي غـوښــه — زمور به پښې تر مځکه نه ځي له هوسه

(۳)

څـمــه تــر بـرو څـمــه — پر ځان وکوروئ [2] تر برو بدي درلمه [3]
سي يه نه ورم زماکيمي [4] ده — سي يه ورمه زرتولی د کام [5] بدي ده

(۴)

څم څم خره مه تيار دي — راتـه ويـايـه تالي ! څـه د پـه کار دي
انکور غواړې که اوڅکي — تـالې !تور انکور پـاخـه د کندهار دي

(۵)

خوسئ [6] ډکـاری دئ درچ [7] پـرنستـه
راسـئ درچ پـر وکـو [8] — لـه دابـو هـمـزولـو يو راسره نستـه

(۶)

څـي لالـه توبې [9] لـه — دا نـه يايي [10] څوک پـاتـه سو پر مېنه
دوبـی بـې دورې [11] وي — په پسرلي به خولکی راړي کروندې له

(۷)

څـم کـار مـه تيـار دئ — راتـه و وايـه تالي ! څـه د پـه کار دي
انکور غواړې که ا وڅکی — تالې !تور انکور پـاخـه د کندهار دي

## ❁❁❁﴿خ﴾❁❁❁

﴿۱﴾

خدايه! لاهور نوی جوړوينه

خدايه! جوړ يه [12] مه کې | لالی په سر تور سر خاوري راوړينه

﴿۲﴾

خدايه! لاهور نوی جوړوينه

پر سر کي يه ليلا ده | زاړه لونګ په نَويُو بدلوينه

﴿۳﴾

خال د په تندي کي | لکه ترخه د غنمو په کوړدي [13] کي

داسي بوی د رالئ [14] | ښايستي لکه سور سانده [15] په سېرکي [16] کي

﴿۴﴾

خانه وزير خانه | د خپل زړه په سايه تلې و د وزه دواړه

نن داسي خلکو مړ کې | وزير خانه ! سي د مرګ دئ له مياره

﴿۵﴾

خوپ دئ پرملکونه | پر دا لوړو غرو راواوښتو کرځونه

اياز و پيروز مره دي | نر پدل به د وهاري خيارتونه

﴿۶﴾

خال دله درابنه معلومړئ

راسه ياري وکه | ستا پرشنوخالو هندوان مسلمانړي [17]

۱. نوې ۲. وګورئ ۳. درورمه ۴. sursanda: سورسانده يو دول ښايسته بوټی دئ چی سره ګلان کوي . او خوروا ښه بوی يې څي. ۵. قام، قوم ۶. خوشی ۷. drač ړغ ړوغ ۸. وکړو ۹. مراد کاکړي توبه ۱۰. وبايي، وايي ۱۱. هوري ۱۲. يې ۱۳. کوړه، کورد ۱۴. راغلئ ۱۵. serkáy : د سيوري خوا = سېل ۱۶. معلوميږي ۱۷. مسلمانيږي

﴿۷﴾

خوله د شنشوبي په اوبه ده ... خوری ! خوله د شنشوبي په اوبه ده
و ماته د رانه که ... سبا بې لیا چمجي [1] وخوري لیا مځکه

﴿۸﴾

خواره شپنه خواره ... چې یوه تاکی درلنک بله په غاړه
راځه په ا می کښېوزه ... تا [2] میا به دا مُرغان کي راکراره
کي نه که راکراره ... خې عورته د خاوند غیم که ولاړه

﴿۹﴾

خوله د خاټول وئ ... نجلی! خوله د د خاټول ترکل نازکه
ماته د رانه که ... وی، سبا بې لیا چنجي وخوري لیا [3] مځکه

## ﴿ د ﴾

﴿۱﴾

درځه ځي دا د ړوب وغرو خېزو
ګیلې مه کوه یاره ... دا آخر زمانه ده رسوا کیږو

﴿۲﴾

د تُوت په سر کي ناسته شنه کوتره
داسې ښایسته ده ... ای اخونده ! لکه سات د کلم [4] د ړه

﴿۳﴾

د تُوت په ولکي توره کندهاره
یار مه کي بندي سوئ ... ای اوږدې زلپې [5] به ځوکرزم بې یاره

﴿۴﴾

د تل کوټې ولیاړي [6] ... جار! د تل کوټې ولیاړي تسي [7] توري
هغه ځوانان نسته ... ځي بې واړول جُوړي [8] د شاپر لوري

(۵)

دلتــه بــاران نــه دئ مـا ول: دلتـه باران نه دئ اوربدلی
کُــوز کــلــي تــه ولاړم د پلغي شرنک مه نه دئ اوربدلی

(۶)

د کبنې پر بازار بیار اله[۹] یکړه[۱۰]
کــمیســې د زرتــارو خولکی یــه د شرابو برابره

(۷)

درلــــه دغــــه ده بنی پلوله مخه وړي اصیل زاده ده
تر بنې مړوند ې نیسه سپینه خوله یې د وربښمو کلا وه ده

(۸)

دونــه دونــه دونــه راپتري لیا کبري لیا مناهونه
نور ارمان مه نسته زما ارمان د سپپری خالي ځایونه

(۹)

دونــه دونــه دونــه د پوات پرسري ووهل ډولونه
تابه راځــه[۱۱] یوسي مور به لاس واخو چوری له پلستکانو

(۱۰)

د سبت پر غره راووتې دوې زانکې[۱۲]
سي پر لوړه غاړه زاري دا یوه د خالا مور بله یه ناوکي[۱۳]

---

۱. چنجي ۲. ستا ۳. la : لا ۴. قلم ۵. زلفي ۶. ولاړي ۷. تشي توري : خالي ۸. شملې ۹. راغله ۱۰. یوازې ، یواځې ، له ویازې ۱۱. راځه ۱۲. زانې ۱۳. ناوې

﴿۱۱﴾

د بنګنې ناوکی سترکي تورولې

د بنګې د مرکي ږغ سوئ سلايي په تر کلا و غورزولـه

﴿۱۲﴾

دونه دونه دونه مور مېختر کرو په ژړکلونه
کې و کل [1] ژړ کلونه د ډيوا [2] آسپه بې خوري د سر نارونه

﴿۱۳﴾

ددغه مانده سر ليري وه، ددغه مانده سر ليري يا توينه [3]
راله مسته راله [4] سي زاړه لونګ په نوي بدلوينه

﴿۱۴﴾

د سياځکي [5] سر کړدی [6] دئ پر يوه سرې زرک [7] پر بل يې تلری [8] دئ
زرک د ميږو ځای دئ پرتلری باندي د نجونو مازغلی [9] دئ

﴿۱۵﴾

دلته باران نه دئ ماول: دلته باران نه دئ اورېدلی
په کړد [10] کلي کي رالمه [11] د پلغي ږغ مه نه دئ اروېدلی

---

۱. وکړل ۲. له ډيوا (Diwā) څخه مراد نوميالی سردار ډيوا خان ميرکزيی، حمزه زيی، سنځر خېل کاکړ دئ. ۳. يادوينه ۵. راغله ۶. د بوري و «سرکړي درکی» او «چينالی» نومو کلو ته مخامخ يو غر دئ ۷. کردی ۸. زرک د سياځکي غره څخه د قبلې پر لور د يووې خېزی (چينی) نوم دئ ۹. تلری (Taláráy) د سياځکي نومي غره څخه د لمر خاته و خوا ته د يوې بلي خېزی نوم دئ. ۱۰. کرد، تول
۱۱. راغلمه

۱۶

دوې يوترلې دوې يو وه ترلې ! مور د يوه اکا وررې[1] يو

مور تر کلا نه وزو سې ووزو يو تر بله ښايستې يو

۱۷

د تُوت په سر کې پرېوته کوتره

دغی[2] ښايسته ده خان لايکه[3] لکه ستا ده کلندره[4]

۱۸

د وايې په مانده کې ادی موري! آدم خان وهلې مردکې

مابه خولکی ورکه ادې موري! دواړه لاس مه په وړه[5] کې

۱۹

دوري دوري دوري شا کوتې وليارې تسې توري[6]

هغه خوانان اوس نسته سې بې راوړل جوړې د شا پر لوري

۲۰

دونه دونه دونه پر دې لويو غرو را واوښتو دوندونه

اياز و پېروز مره دي نړول بې د وهارې خيارتونه

۲۱

د چا ناوکی سر دئ غوړولی د بنکل[7] ناوکی سر دئ غوړولی

سر بېرته کوسي که[8] ژړ بنکل د کلا برنج دئ نړېدلی

---

۱. وررېرې ۲. Dağáy : داسي۳. لايقه ۴. قلندره ۵. اوړه ۶. تشي توري: خالي ۷ ملي مبارزه نواب بنکل خان کاکړ ۸. کوسي کول (gusi kawə́l): اوودل

(۲۲)

دونـــه دونـــه دونـــه د پلانـي ... لـه زایيږ نه غواړو کورونه
بخت دې خدای راسم کې پر لمن دې خدای راشنه کې ژړ کلونه

(۲۳)

د نـن سبـا ځـوانـان دي ږيـري نسته پر برتو[1] په دوه وبنتان[2] دي
تلسي خپلي ږيري کښېږدئ سيالـي مه کوئ سيالي د نجونو کراني

(۲۴)

د دوو ځيلو[3] پيوند[4] دئ پـه شپـه مـه وزه تالي د زمي زنګ دئ
د خولې خوند د خورما[5] دئ پـر سينـه د باغ کـرلـی تور لونګ دئ

(۲۵)

د غـول مـوذي عـورتـه پـه سونـده وار چـارګل لـرې وار نتـه
لـه کښي پر کلی راغه دغـه سپينـه خولـه بـه نه وړی سلامته
کـې يـو وړه سـلامتـه پر موذي د خاري[6] واوري تر کيامته[7]

(۲۶)

د اوس زمـانې نجونـه د زيپـو رنګ يـــه وچ دي هـوسـونـه
نـــه بـــه يـاري وکـې نـه بـه واچوي پر پلستي دوی لاسونه

(۲۷)

دا روی اورد چـــا دئ سـي بـلـــــرې[8]
د اور تـر واهـي لانـدي دا زړونـکـی د تالي دئ سي ځورې[9]

---

۱. برېتو ۲ . وربښتان ، بېښتان ۳ . توره ځيله او سپينه ځيله ۴ . Pewand
۵ . خاوري ۶ . خُرما ۷. قيامته ۸ . بليرې ۹ . cáwazi: ځرکيرې

**(۲۸)**

دوې دي نجونه دوې — پر ياله غومبر وهي سره ترلې دي
ديوې په غوړ والي دي — د دا بلې په غوړ ژړي مرکولې دي

**(۲۹)**

دريا خانه ! اورد بل سکاره د مړه دي
دريا خانه ! اور د مړ سه — نن جُمک ☆ وغلام ☆ ستا له لاسه مړه دي

**(۳۰)**

دنده دنده دنده — ورکي اتڼ کوي راغلکي نن ده
مخکه په پوتي که — پر شينکي آسمان د خاورو مرغسن ده

**(۳۱)**

دوري دوري دوري — دا د تل کوتي وليارې تسي تور[۱] ي
هغه څوانان کي نسته — سي بې وارول جُوړي[۲] د شا پر لوري

**(۳۲)**

دونه دونه دونه — پر دا لويو غرو يې را وستل کړ څونه
اياز و پيروز مړه دي — نرپدل به د وهاري جيارتونه[۳]

**(۳۳)**

دوري دوري دوري — يه[۱] وار مخ پر شاراکوړ که
اياز و پيروز مړه دي — سيدو په توپک مه وله ورنندياري

---

☆ څرګنده دي وي چي جُمک د غلام خوريی دئ . د بوري د ,, کڅ امکزي ،، دغه دواړه کاکړان په يوه ناتار کي مړيو مړ کړل . ۱. تشي توري : خالي ۲. Juri : شمله ۳ . څيارتونه ، زيارتونه ۴. ya : يو

(۳۴)

د اړ [1] تنکي په وره کي لاهوری! و د ویستم [2] پـه لـړمانـه کي
کـره نـخښـه بې درکم سي کالي [3] د ویړول [4] په غوځېره [5] کي

(۳۵)

دا دوري اوري کـلـې مـه دیـار دئ
یـار مـه پـه کي نستـه روغ زړکی مه په کاکل [6] کي ناکرار [7] دئ

(۳۶)

د تُـوت پـر سـر کـي نـاستـه ده کـوتـره
داسـي ښـايستـه ده جـار طـالبـه !لـکـه ستا دکلم [8] دړه

(۳۷)

دوې دي نجونه دوې دي پـرکـلا اتـې وهـي سـره تـرلـې دي
د یوې پـه غورروالي دي د دابلـي په غوږ سپيني مرکولې [9] دي

(۳۸)

د چـټ [10] کـمیـس مـه غـاړه خوړوینـه
اصيـل کـنـاوېـز [11] راړه پـه الوان [12] کي مـه شيطـان غلطونه

(۳۹)

داپـوري غـر کـنـدؤ ده لاریـې نستـه
زه بـه لار پـې وکـم د دوو میـنـو یـو راسـره نستـه

---

۱.تنک ۲. ویشتم ۳ . جامې ۴ . خورول ، هوارول ۵ . غوږېزه ۶ . کوکل ۷ . ناقرار ۸ . قلم ۹ Markole .۱۰ . čit: یو ډول ټوکر دئ
۱۱. kánāwez : یـو رقـم ټـوکـر (رخت) دئ . ۱۲ Alwān : یو راز ټوکر دئ .

(۴۰)

دوري يو پکير[1] ده چا وزلي[2]

چا نه دئ وزلي — زړکى يه په ليلا پسې چا ودلی

(۴۱)

دوري دوري دوري — ناري ورته وهم نه راته گوري

که ته نه راته گوري — تر تا مه ښايسته خوانان وربولي

(۴۲)

د سحار سرغيسي[3] باد د ښوروينه

د پلغي په غوځي کي — ناندانه زړي! خوب د زنکوينه

(۴۳)

د چا په برنج[4] کي دوه — د زريپ خان په برنج کي دوه اوره بلړي[5]

اياز و پيروز مره دي — که به چيري وي نيکان و د رسړي[6]

(۴۴)

دوي دي نجونه دوي دي — د«امی غاړي» کوي سره ترلي دي

دوي يه سپيني خولي دي — زکات نه کاري سالم[7] حرام خوري دي

(۴۵)

د اخنکه خوانان دي — ړيري نسته پربرتو يه دوه وښتان دي

سيمي[8] ړيري کښېږدئ — سيالی مه کوئ سيالی د نجونو گران دئ

---

۱. فقير ۲. وژلی ۳. سرغسی ۴. برج ۵. بليري ۶. ورسيري ۷. sālam کرسره،کړ د سره، پي، پيږ ۸. simi: سمي

### (۴۶)

د چپټ کميس مه غاړه　　　د چپټ کميس مه غاړه خوروينه
سور کناوېز راړه　　　په دا شنه کي مه شيطان غلطوينه

### (۴۷)

درغه دغه ده　　　سي پلو له مخه وړي اصيل زاده ده
په نجونو کي ليلا ده　　　په آسپو کي سمنده ښايسته ده

### (۴۸)

درځئ سي نجونو تر به　　　درځئ سي نجونو تر به کوساتونه
اوس ليا د پلار کور دئ　　　بيا به ورسو د موذيانو په لاسونه

### (۴۹)

داهلک دکمي[1] نجلی[2] وورمئ　　　خوری! دا هلک د کمي نجلی وورور دئ
پيکی يه دئ اوودلی　　　دا نيمی يه اړولی لور پرلور دئ

## (ر)

### (۱)

راځوئ[3] نجونو ساتونه　　　وړکی نجونو ساتونه تروونه[4]
تيار مو د پلار کور دئ　　　بيا به کښېوزوی د موّيانو په لاسونه

---

۱. کومي ۲. انجلی، جيلی، جينی جيلکی، ليکی ۳. راځئ ۴. تېروونه

(۲)

راتــه راســه راســه سي غـالـی در واچوم باندي ملاسه
خینـي یايي تـه ملا سه خینـي کوتـي را وهي سي مانبام راسه
اریـان یم سـي مـلا سم کـه غـه کوتي راوهي هغو لـه لاړ سم

(۳)

راو ختـم لــــه روده پــه کـمـره امـې کنبېوتم کـرکوده
لـوتــه پــوتـــه اړم . نــا خبـر یـم د ای خـلـک لــه دوده

(۴)

راتېـزه ســه چـابکــه د میـن پـر تـورو سترکو پهم وکـه
یــاري راســره وکــه د اورې مـرمـنـي تـه نـه یي هلکـه

(۵)

را ووته له پانه تکه ژړه لــکــه مـر لــه کـورستـانــه
ستـا خولـه شکر کني ده موږ شکـر کني راږوله [1] هندوستـانـه

(۶)

رغبنته رغبنته رغبنته هوی، اوبنبتـه سي لـه لویو غرو را رغبنته
پـر یـار مـه سلام یایـه سي غولیانخي [2] مه ورستي سوې له ځربنته [3]

---

۱. راوړو ۲. غولانخي ۳. چاغبنته ، چاغوالي

﴿۷﴾

راځي لـه څماولنګه[۱] سره اوبـه وړي د لـوړې لـه وچـه ولـنـګـه

لـونګ درسـره نستــه لالي ! تور مُچان [۲] را خلاص که له چار بنده

﴿۸﴾

راســـه کـــه د زړه ســي یوه شپـه ده نجلی څـه بـه د پـه وسي

پـر تــا بــاندي دغــه ده زه که نه په مرېدم زړه به مه ښه سي

﴿۹﴾

راغه [۳] بـــــرابــــره سپین تندي په خولې کړکي دي له نمره

پر دوه دوه نوکان کړي لکـه آسپـه سي خوي واخـي له نوکره

﴿۱۰﴾

را والــوتــي کــوتــري خان لایکه ! نیمی شنې نیمی کمري

نیمي [۴] پـه یار مرې دي د انیمـي پـر دکـان ګرزي لري بري

﴿۱۱﴾

رالـــــه [۵] بـــرابـــره سپین تندي په خوله کړکي [۶] ده له لمره

نـوکـــه نـوکـــه کـــړي لکـه آسپـه چي خوی واخلي له نوکره

﴿۱۲﴾

را ووتـــــه جـــلاتـــــه سره پـه نجونو کي ښکاره ده له ولاته

د نـل پـه شـان رغـه [۷] ده کـه اشکو [۸] زړونو نـه کـه خلـه [۹] ماتـه

---

۱. cáma̅wlanga : اصل یې څماولنګ(cáma̅wlang) دئ . او پخپله څماولنګ د بوري د لوښیانو په سیمه کي یو غردئ.او د څماولنګ په نامه په دې سیمه کي یو ښارکوټی هم سته . ۲. وتیـان ۳ . راغله ۴ . راغله ۵ . وکړې ۶ . کیږي ۷. Rága̕ بِکره ۸. عاشقو۹. سره

(۱۳)

| | |
|---|---|
| را وختـه پېـرمـنـکـي | پُر[1] اورمي ماښم سپوږمۍ تندر نيولکي |
| پـه نجونو کي تالي ده | جار، په ستورو کي ښکاره ده درې ښلنکي |

(۱۴)

| | |
|---|---|
| راسـه کـه دا ستـا | وی، راسه که داستا ويستلي[2] کوري |
| هـډ يـې رېـز مرېز دئ | دا شېرين ښشر يې نـه دئ پر لـه پوري |

## (ړ)

(۱)

| | |
|---|---|
| ړنګ سـې کـنـدهـاره | سـې څلور د دروازې څلور بازاره |
| نـه نجل کرزي بې ياره | نـه بـه مځکـه کلان وکي بې بارانـه |

(۲)

| | |
|---|---|
| ړنګ سـې کـنـدهـاره | سې څلور دي دروازې څلور بازاره |
| زما يار درکې بندي دئ | سوی زړه مه پـه کـاکـل کي ناکراره[3] |

(۳)

| | |
|---|---|
| ړنګ سـې کـنـدهـاره | څـلـور د دروازې څـلـور بـازاره |
| زما لالی درکي بندي دئ | پـه پښـو يـه زولنې ځنځير پـه غاړه |

## (ز)

(۱)

| | |
|---|---|
| زمـوږ تـر کـلـي لانـدي | خورن‍ـ! زموږ تر کلي لاندي مږ سړی دی |
| مـړ سـړی د څـه دئ | دا مجلون[4] دئ په ليلا پسې لونی[5] دئ |

۱. پُر: pur، پَر: par، په: pa، پُه: pu ۲. ويشتلي ۳. ناقراره ۴. مجنون
۵. لېونی

﴿۲﴾

زموږ تر کلي لاندي — خوری! دالته یو لښتی اوبه بهاندي
نجونه سپیني خولې دي — خدای دې نیکي[1] تر کرجن مرونه لاندي

﴿۳﴾

زما غم ګډور دئ — لالي ستا د نغري د غاړي غم دئ
غم به له غم کډ سي — لالي ستا د تېمبو تړلی خر دئ

﴿۴﴾

زموږ کلی په خلک کي — خوری! زموږ کلی په خلک کي زورو دئ
توري کړدی زِیر[2] کې — ژړي اوښي وراخي خلک یایي[3] تا سر دئ

﴿۵﴾

زموږ د کلی نجونه — په چمن کي راته ګرځي لکه پسونه
د نجونو به لونګ وو — ای د دوی له ریچو ډک دي تپرونه

﴿۶﴾

زموږ د کلي نجونه — خوری! زموږ د کلي نجونه ښایستې دي
له ګرمه سپیني خولې دي — زکات نه کاږي سالم حرام خورې دي

﴿۷﴾

زموږ د کلي مستو — خوری! زموږ د کلي مستو طالبانو
نجوني زَړو[4] یوړي — تبه در وسه لونیو جرګانو

---

۱. niki : نه کي، نه کړي ۲. zir ke : ونړوي، ړنګي کړي ۳. وایي، وبایي
۴. záro : سپین ږیرو

**(۸)**

زوره د خــــــدای زوره — د درکی[۱] پر ویاله ډول وهي په زوره
کـتـا و شنبې مړه دي — د کوکل سمندي[۲] تسي[۳] څي کورو ته

**(۹)**

زکـــــه زکـــــه — مـا د خـونـي پرسر ولیده نـازکـه
یوه یې سپینه خوله وه — بل یې تـور پیکی لو کوي پر مخکه

**(۱۰)**

زه زرتــولــی ورمـــــه — تر برو وګرزئ پر خان بدي دررمه
که حق دئ که ناحق دئ — پـــه زرتـوره پـــه یـوه بـدي کـومــه

**(۱۱)**

زایپې ښې دي که نجونه — زایپې توري سلوا غي[۴] نجونه ګلونه
د نــجــونــو تپــرونـــه — د زایپو پر سینو تنګ سول ګرېوانونه

**(۱۲)**

زمـــا اروا ښـــه ســـې — ته له کښې پاله[۵] را والوزې مُرغه سي
شهیـن ســې لـنـډ وزری — پـه آسمـان کي ښایسته کوترې نسي[۶]

**(۱۳)**

رزړي[۷] — د کــــــلـــــی لــــوتــــې رزړي
لښکر د غپار خان[۸] دئ — نـن یــه یـا جنـازې چـغنـده ترړي[۹]

---

۱.Dargáy: د بوري پـه تاریخي سیمـه کي د کدېــزیــو ، سنځر خیلو کاکړانو یو کلی دئ ، چي درکی کدېزی نومیږي.البت په بوري پوري یوه بله درکی د درکی زخپیل په نامه شهرت لري. ۲ . آسپي ۳ . تشي، خالي ۴ . سولاغي، سلوغي ۵ . لوره ، خوا ۶ . نیسي ۷ . رزیږي، رژیږي ۸ . غفار خان ۹ . تېرېږي

۱۴

زمـــی [1] د پـــه دوبـــي لالي ! زمـی د پـه دوبي را بدل کئ
کــډه سـوې وطـن لـــه پـه لـمبـو د میني ، اور د راتـه بل کئ

۱۵

زمـوږ دکـلـي نـجـونـه لـه پیتـاوه سـره رالـې لـکـه پسونـه
د نـجـونـوبـه لـونگ وو د دوی ډک دي لـه ریچـو څـه تپرونـه

۱۶

زمــوږ کــلــي لــنډي خوری! دا زموږ کلي لنډي کڅونه پیايي
نـجـونـه زبـان کـاري پلستکـي [2] د مُـرغـانـو زبـان يـايـي

۱۷

زمـوږ د کـلـي نـجـونـه د پیتـاوه سـره څـري لـکـه پسـونـه
د نـجـونـو بـه لـونگ ول د دوی لـه ریچـو ډک دي کرپوانونـه

۱۸

زمـا ژړي تـوبـرونـــه پـه جبوو [2] کې د تپسرو [3] دُسملونه [4]
پخپلې [5] وار خطـا سي يـا يـايي رتـي دي د نن زمانې نجونه

۱۹

زه نـــه زاړم خپـل يـــار خوری !زه نه زاړم خپل یار مه زړوینه
دکـور وشـاتـــه کښېنـه ستـا د اتوري زلپي [6] اور را لـکـوینـه

۲۰

زاړه ســـرغســي بـــاده زاړه ســـرغســي بـــاد د ښـوروینـــه
ذ پلغي پـه غوځي کي نـــاندانـه زړې خـوب د زنـکـوینـــه

۱. ژمی ۲. palastáki : ځوانان ۲ . جېبو ، جوبو (pockets) ۳ .
يوقسم تو کر دئ ۴ . دُسمالونه ۵ . پخپله يې ۶ . زلفي

(۲۱)

زموږ دکلي مستو ماول: زموږ دکلي مستو طالبانو
چتې د رخا[۱] يو وږه تره کی[۲] تبه در وسه جرکانو

(۲۲)

زر کوتې زرکر دئ سي له مځکي اوبه کاږي کاريګر دئ
سي اج[۳] کوي اجيان[۴] دي سي له نجونو سره اوږي اشکان[۵] دي

(۲۳)

زموږ تر کلي لاندي خوری! زموږ تر کلي لاندي ته اوبه وړي
کډی دسه خيري تر دا کودي لاندي ځه ملاله خوله وړي

(۲۵)

زما دي جانان را لو[۶] تاويزونه[۷]
ما را پوري نه کړو پر دي عالم[۸] پرې راکړو اِدادونه[۹]

(۲۶)

زړه مشنکني[۱۰] سر د باد وهينه
د پلغي په غوځي کي نادانه زني خوب د زنکوينه

(۲۷)

زما ياره طالبه! اول خوله درکم که زبه
دا خوله به تر تا جارکم دغه زبه[۱۱] تر تالو لاندي غايبه[۱۲]

---

۱. jā: ځخه، ځخه، ځرخه، نه ۲. tarákə y ۳. حج ۴. حاجيان ۵. عاشقان ۶. راغلو ۷. تعويزونه ۸. دنيا، خلکو ۹. idaduna: سزا ۱۰. Miškáṇe : د سرغسي غوندي يو بوټی دئ، چي غوا وي بې په ډېر شوق سره خوري ۱۱. ژبه، جبه ۱۲. پټه، ودره، نهامه

(۲۸)

زمـوږ د کـلـي نجـونـه — دوی د سخرو خوا ته ځري لکه پسونه
د نجـونـو بـه لونګ وو — د دوی لـه ريـچـو ډک دي تپـارونـه

(۲۹)

زمـا يـاره طـالبـه! — وی، طالبه! اول خولـه درکم که زړه
خـولـه بـه تر تا جار کم — زړه بـه دره تـر تـالو لاندي غـايبـه

(۳۰)

زړه مُشـکـنـي بـاد وي — زړه مُشـکـنـي بـاد د ښوروينـه
د بغلي په غوځي کي — وه لانـدانـه زړنـي خـوب د ځـنکوينـه

(۳۱)

زلپـي د ول ول دي — لـه شنه غنم سي پر تـه سي په بند کي
ايښي[1] د شيـن خال دئ — ښايستي نجلی د وريځو په پيوند کي

## (ژ)

(۱)

ژړه مـاځيـګـره — تـه مـا وروني د نجـونو تـه[2] اتنـه
پـه نجـونو کي ليلا ده — ليـلانـوره ښـايستـه غـاړه يـه ژړه

(۲)

ژړ دئ ماځيګر دئ آدم خانه! — نـمـر د لـوړ و غـررو پـر سـر دئ
مـا بـه خـولګی درکـه — آدم خانه! جوړه نه يم خدای خبر دئ

---

۱. ايښی ۲. tá: تر، در

۞﴿۳﴾۞

ژړه مـــــاځيـــکــــره | لاهـوری پــه بـنـد[1] را ووتــه يـکـړه
يوه يې سپينه خوله ده | تـريـنـی نتـه[2] پر پروتـه ده برسره[3]

۞﴿۴﴾۞

ژړه مــــاځيــکــــره | تــه مـي وروڵـي د نجونو تر اتنـه
پـه نجونوکي ليلا ده | نــوره ښــايستـــه ده غـــاړې[4] ژړه

۞﴿۵﴾۞

ژړه مــــاځيـــکــــره | وړکـی پــه بــنـد را ولوېده يـکـړه
پېکـی يـه تـار تـار دئ | دخـوانـانـو زړونـه کـاږي لـه خُکيره

۞۞۞﴿ س ﴾۞۞۞

۞﴿۱﴾۞

سپيــن د مــړونـدونــه | چـا پېدار کميس د پروت پر زنکنونه
پـه خولـه راسره خاندې | پــه لبــاس د اړولــی يـم تـر غـرونــه

۞﴿۲﴾۞

سپيــن د مــړونـدونــه | لـرکـي مـه کوه پـه مړه دې سي اورونه
د پلاړ دنيـا د ملخ سـه | نـه د سازي کـې روېی پرشنه خالونه

۞﴿۳﴾۞

سپيـــن د تَـــوری[5] دئ | لالـي سپيـن د تَوری تېمبو[6] تـرلانـدي
پر بل مـه پرزو[7] نـه سي | لـه زړونـکـو سره سې تر خارو لاندي

---

۱. تنکی ۲ . نته ۳ . برسېره، سر بېره ۴ . غاړه يې ۵. توری (tawáráy): چتـايي، بوريا ۶.tembu: چودي (čaodi): ستنی (pilar)۷.پېروز ، لورينه

﴿۴﴾

سپین مخ د سپوږمۍ دئ — شنه خالونه د له ستورو برابر دي
سترګي د جودر دي — سپین غاښونه د له واوري برابر دي

﴿۵﴾

سترګي د توري کي — د توري مرمني[1] بیا د ولي سري کي
ما لاس در وړی نه وئ — بې اکلي نجلۍ ولي د ناري کي

﴿۶﴾

سرمه تر دا ټولو — خورې! سر مه تر دا ټولو نجونو لوړ[2] دئ
څم د کټ اوبو له — د کټ اوبه نرۍ دي ږغي[3] لوړ[4] دئ

﴿۷﴾

سور کمیس د جوړ کئ — سري! په څوانانو د لوړ مالوړ کئ
عورته به د لولم[5] — که د ای کمیس د غول موذي غه[6] زوړ کئ

﴿۸﴾

سر مه تر کړدو — خورې! سر مه تر کړدو نجونو لوړ دئ
خالک[7] دي کښته[8] نه کي — ژمور لالا له سردارانو برابر دئ

﴿۹﴾

سره ده ډبرې — خورې! سره د ډبرې کونه سره ده
پر نجونو ویره نسته — ورسره د پلستکو[9] بدر که ده

---

۱ مېرمني ۲ . ږغ يې ، غږيې ۳ . lawaṛ: ، پورته ، بالا ، هسک ۴ .پرته ، پورته ۵ . بولم ۶ . د ۷. خالقه ۸. ښکته، تیټ ، څوړ ۹ څوانان

﴿۱۰﴾

ستا خولکی خورما ده بوري !زه د په خورما و لهوَلَم [1]
و د لهـــولـــم اوس مه خلـه صبر وي و د نتلم

﴿۱۱﴾

سپین د مرونـدونـه لرکي مه کوه په مره دې سي اورونه
د پلار د نیا د ملخ سه سي يې ستا پر تندي نه کو [2] کتارونه [3]

﴿۱۲﴾

سترکي به کم توري آدم خانه !تر نر یو ورځکو پوري
پر نجونو کي به درسم آدم خانه !ته به ما کورې که نوري

﴿۱۳﴾

سترکي به کم توري وه لالیه !تر نر یو ورځکو پوري
په نجونو کي به کښېنم وه لالیه !ته به ما کورې که نوري
نه به ما کورې نه نوري د پلانکی ... زوی پخپله پر ځان کوري

﴿۱۴﴾

سترکي د زاپران [4] دي له یوې ورې [5] تر بلي د ګلان دي
د بل خواره اسان دي سي له ځلني [6] ورکیې [7] در بلندي کران دي

---

۱. Lahwálam: امخته ، اموخته ، رورد ۲ . کړو ۳ . قطارونه
۴. زعفران ۵ . اوږي ۶. ځان يې ۷.ورکوي

﴿۱۵﴾

سپینه خوله لاهور که | په لاهور مه زنګوه[1] زانګوی[2] را جوړکه
نوري ښادي نه غواړم | بر سره[3] تورېپکی راباندي خورکه

﴿۱۶﴾

سترګي د[4]، د روکي | نن د بیا د مرور په شان نیولکي
که زه په تا خبر وای | ما به نه وای آشنایي درسره کړکي

﴿۱۷﴾

سپینه خوله پیاله که | دریا بې! پر دیوال غاړه را ښکاره که
که رب د مړو مل وئ | دا سپینه خوله به نه وړې سلامته

﴿۱۸﴾

د سم بوري په میان کي | دغه دوې نجونه واده سوې په ارمان کي
یو د بل په رنګ وې | لکه زرکرسي لتي[5] جوړي د پېزوان کي

﴿۱۹﴾

سپین د مړوندونه | لرګي مه کوه په مړه د سه اورونه
د پلار د نیا د لړ سه | سي یه ستا پر تندي نه کړل کتارونه

---

۱. څنګوه ۲. زانګو، څانګو ۳ . برسېره ، سر بېره ۴ . دي ۵ . Lati

### ﴿۲۰﴾

ستـــرګـــي د ريـدې دي — لکه پړانګ په ګردنی[۱] کي د تاپې دي
د ټول پـــه مخـــه راغې — د امېـل دانـــې زيــړي زرغــونــې دي

### ﴿۲۱﴾

سپينـــه خولـه لاهورګـه — پر لاهور مه ځنګوه ځانګوی راجوړ ګه
لاندي سپين مړوند ګه — سرې برسره[۲]تور پیکی را باندي خور ګه

## ﴿ ش ﴾

### ﴿۱﴾

شينکی خال د له درابنه — شينـکـی خـال د لـه درابنه معلومېږي[۳]
جـار د، و[۴] خـــالــو سم — ستا پر شنو خالو هندوان مسلمانږي[۵]

## ﴿ ښ ﴾

### ﴿۱﴾

ښـه ځـوانان ګردي دي — اشکـان[۶] پر اوړو پلن پر ملا نري دي
بـرخـــه لـــه اوږدو کـې — دا لندې ځوانان هر ګوره کېمتي[۷] دي

### ﴿۲﴾

ښه کُوی[۸] نجونه ښه کوی — سپی ځُرمونی را نزدې[۹] ښپلتون به وکُوی
اول ښپـلتـون دغـــه دئ — سي په رغ د ودغلـی درباندې وکُوی

۱. gardán̆y : مغزي ، مزغي ۲. بر سېره ، سر بېره ۳. معلومېږي
۴. تر ، در ۵ . مسلمانيږي ۶. عاشقان ۷. قېمتي ۸. kūy : کُوئ ، کړی ۹. نژدې ، نږدې ، زيندې

(۳)

بنـــې دي زړې بنـــې دي — سي لکړي لکوي پر اشک[1] سپرې دي
نالت[2] کې پر اوس پلغو — سي زړونکی شرنکوي زړوني[3] ايرې دي

(۴)

بنـــــايستـــــــه — ما ول: بنايسته نجلی خپه سوله له ياره
يـار د انکور نـه خوري — شتـــا لـو بـــه وراړي تــه لـــه بـــازار

(۵)

بنــه کُوئ نـمـنځونـه[4] — تر مُردار و[5] خولو بم[6] و خپزي[7] سهـونه[8]
په مځکه کي بم کښپردي — پـه اوړمی ما بنام بـه غواړي جوابونه

## (ع)

(۱)

عــاشق زړني کـردي دي — معشوقو پـر اوړو پلن پر ملا نري دي
زمـا ونده لـه اوږدو کـې — دا د خدای له قهره ډک دا تړندکي[9] دي

(۲)

غـوا راغلـــه سخـوندره — ور وليــاړه سوه مرمن[10] غـوليانځوره
دا ځــاى مـــه ارمـان سو — د ځـرخـي پـر چـم مـه نـه وځـرخولـه

---

۱. عشق ۲. لعنت ۳. زړونه يې ۴. لمنځونه ۵. مرداړو ۶. به مي ۷. وخپژي ۸. ساوي ۹. لنډي، کېمنډلي: kemandáli ۱۰. marman :
مېرمن

## غ

(۱)

غـــابن د مــرغـــلــلــي[1] دغه دوه سوېان[2] د څه عجب نري دي
لــه كــوره ليري مه ځـه دغه دوه ځوانان له ا شكه[3] لوني[4] دي

(۲)

غـولــه مـوذي غـولــه بــرايــه[5] د تــالــې ځــلــه[6] زړولــه[7]
ستـــا لايـكـــه نـــه وه سحـار درې كـاڼي تـس[8] كـه برتوره[9]

(۳)

غـــولـــه مـــوذي غـــولـــه بـــرايـــي د ژړو ولـــي زړولـــه
كې و تاته ساتنګ[10] ګران دئ سبـا درې ګـاڼي را تــس كـه غوړوره

(۴)

غـولــه مـوذي غـولــه بـــرايـــي د ژړو ولـــي ويښـــولـــه
خولـه كـه د پـه كـار واى ښـه ظـالـمـه! پـه ويدو بـه د خوړمـه

## ک

(۱)

كه اور دئ د مراد خان په سر كي اور دئ اختـر شـاه ژړی يــه مـرګـئ
اوس دې واخي كــې اختر په رشتيا[11] ورور دئ

(۲)

كاړه دي د سرو غزو اوبل كاړه دي
وس وكـــئ ځـــوانـــان پر دا نيمه شپه د پلغو تي[12] خواړه دي

---

۱. مرغلري ، ملغلري ۲. شوندان ۳ . عشقه ۴ . برايې ، بېګا ۵ . ليوني ۶. ولې ۷. ژړوله
۸ . راوغورخوه ۹ . برېتوره. ۱۰.ساتل ، پالنه ۱۱. رښتيا ، ريښيتا . ۱۲. پېغلو

❁(۳)❁

کــرکــې وزر د تــور دي — کرکې وزر د تور دي سپین بې نه کې

پلغه[1] څې یار خوښ کي — څې کېږې پر جار باسې په بند بې نه کې

❁(۴)❁

کښتــه تــلـم بیـړو لــه[2] — ماول: رابـه سي چورې د کټ اوبو لـه

کــه نــه راغــه اوبو لــه — اوسانې کیلـه مـه باندي ده عمرو لـه

❁(۵)❁

کونډي! لور د[3] چا له لوېوله — ماول: کونډي لور د چا له لویو له

مــا تـــه درانـــه کـــه — د دلـه پـه زرې د څلـه زوبلولـه[4]

❁(۶)❁

که کردي دي بابوکان زنې کردي دي

تـر مـلا یـه سره بندونـه — تـر اوږو یـه د توپـکو سره لوکـي دي

❁(۷)❁

کـه تُوتـان د نـړیځـې پـر سر تُوتـان

سي جنګ له په خندا ځي — دغـه دواړه د دلېل بـابو زویـان[5] دي

❁(۸)❁

کـه برښـي د کوملـي پر خوا برښي[6]

یـار مــه غــه دئ رالـئ[7] — سپینه خوله مه کښلوي[8] زېه[9] مه خُوښي[10]

---

۱. پېغله ۲. bero: د پلوسو (palosu) ځنکل ۳. دي ۴. ژوبلوله
۵. زامن، زمن ۶. برېښي ۷. راغلئ ۸. ښکلوي، کُښلوي ۹. ژبه
۱۰. خُوېښي، ځپېښي

(۹)

که نري دي د بغاوي نل نري دي

سي جنګ کوي لوښي دي      سي سمندي[۱] کړ يي ایدر زیي[۲] دي

(۱۰)

که وله د سم روب په میان کې وله

پرته[۳] سه رغ وکه      پر مکه دا جیان[۴] حال کوي بنګله[۵]

(۱۱)

که تور دي د آدم کوټونه[۶] تور دي

پاروندي[۷] لیا په پښو وو      لویه خدایه! نن په تور لحد نسکور دي

(۱۲)

که کړدي د انبار کاڼي کړدي دي

ښه په ست بلندۍ راکه      ستا برتونه د زمري دي

(۱۳)

که توري د انبار دبري توري

ښه په ست بلندۍ راکه      سترګي د دي بې رنجو توري

(۱۴)

که ککر دئ ددې غره پر سر ککر[۸] دئ

پلانکی... خوښه مېره دئ      دغه زما خلات[۹] د کم مېره تر سر دئ

---

۱. آسپي ۲ . حیدر زیی ۳ . پورته ۴ . حاجیان۵ . نومیالی مبارز نواب بنګل خان کاکړ ۶. بوټونه ۷ . پاروند يې : پارون يې ، پرون يې ۸. Kákar: د بوري د غبرکي په سیمه کې یو غر دئ. ۹ . x̌ălāt: پټکی ،پاکه ، لنګوټه

۱۵

که اومان دي د دی[1] غره پر سر اومان دي

کلـه ښي بلـندي ويايـه ځي ځواني ښځي نه راباندي خاندي

۱۶

که گردی دئ ای د سیاځکي سر گردی دئ پر يوه ځنکي زرک پر بل يي تلری دئ

زرک د ميـــــرو ځـــــای دئ پر تلري باندي د نجونو ماستغلی[2] دئ

۱۷

که له تسه د دې غره اور ځکی له تسه

سم هنزولي[3] پر مخ راسئ کـمر ريـري راځـه وبـاسئ لـه مخـه

۱۸

کـميـس مـه د خورمـا[4] لالـي کميس مه د خورما په بند کي دئ

سـي تـولـه تـولـه اوړي سر ي نظر درلکيا سوی د چوري دئ

۱۹

که رهوال دئ د آدم نيلی رهوال دئ

که کښي په ميدان رالئ گـرډنـي يـه د مـاهـي لمـي د مـار دئ

---

۱.dә́y: د دې ۲. Mastğáláý: گودر ۳. همزولي ۴. خرما

(۲۰)

کمیس د له تلتکه     دلنکی پلو د ولوېدئ پر مځکه
یاري راسره وکه     د وړی مرمني ته نه یې هلکه

(۲۱)

کوهی له وښو ډک دئ     جیو، کوهی له وښو ډک دئ
دود به وکي دا زموږ په زمانه کي     زړې به په سپین سر مړونه وکي

(۲۲)

که بریښي د کوملي پر سر بربښي[1]
مین لالی مه راغئ     سپینه خوله مه کُښلوي زبه مه خوښي

(۲۳)

که ناري د وهاري پر سر ناري
ایاز و پېروز مړه دي     سدولا په توپک مه وله ورندیاري

(۲۴)

زوړ سړی به یار کم     پرلکړه بې روان کم
ځوان به ور اَریان[2] کم     دا خیر نه خوله بې په نسوار کم

(۲۵)

کمیس په چکن جوړ که     لالي! زور ورکهِ د کوتو و بندو ته
په لیار ځوانان ترړي[3]     ختکي[4] ورکئ د کلا و پیوندو ته

---

۱. برېښي ۲. تېرېږي ۳. ẍaṭki: ختي ۴. اِریان، حیران

﴿٢٦﴾

کرکرې که کړ کړې    د سپیلمی [1] پاڼکي کړکړې
نجونه به ور ووزي    د دا اوس پلستو [2] روکي [3] ولیاړ ړې [4]
د روکي مانا [5] دا ده    سي ورو وتې سحار درڅه کایړي

﴿٢٧﴾

کټ مه د کوتې وړوکي    کټ مه د کوتې په سوري پروت دئ
درځئ سي سره ورسو    پلستکي پرچای ناست کړنکي څڅړي [6]

﴿٢٨﴾

کوتره خانکهي [7] سي    دا وزر وتپوې الوتی نه سي
له یاره سره ښه ځي    دا بې یاره ازانکه کولای نه سي

﴿٢٩﴾

کلکه دا می میدانه کلکه
امی د راسره که    ښادي مه وکي د دوو کلو هلکه

﴿٣٠﴾

کالي [8] یه دي له سانه    د غلام کالي له سانه [9]
د کور پر سر یه کښېږدئ    مور و پلار بې وراځي له خراسانه

---

١ . spelmə́y : . یو ډول درختي (وني) دي ، چې زیاتره پر ویالو (بیالو ، ولو) باندي ولاړې وي .٢. Palastu : څوانان ، زلمي ٣ . روی ۴ . ولاړیږي ۵ . معنا ، معنیٰ ۶ . څځیږي ٧. x̌ankai: کورنی ٨ . جامې ٩ . یو راز توکر (رخت) دئ .

(۳۱)

ککر دئ د خړاوي[1] سر ککر دئ

جُمک[2] يايي لاړ به نه سم دلي[3] مه د ماما څلی يکړ دئ

(۳۲)

که توده ده د خوښي زمنځه توده ده

په شېر خان کې تويوئ د شېر خان غاړه اوږده ده

(۳۳)

که ببره د پلاني ... ږيره ببره

لرکي به ورته نيسو سي تو به کاږه سوډره

(۳۴)

کار که وزر د تور دي سپين بې نه کې

نجلی سي ياري وکي سي جولان[4] ور واچوې بنده بې نه کې

(۳۵)

کښته ډيري وزې دي رمېدلي

ناسره ورسره ده د پښو نوکاني[5] دي ختلي

(۳۶)

که کلکه دا مې ميدانه کلکه

پښې مه باندي خوږ سي بابا پلاره! چراسی کپی[6] را وکه

---

۱. Xáṛāwi : د سنځاوی په سيمه کي د دومړو کاکړانو د يوه غره نوم دئ ۲. جُمک په ختـه د بوري امکزی سنځر خېل کاکړ ؤ ۳. دلته ۴ . jolān : زولنې (پارسي : جولان) ، بېړی ۵. نوکان يې ۶. موچنې ، مچڼي

❁(۳۷)❁

کـه کـلـکـه د امی میدانـه کـلـکـه

پښي مه باندي خوړ سي زما لالکه! چَغماچغ[1] کپی را وکه

❁(۳۸)❁

که اوړدې دي د زریپ[2] ګوتي اوږدې دي

پرکټې[3] را خوري کړئ د زریپ ګوتي تر زرو ښایستې دي

❁(۳۹)❁

کـمـره[4] ده کـاکـا ماول: کـمـره ده د کـاکـا میا کمره

د رونـد خوښي راوکـه بلـه روځ بـه دغی[5] نـه سي برابره

❁(۴۰)❁

کمیس د کنډي کنډي د امی میدان تـه ولوېدی ګرلنډی

اتـې د را خراپ[6] کـئ سا د لیاري لیاري ځي لکه د ټنډي

❁(۴۱)❁.

که له تا نه د سدو کالي له تانه

لـه کښي په بازار راغئ سدو بلـه لنکه نـه وینـي بې ځانـه

❁(۴۲)❁

کـمیـس د ولونـه ولونـه پـه پښو کري د دي ځنکه پاز پبونـه

و مـاتې ول: رانـه سې سـا و غـاړه تـه بـه واچـومـه ولونـه

---

۱ . čağmāčağ: داسي کپی(موچني) چې چیخکی (čixkáy) او چغ بغ (čağ bağ) یې ځي.۲ . ظریف ۳ . کټ یې ۴ . برکه، ابلکه(عربي : ابلق ) ۵. داسي ۶. خراب

(۴۳)

که اور دئ د قبلې له خوا اوور دئ

سي ژړ بنګلې[1] مړ کئ اوس دې واخي زرېپ خان[2] که زور ور دئ

(۴۴)

که بلړي[3] په شنه غره کي د ښکار ځنو[4] اور بلړي

د خولې سلام يه راغئ جار! د سترګو ديد بم[5] کله سره کړي

(۴۵)

که دوې دي نجونه دوې دي پر کوهلو اتن وهي سره ترلې دي

ديوې غه شين تيکرى دئ د آبلي زرتارى کپى[6] په پښو دي

(۴۶)

که ګل دئ په غنمو کي ژړ ګل دئ

د خيال کميس مه دا دئ چي اورونه لګوي هغه بيا بل دئ

(۴۷)

که نازکي د بوري نجونه نازکي

تور تيکرى پر سر کي ګرده ورده تيکي جوړه پر تندي کي

---

۱. بنګل يې ۲ . ظريف خان : دى د نواب بنګل خان کاکړ زوى ؤ . ۳ . بليړي

۴ . ښکار زنو ۵ . به مي ۶ . يا په بل عبارت : ملتانى موچنى

## (ګ)

(۱)

ګــوره ســــه امــی بـنـد پر بـنـد اوسپـدې لـکـه لـولـی
د ملا به د چیخکی تلئ لـکـه پـورتـه د ملتـانـی د خوا کپی

(۲)

ګــردی ســرې د پـــایـخــې دي
لــه ګــرمیـه رارهي يې هِــنــدان[1] ګــرد پــه تــا پسـې دي

(۳)

ګـــــردي دي مـیــرزیـي[2] ځــوانــان ګــردي دي
پـه مـلا کـې کمر بندي پر وړو يـې د توپکو شنه لوګي دي

(۴)

ګـرده روځ مــه تــره پــر يـالــه کــه
چَــټ زنـي رانــه غـلــه مــا یــاري لــه مـلـنـکيـانـو سره وکـه

(۵)

ګـوسـي نـجـلـی ګـوسي مور د نوم در باندي ایښی د نرکو سي
ځي ناسته يې ليا ښه يې ځي وليارِه سې ګلان درځاخه توسي

## (ل)

(۱)

لـوړ مُـرغـان مېستـه دي لالـي تـور مُچان د پروت پرتپاره دي
مـوړ ستـا پـه هوا رالو[3] لالي ستا ستركي نندي[4] په بپلتانه دي

---

۱.hindān: میندان ۲.Mirzáyān : د سنځرخیلو کاکړانو د علي نیکه په اولاده کي راځي .۳.راغلو ۴. لندې ، لمدې ، نودې

﴿۲﴾

لــــه کښــي پــــه ډيــــرو رالـــې څښـپوري

د کوښو دي چيخکی سو نـــری شـمـــال دي راغـــئ د لـمــنـــي

﴿۳﴾

لاليـــــه ! نـــظـــري ده ژړ غـــاړه يـــې د ژړو پــــه وښـــي ده

ماښام راسه دراوی له پـلـنـگ واچـوه ژړو نـوکـي يـاري ده

﴿۴﴾

له کښې بوری را نغاړي تـانـدگی نجونـه زاړه مړونـه غواړي

مـا پـه خدای لو وري [1] که به تاندي نجونه ورکم و شين غاړي

﴿۵﴾

لاس د پـر کـنـډوه [2] دئ ښايستي نجلی مړوند د را ښکاره دئ

جـار د ، و [3] مـړونـد سم سپـيـن مـړونـد د ، د بر ښمو کلا وه ده

﴿۶﴾

لــه کـټ سـره مـــه مـــار جيو ، لـه کټ سر مه مار زړه په غاړه

وچـټ تـه بـه خوله ورکم د کـړد کـلـــي يـــه نـــه يم ذمـــه واره

﴿۷﴾

له کښې پر کلی [4] بيا راغه لـــه کښـي پـر کـلـی بيـا راغـه يکـړه

کـميسي [5] لـــه زربـــابـــه سپيـنـه خـولـه يـه برابره له شرابه

---

۱. Lo waṛi : لوړه کړې ۲ .kandwá: کنډؤ ، نخره ۳ . تر ، در ۴ .کوڅه

۵ . کميس يې

﴿۸﴾

لـونګ بـه وتـا جـارکم تـه يو څـو[1] د مسـاپـرو ليـاري ګوره
تـه هغو بې درلـه ګورم سي شينکى کوترې تللکي[2] دي د سيند پر لوره

﴿۹﴾

له کښې بورى را نغاړي دا زاړه مړونه پلغې نجونه غواړي
ماهم په رب لو وړي[3] کـه بـه پلغـه نجلى ورکم و شين غاړي

﴿۱۰﴾

لاس راکـه د زړه سـې يوه شپه ده نجلى څه به د په وسي
پرتـا بـاندي داغـه دي زه که نه په مرېدم زړه به مه بښه سي

﴿۱۱﴾

لـونګ بـه ترتـا جـار کم تـه بـه څـو د مسـاپرو ليـاري ګورې
زه بـې تـه[4] غـو[5] ګـورم سي شينکى کوترې تلې د سند پر لورې

﴿۱۲﴾

للمي دي د سم ړوب غنم للمي دي
غنم بې په څه توى سي پرورخوبې د بنګل[6] وينې يخې دي

﴿۱۳﴾

له کښې پر کلى بيا راله يکړه
کـميسـې د زرتـا رؤ سپيـنـه خـولـه يې لـه شرابو برابره

---

۱. مراد: يو څو ورځې، يو څه وخت ۲. تللي ۳. لوړه کړې ۴. تر، در
۵. ğo: دا «تر هغو» مخفف دئ. ۶. نواب بنګل خان کاکړ

### (۱۴)

لوړ دئ کوهلو لوړ دئ — سي پر سرې[1] جماعت[2] د پیغمبر دئ

لایکو نمونځ کي وکوی[3] — د کم بختو د کزا[4] دئ وارې[5] تر[6] دئ

### (۱۵)

لا چــي لــونـکــه! ســر د څـلــه تـور دئ

وس وکــئ خـــوانـــانـو — د دا پلغي نجلی خوند د پلار پر کور دئ

### (۱۶)

لـــور د دولتـــمــنـــد ه — جوړه کړې يـې پـه سرو زور لمن ده

پـرمځـکـه سره څرخي — په اسمان کي يې د خارو لمر غسن[7] ده

### (م)

### (۱)

مـاپَرتـه[8] میا[9] بـوتـه — سره مه وېلیده[10] پرمخې[11] لنکی پروته

لنکی مه[12] څي[13] رادئ که — د کـرانـي بـدن دي وئ لـکـه پوڅـه

### (۲)

مـه کـاږه د نـجـونـو کـاوینـونـه

نـجونـه بـه ښرې کي — سپین بکړیه ملا! وخورې زوی ولوڼه

---

۱. سرېږي ۲. ماجت، مسید ۳. وکئ، وکړئ ۴. قضا ۵. واریږي ۶. تپر ۷. مر غسن : Lamarǧásan . ۸. پورته ۹. د میرو رمه ۱۰. ولیده ۱۱. مخ یې ۱۲. مي ۱۳. څین، جین

❀(۳)❀

ما ول: سلېمانه پېغمبره

مسته دعا راکه — سلېمانه له زهيرو زړو خبره

❀(۴)❀

مُرغاني[1] ول: تبې ده — مرغاني ول: تبې مه نه تودړي[2]

تبې مه په غم سره کې — د «ناټې»[3]، د وينو بوی راپرته کړي

❀(۵)❀

مُرغاني ول: په لاس کې — وی، مُرغاني ول: په لاس کې مه بنګړي دي

بنګړي مه په غم سره کې — په ايدره[4] کې مه لورونه[5] سکني دي

❀(۶)❀

ما پر ته ميا بوته — سره مه وليده پر مخې[6] لنګی پروته

لنګی مه که راپرته — د ګراني بشر دئ وئ لکه پوڅه

❀(۷)❀

ماپرته ميا بوته — سره مه وليده پر مخې لنګی پروته

موذي چپه د مله[7] سه — شنه کوتره د په ايد راځخه بوته

❀(۸)❀

مخ د شين زرغون دئ — لکه مهر د تېمر په خزانه کې

په کال کې يوه شپه درځم — لکه شوکدر[8] په روزه کې

❀(۹)❀

مړونه «ميرزيی» ځوانان مړونه

په سره غرمه به خوب کې — په شپه به چيغيي د بل کتونه

---

۱. Murǧāna: د ناټي ورېندار (ورنديار) وه. ۲. توديږي ۳. Nāṭáy:
۴. هديره ۵. لېورونه ۶. مخ يې ۷. Male: ملکري، مرګري، اندېوالان
۸. شوقدر، شبقدر (شبِ قَدر)

(۱۰)

مـا نـه زړل خپل یـار مـه زړوینـه

دکټ پر بازو پروت دی	دا تـوري څـوڼـې اور رالـګـویـنـه

(۱۱)

مخ د پــه خـولـې دئ	شنې کوترې! خوب د کړی د غرمې دئ

راخـه پـه اتـڼ ګنبوزه	ستا مېره په لښکر ځې یار د دلې دئ

(۱۲)

مـانـه زړل[1] خپـل یـار	خوری! ما نه زړل خپل یار مه زړوینه

دکور وشـاتـه ګنبنې	دغـه توري زلپـې اور را لـګـوینـه

(۱۳)

مـا ول: مـاروم جـان	چوری، مال: ماروم جان به جوړومه

لونګ بـه پـر پـاشـمـه	یـو غـوبل بـه د څواناو پر ترمـه

(۱۴)

مـرم چـکـنـه مـرم	داغـه ستـا ارمـان بـه خـارو لره وړم

خـارو لـه بـې نـه وړم	په بازار کې چکن ډېر دي رابې وړم

# (ن)

(۱)

نجلی چې کـاغذ پـه کوتـې نغـاړې

سبـا بـه د ورا راسې	وه نـجلی! لـکـه نـرداسې بـه زاړې[2]

---

۱. زړل ۲. ژاړې

۞(۲)۞

نــاستــه پــه تيــاره كــي — غابښې [1] سپين وځوېدل [2] لكـه كُنجكي

پــر دانـجلـی مين سوم — يوه شپــه بــه دراوی ـ نــه راســره وكـي

۞(۳)۞

نــاستــه وم پــه ليار كـي — چـتــه راغــه د نـجونـو پـه كتـار كـي

نــوري پــه كـدم [3] تـلـې — چـتــه دغـی زنگېده لكـه پـه تال كـي

۞(۴)۞

ناټي [4] ول: په مورچه كي — ناټي ول: په مورچه كي مه اغزی دئ

نـور ارمان مـه هم سته — ډېر ارمان مه د لال كلي [5] ودغلی دئ

۞(۵)۞

نــاره بــه كـم كـلـكــه — سي يه پورتـه د ښوراني كلی واوري

كــه دا پــر يـار مينــه وه — كـنـكــې بــه د رود غــاړي لـره راړي

۞(۶)۞

نجلی غاښی د زاپران [6] دي — لــه يـوې اوړې تـر بـلـي د كـلان دي

د بـل خــواړه اســان دي — سي له ځاني [7] راكوې درباندي كران دي

۞(۷)۞

نــجــونــه د لـويــړي — په تا څه كړي نجلی سي نه لويـړي

راخــه نـجلـی لـويـړه — مور د نه ده شين آسماان سي به نړري [8]

---

۱. غابښ يې ۲. ځركېدل، برېښېدل ۳. قدم ۴. Nāṭáy: ناټی د كاكړ خراسان د خيساره په ښياسته ناوه كي د ژړی ـ نومي كلي اوسېدونكی او په ختـه ښاهي زيی جلالزی، سنځر خېل كاكړ ؤ. ۵. د ناټي نازولې لور وه. ۶. زعفران ۷. ځان يې ۸. نريـړي

(۸)

نـازکـې د زنـګـو[1] دي ... کـه نـازکـي د زنـګـو نجونـه نـازکـي

د ر څوئ سي سره ورسو ... د مېختر[2] نجونه خرنې کاړي له مځکي

(۹)

نـجلی لاړه توبې[3] لـه ... دغـه نـه يايـي څوک پاته سول پر مېنه

سر زمی بې هورې وي[4] ... کـې څـورمـونـې راړئ کـر ونـدې لـه

(۱۰)

نـجـلـې سـي ليـلـې ... وړه کـی[5]! سـي ليلې ليلې د نوم دئ

پـه تک د اوښو مـه ځـه ... وړه کـی! د اوښو تک پـه شواخون دئ

(۱۱)

نـجلی سي لـه څوهـې ... لاهور ی! سي له څوهی ځخه اوبه وړې

ګـــوډی د تـــويـــرې ... تر دا ګوډي لاندي څه ملاله خوله وړې

(۱۲)

نجلی سي له څوهی ځخه اوبه وړې

ګـوډی دې سـي ځيـري ... تر دا ګوډي لاندي څه ملاله[6] خوله وړې

۱. Zango: زنګو په اصل کي د زنګيوالي (zangi wāli) مخفف او د ناز نوم يې دئ. دا د بوري په ښار پوري د کُدېزيو، سنځر خېلو کاکړانو يو پخوانی کلی دئ. ددې کلي د پخواني اصلي اوسېدونکي کُديزيان (Kudezian)، چي البت جوګيزيان يا وروسته په دې کلي کي مېشته سوي دي. ځرګنده دي وي، چي د زنګيوالی پخواني مشر بلران خان او يا وروسته ددې کلي مشر نوميالی پښتون ملک مهترخان کُدېزی سنځر خېل کاکړ تېر سوی دئ، چي اوس يې پرمېنه باندي ډاکټر محمد شاه خان کاکر او نور ... زامن پاته دي'. مېختر د حمزه زيو سنځر خيلوکاکړانو پخوانی تاتوبی دئ ۲. له توبې څخه مراد «کاکړي تو نه» ده ۳. هلته ۴. warákəy : ۵. کوشنی، کوچنی، ... مکلی، کنکلی ۶. سپينه

(۱۳)

نجلی پر دېوال واوره | لاهوری-!پـردېوال واوره بيـا را واوره
يـار دانګور نـه خوري | سـرې پـلانـی ... شتـالو[1] دانې وراره

(۱۴)

نـن سيـلون[2] خـالي دئ | د اختر شاه سردار له مړو سره بندي دئ
اتـه يـې سـاري نـه دي | اختـر شـاه سـردار نيمـی د کبـزيـي دئ

(۱۵)

نور کلـه مـه نمونځ کـئ | ادې موري! نن مه دوه وار ، سر کُوز کئ
ميـن پـروعـده نـه راغـئ | وارېث[3] چکن[4] مه کړد په اوښکي نوند کئ

(۱۶)

نجلی زړه د غور زان[5] سه | انديښنـي سره ډر تولي د شيطـان سه
وزړه تـــــه ډر ولـــوړه[6] | د مور تر زړې دا يار درباندي ګران سه

(۱۷)

نـــاسنـي پـــر اوبـو دي | نجوني سپيني ځوېدې[7] ما ول: سپاره دي
روشتيا[8] دي ډرواغ نه دي | اشـكـان[9] زړې راغـلـي اولمـانـه[10] دي

---

۱ . شفتالو ۲ .Seloon : سيلون د نامتو پښتون ارواښاد سردار مراد خـان کبزيي کلی او سرداراختر شاه د نوموړي سردار باتوره فرزند دئ ، چـي عبد الله زيو کاکړانو سره ديوې اوږدې بدی په نتيجه کي په حق ورسېد . پرودګار دي ښه ورسره وکي .۳. کرياب ۴ . تيکرى ۵ . لړزان ۶ . درولوېږه ۷ . ځر کېدې ، برېښيدې ۸ . رشتيا ، ريښيا ، رښتيا ۹ . عاشقان ۱۰ . مېلمانه

(۱۸)

ناسته ده وکورته          مروره ده ښرې کوي و مور ته
د پلار بډوکی وخورې          سرې ! په زوند[1] یه اچولکي[2] یې و اور ته

(۱۹)

نر لوبه د بوري ده          که نر لوبه د بوري ویاله نرلوبه
یومست چیلم را ډک که          نجلۍ! ستا په نیت راغلی یم له ږوبه

(۲۰)

نجلۍ سي له بیالې[3] ځخه          نجلۍ سي له یالې ځخه اوبه وړې
ګوډی د په شادئ          تر دا ګوډي لاندي څه ملاله خوله وړې

(۲۱)

نه د سره ځمه          اوس ناندانه نجل رایاته[4] سوه کښېنمه
سپینه خوله بې واخلم          دا پېکی به یه په خارو ولړمه

(۲۲)

ناسته پر ډبره          دابوبو له خوا را والوته کوتره
داسي نوک پر نوک سوه          لکه آسپه سي خوی واخي له نوکره

(۲۳)

ناسته ده و کور ته          مروره ده ږغ نه کوي و مورته
ورت موذې ته تاورکم          تر دا د اچولکي وای و اور ته

(۲۴)

نجلۍ سي له ځوهۍ[5] ځا[6]          نجلۍ سي له ځوهۍ ځخه اوبه وړې
ګوډی[7] د څخړي[8]          تر دا ګوډي لاندي څه ملا خوله وړې

---

۱ .زند ،زمند ،ژوند ، جوند ۲. اچولې ۳. ویالې ۴. یاده ۵ . cohǯy :
چینه ، خېزۍ ۶ ځه ، څه۷ . زی ، ژی ۸. څخیړي

(۲۵)

| | |
|---|---|
| ناسته پر ډېره | داوبو له خوا راولوته کوتره |
| پېکي يه در په دره | دځوانانو زړونو کاري له کاکله [۱] |

## (و)

(۱)

| | |
|---|---|
| وري کې په منې | چوري اوس د ودوي په ساړه زمي |
| اى اوبه سري دي | دغه ستا بشر نازک دئ وبه سولي [۲] |

(۲)

| | |
|---|---|
| وښي د په مروند کي | خال دايښى دئ د ورځکو[۳] په پيوندکي |
| پېکى د ولونه ولونه | لکه ښه غنم ځي [۴] ودري په بند کي |

(۳)

| | |
|---|---|
| و غزره[۵] پورته | يو سايت [۶] درته ولياړ[۷] يم ځم کور ته |
| کميس په چکن روغ که | لالي! زور ورکه د دوو کوتو و بندوته |

(۴)

| | |
|---|---|
| وه نجلى يكري | زما ارمان سوې د غنم تر نارى[۸] ژړي |
| کبري وري د وځکي | لالي! خوا[۹] د هندو کې پېکي د ولي [۱۰] |

(۵)

| | |
|---|---|
| وه ادي ظالمي! | ماځله[۱۱] ژروي[۱۲] دا خلک مه ويني |
| له ستركو مه بهري [۱۳] | داوښکو پر ځاى سري بېکاري ويني |

---

۱. kāgala: کوګله ۲. Swáli : وبه چاودي ۳. ورځو ۴. چي ۵. وغزيږه
۶. ساعت، ساتكى ۷. ولاړ ۸. نانى ۹. تي ۱۰. دهندواني (هندواڼي)
جوړنک ۱۱. ولي ۱۲. ژړوي ۱۳. بهيږي

﴿۶﴾

وه نـجـلـی نـازکـي مور و پلار بـه د پـه کم کیلي[1] وادە کي
مـاتــه بــه د راکـي کـه بـه دغـه ضد لـه دواړو سره ویکي[2]

﴿۷﴾

وه شپــنـــه یـکــړه تـه میا چیري وهي نـه دسي ویړه
لـوړ ګـرنګ لـي بـوزه کــه د چیـري لالــه ولیـده یـکـړه
د پښو نوکان یه سره دئ پـه ځـنکـو غـومبر وهي لـکـه ګـوتـره

﴿۸﴾

ور د بــــرابــــر دئ غـولـی د پـر ځـه نـمنـه[3] وکـر دئ
د پلار بدوکی[4] وخوري سـي ستـا پر سیـنـه ایښی ګډور[5] دئ

﴿۹﴾

وه نـجـلـي نـازکـي مور و پلار بـه د پـه کم کیلي وادە کي
دوي شپي به ولمنه[6] یي دا درپیمه شپه به زور درباندي ویکي
سپین مروند به د بالښت کي تور لونګ بـه د پـه موټي کي واړه کي

﴿۱۰﴾

وسـوځیـــه ولـي مـي وسـوځیـــه
د اور داغـونـــه راکـئ پـــه سپـي مـوذي مـــه ولـي اړویـــه

---

۱۱. وکي ، وکړي.۱. نمونه ۲. بدوکی ، پُښتورګی ۳. ګډور ۴. کلي ۵. مېلمنه ۶. قلعي

(۱۱)

وړې وړې کیسلــې [1] دي　　دغه زمونږ د سردارانو لوړې بال خانې [2] دي
پاخه کلپان ور جوړ که　　وه سرداره ! مهوري زرګر دلې دي

(۱۲)

وښې د پسه مړوند کې　　خال د ایښی دئ د ورځکو په پیوند کې
ګډې وډې ورځکې　　لکه جړ [3] غنم سې وکړې په بند کې

(۱۳)

وختم نارو [4] له　　وما ول : رابه سي چورې د ګټ اوبو له
که نه راله اوبو له　　زه به عذر لیاچیلم کم لیا کځوړه

(۱۴)

وه شپانه ! یکړه　　اَدرې مه کوه شپانه ، نه دسي ویره
ولوړ کړنګ ته خپزه [5]　　که د چیرې تالې ولیده یکړه

(۱۵)

وسوم ادې وسم　　ادې مورې ! د بورې د سر لښمه [6] سوم
دا ډېر تر برونه وخورم　　ادې مورې! پرېوه راغبرګه نه سوم

---

۱. قلعې : forts ۲. بالاخانې ۳. ژړ ، زیړ ۴ . nãro : یو ډول غرنی بوټی دئ ، چې خلک یې خوري ۵ . خپژه ۶ . ځرګنده دي وي ، چې د امی په یوه بله غاړه کې یا د لښمه پرځای «ویاله» راغلې ده .

﴿۱۶﴾

ولي ولي — شين آسماني بې ستنې دئ درولی

په ميان کې واړه ستوري — سور سالو يه ژړی نمر دئ غوړولی

﴿۱۷﴾

وسو خويه خله — وسو خويه خله مه سوخوی يه

د اور داغونه راکوئ — په ای غول موذي مه خله زوبلوی يه

﴿۱۸﴾

ول دئ ول دئ ول دئ — سر ې پيکي د اړولي د اوربل دي

پر نيمه شپه به درسم — وه ... دغه مه يايه سي غل دئ

﴿۱۹﴾

ور[1] د اړولی — لالي !ور د اړولی اور د بل دئ

زه ماښان [2] درلوړم — ته د خدای دپاره مه يايه سي غل دئ

﴿۲۰﴾

وغزره [3] پورته — يوکړی [4] درته ولياړيم خم به کور ته

د سترګو اشاره کړه — وړکی حال به دنه يايمه و مورته

﴿۲۱﴾

ونرېړې [5] پانه — سر د دوې کوتي مانده دئ له آسمانه

په سر کي د پېتی ده — سې تالي اوبه راړي له ا نبناره [6]

﴿۲۲﴾

وکرزه [7] چابکه — د مين په تورو زلپو پهم وکه

کوتره سه شين غنړکي — که يار درلئ [8] وزر باندي خواره که

﴿۲۳﴾

ووهئ څنګونه — لاهوری! پر ميدان جوت راړي لاسونه

له يار شرم نسته — جوړ هی هم که سي ډکر وکي دردونه

۲۴

وه تـــر زرو سپیـــنـــ [۸] زما یه[۹] چیري[۱۰] کـه د زړه د سره مینه
لیاا ستا اروا[۱۱] و ماته[۱۲] لیـا بـه زمـا اروا بـنـدي در واچومـه

۲۵

وریـــه کـې پــه منـي تـالي ! اوس د ودیـي پـه سـاړه زمي
اوبـه یـه در سـرې کې تـالي !ستـا بشر نـازک دئ وبه وسلي

۲۶

واوره امـــــــی واوره دامـی پـــه کـتـوري کـي اوبـــه راړه
اوبـــه پــه خـاشو ډکـي سـرې ... پـر نـامـــه د خـاري واوره

۲۷

وه شپـنـــه مــالـداره دایوه څرې[۱۳] دلنک بلـه پر غاړه
راځـه پـه امی کښېوزه ستـا میـا بـه زه پـه بل کم راکراره
کـې نـــه کـــه راکـراره زې[۱۴] عـورتـه د خاوند غیم سي لاړه

---

۱.دروازه ۲. ماښام ۳ وغزېږه ۴ . ګړی ، ساعت ، ساتکی ۵ .ونړېږې
۶. Ananbār : د بوري د وهاري په سیمه کي یو مشهور غر دئ ، چي البت محلي خلک اننبار دالمبار(Alambār) او انبار (Anabār) په نومو هم یادوي ۷. وکرځه۸ . درغلی ۹. یې ۱۰. ciri: څنکه ، څه ترا ، څه ډول ، څرنګه ، څه رقم۱۱. ارواح ۱۲ . و ماته ۱۳ . سړی ، شړی ، چړی ، تُوس : tūs ۱۴ . زه یې

(۲۸)

وه شپـنـه یـکـره — تـه میـا چیري وهي نـه دسي وبره [1]

وکوز کـړنګ تـي توکـه — کـه د چیـري تـالـو ولیـده یـکـره

د پښو نوکان یه سره دي — پـه چـمبو غـومبر وهي لکـه کوتره

(۲۹)

ولیـاړي پـر ویـالـه دي — نجونه سرې وخوېدې ماول : سپاره دي

رُشتیا دي درواغ نه دي — اشکـان زړي راغـلـي مېلمانـه دي

(۳۰)

وختـه پـېـرمـنـکي [2] — د اوړمي [3] ماښام سپوږمۍ تندر نیولکي [4]

پـه نجـونـوکي لیلا ده — په ستوروکي ښکاره ده دري ښلنګي [5]

(۳۱)

وه ، دا نـجـي نـاره — تـل مـدام پـه کړنګوکي ولیـاړه

وسمـه تـه راتوسه — سي د وویـنـم پـه ګـج وهلکي غاړه

(۳۲)

وئ وچـه لـرګیـه — لـرګیـه د شـرونـه [6] لـه دارکیـه [7]

بند پـر بند شنېږي [8] — خبـر نـه یي د خوانانو لـه مرګیـه

(۳۳)

ووتـه لـه کـوره — ښایسته کلـه خوره خي کله تولـه

تـکـي [9] پـه نـخـرو دئ — راغـه مـخکـه ښوروي لـه ډېر زوره

---

۱. بېره ۲. پېرمنکي (permangi): پېرمن ۳. لومړي ۴ . نیولي ۵ . دري ښلنګي dre ṣ̌álangi : په آسمان کي د یو ستوري نوم دئ . ۶ . شرون (šaráwan ) : د شنو درختـه ۷ . dārkáya: دار( dār )پـه کاکړي کي د وني و ښاخ ته ویل کیږي . ۸ . شنیږي ۹ . تګ یي

﴿۳۴﴾

و ه اشکـــه څـوانـــه ما خالونه لکولي ستا لـه پاره

راسـه ليـا مـه يوسـه ليا مـه وباسـه د خلکو لـه مياره

﴿۳۵﴾

وه سپوږمۍ ګلداري سي را خېژي ګل به ګرد توکې پر لياري

دا سي وخت به راسي سي لور به خولګۍ غواړي له ورندياري

﴿۳۶﴾

واوړه نجلـۍ واوړه نجلی په کټوري کې ا وبه راوړه

اوبه لـه خاشو ډکي سرې... پرياري د خاري واوړه

﴿۳۷﴾

ولاړم تـر پـواتـه [1] زړه مه ونيوه سياهي برسې ولاته

د ستر کو ديد مه نه وئ پر ډيوو [2] د ياتوم خپلـه ولاتـه

﴿۳۸﴾

وه نـجـلـۍ نـازکـي مور و پلار به د په کم ولات واده کي

يودوې شپې به مېلمانه يې پر درېيمه شپه به زور درباندي وکي

﴿۳۹﴾

وسـې وسـې وسـې [3] وی، پر کور د اوبه وخيازه [4] د وسې

د وسـې اوبـه ښې دي ښايستې سرې [5] د ونسه [6] سې مره سې

---

۱ . Láwar : لېور ۲ .Páwāta : پوات د بلوڅو په سيمه کي يو غر دئ

۲ .Diho : پخواني کاکړان، مرانـيان ا و مندوخېل و «کاکړی غاړو» ته «ډيوو : Diho» وايي ۳ . Wase : وسي ۴ . و خېزه، وخېژه ۵ . شری ۶ . ونيسه

## ❁❁❁﴿ هـ ﴾❁❁❁

❁﴿۱﴾❁

هـره روځ مـه کـرمـه[۱] لالـي هره روځ[۲] مـه کـرمـه تبه کړي
ستـا ديـدن دوا دئ ستـا ديـدن و مـاتـه کلـه را رسيږي[۳]

❁﴿۲﴾❁

هـاره هـاره هـاره د درکـی پـر ويـالـه تلم امېل په غاړه
په لاس مه د سرو کوتکي[۴] پـرتـنـدي مـه د کـالـدارو وايي[۵] لاړه

❁﴿۳﴾❁

هـاره هـاره هـاره «شبوزي» لـه سرې راوستي نـاتـاره
سي بندي دروازې کاړي د درکـی لـه ميـانـه ووزې ملکـزاره

❁﴿۴﴾❁

هـو، شيـريـنـه يـاره! شـنـه خـالـونـه مـا وهلي ستـا د پـاره
يوه مـه پـه غوځي کـه بـل مـه وبـاسـه د خـلکو لـه ميـاره

❁﴿۵﴾❁

هـاره هـاره هـاره نـن مـه بيـا پـر اوبو وليده لوهـاره
د پلار پر کور ليا ښه وه د مـوذي پـر اخـور تـل شمـه وليـاړه

❁﴿۶﴾❁

هـاره هـاره هـاره دا خيرې اوبـه يـې راوستي لـه پـاسـه
کـالـي يـه را لانده کو لاهوری !پـه تپـاره مـه نـنـه بـاسـه

---

۱. توده ۲. ورځ ۳. رارسيږي ۴. کوتي ۵. روښنايي، رڼا، رڼيا

﴿۷﴾

هلکه ! پتکی سم تره هلکه ! پتکی سم تره هنر دئ
یو به د هنر سي وه هلکه ! بل د نجونو پر نظر دئ

﴿۸﴾

هلکه ! لونکی چته بر سر کښېږده
درخه په اتن ګډسه هلکه ! د دنیا کارونه پرېږده

﴿۹﴾

هاره هاره هاره د درګی[1] پر پیاله[2] خم امېل په غاړه
په لاس مه زرې ګوتکي پر تندي مه د کالدارو واهي ولاړه

## ﴿ی﴾

﴿۱﴾

یاره ! وه، زما یاره! ته دا دواړه لاس را واړوه پر غاړه
لیا لاس په لاس کي راکه لیا مه وباسه د خلکو له میاره

﴿۲﴾

یاره یاره یاره ما پر خوله خالونه ایښي ستا دپاره
راسه لیا مه یوسه لیا مه وباسه د خلکو له میاره[3]

۱. Dargáy : د بوري وښارته نژدې یوکلی دئ . دلته له درګی څخه مراد «درګی کدېزی» ده ، چي اوسېدونکي یې کدېزي ، مرمه خېل سنځرخېل کاکړان دي . البت په بوري کي یو بل کلی د «درګی زخېبل» په نامه یادیږي ، چي اوسېدونکي یې زخېبل کاکړان دي. ۲. ویاله ۳ .پغور پېغور

# مأخذونه

هغه کتابونه چې د «زرینې پانګې» ددې لوی او طلایي څپرکي د لیکنې په وخت کې زما په ښه راغلي، نومونه یې په لاندې ډول دي:


۞……خلکو سندرې، لیکوال: استاد حبیب الله رفیع، خپرونکی: افغانستان اکاډیمي د تاریخ او ادب ټولنه، د چاپ ځای: دولتي مطبعه، د چاپ کال ۱۳۴۹ ش = ۱۹۷۰، کابل

۞……پښتنې سندرې لومړی برخه، ټولوونکي: ګړ ادیبان، مهتمم: محمد دین ژواک، خپرونکی: پښتو ټولنه، چاپځای: عمومي مطبع، چاپکال: ۱۳۳۴ لمریز =۱۹۵۵ میلادي ،کابل

۞……فولکلوري سوغات: څېړنه اولیکنه: سیال کاکړ، خپرندویه ټولنه: قلات پبلشرز، چاپکال: جنوري ۱۹۷۸ م، کوټه

۞……د اتڼ نارې: څېړنه او پلټنه: سید خیر محمد عارف، خپرونکی: پښتو اکاډمي، چاپځای: قلات پریس، چاپکال: ۲۰۰۵ م، کوټه

۞…… غرنی سندرې: لیکوال: محمد عارف غروال، خپرونکی: د افغانستان د علوموااکاډیمي د ژبو او ادبیاتو انستیتوت پښتو ټولنه، د چاپ ځای: دولتی مطبعه، چاپکال: ۱۳۶۰ ش، کابل

۞…… د غرونو څوکې: لیکوال: عبد الکریم پتنګ، خپروندویه ټولنه: د کابل پوهنتون د فلالوژي پوهنځی، چاپځای: د لوړو اومسلکي تحصیلاتو مطبعه، د چاپ کال: ۱۳۵۹ لمریز، کابل

۞…… د پښتو شفاهي ادبيات ( شکل اومضمون ) ليکواله : غوټۍ خاورې ،خپروونکی : د افغانستان د علومو اکاډيمي د ژبنيو او ادبي څېړنو مرکز پښتو ټولنه ، د فولکلور او شفاهي ادبياتو ډيپارټمنټ ، د چاپ ځای : دولتي مطبعه ، مهتمم : غ . خ ، د پوښو خطاطي : نصير هنر پښتون ، د چاپکال : ۱۳۶۶ ش = ۱۹۸۸ ، کابل
۞…… فولکلوري ګېډۍ : ليکوال : علي محمد منګل ( سوبمن ) خپروونکی ، پښتو ټولنه ، د ژبپوهني څانګه ، په اهتمام : د ارواښاد محمد شيرين سنګري ، د چاپ ګال :۱۳۵۵ ش = ۱۸۷۶ م ، کابل
۞……د پښتو ځانتنی ادب او موسيقی : ليکوال : ارواښاد استاد غلام جيلاني جلالي ، خپروونکی : د اغانستان د علومو اکاډيمي د ژبو او ادبياتو علمي او تحقيقي مرکز پښتو ټولنه ، د چاپ ځای : د ښووني او روزني مطبعه ، د چاپ کال : ۱۳۶۰ لمريز ، کابل
۞…… پښتني ملي اتڼونه او محلي نڅاوي : ليکوال ، غلام محي الدين خلجی ملګری ، خپروونکی : د فولکلور او ادب ټولنه ، د خلکو د هنر ونو مديريت ، په اهتمام : غلام محبوب ، د پښتني انځور : ارواښاد استاد برېښنا ، چاپځای : دولتي مطبعه ، د چاپ کال : ۱۳۵۲ لمريز ، کابل
۞……کندهار مجله ، د علامه نوري په باب ځانګړې ګڼه ، ۱۳۷۸ لمريز کال ، کندهار
۞…… تر ينو : ليکوال : سيال کاکړ ، خپروندويه ټولنه : پښتو ادبي دنيا ، خطاط : عزيز جان آرټسټ ، چاپځای : اسلاميه پريس ، کوټه
۞……او زما شخصي ياد داښتونه

# الاخوري
## (د ښادۍ بدلي)

ویل کیږي په ښادۍ کي الاخوري
جوړوونکي ددې پانګي کاکړاني

❀❀❀

الاخوري اوس خوندي سوې په کتاب کي
پښتني فولکلور سمسور به سي په دا

❀❀❀

دا تر اوسه پوري نه وې زېرمه سوي
په سینو کي وې پرتې دا د ښځمنو

❀❀❀

سیال کاکړ د پښتني فولکلور خادم دئ
الاخوري ده ځپړلي دي په مينه

# دا پانګه

د زرينـي پانکي په دې درنه برخه کي چي څومره الا خوري راغلي دي ، سر چينه يې د کاکړستان د بوري فولکلوري حوزه ده . د پښتنو په دې کلتوري حوزه کي د ښادۍ بدلي يو اوږد او وياړلی تاريخ لري . زما په فکر د کاکړستان د بوري ، قلعه سيف الله ، اوسني ږوب ، کاکړ خراسان ، غوڅکۍ او مسه خېل لرغوني فولکلوري حوزې ددې خبر ي شاهدي ورکوي ، چي دغه ذکر سوي ځايونه د « ښادۍ » د « بدلو » پخواني مرکزونه او سرچينې پاته سوي او دي .

د اپانګه ښځمنو جوړه کړې او دوی يې ساتندوی دي . دغه فولکلوري اثاثه ډېره پخوانۍ ده ، چي و موږ ته له آريايي دورې څخه خوله په خوله اوسينه په سينه راپاته ده . ددې قيمتي پانکي په را غونډو لوکي ماخورا ډېره خواري کښلې ده .

زه د بوري د ژنکيوالي د ګران محمود خان کدېزي ، مرمه خېل ، سنځر خېل کاکړ ، د سنځاوۍ د ريګوړي د ښاغلي محمد حنيف مشهور په سپين بادام دومړ سنځر خېل کاکړ او دغه راز د بوري د خان محمد طالب جلالزي ، سنځر خېل کاکړ ډېر منندوی يم ، چي دې نيازمنو وروڼو ماسره د « الا خورو : alā xurū) يا په بله ژبه د « لالينو : lālinū » په راټولولو او يا ښوولو کي کامله مرسته کړې ده . په تېره بيا د ګران محمود خان کاکړ مرسته د زياتي ستاينې وړ ده . د بوري د فولکلوري حوزې دغه خوږې او

خوندوري «د ښادۍ بدلي» د همدې دوو ښاغلو ورونو په مننه ستاسي و درانه حضور ته وړاندي کيږي :

## د الا خورو بېلا بېل نومونه

په ودونوکي چي پښتني ښځمنې کومي سندري وايي ، په عمومي ډول «د ښادۍ بدلي» بلل کيږي . خو د کاکړستان د بوري په کلتوري حوزه کي بيا خلک و همدې بدلو ته «الا خوري : alā xuri» وايي . البت ځيني خلک بيا همدغه د الا خور سندري «الا مور : ala muri» په نامه يادوي . خو د کاکړستان د سنځاوۍ په کلتوري سيمه کي بيا د خلکو په فولکلوري اصطلاح د ښادۍ بدلي د «لالينه: lalina» په نامه بلل کيږي .په هر نامه چي يادي سي، په دې نومونوکي هرنوم ښه ورسره ايسي .

## د الاخورو تصنيف بندي

الا خوري يا په عمومي اصطلاح د ښادۍ بدلي د هغې سمسوري او شنې و زرغونې کروندې مثال لري ، چي په غوږېدلې لمن کي يې ډول ډول ادبي ملغلري او فولکلوري جواهر د ستورو غوندي ځليږي . د الا خورو دغه خورا قيمتي ملغلري په ډيرو درنو او غوره مطالبو پسوللي دي ، چي په لاندي ډول يې تصنيف بندي (classification)کوو :

## انتقادي الاخوري

دپښتو ليکنۍ ادب دئ کـه کرنۍ ، هره برخه يې په

انتقادي مطالبو ښایسته ده . په تېره بیا د پښتني فولکلورالا خوري پخپله دریابي غېږ کي و خورا زیاتو انتقادي خبرو ته په خورا ساده او روانه ژبه ځای ورکوي . د الاندي الا خوره یې یوغوره مثال دئ :

ور را خلاص کئ پیسي واخلئ  که له لوړي مُـرداړړئ
دوړو کـونـی پـه واخـئ

# مزاحیه الاخوري

مزاح (humour) په ادب کي د مالکي حیثیت لري . ښکاره خبره ده ، چي په بل منکه دودی د سړي د خولې خوند نه ښه کیږي . حقیقت خو دا دئ ، چي د یوې ژبي په ادب کي طنز وي که مزاح ، دواړه په کي د روح حیثیت لري . نو شاید همدغه وجه ده ، چي زموږ بې سواده ښځمنو په الا خورو کي د مزاح خوندور عنصر خوندي کړی دئ . ودې لاندي مثالونه ته ستاسي ښایسته نظر را جلبوو :

ورایـه رالـه درکـي درکـي  پلانـکـی ... یه ده په مخ کي
کـړې پښـې لـکـه دچـرګـی
وه پلانکیـه ... توره دوستـه  پـر کـمبلـه راتـه چوسـه
ځـي دوکـاړم لـه پـوستـه

# دعاییه الاخوري

دعا په هر شکل او د هر چا چي وي ، دعا ــــ دعا ده . او خپل اثر ښندي . انسانان یو وبل په دعاوو کي یادوي . او هر سړی خپل ځان د بل چا ددعا محتاجه بولي . ځکه چي په دعا کي یومخفي قوت پټ دئ . همدغه د زړونو د تل ځخه راختلي دعاوي

انسانان همېشه سمسور او ژوندي ساتي . پښتني ښځمني دعاوي منني او يو وبل ته يې په اخلاص کوي . په دې لاندي الا خوره کي دعاييه کلمات وګورئ . اوددعا په اهميت ځانونه خبر کئ :

خور د ورور واده کوينه — خور د ورور واده کوينه
داسي خور د ګل ګلاپ سي — سې ورابانګې بويوينه

# ستايشي الاخوري

په انساني ژوند کي د ستاينې او غندنې خپل خپل ځای دئ . البت په ستاينه خلک خوشاله کيږي . او په غندنه د هر چا پر تندي باندي ګوټي ( ګونجي ) پيدا کيږي . بس دغه انساني فطرت دئ، چي په ستايلو چا غيږي او په غندلو ډنګريږي . د پښتني فولکلور د الا خورو لمن په ستايشي سندورډکه ا و دستاينو په خوږو کايو پسوللې ده . دلته د نمونې په ډول ځيني الا خوري وړاندي کيږي :

د دالان ترمخ واښه دي — د دالان تر مخ واښه دي
د اسي زوم مه دروستلی — د کاله رنګ مه په ښه دئ

❁❁❁

ناوکي پښه واخه سپرره — زما لالی درته وليار دئ
په ځواني يې هوسره

❁❁❁

زمور ناوو خانه واده ده — تی پوښتنه ځيني وکئ
دچا لور د چا وروه ده

# جوابي الاخوري

الا خوري د پښتني فولکلور هغه جانانه ډول دئ ، چي ويړه لمن

يې د سوال او جواب په صورت کې په راز راز جوابي الا خورو پسوللی دئ . د مسابقې دغه منظومې سندرې خپل يو ځانګړی رنګ او جلا خوند لري . موږ په جوابي الا خورو کې د خپلو بې سواده و ښځمنو شاعرانه استعداد په ښه ډول ليدلای سو. دلته يو ه ډېره په زړه پوري او خوندوره جوابي الاخور د نمنې په ډول وړاندې کيږي :

خور پر غولي مه پاتک دئ                    داسي زوم مه راوستلی
ږيره نه لري هلک دئ

❀❀❀

خور پر غولي مه پياتي ده                    دی نجلی مه ده درکړکي
دا دکر د کلي بي بي ده

# خيال آمزيني اوندرت

زه پخپله په دې عقيده يم ، چې د پښتني فولکلور منظوم ډولونه د «پواني شاعری» په ښه ډول مقابله کولای سي .د پښتو دغه شفاهي پانګه په نازکو تشبيهاتو او ژورو خيالاتو پسوللې ده .زموږ بې سواده ښځمني دي که نارينه ، دوی په خورا مهارت د پښتو په منظومو فولکلوري ډولونو کې نوي نوي فکرونه او نادر ګاڼونه را نغاړي ، چې د نوښت او ابتکار شغلې په کې ليدل کيږي . د مثال په ډول و دې لاندې الا خورو ته نوکی ځير سئ :

ناوکي ستا شمشېره درخته                    ناوکي ستا شمشېره درخته
زما لالی تر لاندي ناست دئ                    باچهي کوي بې تخته

❀❀❀

خيښي نوی سر اودلی                    خيښي نوی سر اودلی
زما لالی په داسي جوړ کئ                    لکه نمر پر غره ختلی

# ښادي

د پښتنو اختروي کـه ښادي ، دوی خپل اخترونـه او ښادۍ پـه درب(drab) تېروي . حقيقت خو دا دئ ، چې د پښتنو اخترونه ځانګړی رنګ او ښادۍ يې يو بېل خوند لري . د نورو اقوامو په مقابل کي د پښتنو اخترونه دي که ښادۍ ، يومنفرد مقام او ځانګړی حيثيت لري . د پښتنو د ښاديو دغه ځانګړتيا په يوه خوندوره الا خور کي داسي څوندي سوې ده :

ملا ! تـول کـه کتـابونـه ‏ ‏ ‏ ‏ دغـــه تـن پـــرمـورړ ښـــادي ده
يـــا بـــه سم کـو عـمـلـونـه

# پښتني ننګ او غيرت

پښتانه ننګياليان او دننګ پلويان دي.د ننګ ا و غيرت غوندي پښتـنـي صفات يې په ختـه کي اخښلي دي . دو ی بې ننکي نـه خوښوي .همېشـه يې نـنـګ پـاللـی دئ . او پښتنـي دود و بايده يې پـر ځــای کـرې ده . د پښتـو کـړنـی ادب د پښتـنـي نـنـګ او غيـرت ښکـارنـدوی دئ . پـه څينـو الا خورو کي د ننګ او غيرت ښايسته او درانه توري داسي خوندي سوي دي :

دکـــمبـلـــي زی يـــه تـوري ‏ ‏ ‏ ‏ د کـــمبـلـــي زی يـــه تـوري
زمـــا لالـی پـرنـنـګ مـين دئ ‏ ‏ ‏ ‏ خيښـي نـــه بـــاسـي سرتوري

❀❀❀

سي تـوپک يـه پـر پـښـه ايښی ‏ ‏ ‏ ‏ سـي توپک يـه پرپښه ايښی
تــر دا ســي غيــرت جـــارسـم ‏ ‏ ‏ ‏ زمـــا لالـي ســر پـر مـا ايښــی

# شکرونه

پښتانه خورا صابره او شاکره خلک دي . دوی په صفت د یوه مسلمان همېشه د خدای شکرونه کاږي . او د پښتنو دغه لوی صفت په یوه الاخوره کي په دې ډول خوندي سوی دئ :

مور ئس خوندي اته ورونه　　　　له الله خـخـه راضـي يـو
مـورې تـل کـاږو شـکـرونـه

# د قافیو نیمګړتیاوي

الا خوري د پښتني فولکلور هغه غني ډول دئ ، چي په ډېرو ادبي ممیزاتو او شاعرانه صفاتو پسوللی دئ . خو په ځینو الا خور و کي د قافیو ناسموالی په نظر راځي . او دا چي الاخوري زموږ بې سواده ښځمني جوړي ، نو ځکه په ځینو ځایو کي تېروتني ځیني سوي دي . د مثال په ډول دا لاندي الاخوره وګو رئ :

د ناوکی په لاس دسمال دئ　　　　د نـاوکـی پـه لاس دسـمـال دئ
سي لـه مورې بېلوينـه　　　　پـه زړکـي کـې ډېـر ارمـان دئ

# اوسنی الاخوري

هسي خو د تاریخ په بېلا بیلو پړاوونو کي د الاخورو رنګ په رنګ سندري جوړي سوي ، خو اکثره يې ورکي دي . او چي څه را پاته دي ، هغه د ورکېدو په حال کي دي . له ښه مرغه د کاکړستان په ذرخېزه کلتوري سیمه او ځانګړې فولکلوري حوزه کي تر اوسه پوري نوي نوي الاخور ي جوړېږي ، چي يو ښکاره مثال يې په دې ډول دئ :

درپـــوره ! زمـــوږ وروږ مـوږ دغـــې لـــه تـــه راضــي يـو
تـــه بـــس مـــه ولـــه پـــه زوره

۞۞۞

# د الا خورو جوړښت او تقطيع

و ماته د بوري په فولكلوري حوزه كي چي څومره الا خوري په لاس راغلي دي ، هغه ټولي د جوړښت په لحاظ يونيم بيتيزي او يا بيا دوه بيتيزي دي . خو څرګنده دي وي ، چي په ټولو دوه بيتيزو بدلو كي لومړۍ مسرۍ تكرار يږي . او د دې غبرګون په وجه په بدله كي يو ځانګړی آهنګ او يو خاص خوند پيدا سي .

او پـه دوه بيتيـزه بـدلـو كـي د لـومړۍ مسرۍ تكرار يوازي د كاكړستان د ښځمنو په بدلو كي ليدل كيږي . اوس د همدې يو نيم بيتيزو او دوه بيتيزو بدلو و جوړښت او ادبي سكښت ته ستاسي پام را اړوو :

۞۞۞

يونيم بيتيزه بدلي

خوره! پر غولي مه مندکي     مور به خپله ناوو يوسو

مور بي سروهي له مخکي

| | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | ٢ | ٣ | ٤ | ٥ | ٦ | ٧ | ٨ | ٩ | ❀ | ١ | ٢ | ٣ | ٤ | ٥ | ٦ | ٧ | ٨ |
| خور | هه! | پر | غو | لي | مه | من | د | کی | ❀ | مور | به | خپه | له | نا | وو | يو | سو |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | ٢ | ٣ | ٤ | ٥ | ٦ | ٧ | ٨ |
| مور | بي | سر | و | هي | له | مخه | کي |

دچا پوستين دوري دئ     لکره په لاس ورکئ

دی لايک د دروزي دئ

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | ٢ | ٣ | ٤ | ٥ | ٦ | ٧ | ❀ | ١ | ٢ | ٣ | ٤ | ٥ | ٦ | ٧ |
| د | چا | پوس | تين | د | وزي | دئ | ❀ | له | که | ره | په | لاس | ور | کئ |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | ٢ | ٣ | ٤ | ٥ | ٦ | ٧ | ٨ |
| دی | لا | يک | د | در | وي | زي | دئ |

ناوو ستا کوتي د سرو دي　　　تر تیکري یه رابنکاره که

ستا سکه لورونه څو دي

| | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| نا | وو | ستا | کو | تي | د | سرو | دي | ❁ | تر | تي | کري | یه | را | ښکا | ره | که |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| ستا | سه | که | لو | رو | نه | څو | دئ |

زمونږ ناوو په درخته کمه　　　د کور سرلـه نـه رسږي

تر پښو لاندي کي کمبله

| | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| زمونږ | نا | وو | په | درخ | ته | که | مه | ❁ | د | کور | سر | له | نه | ر | سه | ږي |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| تر | پښو | لان | دي | کي | کم | به | له |

## دوه بيـتيزه بدلي

پـر کـور دوه زرغـونـه شـالـه
زمـا لالـی ورتـه ولیـار دئ

پـر کـوره دوه زرغـونـه شـالـه
لاسـې نـه ورځـي لـه خیـالـه

| | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ٧ | ٨ | ❁ | ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ٧ | ٨ |
| پر | کور | دوه | زر | غو | نه | شا | له | ❁ | پر | کور | دوه | زر | غو | نه | شا | له |

| | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ٧ | ٨ | ❁ | ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ۶ | ٧ | ٨ |
| زما | لا | لی | ور | ته | و | لیار | دئ | ❁ | لا | سې | نه | ور | ځي | له | خیا | له |

پر کور سور څومبک څرږي
هغه لور د سترکي وخوري

پر کور څومبک څرږي
سي د پلار په کور نازږي

| | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| پر | کور | سور | څوم | بک | څه | ږ | ږي | ❁ | پر | کور | سور | څوم | بک | څه | ږ | ږي |
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| هه | غه | لور | د | ستر | کي | و | خوري | ❁ | سي | د | پلار | په | کور | نا | ز | ږي |

باران اوري منا څاڅي
ناوکی زما د لالي ده

باران اوري منا څاڅي
تر نوکانو يه زر څاڅي

| | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| با | ران | او | ري | مه | نا | څا | څي | ❁ | با | ران | او | ري | مه | نا | څا | څي |
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| نا | و | کی | زما | د | لا | لي | ده | ❁ | تر | نُو | کا | نو | يه | زر | څا | څي |

# د الاخورو ادبي خصوصيات

الاخوري يا په بل عبارت «د ښادۍ بدلي» د پښتني فولکلورهغه زرين ځپرکی تشکيلوي، چي په راز راز رنګينو مطالبو ښايسته دئ . دلته د پښتو د شفاهي ادب د دې خوندور صنف ادبي خصوصيات په لنډ ډول بيانيږي:

۞ ... د ښادۍ بدلي د ښځمنو په خوږه او پسته ژبه پسوللي دي .

۞ ... دپښتني فولکلور په دې خوندور ډول کي دپښتو ډېر لرغوني اوسوچه توري خوندي دي .

۞ ... د ښادۍ په بدلو کي دپښتو خوندور محاورات او نازک تشبيهات زېرمه سوي دي .

۞ ... د ښادۍ بدلي په روانه، سليسه او ساده پښتو کي جوړيږي .

۞ ... دغه جانانه سندري د پښتو په قاموس ليکنه کي د قاموس نويسانو سره په زړه پوري مرسته کولای سي .

۞ ... د کاکړستان په فولکلوري حوزه کي جوړي سوي د ښادۍ بدلي د کاکړي ګړدود په زړه پوري نمايندګي کوي .

# د ښادۍ بدلي په چاپي آثارو او مجلو کي

الاخوري يا په يوه بله فولکلوري اصطلاح «الاموري» چي په پښتنو کي په عمومي ډول «د ښادۍ بدلي» بلل کيږي، د پښتو په بېلابيلو چاپي آثارو او ځينو مجلو کي خوندي سوي دي . دلته يې په لنډ ډول يا دونه کوو:

# ۱. ملي سندري

دغه لوی ویاړ لومړی وار د علامه محمدګل خان نوري په برخه سو، چې د خلکو له سینو څخه یې په خورا مهارت د ښادۍ بدلې را وایستلې. بیا وروسته ارواښاد نوري دغه ۱۱۲ خوندوري بدلې د «بابولاله» تر سر لیک لاندې پخپل ځانګړي اثر «ملي سندرې» کې د یوې په زړه پورې لیکنې په ملتیا په الفبایي ترتیب خوندي کړې. د استاد نوري دغه کتور اثر د کابل پښتو ټولنې په ۱۳۲۳ لمریز کال چاپ او ادبوالو ته یې وړاندې کړ.

ښکاره خبره ده، چې استاد نوري د ښادۍ بېلا بېلې بدلې په «ملي سندرې» نومې کتاب کې د «بابولاله» په نامه ثبت کړې دي. زما په فکر دغه نوم د ښادۍ له بېلا بېلو بدلو سره سمون نه خوري. حقیقت خو دا دئ، چې بابولاله د ښادۍ په یوه ځانګړي پړاو (Stage) کې ویل کېږي. په ښادیو او ودونو کې چې پښتنې ښځمنې کومې بېلا بېلې بدلې وایي، موږ هغه ټولې بدلې تش د «بابولاله» په نامه نه سو یادولای.

سمه خبره خو دا سې ده، چې د اښادۍ بدلې له «خورښادي» څخه شروع کېږي. بیا وروسته بېلا بېل پړاوونه (Stages) راځي، چې نومونه یې په دې ډول دي: ۞ ښه وروره ۞ بابولاله ۞ د سحار باد ۞ کیسو ورو ۞ او ژړی ماځیګر

ما په دې باره کې پخپل ځانګړي اثر «فولکلوري جواهر» کې هر اړخیزه څېړنه کړې ده، چې دلته یې تکرار مناسب نه ښکاري. موږ په مجموع کې هغه ټولې سندرې چې په ودونو کې ویل کېږي، «د ښادۍ بدلې» بللای سو. البت ځینې ځانګړې بدلې، چې یوازې د «بابولالې» په مخصوص پړاو کې ویل کېږي، همدغه

ځانګړي بدلي د « بابولاله » په نامه یاد ولای سو . څرګنده دي وي ، چي د واده په یوه ځانګړي پړاؤ کي د بل مخصوص پړاؤ بدلي ښځي نه سي ویل کېدلای .

## ۲. پښتني سندري ( لومړی برخه )

تر « ملي سندري » وروسته د کابل پښتو ټولنې په ۱۳۳۴ میلادي کال د«پښتني سندري» نامه یو خورا په زړه پوري او کټور کتاب د اروا ښاد محمد دین ژواک په اهتمام چاپ او و پښتنو ته وړاندي کړ . د همدې پورتني اثر په لومړی برخه کي پر مخ ۸ ۳۴ باندي د « بابولاله» تر عنوان لاندي د اروا ښاد علامه نوري د «ملي سندري » « ۱۱۲» زېرمه کړي بدلي ، بې د څه یادوني او سر چینې ښېرته په مکرر ډول د الفبا په ترتیب خوندي سولې .زما په خیال د ا یو علمي خیانت دئ ، چي د استاد نوري سر ه په وار وار سوی دئ . خو څرګنده دي وي، چي علامه نوري پر خپله کلتوري او فولکلوري مېنه باندي داسي غښتلي او پیاوړي وارثان پرې ایښي دي ، چي په آینده به هیڅوک و داسي علمي او ادبي خیانتونو ته پرې نه ږدي .

## ۳.دخلکو سندرې

شمس الادباء جناب حبیب الله رفیع د پښتني فولکلور په سمسوره دنیا کي تر علامه نوري را وروسته هغه پیاوړی ، منلی او غښتلی فولکلوریست دئ ، چي د ښادی بدلي یې لومړی وار پخپل دې کټور او قیمتي اثر کي د «بابولالي » تر عنوان په خورا منظم ډول وڅېړلې . د استاد رفیع دغه ۲۲ مخیزه لیکنه ډېره کوټلې ، خوندوره ،په زړه پوري او په خورا درنو معلوماتو پسوللې ده . د

پښتني فولکلور په سمسوره کرونده کي «د خلکو سندرې» د ملغلرو غونډي بريښي . حقيقت خو دا دئ ، چي د فولکلوري دنيا په ځېر نيز ميدان کي دغه مستند او معتبر کتاب د ځان ساری نه لري .

د استاد رفيع ددې ۳۲۲ مخيز فولکلوري اثر يادکاري مقدمه د خپل وخت لوی استاد مرحوم علامه حبيبي کښلې ده . د نوموړي ليکوال دغه درونډ کتاب د افغانستان اکاډيمي د تاريخ او ادب ټولني له خوا په دولتی مطبعه کي چاپ او په ۱۹۷۰ ميلادي کال د پښتني فولکلورو و مينانو ته په خورا اخلاص وړاندي سوی دئ .

## ۴. فولکلوري جواهر

دسيال کاکړ په دې پورتني ۱۱۶ مخيزه کتاب کي لومړی وار د « ښادۍ » خورا زياتي «بدلي » چي شمېرې و ۲۰۰ ته رسيږي ، د يوې ځېړني په ملتيا د « فولکلوري جواهر» په زرينه لمن کي خوندي سولې . د نوموړي ليکوال دغه اثر د کوټې پښتو اکاډمي د ۱۹۷۹ ميلادي کال د اپريل په مياشت کي د پښتني فولکلور وشيدايانو ته وړاندي کړ . زما دغه اثر به يو څه ارځښت ولري که نه . درانه نقادان دې پخپله ارزيابي کړي .

## ۵. د ښادۍ بدلې

ګران احسان الله آرينزی چي د ګراني پښتو يو تکړه ليکوال دئ ، پخپل نوبت يې د ښادۍ و مخصوصو بدلو ته ښه په زړه پوري کار وکئ . زموږ دې ورډک ورور د وردګو لـه ځانګړي فولکلوري حوزې څخه د ښادۍ خورا زياتي بدلي را ټولي کړي او بيا وروسته يې د ۱۳۵۴ لمريز کال د کابل د « فولکلور» مجلې په بېلا بيلو ګڼو کي ليکني

پر کړي او ډېرې خوندورې نمونې يې راوړي دي .

کران آرينزي بيا وروسته خپلې پاشلې مقالې په ۱۳۶۵ ميلادي کال په کابل کې « د فولکلور پوهنې سمپوزيم » د جوړ سوي سېمينار په مناسبت په کتابي بڼه « د ښادۍ بدلې » تر عنوان لاندې د افغانستان د علومو اکاډيمي د ژبو او ادبياتو د مرکز رياست ، د شفاهي ادبياتو او فولکلور ډيپارتمنټ له خوا د پښتني فولکلور وشيدايانو او ادبوالو ته وړاندې کړ .

ښاغلي آرينزي پخپل دې کتور اثر کې د وړدګو په فولکلوري حوزه کې د واده بېلا بېل دودونه او د ښادۍ ځانګړې بدلې د يوې په زړه پورې سريزې او خوندوړو تشريحاتو په ملتيا څېړلې او خوندي کړي دي . زه د ګران آرينزي ودې لويه خوارې ته په درنه سترګه ګورم. زيار يې ستايم او مبارکي ورته وايم . خو څومره به ښه وي ، چې نوموړی ليکوال دغه کتور کتاب له نوي سره کمپوز (compose)او چاپ کړي . دا وخت بېخي د ويلو نه دئ .

## ٦. د پښتو ځانتنې ادب اوموسيقي

موږ د پورتني اثر په حواله چې ليکوال يې ارواښاد غلام جيلاني خان جلالي دئ ، ويلای سو ، چې نوموړي اديب د ښادۍ يوشمېر سندرې په ادبوالو پېژندلې دي . د ښادۍ دغه خوندورې بدلې چې شمېر يې و « ۷ » ته رسيږي، په همدې پورتني کتاب کې د « سندرې يا د پښتو ا دب موزونې ټکې » تر عنوان لاندې خوندي سوي دي .

## ۷.دپښتو دودونه

د ارواښادد غلام محمد تره کي دغه معلوماتي کتاب ، چې په

۱۳۵۳ میلادي کال د کابل « د فولکلور او ادب مدیریت » خپور کړي دئ ، پخپله فولکلوري لمن کي د غزني او زابل پښتني دودونه راوړي او نوموړي لیکوال په خورا ساده پیرایه او اسانه ژبه څېړلي دي . اروابښاد تره کي د همدې کتاب په غېږ کي د ښادۍ و ځینو بدلو ته ځای ورکړی دئ ، چي د غزني او زابل د ښځمنو نمایندګي په کیږي .

# ۸. د غزونو څوکې

« د غرونو څوکې » د ښاغلي عبد الکریم پتنګ هغه په زړه پوري کتاب دئ ، چي په یوه برخه کي یې « د واده سندرې » تر عنوان لاندي د ښادۍ بدلي پخپله ۱۸ مخیزه لیکنه کي د نورو معلوماتو په ملتیا په ښه ډول څېړلي دي . د ګران پتنګ دغه لیکنه ډیره خوندوره او زیاته ګټوره ده . خو حروف یې دومره واړه دي ، چي بېخي ویل کیږي نه . ویونکي او څېړونکي استفاده نه سي ځیني کولای . د ښاغلي پتنګ دغه ارځښتناکه اثر په ۱۳۵۹ لمریز کال د کابل پوهنتون « د فلالوژي پوهنځي » چاپ کړی دئ . د کتاب د پښتني انځوګر ګران وررور ښاغلی روحاني رویاء دئ .

# ۹. د پښتو شفاهي ادبیات (شکل او مضمون)

د پښتني فولکلور په حواله د غوتۍ خاورې دغه څېړنیز کتاب پخپله لمن کي د ښادۍ بدلي « دښادۍ سندرې » تر عنوان لاندي په درې مخونو کي څېړلي دي . د نوموړي لیکوالي څېړنه خوندوره او دستایاو وړ ده .

## ۱۰. ترینو

دسیال کاکړ په دې وړې رساله کې ، چې د پښتو ځانګړې لهجه « ترینو : وڼېڅي او یا څلکرو» څېړل سوې ده ، پخپله کړدودي غبرګي د ښادۍ یو شمېر بدلي « د الا مور سندري » په نامه راوړي دي . دغه رساله د ۱۹۷۳ میلادي کال په شروع کي د کوټې « پښتو ادبي دنیا » و ادبوالو ته وړاندي کړې ده .

# د کاکړستان او کندهار

## د ښادۍ په بدلو کي یو والی

د اخو یو تاریخي حقیقت دئ ، چې کاکړستان په ادبي، کلتوري ، ژبني ، نژادي اوجغرافیایي لحاظ د لوی کندهار یوه نه بېلېدونکې برخه ده . په تېره بیا د ګراني پښتو په فولکلوري میدان کي د کاکړستان او کندهار ډېري پانګي سره ورته او شریکي دي . د مثال په ډول که چیري مور د کاکړستان د بوري د کلتوري حوزې « الاخوري » د کندهار د هغه ۱۱۲ بدلو سره مقایسه کړو ، چې علامه محمد ګل خان نوري لومړی پلا په « ملي سندري » کي خوندي کړي او بیا وروسته همدغه ۱۱۲ بدلي بې د څه حوالې د « پښتني سندري » په « لومړۍ برخه » کي د « بابولاله » تر عنوان لاندي راغلي دي ، نو ودې پایلي ته به روسیږو ، چې د کاکړستان او کندهار د ښادۍ بدلي یو دبل سره څومره یووالی او نژدېکت لري . او دانه معلومیږي ،چې دغه بدلي به لومړی وار چیري جوړي سوي وي . آیا ددغو بدلو ابتدایي سر چینه

کاکړستان دئ که کندهار ؟ امکان لري چي دغه بدلي له کاکړستان څخه و کندهار ته نقل سوي وي . او ددې خبري امکان هم سته ، چي د ښادۍ ځيني بدلي به له کندهار څخه و کاکړستان ته راغلي وي . په دې دوارو صورتونو کي موږ دا ويلای سو ، چي د کاکړستان او کندهار بدلي د پښتني فولکلور يو خورا غني او وياړلی څپرکی تشکيلوي . اودغه بدلي د کاکړستان او کندهار د کلتوري نژدېکت ښکارندوی دي .

څه وخت چي ما د بوري « الاخوري » د استاد محمد گل خان نوري له ۱۱۲ بدلو سره پر تله کړې ، نو ځيني بدلي داسي په کي را وختې ، چي ببخي يو شی وې . البت په ژبني لحاظ يې يو د بل سره لږو ډېر توپير درلود . دغه راز د کاکړستان او کندهار په ځينو بدلو کي ځيني مسرۍ سره بدلي وې . اوس به د کاکړستان د بوري د فولکلوري حوزې يو شمېر « الاخوړي »د علامه نوري له هغو بدلو سره پر تله کړو ، چي د « پښتني سندري » په « لومړۍ برخه » کي د « بابولاله » په نيمګړي نامه ثبت سوي دي :

## کاکړستان

باران اوري منا څاڅي باران اوري منا څاڅي
ناوکۍ زما د لالي ده ترنُوکانو يه زر څاڅي

## کندهار

باران اوري منا څاڅي
که ناوې زما د جان وه تر نُوکانو يې زر څاڅي

## کاکړستان

اوښه ولاړه تر دامانه اوښه ولاړه تر دامانه

زمـــا لالا پسـي خبـر كـئ　　سي پـه شرنگ وهي بيا هنه

## کندهار

او ښــــه ولاړه تــــر دامـــانــــه

زمـا جــان پسـې خبـر كـئ　　چـي پـه شـرنگ وهي بيانـه

## کاکړستان

پـر اور واچـوئ بـروخـي　　پـر اور واچـوئ بـروخـي

داسي زوم مــه در وستلـی　　تــاسـي وكـورئ د روخـي

## کندهار

پـــر اور واچـوئ بــروخــي

داسـي زوم مـو وروستـلـي　　تــاسـي وكـورئ د ورخـي

## کاکړستان

پـر دامـان وليـاړه انـجـه　　پـر دامـان وليـاړه انـجـه

زمـا لالـي لـه ببخـه وكښـه　　نوم يه ولاړ پر څلور كونجه

## کندهار

پـــر دامـــان ولاړه هـنـجـه

زمـا جــان د ببخـه وكښـه　　نرم يې ولاړ پر څلور كونجه

## کاکړستان

ميـږي لاړې وري خـلاصـږي　　ميـږي لاړې وري خـلاصـږي

دغــه هـم د خداى رضا ده　　لـور د مـوره څـه ببلـږي

## کندهار

میـړي ولاړې وري خـلاسیـږي

دا هـم د خـدای رضـا ده لـور د مـوره ځـخـه بېلـږي

## کاکړستان

نـاوو ستـا ګوتي د سرو دي تـر تیـکري یـه راښکاره کـه

ستـا سـکـه لوورونـه ځـو دي

## کندهار

نـاوکـی ګـوتـي د سـرو دي

تـر دسـمـال یـې را ایستـلـي چـي سکـه لېورونـه ځو دي

## کاکړستان

نـاوکـي پښـه واخـه سپرږه زمـا لالـی درتـه ولیـاړ دئ

پــه ځـوانـي یــه هـوسـږه

## کندهار

نـاوې پښـه اخـلـه سپر پږه

زمـا جـان درتـه ولاړ دئ پـه ځـوانـی یـې هوسېږه

## کاکړستان

نـا وو ستـاشـمشېره درختـه ځي پلانکي ... درته ولیاړه دئ

بـاچهـي ګـوي بـې تـختـه

# کندهار

ناوې څه شمشاد دي درخته
زما جان ترلاندي ناست دئ باچاهي کوي بې تخته

❀❀❀

کراڼو ویونکو او درنو څېړونکو! تاسي د کاکړستان «الاخوري» او د کندهار «بابو لالي؟» په پرتليز ډول ويلي. اوس دا د پښتو د خوږمنو اديبانو کار دئ، چي زما و دغه پرتليزي څېړني ته په کوم نظر ګوري. او د راتولونکي وخت نقادان زما د غه پيل کړي څېړنه څومره پر مخ بيايي. او څه نتايج لاس ته راوړي.

## ❀❀ «الف» ❀❀

❀(۱)❀

الاخوره❀ دخوني پر سر سرخلي الاخوره❀پلاني ... مه په وراراغئ
الاخوره ❀ درې څلور ځايه خښتلي[1] ❀الاخوره

❀(۲)❀

اوښه ولاړه تر دامانه اوښه ولاړه تردامانه
زما لالا پسې خبر کئ سي[2] په شرنګ وهي بياهنه

---

۱. xaṣṭáli: کرېدلي ۲. چي

### (۳)

ایلـي[1] شین بـادرنګ راوړی هغـه مور دې بوره مـه سي

ځـي پـلانـکـی... .زوی یـه راوړی

## (ب)

### (۱)

باران اوري منا ځاځي باران اوري منـا ځـاځـي

نـاوکـی زمـا د لالي ده تـر نُـوکـانو یـه[2] زر ځـاځـي

## (پ)

### (۱)

پر اور واچوئ بروځي[3] پـر اور واچـوئ بـروځـي

داسي زوم مه[4] دروستلی تـاسـي وکـورئ د روځـي[5]

### (۲)

پر دامان ولیاړه[6] انجه[7] پـر دامـان ولیـاړه انـجـه

زمـا لالي له بېخه وکښه نـوم یـه ولاړ پـر ځـلـور کـونـجـه

### (۳)

پر کور دوه زرغونه شاله پـر کـور دوه زرغـونـه شـالـه

زما لالی ورته ولیاړه دئ لاسـي[8] نـه ورځـي لـه خیـالـه

---

۱ . ile: یِيالې ، وِيالي، ولې ۲. یې ۳. barwáǰi۴. مي ۵. ورځي ۶. ولاړه ۷.anja : هېنجه ۸. لاس یې

(۴)

پـر کـور سـور ځـومبک ځـرړي[1] پـر کـور سـور ځـومبک ځـرړي
هـغـه لور د[2] سـتـرګـي وخـوري سـي د پـلار پـه کـور نـازړي[3]

(۵)

پر موړ بیا نوی هوس دئ پـر مـوړ بیـا نـوی هـوس دئ
د لالـي سـاری مـه نسته مـکـر اوس د مـور پـه نـس دئ

(۶)

پـه کـلاکـي خـزانـه ده پـه کـلاکـي خـزانـه ده
پـه بشو یـه وستـایـیـه زمـا د کـران خـوابنـکـپ[4] درنـه ده

(۷)

پلانکی ... سر ترکجن[5] نغاړي یـو مـرغـونـي[6] حـلال کـړی
د هـغـه پـر لـکـی زاړي

(۸)

پـر پـوتـي وهـلـی سیخ دئ نـاوکـی مـه ده راوړکـي
دزر بـابـو یـه کـمیـس دئ

(۹)

پلانکو ... کټ پر غولي کښېږده پـلانـکـی... درتـه ولیـاړ دئ
دکشـمشـو جـېـب پـر کښېـږده

(۱۰)

پلانکی ... تور دئ سپین بې نه کئ کـه صـابـن ورسـره وموښئ
د نـاوو رنـکـه بـې نـه کـئ

---

۱. خـریړي ۲. دي ۳. نازیړي ۴. خوابنی ۵. پرستن، تلتک، اِلتک
۶. مرغومي، ورغومي

## (چ)

(۱)

چـا مـا لـکـي تو دولـې — د مـالـکـي مـنـکـوټـی مـات سـو
پـلانـکـي ... خ ... کـرپـولـې

## (خ)

(۱)

خوری[1]! په ځین کي کتوری دئ — خوری! په ځین[2] کي کتوری دئ
الـه مـه یـه شـرنـکـویـه — زمـور د خیښـي زړه نـری دئ

(۲)

خـور د ورور واده کـویـنـه — خـور د ورور واده کـویـنـه
داسـي خـور دګـل ګـلاپ سـي — سـي ورا بـاڼـکـې[3] بـویـویـنـه

(۳)

خوري! سره سوه سره غرمه سوه — خوري سره سوه سره غرمه سوه
نـاوکـي زر زر[4] جـورویـه — نـن مـه بیا دربانـدي شپه سوه

۱. xorәy : د خور د ناز نوم دئ ۲. زین ۳. ورابانې ۴. zarki : ژر ژر، (زرکي : کاکړي)

(۶)

خوره ! پر غولي مه بیاتي [۱] ده — دی‌نجلی مه ده درکړکي [۲]
دا د کـــرد کـلـــي بــي بــي ده

(۷)

خوره ! پر غولي مه مندکي — مور به خپلـه نـاوویو سو
مـور بـي سـر وهـي لـه مځـکي

## (د)

(۱)

د چـــا پـوستیـن د وزې دئ — لـکـــره پـــه لاس ورکـــئ
دی لایک [۳] د دروېــــــــزې دئ

(۲)

دچـــا د درپـــه وره کـــي — د پـلانـي ... د در پـه وره کـي
پـلانـی ... پـه کـي ولیـاړ دئ — کله [۴] سپی هډې [۵] په خوله کي

(۳)

د ورا سـر تـر کـلـي تـر [۶] سو — د ورا سـر تـر کـلـي تـر سـو
و لالـــي تـــه وا را کـــزره — د ورنـدیاري [۷] پسول د هېر سو

(۴)

د توپک په خوله کي خال دئ — د توپک په خوله کي خال دئ
نـــاوو [۷] بـــې کـوه خبـري — لالـی ستـا د تـنـدي خـال دئ

---

۱ . غچي : اصل قینچي ۲ . درکړې ۳ .لایق ۴ . لکه ۵ . هډیې ۶ . تېر ۷ . وربنداري۸. Nāwo : د ناوي ( ناوکي ) د ناز نوم دئ .

(۵)

د دالان تــر مــخ وابـــه دئ ‏ ‏ ‏ ‏ د دالان تــر مــخ وابـــه دئ
داســي زوم مـــه دروستلـــی ‏ ‏ ‏ ‏ د کـالـه رنګ مـه پـه ښـه دئ

(۶)

د کــمبـلـــي زی يـــه تـوري ‏ ‏ ‏ ‏ د کــمبـلـــي زی يـــه تـوري
زمـا لالـی پـر نـنګ مين دئ ‏ ‏ ‏ ‏ خيښـي نـه بـاسـي سر توري

(۷)

د نـاوکـی پـه لاس دسمال دئ ‏ ‏ ‏ ‏ د نـاوکـی پـه لاس دسمال دئ
سي لـــه مـورې بېـلـوينـــه ‏ ‏ ‏ ‏ پـه زړکـي کې ډېر ارمـان دئ

(۸)

د سحــار چـرګـو کړپړ[1] کـئ ‏ ‏ ‏ ‏ و پـلانـکـي .. تـه يـا[2] را ووزه
ستـا پـر لـور مــه تـوکـل کـئ

(ږ)

(۱)

ډرېـــوره ![3] زمـــوږ وروره ‏ ‏ ‏ ‏ موږ دغـی[4] لـه تـا راضـی یو
تـــه بـــس مـــه ولـــه[5] پـــه زوره

---

۱. kaṛ paṛ : کـروتـــهـار: kruṭáhār ، کـوړکـوړاړی : kuṛkuṛāṛay ۲. د «يايه» مخفف دی ۳. Driver : موټروان، مټروان ۴. dáğáy : دغسي ، هسي ، ۵. چلوه

## (ز)

(۱)

زمونږ ناوو خانه واده[1] ده        تې[2] پوښتنه ځيني وکئ

دچا لور دچا وروه[3] ده

(۲)

زمونږ ناوو په درخته[4] کمه        دکور سر له نه رسېږي[5]

تر پښو لاندي کي کمبله

## (س)

(۱)

سي[6] توپک په پرپښه ايښی        سي توپک په پرپښه ايښی

ترداسي غيرت جار سم        زما لالي سر پر ما ايښی

(۲)

سي کډوه مه ځينځير داره        سي کډوه مه ځينځير داره

ناوکۍ مه د لالي ده        دا به نه وي بد کرداره

---

۱. خانواده ۲. تاسو، تاسي ۳. وروره ۴. ونه، قد ۵. رسيږي ۶. چي

## ❀❀❀《ک》❀❀❀

❀《۱》❀

کـتـــي مُــرغـــی کـتـــي[1] پـرسـر مــه تـیـــیکـری نستــه
پـــر ســـر ورو د پـلانـکـي ... خ ...

❀《۲》❀

کـلـي سـر وپـای مــه کـم دئ مـور د تـنـدي درتـه مـره سو
د اوبـــو لـــوری مـــــه کـــم دئ

## ❀❀❀《م》❀❀❀

❀《۱》❀

مـور خـومـړی نــه خـورو مـــــړی سَــــی[2] لـــــري
پـلانـکـي ... تـه مـړی ورکـئ پلانکـی ... خو لوی خړی لري

❀《۲》❀

میـړي لاړي[3] وري خـلاصـړي[4] میـــړي لاړي وري خـلاصـــړي
دغـــه هـم د خـدای رضـا ده لــور د مــوره څـــه بیـلــړي[5]

❀《۳》❀

مور نه غوښي خورو نه وریځي[6] د پلانکي ... پـه ورا راغلکي[7]
پـــر لاســو غــوارو نــوکــریــځـــي[8]

---

۱. Sáy. ۲. kaṭi: طاقت ۳. ولاړي ۴. خلاصیړي ۵. بیلیړي ۶. ورځی، ورجي ۷. راغلي ۸. نوکرځي، نکریځي

﴿۴﴾

ملا! تول که کتابونه دغه نن پر مور ښادي ده
بیا به سم کوو[1] عملونه

﴿۵﴾

مور لس خوندي اته وروڼه له الله څخه راضي يو
موږ[2] تل کارو شکرونه

# ﴿ن﴾

﴿۱﴾

ناوکي[3] ستا شمشېره درخته ناوکي ستا شمشېره درخته
زما لالی تر لاندي ناست دئ باچهي کوي بې تخته

﴿۲﴾

ناوکي پښه واخه سپرره[4] زما لالی درته ولیار[5] دئ
په خواني یه هوسره[6]

﴿۳﴾

ناوو مه زاړه ماښام دئ زمور لالي کسم[7] خورلی
پرده بل واده حرام دئ

---

۱. کړو ۲. موږ يې ۳. ناوي ۴. سپر پږه ۵. ولاړ ۶. هوسېره ۷. قسم، سوګند، لوړه

(۴)

ناوو ستا ښمبېره[1] درخته     نا وو ستا ښمبېره درخته
ځي پلانکی ... درته ولیاړه دئ     باچهي کوي بې تخته

(۵)

ناوو ستا کوتي دسرو دئ     تر تیکري یه را ښکاره که
ستا سکه لورونه[2] ځو دي

## (و)

(۱)

ور[3] را خلاص کئ پیسې واخئ     که له لوړي مُرداړړئ[4]
دوړو[5] کونی[6] په واخئ

(۲)

ورا یه راله درکي درکي     پلانکی ... یه ده په مخ کي
کړې ښې لکه د چرکي

(۳)

وه پلانکیه ... توره دوسته     پر کمبله راته چو[7] سو
ځي د وکاړم له پوسته

---

۱. samsera : ځرګنده دي وي ، چې د سنځاوی «دومړ کاکړان» د پښتو د «ش» آواز په «ښ» اړوي . او شمشېر په ښمښېر تلفظ کوي .دغه راز د سنتیا کاکرانو تولي ذیلي ښې په عمومي ډول د«ش» ږغ په «ښ» بدلوي . ۲ . لېورونه ۳.دروازه ۴ . مرداړېږئ ۵. اوړو ۶ . بوجی ۷ . čo: د چوک (čok) مخفف دئ ، یعني کښېنه .

# منابع

❁ ۞ ❁

د زرینې پانګې په دې ځانګړې برخه کې د دې آثارو څخه استفاده شوې ده، چې نومونه یې په لاندې ډول دي :

❁ ... ملي سندري ، ټولونه او څېړنه : علامه محمد ګل خان نوري ، خپروونکی : پښتو ټولنه ، د چاپېدو کال : ۱۳۲۳ لمریز ، کابل

❁ ... د خلکو سندرې : ټولوونکی او څېړونکی : جناب استاد حبیب الله رفیع ، خپروونکی : د افغانستان اکاډیمي ، د تاریخ او ادب ټولنه ، د چاپ کال : ۱۹۷۰ م ، کابل

❁ ... فولکلوري جواهر ، لیکوال : سیال کاکړ ، خپرندویه ټولنه : پښتو اکېډیمي ، چاپځای : اسلامیه پریس ، چاپکال : اپریل ۱۹۷۹ م ، کوټه

❁ ... د ښادۍ بدلې ، لیکوال : احسان الله آرینزی ، خپروونکی : د افغانستان د علومو اکادمي ، د ژبو او ادبیاتو د مرکز ایاست ، د شفاهي ادبیاتو او فولکلور ډیپارټمنټ ، د چاپېدو کال : ۱۳۶۵ هجري شمسي ،کابل

❁ ... پښتنې سندرې ( لومړۍ برخه ) ، ټولوونکې : بېخي ډېر ادبیان ، خپروونکی : پښتو ټولنه ، د خپرو ېدو کال ۱۳۳۴ لمریز = ۱۹۵۵ م ، کابل

۞ ... د پښتنو دودونه ، ليکوال : اروابناد غلام محمد تره کی ، خپرندويه ټولنه : د اطلاعاتو او کلتور وزارت ، د فولکلور او ادب مديريت ، د چاپکال : ۱۳۵۳ لمريز، په اهتمام : د لعل پادشاه ، کابل
۞ ... د پښتو ځانتنی ادب او موسيقي ، ليکوال : اروابناد استاد جلالي ، خپروونکي : دافغانستان د علومو اکاډيمي ، د ژبو او ادبياتو علمي او تحقيقي مرکز ، پښتو ټولنه ، کابل
۞ ... د غرونو څوکې ، ليکوال : عبد الکريم پتنګ ، خپروندويه ټولنه : کابل پوهنتون « د فلالوژي پوهنځی» د چاپ کال : ۱۳۵۹ لمريز ، کابل
۞ ... د پښتو شفاهي ادبيات ( شکل او مضمون ) ، ليکواله : غوټۍ خاورۍ ، خپروونکی : د علومو اکاډيمي ، د ژبنيو او ادبي څېړنو مرکز ، پښتو ټولنه ، د فولکلور او شفاهي ادبياتو ډيپارټمنټ ، د چاپځای : دولتي مطبعه ، چاپکال : ۱۳۶۶ ش / ۱۹۸۸م ، کابل
۞ ... ترينو ، ليکوال : سيال کاکړ ، خپروندويه ټولنه : پښتو ادبي دنيا ، د چاپېدو کال : جنوري ۱۹۷۳ م ، کوټه
۞ ... زما شخصي ياد داښتونه

# بلنډۍ

بلنډۍ خوږې ورې سره پاشلي
سوې را غونډې په احساس پښتني دا

❁❁❁

زوړ تاريخ له بلنډيو معلوميږي
فولكلوري ادب ښايسته په دغه پانګه

❁❁❁

بلنډۍ سپا هينداره د فولكلور ده
معلوميږي په كې هر څه د ټولني

❁❁❁

ساتندوى د بلنډيو دي نركاني
دي خوندي دا په سينوكي د كاكړو

❁❁❁

بلنډۍ دي اوس نايابه په وطن كي
ټولي كړي سيال كاكړ دي په خواريو

# بلندۍ د واده په ورځ ويل کيږي

پښتانه خپل ځانګړي دودونه لري، رواجونه لري، عنعنات لري، روايات لري او په لوی سر کي يو غني تهذيب او زوړ تمدن لري. همدغه ټول دودونه او رواجونه په ژوندکي پلي کيږي. نو په همدې اساس په کاکړستان کي د واده په ورځ بلندۍ ويل کيږي، چي ترتيب يې په لنډ ډول داسي دئ:

د واده په ورځ چي څه وخت ورابانړي د خپلو خپښانو کره ورسي. بيا وروسته چي د واده ټول رواجي مراسم پر ځای سي. نو څه وخت چي د ناوي يا د کاکړو په ژبه ناوکي رخصتيږي، په داسي وخت کي کوربانړي (korbāṇi) د ورابانو (wrābāṇu) په لرا کي ودريږي. او د يوه ماهر بې سواده شاعر په مرسته د بلنديو په ويلو پيل وکړي. دغه راز د ورابانو له خوا هم يوماهر سړی د مسابقې ميدان ته را ووزي. او د خپل مد مقابل په ضد د بلنديو په ويلو پيل وکړي. خو څرګنده دي وي، چي خيني وخت له ورا بانو سره شاعر نه وي راغلئ، نو په داسي صورت کي ورابانړي و کوربانو ته پاګه (Pāga) په اساني سر ه ومني.

البت د مسابقې په صورت کي لومړی وار د کور بانو شاعر د خپلو ورابانو په ستايلو پيل وکړي. که چيري ورابانړي و کوربانو ته پاګه (لنګۍ) ونه مني، نو بيا همدغه شاعر د ورابانو په غندنه شروع وکړي. بالآخره د ورابانو شاعر د مسابقې و ميدان ته را ودانګي. او په جوابي بلنديو پيل وکړي. بس ـــ،دا وخت نو د ليدو وي. دواړه شاعران يو پر بل د شعر په خوړجنه ژبه هوايي ټکان پيل کړي. د بلنديو دغه زوروره مسابقه تر هغه وخته پوري جاري وي، چي تر څو پوري ورابانړي و کور بانو ته پاګه و نه مني. او يا نغدي پيسې ورنه کړي.

ربنتیا خبره خو دا ده، چې په کاکړي ودونو کې د بلنديو د ویلو خپل دوران ؤ. اوس خو نه هغه پخواني دودونه پاته دي او نه روغ زړونه. همدا حال د بلنديو دئ، چې له وختیرو کاکړانو سره یو ځای تر خاورو لاندې سولې. دا چې د پښتني فولکلور ددې خوندور او په زړه پورې ډول ځیني نایابه نمونې موږ په لاس کې لرو، خورا غنیمت دي. اوس خو نه هغه پخواني رواجونه پاته دي. او نه نورې بلندۍ جوړیږي. چې څه د خلکو په سینو کې خوندي پاته وي، هغه ما را غونډې کړې، هغه ما په ډېر زیار راغونډې کړې چې د کتاب په دې برخه کې د همېشه لپاره زېرمه سوې.

# د بلنديو ادبي خصوصیات

بلندۍ چې د پښتني فولکلور یو خورا ښایسته او رنګین څپرکی تشکیلوي، فولکلوري اوربل یې په راز راز مطالبو او ادبي خصوصیاتو پسوللی دئ. دلته د پښتني فولکلور ددې خوندور ډول ځیني خصوصیات په لنډ ډول و تا سي ته وړاندې کیږي:

۞ ... د بلنديو ژبه سوچه، روانه او بامحاوره ده. هیڅکله خپله سادګي له لاسه نه ورکوي.

۞ ... په بلندیو کې د نقد او طنز ډېرې غورې نمونې خوندي سوې دي.

۞ ... د بلندیو پراخه لمن د پښتو په سوچه تورو او نکه محاوراتو پسوللې ده.

۞ ... په بلندیو کې د خپل وخت نومیالي مشران، قبایلي اتلان او منلي انسانان زېرمه سوي دي.

۞ ... بلندۍ په تاریخي حواله د یو ښه مأخذ او د معتبر سندحیثیت لري.

❁ ... موږ د بلنديو په ويړه لمن کي د ستاينې او غندني راز راز مطالب ليدلای سو .

❁ ... په بلنديو کي ډېر معلومات خوندي سوي دي ، چي موږ په هره حواله استفاده ځيني کولای سو .

❁ ... بلندۍ د «کاکړي کړدود» ښه په زړه پوري نمايندګي کوي .

❁ ... بلندۍ د لرغوني پښتني تهذيب او تمدن ښکارندوی دي .

# د ځينو لنډو بلنديو خوږجنه ژبه

ښکاره خبره ده ، چي بلندۍ بې سواده پښتنو جوړي کړي دي . زموږ دغه فولکلوري پانګه که له يو ې خوا په زياتو ا دبي او هنري ښېګړو پسوللي ده ، نو دبلي خوا په ځينو لنډو بلنديو کي خورا خوږجنه ژبه استعمال سوې ده . د همداسي خوږجنو بلنديو په وجه يو اندازه ددې فولکلوري صنف پرنازنين تندي باندي تور داغ لګېدلی دئ . داچي بلندۍ د واده په نېکمرغه ورځ د دوو بې سواده شاعرانو په مابين کي د مسابقې (Competition) او ګوندۍ په صورت کي ويل کيږي ، نو په دې دواړو شاعرانو کي و هر يوه ته چي څه پر خوله ورځي ، هغه په آزادانه ډول په بلنديو کي کاروي . نو همدغه وجه ده ، چي د ځينو بلنديو ښايسته بڼه بد رنګه سوې ده . د بې سواده شاعرانو شاعري همداسي وي .

اوس که چيري له داسي بلنديو څخه ټول خوږجن توري و باسو ، نو په داسي صورت کي د بلنديو و مفاهيمو ته زيان رسيږي . او داچي د مسابقې خوند پر خپل ځای پاته سي ، نو ما په داسي ټولو بلنديو کي د خوږجنو ا وکثيفو تورو پر ځای نکتې (...) لګولې دي .

# د بلنديو سرچينه کاکړستان دئ

کاکړستان دپښتني فولکلور په ويړ او سمسور ميدان کي د سرچينې حيثت لري . دا هغه تاريخي او کلتوري خاوره ده ، چي په غرو او رغو کي يې د پښتني فولکلور بېلا بېل ډولونه پيل سوي او همدلته سمسور سوي دي . د همدې ډولنو څخه يو خورا خوندور او په زړه پوري صنف (kind) د بلنديو (Balandáyu) دئ .څرګنده دې وي ، چي د پښتني فولکلور دغ نازنين ډول لومړی وار ما په ادبوالو پېژندلی ؤ . البت هغه وخت ما پخپله ليکنه کي د بلنديو لږ نمونې راوړې وې . خو بيا وروسته د کلاسيف الله په وياړلې خاوره کي و ماته يو زيات شمېر بلندۍ په لاس راغلې ، چي زما د ليکني په پای کي به وتاسي ته وړاندې سي .

بلندۍ د پښتني فولکلوريو زرين باب تشکيلوي .زياتره بلندۍ د کاکړستان په کلا سيف الله او بوري پوري اړه لري . البت د کلا سيف الله په کلتوري خاوره کي بلندۍ زياتي جوړي سوي دي . او د همدې خاوري سنځرخېل کاکړان د بلنديو حقيقي وارثان دي . دا هغه خوندور فولکلوري ډول دئ ، چي جوړوونکي او ويونکي يې يوازي نرګاړي دي .پښتنې ښځمني دبلندۍ په جوړولو کي هيڅ ونډه نه لري.

# د بلنديو تصنيف بندي

څه وخت چي موږ د بلنديو تصنيف بندي کوو ، نو پس له پلټنې و دې قضاوت ته رسيږو ، دا قضاوت کوو ، چي د پښتني فولکلور دغه ځانګړی صنف په عمومي ډول پر دوو برخو وېشلای سو :

# ۱. اوږدې بلندۍ

اوږدې بلندۍ هغه دي ، چې د بيتونو شمېر يې خوا زيات وي . شاعرانو په داسې بلنديو کي زياتره قبايلي جنګونه ،منلي مړونه او وتلي شخصيتونه راوړي دي. او په عين حال کي حماسي بلندۍ د پښتني ننګ ، غيرت او مړانې ښکارندوی دي . دبلنديو دغه ډول د منلو شخصياتو او ننګياليو پښتنو په ستاينو ډک دئ . په اوږدو بلنديو کي د ټولو قبايلي اوخپل منځني جنګونو تفصيلات او جزييات د شعر په خوږه ژبه په مفصل ډول خوندي سوي دي . دا يو حقيقت دئ ، چې په اوږدو بلنديو کي د خپل وخت او کاکړي چاپېريال ښه په زړه پوري عکاسي سوې ده . په ټولو بلنديو کي د پښتو بې سواده او نامعلومو شاعرانو د هري قبايلي د جنګونو واقعات په کامله ايمانداري خوندي کړي دي . په همدې بلنديو کي موږ د خپل حماسي تاريخ ځرک په ښه ډول ليدلای سو . د ا وږدو بلنديو د بيتونوشمېر خورا زيات دئ . البت ځيني په کي ډېري اوږدې او ځيني بيا په کي لنډې وي .خو د خلکو حافظې دومره قوي دي ،زه د خپلو بې سوادو پښتنو قوي حافظې ستايم او اپرين ورته وايم . چې د بلنديو هر ډول يې په ياد زده وي . ځرګنده دي وي ، چې د اوږدو بلنديو ژبه درنه ، سنګينه او په ښايسته تورو پسوللې وي .

# لنډې بلندۍ

د بلنديو په ويره ساحه کي بيا يو ډول لنډې بلندۍ دي .

دغه بلندۍ د جوړښت او ادبي سکښت په لحاظ له اوردو بلنديو سره ښکاره توپير لري . د بلنديو په دې ډول کې زياتره دوه بيتيزي، دوه نيم بيتيزي او يو نيم بيتيزی بلندۍ شاملې دي . د لنډو بلنديو بيا خپل ځانګړی رنګ او بېل خوند وي .

# د بلنديو جوړښت او تقطيع

ښکاره خبره ده ، چې په اوږدو بلنديو کې حماسي جنګونه ، قبايلی شخړي او د پښتنو غښتلي شخصيات خوندي سوي دي . دغه راز لنډي بلندۍ يوازې د کاکړو په ودونو کې ويل کيږي . اوږدې بلندۍ د پښتو په يوه ځانګړي بحر کې جوړې سوي ، چې د بيتو شمېر يې خورا زيات وي . دلته يوازې د ځينو لنډو بلنديو و تقطيع ته ستاسي نظر را اړوو .خو څرګنده دي وي ، چې دغه بلندۍ د يو خاص آهنګ په ملتيا په يو ځانګړي انداز کې ويل کيږي .

البت شاعر لنډې بلندۍ د «هو» په سګنل (signal) پيل کوي . او بيا هره بلندۍ د « هو ــــــ هو» په کلماتو پای ته رسوي . ځيني بلندۍ په سيلابي لحاظ برابري او په ځينو کې بيا ښکاره توپير ليدل کيږي . د اوږدو بلنديو تقطيع د کتاب په پاڼه کي نه سي ځايدلای . نو ځکه يې له تقطيع کولو څخه ډډه کوو.

. دلته يوازې د ځينو لنډو بلنديو و تقطيع ته ستاسي عالمانه نظر را ګرځوو :

## دوه بیتیزه بلندی

سـور تـلتک د ښـه وئ
سي د واغـوستـئ د واوري پـه ځـولـه کي
کـه تـل ای بهیـران ۇ
سپیـه! مـړ بـه سي د بـل پـه پوستینـه کي

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| آ | سور | تل | تک | د | ښه | وئ | ❁ | | | | |
| سي | د | وا | غوس | تئ | د | واو | ري | په | ځو | له | کي |
| که | تل | ای | به | هي | ران | ۇ | ❁ | | | | |
| سپی | یه! | مړ | به | سي | د | بل | په | پوس | تي | نه | کي |

شېخ مـــلا خـــــانـــــان يـــې
نـنـکـوي د پـــه عـلـي او پـــه سـنـځـر کـي
کـــــــه پـيـــــر يـــــې را رســــړه
چـغــالانــو راتـــه وانـکـولـل پـــه ځـرکـي

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شې | خ | م | لا | خا | نان | يې | ❁ | | | | |
| نن | ک | وي | د | په | ع | لي | او | په | سن | ځر | کي |
| که | پير | يې | را | ر | س | ړه | ❁ | | | | |
| چه | غا | لا | نو | را | ته | وان | کو | لل | په | ځر | کي |

## دوه نیم بیتیزه بلنډی

«چیـــــنجـــن» د نـــــه اوچـــړي
څـي پـه سـر کـې د شینشبو خـاشـې شنـې دي
لـــــه مـــخــــه راڅـــــه ووزه
تـــه پـــه څـــه راتـــه غـــره يـــې
وه هـلـکـه !څـي د سـر سـتـرکـي د شـنـې دي

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| چین | جن | د | نه | او | چ | ړي | ❁ | | | | |
| څي | په | سر | کې | د | شین | شو | بو | خا | شي | شني | دي |
| له | م | خه | را | څه | وو | زه | ❁ | | | | |
| ته | په | څه | را | ته | غ | ره | يې | ❁ | | | |
| وه | هـ | له | که! | څي | د | سر | ستر | کې | د | شني | دي |

## یو نیم بیتیزه بلندی

سـي مـه واغـوسـتـه کـمـره
هـغـه سـتـا عـزيـز د خـوبښ دئ
او بـه سـي خـر ځـولـي پـه کـکـره

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سي | مه | وا | غوس | ته | که | مه | ره | ❁ | | |
| هـ | غه | ستا | ع | زيز | د | خوبښ | دئ | ❁ | | |
| او | به | سي | خر | ځه | و | لي | په | ک | که | ره |

## (الف)

(۱)

اوږی [1] راسي ترسي
زمی [2] راسي خلک به توی سي «دړو» له
که زما په زور خبري يي
توره ځوانه ننواتی راسه پښوله

## (آ)

(۱)

آسور تلتک دښه وئ
سي د واغوستئ د واوري په خوله [3] کي
که تل ای بهيران [4] ؤ
سپيه ! مړ به سي د بل په پوستينه کي

## (خ)

(۱)

«خنده کی [5]» د نه اوچړي
اوبه يي غورزېدلکي [6] دي له سخره
له مخه راځه ووزه
زه خو داسي شاعران غ...په غ...

---

۱. دوبی ۲. ژمی ۳. jula̋: ځوله د ځول مخفف دئ ، يعني روی يخ .
۴ . bahirān : اشرونه .۵. x̌andákə́y : د بوري په سيمه کي يو غر
دئ ،چي خبزی-(چينې) ځيني راوزي ۶. غورزېدلي

## (چ)

### (۱)

«چینجن»[۱] د نه اوچړي[۲]
ځي په سر کې د شینشوبو خاشې شنې دي
له مخه راځه ووزه
ته په ځه رانه غره یې
وه هلکه! ځي د سر سترګي د شنې دي

## (د)

### (۱)

د میر[۳] سر شازاده خان[۴] دئ
ښایسته کرلي غاښ په درخته لوړ دئ
سردار به یو سړی وي
مرکیه! له تا ورک د کونيور دئ

### (۲)

د غُول پُسو د مرک اوبه تودې سي
مځریانو[۵] په له سرې کې
ستی[۶] به ننګ سي
زمور به پته ځله پرې سي

۱. Činjan: د بوري په کلتوري سیمه کي یوکلی دئ ۲. اوچیړي ۳. له میر ځخه مراد میرزیي دي ، چي د سنځر خیلوکاکړانو د علي په لوی تبر کي یوه غیرتي او نامداره زېلي ښبه ده . ۴. شهزاده خان میرزیی د خپل یو نامتو مشر اوغښتلی پښتون تبر سوی دئ ۵. زمریانو ۶. ستاسي

(۳)

د سـرې لـنـډکـۍ تښتـنـه
نـوم مـه د زده نـه دئ
اوس د سـر غیـر کـه کـونـه

(۴)

د شـنـې لـنـکـۍ چـښتـنـه
یـووا ر مـخ تـر شـا را کـوږکـه
شیـن لـوکـۍ د خـې تـرکـونـه

(۵)

د شـنـې لـنـکـۍ چـښتـنـه
زه سـې مـخ تـر شـا در کـوږ کـم
یـا بـا ... غـوارم کـه ...

(۶)

دا خـای د کـلیـلـې نـه دئ
کیـلـه کـور درتـه کـومـه
تـا «دال» و «شپـر جـان» تـه ورکـئ
تـس دیکـری نـو زه پـر ه... سپـرومـه

# ﴿ ز ﴾

﴿۱﴾

زه نُوریم د دې غـره غـه[1] راوتلـی
هـم پـر غـرو خُـم هـم پـر سمـه
لـه مـخـه راخـه[2] ووزئ
تـی[3] بـه لاندي سـئ تـر تـرمـه

﴿۲﴾

زمـا روح ځـي خـدای پیـدا کـئ
پراوړمي[4] مابنام بې واخی ارزایله[5]
اوس تـره[6] پـرتـنـدي راسـه
ما دا زبه[7] سوهـان کړکي[8] ده پخپله

﴿۳﴾

زه زړې «لـنـدی» یـایـم[9]
دغه نوکي[10] خومه نه دي جوړي کړکي[11]
کـه نـایـي[12] راسـره وایـه
دا ستا ږیره مه سپاوای در خریلکي[13]

﴿۴﴾

زمور «اجـي صـاحـب» دریـاب دئ
لکـه نُور سـي ځپي ووهـي اړاند دئ
و مـا جـورو[14] تـه مـه پـام سـو
په بازارکي پلیتکل[15] ورته اریان[16] دئ

---

۱. څه ۲. راځه ۳. تاسي ۴. لومړي ۵. عزرایله ۶. تېره، سیخه ۷. ژبه ۸. کړې ۹. وایم ۱۰. نوي ۱۱. کړي ۱۲. Nāi: حجام، خلیفه(Barbour) ۱۳. خریلي ۱۴. مهاجرو (refugees) ۱۵. پولیتیکل ( political) ۱۶. حیران

## (س)

(۱)

سور غوندۍ[۱] د نه نرړي[۲]
سي په سر کې کته سري وزه لوېږي[۳]
وماته لنکی راکه
د «آسې»[۴] رنکه غبرکه در لنکړي

(۲)

سحار ځي نمر را وخوت
اوس ولیاړ پر سم تندي دئ
په کمه روځ مه سیال وي
وش[۵] مه درکړی د غوزر[۶] پر تره کي[۷] دئ

(۳)

سي مه واغوسته کمره[۸]
هغه ستا عزیز د خوښ دئ
اوبه سي خرڅولي په ککره

---

۱. Sūrğwand: د «کبړې ویاڼې» د لمر خاته و خواته یو غر دئ.
۲. نرېړي ۳. لوېږي ۴. Ase: آسه یوه نومیالی پښتنه، چې د مرغه فقیر زی د ادینا (Adina) سنځر خېل کاکړ ماینه او پخپله «آسه» په ختېه تره غرې کاکړه وه ۵. وېش، بېش ۶. Ğuzar: د یو سړي نوم دئ ۷. Taráki: ۸. سړی، شړی، چړی، تُوس

**(۵)**

ستی[۱] د کړد[۲] میران[۳] میتینګ[۴] وئ  
ما یوه روځ پوښتنه وکه له بازاره ☆  
که مرکي را اوړمی نه که  
په دغه تاله یه واخه ملغوزاره ☆

## (ښ)

**(۱)**

شیخ «ملاخانان» یي  
ننکوي د په «علي» او «سنځر» کي  
که پیر یي را رسېږه[۵]  
چغالانو راته وانکولل په ځر[۶] کي

## (ښ)

**(۱)**

ښي توري «بنو» دي  
خلک وېرېږي د مصري توري له کښه  
دا مه اروپه دلي  
برني یه یایي نیولی دئ پرپښه[۷]

---

۱. ستاسي . ۲. کړد، ټول ۳. Mirān: یا «میرانزي» د زخپیلو کاکړانو یوه پښه ده ۴ . meeting: ناسته ، جلسه ☆ . Bazar: بازار او ملک ملغوزار (Malğūzar) سره ورونه ول . او دوی د بوري د «چنیالی» نومي کلي او سېدونکي او په ختِه میرانزي زخپیلان ول ۵. را رسېږي ۶. Jar: ځنګل ، بڼ (forest) ۷. جته ، استاکاره

## ک

### (۱)

کــلــــه کــلـــــه ډُکـــلــــي[1] وي
کـلـه کلـه وروره ! خېزي[2] لـه اسمانـه
ستــــــا د مســــــر[3] زوی واده وئ[4]
دا د ځنکه رواج[5] کښېښو و[6] کـلا خـانـه

### (۲)

کــلـــــه کــلــــــه ډُکــــلـــي وي
کـلـــه کـلـــه بـاران اوري پـــه پـرخـې
نــــــه د تِک وئ نـــــــه د ډُک[7] وئ
سـي لــــه کـمـي[8] خــوا د راړه نـاوکـې

### (۳)

کــــلـــــه کــلــــــه ډُکـــلـــې وي
کـلـــه کـلـــه بـاران اوري پـــه پـرخـې
لـيـــا ســـم پـــــه مـــخـــــه راسـئ
لـيـا مـــه غ... دا سپـري[9] روڼـي خـولـې

---

۱. dukáli :وچ کلي ،وچ کالي ، کاختي ، خشک سالي ۲. خېژي
۳ . másar : مسېــر ، مشـــر ۴. y ّ‌ َ w: ؤ . ۵ .دود ، دستـــور
(system) ۶.کښېښود ۷. دود ، لوکی ۸. کومي۹ . سپېري

(۴)

کله کله ډکلی وي
کله کله باران اوري په پرخی
اوس بي سره یایو[1]
زه «ماما» یم ته «خوریی»

(۵)

تر اسمانه ډېره مځکه
د اسمان په پکر[2] نه سي رسېدایه
مشرکی[3] که پر میان غوټه ځله[4] پري کي
دا له ماره سره نه سي غزېدایه

(۶)

کله کله ډکلی وي
کله کله باران اوري په پرخی
سي وختي ستا د لار وې
پشرلی حلالبدلې
سي وختي ستا غه رالې[5]
سپینه! تا دلم کوبی[6] په بیه[7] خرڅولي

---

۱. yāyu: وایو، ویایو ۲. pikar: فکر ۳. mašrákə́y: چُرمُښکی (čurmuṣkə́y) ۴. سره ۵. راغلې ۶. kubə́y: د پسه له وازکو ځخه جوړېږي. پخوا به په ساراکي خلکو په کُوبی ډوډی غوړوله، چي یو خاص خوند یې درلود ۷. قیمت

❀﴿۷﴾❀

کله کله ډُکلی وي
کله کله باران اوري په پرخې
د سیاځکي یو لوی سر دئ
په دا ببخ کې د سرو زرو دربلی

## ❀❀❀﴿ل﴾❀❀❀

❀﴿۱﴾❀

له کوره رارهي سوم
یوه پرده مه درکوله
ته د پردې نه یې
هو هلکه ! اوس نو تینکه که ته ک...

❀﴿۲﴾❀

له کښې[1] بوری را نغاړي
زمور ډېره بې بختي ده
تا ندکی[2] نجونه زاړه مرونه غواړي
ځي وخت د نیمې شپې سي
زوړ به یخ و کړي
تلتک به غواړي

❀﴿۳﴾❀

لاس په لاسې غواړم
د پور خبري نه وله[3] رسېږي[4]
ته خوښه مېره یې
ترلکی[5] د مار نیولی دئ خړړي[6]

---

۱. له لاندې خوا ۲. تاندې، کوښنی، کوچنی ۳. سره ۴ رسېږي ۵. مراد: واکه، پتې، پرتوګانې ۶. خړېږي

## ﴿ م ﴾

﴿۱﴾

مـ ـلا صـديـق مېـره دئ
اجـي شهيـن دېـر ښـه دئ
اجـي سـكـاؤ [۱] سـخـي دئ
تـور سيـدخـان اتک دريـاب دئ
پـر كـنوز آبـات [۲] مـلک اودل غـپـار [۳] دئ

﴿۲﴾

مور خو وريځي نه خورو مور غوړي غواړو
د دوستک كـره راغلـي خپل سري غواړو

﴿۳﴾

مور خو وريځي نه خورو ، خاكيني غواړو
مـور د لالا خـونـدي مـوريـنـي غـواړو

﴿۴﴾

زمـور د نـاوي سـر ځـلـه شكېدلـى دئ
پـر سر يې د ميرې كوويک [۴] ختلى دئ

---

۱.Sákāw : د سكاؤ اصلي نوم حاجي حبيب الله ؤ ، خو په اجي سكاؤ يې شهرت درلود ۲ . كنود آباد ۳. عبد الغفار ۴ . gowig: خروښ ، خېښم ، ظلم

## (ن)

(۱)

نـــن څـــــه عـــجبــــــه روځ ده
ستـــا پـــلار خـــو دئ سپيـــن ږيـــرى
لـــــه مــــرو حـــقيـــقـــت ولاړئ
دى وړوكـــي نـــجـــونــــه غــواړي

(۲)

نـــه نـــاجــوړه وم نـــــه څـــه وم
يـــوه پـــــرده مــــــه درکـــولــــــه
اوس نـــو ســم تـــنـدي لـــه راســـه
د مـنـى كاسې نسكوري دي هر څ كلـه[۱]

(۳)

نــــن عـــــجبــــــــه روځ ده
دا خــــــركــــــي ووره ښــــوررۍ[۲]
پـلانـكــى ... خـــوښــــه مېـــره دئ
دغـــه شنـــه كـرنـكـې[۳] تـويـږي[۴]

---

۱. harckala: هـمېشــه، تـل ۲. ښـوريـــــږي ۳. کـرنګ يې ۴. تويـــږي

## (ه)

### (۱)

هــر ځــوک مــړی ځــوري
ځینـي ځـان ورتـه ښـینځی[1] کـي
ځــې واخــي تـودې ســولــي[2]
نــو ځــي تـوسـي ښــه کـړدی کـي

## (ی)

### (۱)

یهــه[3] خــدایــه قــادره
مـوړ دلتــه شــامــه[4] نــاســت یـو
نــاري لاړې[5] تــه[6] بهــه دره[7]

---

۱. دمړیو ښنیځی، کوندری، ځونی ۲. Swáli ۳. yiha: ای، هی
۴. وړی ۵. ولاړې ۶. تر، در ۷. بهادره

# د بلنديو په سمسوره لمن کې

# د ځینو کسانو نومونه ژوندي پاته دي

**نـومیـالــی او جـنـګیـالـي یـې خـونـدي کـړي**
**پـــه دې وجـــه بـلـــنـدی ورډ ارځښـــت دي**

## ۱.د لیاز جلالزي او آنُور جلالزي بلندی

**دنیا کور د پاني[۱] دئ**
**وختي[۲] پره[۳] سوئ د طوطي[۴] زور د باري دئ**
**لیا پړانګ د غره د سر دئ**
**را وتلی خوږې[۵] په غروندي دئ**
**«زریسپ»[۶] د زرو ګوتکي[۷]**
**لیا زمری دئ ، په واړه واړه کُوړدي[۸] دئ**
**تور سترګې مور د جار سه**
**داتله مخ درته نیولی مُدعي دئ**
**ملکري یه نور هم سته**
**دېر «ناظر» ستا مطلبي دئ**
**«هستي»[۹] ول : یو خوان رالئ[۱۰]**

---

**۱. فـاني ۲ . وخـت یـې ۳ . پوره ۴ . لـه طـوطـي څخـه مراد لیاز (Liāz) دئ . ۵ . x̌wáẓe: خوږه (x̌wáẓa) د کاکړ خراسان د کوندر (kwandar ) په سیمه کې یوه ناوه ده . ۶ . ظریف ۷ . ګوته ۸ . تکي تکي ۹ . هستي ، Hasti : محرکنده دي وي ، چې هستي او ناظر (Nāzar) د انور (Anūr) ملګري ول .۱۰. راغلئ**

ځينو ول : دغه لياز دئ
غه ځينو ول : د دغ[1] تګ د لوني[2] دئ
انور ول : ړغ پر وکوئ
که دی «لياز» وئ ،دی به نڅ[3] وهي هوډي[4] دئ
په غوښي به د موړکي
لياز د روځو ، ننګليالی د اولمانه[5] دئ
دوهم ملې[6] زريب دئ
د نامه په روځې ، سرومال زياتي دئ
زريب ول : مخ را کوړکه
زه زمندی يم ، کم حاجت د ، د هلکي دئ
انُور ول : هلکی نه دئ
لياز پتکی پر ورځکو ړدي تر تا ناتې دئ
ځينو ويستئ[7] په سخرو
غه ځينو واهئ په تورو کَروړي[8] دئ
اوړ مې ماپښين پر پېښ سول
سې له ليازه رهېده ،ماښام سياهي دئ
انور[9] پرجناره وړي

۱. dag : د دغه (dağá) مخفف دئ ۲. لېوني ۳. نڅ ، nac ، نڅ وهل : د جذباتو په حالت کې د سرې پرله پېچل ۴ ضدي ۵. مېلمانه ۶. مل يې : ملګری يې ۷. ويشتئ ۸. karwázi: پرهرونه ۹. (Anūr) انور د نر خوش (Narx̌oš) زوی او په خته شبوزيی ، جلالزی سنځر خېل کاکړ ؤ .

لیاز[1] پرېښو ورسره ځي په تسلي دئ
ملا شېر دل په خپ[2] دئ
زړه په پرې د بلوڅ خان او د « اني »[3] دئ
(سر چینه: حاجي محمد ابراهیم جلالزی)

## ۲. د سردار دوست محمد خان کاکړ بلندی

دعدل په باور دئ
« دوسه مد »[4] د مُرغي زوی د کردو سر دئ
« دلېل » خره[5] را زین که
و « ړوبي » سردار له ځم، ناتار مه اړدئ
له کښې پر «رکې» رالئ

۱. Liaz : لیاز د ساکر (Sākar) زوی، د باقي داد لمسی، د تره کي کړوسی او د احمد کو دی ؤ. نوموړی په خته ښاهي زيی، جلالزی سنځر خېل کاکړ ؤ، ځر کنده دي وي، چي د ساکر (Sākar) څلور زویان ول: ملا شېر دل، بلوڅ خان، اني او لیاز. ۲. x̆ap: خپه، خواشیني،خوابدی ۳. Ani ۴.له « دوسه مه » څخه مراد مبارز پښتون سردار دوست محمد خان کاکړ دئ. نوموړی د جوکیزیانو د « اسحاق » په « کهول » کي د مُرغي (Mūrğī) زوی او د ملي مبارز نواب بنګل خان کاکړ سپېځلی پلار دئ. د پښتنو دغه باتوره فرزند په ړوب او بوري کي له انګرېزانو سره په پښتني استقامت وجنګېدئ. او لوی نوم يې په پښتني سندور او د پښتنو په ملي تاریخ کي و موږ ته راپاته سو. ۵. xára : آسپه

د کرېبو[1] په ځې کړنجی، زینې په زر دئ
ماپښـــین پر کلا ځوړ سوئ
دوسه مد له وروغې نیولی مړ دئ
سې ته ماله راغلی یې
سبا درسره ځم د پښو رَوتن[2] دئ
سبا سره سپاره سوُل
«دوسه مد» په مخه ځې ختلی لمر[3] دئ
غوړ که «رهـــو» غوړکه
زه یو سوال درته کوم «دلېل»[4] مه مل دئ
ناتار غواړمه د اوښو
«دلېل» زما طمع کوې، کورې پر «تل» دئ
«رهو» ول: واک مو نسته
زموږ خو واک د «جلندر» دئ
ګډې سره را ډېر سوئ
«جلندر» وکه غصه، لاسې[5] اوډر[6] دئ
یوه یه که پر تسه[7] مد کبر[8]
ګولی واوښته مېره خو باطن ګر دئ
له ملا یه ورا وکښه
پاته مړکې[9] اور له ځانه باندې بل دئ
سې تک یه باندې وکئ
ګولی لاندې تر نامه، تره کی ډم[10] دئ

۱. krebo: مفرد کرېب: رکاب ۲. رفتن، تک ۳. نمر ۴. له دلېل (Dalel) څخه مراد «دلېل بابو» چې د سل اوسېدونکی او په خته لوڼی پښتون ؤ. ۵. لاس یې ۶. odar: پټ، نهام ۷. وغورځوه ۸. محمد اکبر ۹. پاته مرې ۱۰. Tarákáydam

واده د «جلندر» دئ
سی را ووته زرغون شالي[1] پر سر دئ
څرونکې څله تس کل
ول : زياته نه کوم څواني ، واری مه تر[2] دئ
يو دی سلامت لاړئ[3]
بل ژړ غاړو څله مره کو
ای يوځه د غم ماشر[4] دئ

( په حواله : د حاجي محمد ابراهيم جلالزي )

# د دوو مړو بلندۍ

اولمی مېره :

پر کيڼ[5] بار خو د خال دئ
پر دا ښي[6] بارخو[7] د زخه
رنگ د ، د جدال دئ
خر د نسته که يې نه وهې په مخه

دوهم مېره :

« سخي گلو[8] » چې وزلی
په هغه روځې[9] بابړي توپک په څنګ وئ
ما په خپله جدال ولید
رنکې[10] کټ و مټ
دا ستا د مور په رنګ وئ ( منبع : حاجي محمد ابراهيم جلالزی )

۱. شال يې ۲. تبر ۳. ولاړئ ۴. محشر ۵. چپه ۶. راسته ، رسته ۷. بارخو ۸. سخي گلو په خته پتوزيی ، مير زيی سنځر خېل کاکړ ؤ . ۹. ورځې : ورځ يې ۱۰. رنګ يې

# د پسرلي اکا او دولت اکا بلندۍ

## پسرلی اکا[۱] :

**خواړه خوهر سرې خوري**
**خو دئ نه کيي[۲] چي ځان ورته پينزۍ[۳] کي**
**په نيمي شپې د برړن[۴] کئ**
**و تای نه سوې غول د وکل[۵] په کړدۍ[۶] کي**

## دولت اکا :[۷]

**څه رنګه سرې يې «ښادزيـــيه!»**
**نه زمندي[۸] لرې نه مړي**
**د خدای مځکه په ننده[۹] وه**
**ما خونه دي ستا د مور په ... کي کړي** ( ماخذ: حاجي محمد ابراهيم جلالزی)

# د حسن او پسرلي بلندۍ

**حسن ويل : را وڅـــکړه[۱۰] پسرلـــيه!**
**چي د وپوښتم له نَهـــــه[۱۱] وله نَهـريه[۱۲]**
**پسرلي ويل : ای کښته مير[۱۳] د ښه دئ**

---

۱. psarláy aka: **پسرلی ا کا په خته جلالزی ، سنځر خېل کاکړ ؤ ۲. کوي ۳.** p inzə́y :**کـڅـوړه ، کڅوڼـه ۴ .** barázan: **برېړن (دوريو خانګړی آواز ) ۵ . وکړل ۶ . کيړدۍ ۷. دولت اکا په خته جلالزی ، سځر خېل کاکړ اود محلي رواياتو له رويه نوموړی په سترګو ړوند ؤ ۸. زوندي ، ژوندي ۹ . لنده ، لمده ، نوده ۱۰. راوڅکړه ۱۱.** nah: **تـکـی يا تکونی ۱۲.** nahraya: **ناري ( ناشته ، صبحانه ) ۱۳** .Mir: **له مير څخه مراد ميرزيي دي.**

مور د غ... د ای لوړ ځر[1] میرزیــــه
حسن ویل : اومه وه که بې مالکو
خو به تا ورله[2] خاشه[3] له مُلتـــــنیه[4]

( په حواله : د ملک نانک سنځر خېل )

# د ښادي اُو تاج بلندی

ته « ښادي[5] » وې پر ما غم سوې
و ازارو ته مه سم سوې
زما نوم « ملا ودود » دئ
تاج[6] مه وزني[7] خېل مه سود[8] دئ
کټ مې و ساځئ[9] په اور کي
تاج مه نه پرېږدي په کور کي
نه د راتـــه، نه مـــه درته
تاج را ولـــېږدوه[10] بیرته

( سرچینه : ملک نانک سنځر خېل )

---

۱ . ǰar : ځـنګل، بڼ ۲ . وروړه ۳ . نوکی ، یو څه ۴ . mult ánáy د مـالکي ځـا ۵.. ښادی په ختـه جلالزی ، سنځر خېل کاکړ ؤ ۶. تاج په ختـه میرزیی سنځرخېل کاکړ ؤ .۷.وژني ۸. ګټه، فایده ۹. وسوځئ ۱۰ . rāwálẓdáwa : را ولېږه، را واستوه

# د سالو او غونډک بلنډۍ

سالو[۱] درلې[۲] نارې
وار د تر[۳] دئ ،خړه[۴] واړوه له لیارې
سالو ویل : حسینه![۵] ! ته رخصت یې
ولونه پر ته[۶] که د سکاڼې[۷]
حسین ویل : پر در ګرزم
سي سبا به ما له څه یایې[۸] ورندیارې[۹]
دی څوړ[۱۰] سو له ابلکې ☆
خله کښې یې که وړانګې سوې ځې[۱۱] ولیاړې
تور ډال یې ورا سم کئ
ګوتې وکښې تر ګډې کولې غاړې
ګډي[۱۲] ړغ پر له وکئ
دوی ول : مه ورځوئ[۱۳] سالو څنډه درنغاړې
غونډک[۱۴] ړغ باندې وکئ پر درځویه
خو زمری سالو دئ خو د به کوې وارې

۱. Sālo : سالو د کلا سیف الله په « پتیا ؤ باڅزیي » نومي ناوې کې د «توري خولې» اوسېدونکی او په خټه سپېزیی ابراهیم زی ، سنځر خېل کاکړ ؤ ۲. درغلې ۳ . تېر کې د «توري خولې » ۴ . xáṛa: آسپه ۵ . Hussain:حسین د سالو سپېزیي ورور ؤ. ۶. پورته ۷ . آسپه ۸ . وایي ، ویایي ۹ . ورېنداري ۹. کښته ، شېوه ، شوه ، تا ۱۰ خین ، جین ، ترې ۱۱.څخه،څخه ۱۲. خلکو ، سړیو ۱۳ ورځي ۱۴ . غونډک (Ğundak) دکلا سیف الله د «پیتاؤ» اوسېدونکی او په خټه پاڅزیي سنځر خېل کاکړ ؤ . ☆ . ابلق : مراد آسپه

وصیت وکه ګایره

سالو ډیري «باځږۍ» مه[1] د[2] کې[3] خواري

ده ول[4]: زما وصیت له څه دئ

یو «ملا رشید» خبر کوئ[5] سئ[6] دی څه راباندي ویایي

رشید ول: وس مه نسته

سي «خوستۍ» راباندي زاړي

«طوطي» سالو د کښېـــیوست

پاته مړکي[7] سي د شاړ پښو ولیاړکي[8]

سـپړې[9] لړمون د وچ سه

مه د و دره[10] پرخای باندي بیاڼي

څه وئ، دغسي وخوت

د «سالو» څلی ولیاړ پر «سپین پیتاؤ» دئ

(سرچینه: حاجي محمد ابراهیم جلالزی)

# د ارزبېګي او جلال خان بلندۍ

نن بیا توپان اوروړي[11]

ارزبیکی[12] د بل په میږوکي ښورړي[13]

رمې یه[14] خین جلا کې

---

۱. مـي ۲. دي ۳. کـړې ۴. ویـل ۵. کـئ، کـړئ ۶. چـي، چـې ۷. پاته مړې ۸. ولاړي ۹. Spáre: آسپه ۱۰. ودرېږه ۱۱. اوربېږي ۱۲. ارزبېکی (عرض بېکی) په ختـه جِیګی (jigáy) سلېمانخیل غلجی، چې په کټواز کې د ممی (Mamǝy) نومي کلي اوسېدونکی ؤ ۱۳. ښورېږي ۱۴. یې

قران یه نه مانئ شودې[۱] ښه پرلګړي[۲]
کېترانې[۳] ول : ډېره سخته ده
تندي وري په څنکی[۴] کي پېښي کړي
« سردار»[۵] ول : تکیه وکه
شپه به تره سي ، سحار بیا رڼیا[۶] کړي[۷]
د ګډو مخې[۸] ونیوئ
« تور کېترانې » تر لینکو[۹] میرو نه تروړي[۱۰]
کارتوسې[۱۱] ورته تو[۱۲] کل[۱۳]
«جلال خان » د توپ ګولی میان ته لوړي[۱۴]
ګرد کلی چا ماري سوئ
دغه روځ د پر چا نه برابروړي[۱۵]
اید رې[۱۶] یه کې را ډکي
جلال خانه ! تهـــه[۱۷] مه نه درته سمړي[۱۸]
پر قران باندې ایهـــه[۱۹] کل
جلال خان د اسمان تندر باندي لوړي

( منبع : بدر خان جلالزی )

---

۱ . شیدې ،شیودې ، پی ۲ . لګېړي ۳ .ketrāṇ :کېترانې په خته یامین خېل مرادنزی ، سنځر خېل کاکړ ، چي په کاکړ خراسان کي د « کاڼوکی kāṇokǝ́y» نومي کلي اوسېدونکی ؤ . ۴ .وندر . ۵ .Sardār: لـه سردارځخه مراد سرادر جلال خان تولاخېل مردانزی دئ ، چي په کاکړ خراسان کي د « ښیغاله » اوسېدونکی ؤ ۶. ګرد ، تول ۶. رڼا ۷. کیږي ۸. مخ یې ۹ .لـنکي ۱۰. تېرېږي ۱۱. کارتوس یې ۱۲ . توی ۱۳ . کړل ۱۴. لوېږي ۱۵.برابرېږي ۱۶. هدیرې ۱۷. tah: تهیه ۱۸. سمېږي ۱۹ . انکار

# د ښالم او ودان بلندۍ

د ریابم بې اریونه[۱]
د ښالم[۲] ښکارزن تر ما نه ول مړونه
ودان[۳] دعوه په وکه
ول : غبرګۍ[۴] ګتم پرکښې به ږدم سرونه
ښالم ول : را خطا سوې
زما په سر کې د کوترو شنه سیلونه
ودان مې کئ هلاکه
ده منګولې په « برایم » ولګولې
ښالم ولاړئ « جهان » له
ول : زه غوارم له «غـــوندګه» کومکونه
غونـــدک[۵] ورته ایـــهه[۶] ګل
کنزوری[۷] یم« بـــرایم »[۸] لري مړونه
ښالم ځین را ولیاړ سوئ
ول : ننواتي ستا غه خوار دئ په عمرونه
غونډک[۹] ول : نن یه بوزوئ[۱۰]
سکاپ[۱۱] راغلی دئ خطر بې وي پُر[۱۲] پرونه[۱۳]

۱. حرفونه ۲. Ṣālam: ښالم د کلاسیف الله اوسپدونکی او په خته حیدر زیی، سنځر خېل کاکړؤ ۳. Wadan :ودان پـه ختـه ښهـزیـی، جلالزی سنځر خېل کاکړ ؤ.۴. ğbargə́y :غبرګی په کاکړستان کې دیوې مځکې نوم دئ ۵ .Gundak: د کاکړو په سنځر خیلو کې د غونډک کهول « جهان » بلل کیږي . ۶ . iya : نه، انکار ۷ . کمزوری ۸ . ابراهیم ۹. غونډک د « درې پلري » سردار او په خته باځزیی، سنځر خېل کاکړ ؤ ۱۰ بوزئ ۱۱. دلته له سکاپ څخه مراد ښالم حیدر زیی دئ ۱۲ . Pur : پر (Par) ۱۳ لیاري

**«پی‌ګل»[۱] ول: زما تلاک دئ**
**زه به غواړم له خالقه کومکونه**
**ښالم ول: نن مه وزني**
**زما پر سونډو دي د سرو وینو بویونه**
**را څوئ سي ګښته ولاړ سو**
**پڅ[۲] مه جوړ دئ، دالته کوز څري مالونه**
**«هنر»[۳] ول: زما تلاک[۴] دئ**
**که به چپ[۵] کم، زه له لیاري کډمونه[۶]**
**هنر ول: ته بلیا[۷] تښته**
**ځان به خلاص کې، تیا[۸] د بل کوې غمونه**
**«پی‌ګل» ول: خدای دې هُل[۹] کي**
**نن پر «تور مامک» نو څوک نښندي سرونه**
**ښالم ول: خوریــه! چپ که**
**پر مخ درسه، نور را واخه منجلسونه[۱۰]**
**له پاسه پر «ږوب» راغئ**
**تور ښالم په توپي خي کاړه برتونه[۱۱]**
**«مریــــي پـــوتي» له ورغه**
**ولوئ[۱۲] په ګرزاوئ مخ بپلتونه**

---

۱. پی‌ګل په خته حیدر زیی ۆ. ۲. Paǰ :پڅ یا په بله ژبه پڅ (Pac) : عذر، پېلامه، بهانه ۳. هنر په خته حیدر زیی ۆ. ۴. طلاق ۵. Čap ۶. قدمونه ۷. بلا ۸. tiā: ته وا ۹. هُل (hūl) : بدي، شر ۱۰. مجلسونه ۱۱. برېتونه ۱۲. Walawәy : ورله و یې

پی‌ګل ول : هنر برید کښوول
ماماخان تینګ که سي بد نه کو رنګونه
ښالم ول : زوی د لوی سه
خوریه بنګه ! زه پر تا راوړم شکونه
ښالم ول : سلطان [1] ګوره
که په کښې وئ سور به خي خواره ځنګونه
پی‌ګل ول : سلطان نسته
ماما زموږ سرې تبی چپ تا کبیرونه [2]
پی‌ګل ول : دا زبی نو څوک دئ
سي د داړ په مخه خي خواره ځنګونه
ښالم ول : دا زبی «ودان» دئ
ماما وله یه ، اغوستې دي سالونه
ښالم ول : رغ پر وکه
«سور» [3] به و دري ، سي ووهم اورونه [4]
پی‌ګل ول : تکیه وکه
مور د جار سي ، د لینګی [5] وکاړه ولونه
«چټ» [6] هم ورته تکیه سوئ
د لنډی تپور یه پرته کئ له تی یه
سي تک سوئ «ودان» وپروتی [7]
ده ول : جیو : [8] و [9] رغ د وکرزم لاری یه

۱. سلطان په خته ښهزیی ، جلا لزی ، سنځر خېل کاکړ ؤ . ۲. تکبیرونه
۳ . له سره څخه مراد سلطان ښهزیی دئ ۴ . توپکونه ، توپکونه ، تپیکونه ۵ . لنګی ۶. čaṭ: له چټ څخه مراد «ودان جلالزی»دئ
۷. پرپوتئ ۸. جار ۹. تر ، در

پې ګل ماما رد سوئ
سهـه [1] يه ووهل ، ګولۍ جوړ ګل خوپونه
ښالم ول : زوی د لوی سه
خوریه بنکه! پر ژړمه [2] مه وايه تومتونه [3]
پر سرت [4] يه سره لمبه سوه
پر زړه يه دي ژخمونه
پې ګل ول : تاک [5] پر سم دئ
پر شا مه وهه کړه ماما پکرونه
سي................نيمګړي (سرچينه : اَيـک باڅزيی)

يادونه : دغه پورتنۍ بلندۍ په پای کي يو څه مانده ده . که خدای کول، پاته برخه به يې يو وخت زه پخپله له ښاغلي اَيک باڅزيي:Ayak Baczai څخه ولیکم .او د کتاب په دوهم چاپ کي به يې ستاسي و درانه حضورته وړاندي کړم.

# ۱. جوابي بلندۍ

❀(۱)❀

پاروند [6] د ، د وړا ږغ وئ
برايه [7] درته ماتله [8] وم پرپَسکي [9]
له مخه راځه ووزه
د نصرت [9] غ... د ، وهم د م ... په ... کي

❀❀❀

۱. سا ۲. žaṛ: له «ژړ» څخه مراد توپک دئ . ۳ . تهمونه ۴ . صورت ۵ . tāk: وار ۶.پـارون ، پـرون ۷. برايي ، بېګا ۸ . معطله ۹. paski: د ګلا سيف الله د «بنـدات پتوزيي» په سيمه کي يوغر دئ .۹نصرت په ختـه پتوزيی ، ميرزيی کاکړ وُ .

په مور ... د دومره ډ... بیــایم
کلا چې جوړوله
د «ولي کهول» یه ناست وئ په برنجان کي
چي د آس تر هغې پرړه[1] وي په نار کي

❀﴿۲﴾❀

هر سړی چې مړ سي
ورله زړه[2] سي د کیامت[3] سختې خواری
وګوره ته د لیار مه وای
چې د غلا کل
نه[4] چرګان ځلور کاسې یوه چکی[5]

❀❀❀

څه سړوکی باد دئ
لویه خدایه! څه وریځ د که را توره
له ایمانه به پر ووزې
سپینه! زما خورلنه نه وته له کوره

---

۱ .پنډه ۲ . warla zṛa: وریاتي ، وریادي، وریه یادي ۳. قیامت ۴.
nine: نهه ۵. . čákəy: د وازګې چکی

## (۳)

## یارکی:

ستا مور چي پنځو یوو ړه
ځيني خلک په خبر دي
غه ځيني به ليا اوس په خبرړي[۱].
په کستي[۲] ځان ويده[۳] کئ
د کيامت[۴] په روځ[۵] د[۶] نه تر ور ترړي[۷]

## چارشنبې:

يو څه ملنکين څوان يې
هو، يار کيه! داسي توريې لکه ينه
له مخه راځه ووزه
لکه پلار پسکی د نه دري په ک...

---

۱. خبرېږي ۲. قصداً ۳. بيده ۴. قيامت ۵. ورځ ۶. دي ۷. تېرېږي

﴿۴﴾

اتو ميرزيی :

د ا زړه يو داسی شی دئ
چي په هر زړه کي ووهي بَدکي
ستا رنګ د ا «بولا نات[1]» دئ
د تسيل[2] په ميان کي ناست وای په بُنګله کي

سات ملوک ميرزيی :

جرمن چي « ړوب » له راغئ
پرنګي[3] ول :[4] ما به واچوي له تخته
ته هم رالي[5] زما سيال سوي
لونی د چيري ... بي بخته

# اخځليک

د پښتو هغه چي د زريني پانګي په دي په دی خوندوره او په زړه پوري او برخه کي د سرچيني په ډول استفاده ځيني سوي ده ، نو م يي په لاندي ډول دئ :

۞ ... د کسي د لمني پښتانه ليکوال دوهم ټوک ، ليکوال : سيال کاکړ خپروونکی : بولان بک کارپورېشن ، مطبعه : زمانه پرنټينګ پريس ۱۹۸۳ م کال ، کوټه

۞ ... زما شخصي ياد داښتونه

---

۱. Bolānāt: بولانات د انګرېزانو په دوره کي يو نامتو هندو تبر سوی دئ ۲. تحصيل ۳. پېرنګي ۴ . ويل ۵ . راغلي

# برغازی

بـرغـازی ځـانګـړی صنف دئ د پښتو
راتـول کـړی سیـال کـاکړ دئ دا په مینـه

وطـنـونـه مي تر پښو دي لانـدي کړي
څو پیدا کړم «بـرغـازی» د پښتو زه

لـوی څپـرکـی د پښتو تشکیـلوي چـي
ځکه ګراني «برغازی پر سیال کاکړ دي

پـردر در د پښتـنـو یـم ګـر ځـېـدلـی
په خواریو تـولي کړي «برغازی» ما

# د برغازیو بېلا بېل نومونه

**برغازی (Barǧāzə́y) چې د پښتني فولکلور یو لوی او ویاړلی څپرکي تشکیلوي، د کاکړستان په بېلا بیلو سیمو کي په جلا جلا نومو سره یادېږي . زیاتره خلک خپله دغه عامیانه سرمایه د برغازی په نامه یادوی . چې البت وهمدغه برغازیو ته بیا ځیني خلک برغزی (Barǧāzə́y)، ځیني یې برغزو (Barǧázo)او ځیني یې بیا برغاز (Barǧāz) بولي .**

**خو ځرګنده دي وي، چې د پښتني فولکلور دغه خوندور ډول بیا ځیني خلک د ستوني (Stūni) په نامه یادوي . او دا چي برغازی په ستوني کي ویل کیږي، نو له همدې کبله خلکو پر خپلي دې لرغوني فولکلوري پانګي باندي د ستوني غوره نوم ایښی دئ .**

# دبرغازیو پیدایښت او سرچینه

**مورږ دا وخت څه باوري منابع او یا بیا څه مستند اسناد په لاس کي نه لرو، چي برغازی به څه وخت په وجود کي راغلي وي ؟ خو پخپله چي د نړ (naṛ) وتاریخ ته وګورو، نو په یقیني ډول ویلای سو، چي برغازی د پښتني فولکلور یو ډېر پخوانی او زاړی ډول دئ . او دا عین ممکنه ده، چي ابتدایي تاریخ یې وکاکړی غاړو او پښتو لنډیو ته ور نژدې وي .**

**او دا چي برغازی د ستوني په وسیله د نړیا په بله ژبه د نې (ni) په ملتیا ویل کیږي، نو د برغازیو لرغونتوب په اثبات رسوي . او پخپله د نړ (naṛ)او یا نل(nal) په وسیله فولکلوري سندري ویل په پښتنو کي یو لرغونی دود راغلی دئ .**

**د برغازیو لویه او مرکزي سرچینه کاکړستان دئ . د پښتني فولکلور دغه لرغوني اثاثه د کاکړستان په کلا سیف الله ، کاکړ خراسان ، پیتاؤ باځزیي ، چینه برت خېل ،مُرغه کبزیي ، مسه خېل او د تاریخي بوري په بېلابیلو سیمو کي خوندي پاته ده . په تېره بیا مېختر (Meẋtar) ، برډ (Bárad) او لوړه لی (Loṛáláy) د برغازیو لویي مرکزونه او سرچیني دي .**

# د برغازیو خصوصیات او نیمګړتیاوي

**برغازی چي د پښتني فولکلور یو سمسور ډول او جانانه صنف دئ ، پخپله لرغوني او غني لمن کي ځیني خصوصیات او نیمګړتیا وي را نغاړي ، چي دلته په لنډ ډول بیانیږي :**

**❁ .... د برغازیو ژبه سوچه ، روانه اوسلیسه ده .**

**❁ .... برغازیو پخپله لویه لمن کي د پښتو ډېر پخواني او ا صیل توري خوندي کړي دي .**

**❁ ....برغازی د پښتني چاپېریال ښه په زړه پوری عکاسي کوي .**

**❁ ....د پښتني فولکلور دغه خوندور ډول د خلکو د ذوق او شوق ترجمان دئ .**

**❁ ....د پښتو دغه نازنین ډول د پښتني هنر ښکارندوی دئ ،چي البت د برغازیو هنر مندان د ستاینې اوقدر وړي .**

**❁ ....برغازی د کاکړو په سوچه او لرغوني کړدود «کاکړي» کي جوړي سوي دي .**

**❁ .... په برغازیو کي ځیني ښځینه نومونه خوندي سوي ، چي البت دغه واړه تش علامتي نومونه دي . لکه شنی خالی ، پاتی ، پاتو ، زرو ، ژړو ، سبو ، زانګه او داسي نور...**

۞ .... په زياتره برغازيو کي ځيني مسرۍ په تکراري ډول راغلي دي.

۞ ....برغازۍ د پښتني فولکلور يوخورا لرغونى ډول دئ ، چي پخپله لويه او ويړه لمن کي د «آزادي شاعرۍ» خورا خوري او په زړه پوري نمونې پخپله پسته غيږ کي رانغاړي.

۞ ....برغازۍ په خورا ساده او خوندورو تشبيهاتو پسوللي دي .

۞ .... د برغازيو شاعرانه ژبه بېخي عاميانه او اولسي ده .د برغازيو منظومي خبرې داسي ښکاري لکه نثري کايونه .

۞ .... برغازۍ د پښتني چاپېريال ډېر ساده مطالب او خواږه کايونه په خپله درنه لمن کي راوړي .

۞ ....داچي برغازۍ بې سواده خلک جوړوي ، نو ځکه په ځينو برغازيو کي خوړجن توري او نامناسب لغات راغلي دي . خو ما د داسي تورو پر ځای نکتې (...) ايښي دي .

# د برغازيو د ويلو يو ځانګړی انداز

برغازۍ د پښتني فولکلور هغه په زړه پوري ډول دئ ، چي د دوو کسانو په وسيله پښتني محافل ګرموي . او د دوو هنر مندانو په وسيله ويل کيږي .ددې فولکلوري پانګي د ويلو يو ځانګړی او خاص انداز وي . لومړی واريو هنرمند پخپل ستوني کي يوه برغازۍ په ډېر مهارت او يوخاص آهنګ سره پيل کړي . بيا وروسته د هغه فنکار انډيوال همدغه برغازۍ پخپل نړ (naṛ) کي په ډېر هنر او مهارت سره اړوي . حقيقت خو دا دئ ، چي د سات تېري دغه خوږې شېبې ډېري خوندوري ، په زړه پوري او له سرور ځخه ډکي وي . د برغازيو هنرمندانو ته ناست کسان خوشاله او زړونه يې په نڅاوي .

هغه هنر مند چي برغازۍ په ستوني کي وايي ، په

فولکلوري اصطلاح ستونچي (Stunči) بلل کیږي . او هغه فنکار چي د ستونچي سره نړ (دروی :darwə́y) وايي ، د خلکو په ژبه نړچي (naṛči) او يا بيا د ځينو خلکو په اصطلاح ناړي (nāṛi)بلل کیږي .

# پر برغازيو باندي سوی کار

برغازی چي د پښتني فولکلور يو خوندور او نازنين ډول دئ ، لومړی وار ما د « اولس » مجلې په وسيله په ادبوالو پېژندلی ؤ . خو هغه وخت ما د برغازيو زياتي نمونې په لاس کي نه درلودې . زما دغه ليکنه ښخي ابتدايي او د معلوماتو په لحاظ نيمګړې وه . بيا وروسته زما دغه مقاله چي د برغازيو په څنګ کي يې بلندی (Bálandə́ y) او سلسلې (Salsále) پخپله غېږ کي رانغښې وې . د جناب استاد رفيع او کران زلمي هېواد مل په همت د « فولکلري سندرې » په نامه يوه وړه رساله د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو انستيتيوت په ۱۹۷۸ ميلادي کال چاپ کړه .

خو زما وروسته بيا دغه نيمګړې سلسه چا تعقيب نه کړه . او دا وياړ بيا هم زما په برخه سو ، چي يو زيات شمېر برغازی مي د خلکو له سينو څخه را وايستې . او د کتاب په دې برخه کي د يوې څېړني په مليتا ادبوالو او د پښتني فولکلور و درنو څېړونکو ته وړاندي سوې .

# اوس خلک په برغازيو شرمېږي

ښکاره خبره ده ، چي زمانه واوښته . پخواني ذوقونه بدل سول . خپله ماضي مو هېره کړه . په حال کي بې حاله يو . سباوون مو پر خدای سپارلی دئ . نو په داسي شرايطو کي د پښتني فولکلور به څه حال وي . ماشومان مو پر ديو ژبو را تباه کړل . د

ټـلـيـويـژن (televistion) ، انـتـرنـيـټ (internet) او مـوبـايـل (mobile) منفي اړخونو په موږ کي څه پرې نه ښوول . پښتو او پښتني فولکلور د چا په ياد دئ . برغازی خو پر پرده ، د يوه پښتانه کوشني او ځوان د پښتو يو څو کيسی او د اتڼ يو څو نارې يې لا په ياد نه دي . موږخو د ژبي په څنگ کي خپل ملي هويت هم له لاسه ورکړی دئ . بې ژړا بل څه نه دي راپاته .

رښتيا خبره خو دا ده ، چي زموږ نوی نسل په برغازيو شرميږي . خپلي دغي ملي اثاثې ته په سپک نظر گوري . نو همدغه وجه ده ، چي برغازی د ورکېدو او فنا کېدو په حال کي دي .د خدای شکر دئ ، چي ما پر وخت د برغازيو ډيري نمونې را غونډي او خوندي کړې . فکر نه کوم ، چي زما وروسته دي بيا بل څوک برغازی را ټولي کړي .بس ـــ ، همدغه دي ، چي دزريني پانکي په برخه کي زړرمه او د ټل لپاره خوندي سوې . نوي خو ښخي جوړيږي نه ، او پخوانی په ډېره چټکی سره د ورکېدو په حال کي دي .نه بيا څوک ستونچي (Stūnči) ووينې او نه نارې (Nāṛi) . دغه فولکلوري اصطلاحات به يوازې په کتابو کي ژوندي پاته وي . خيال مي نه دئ چي بيا به د پښتنو په نوي نسل کي د ستونچي او نارې غونډي فولکلوري هنر مندان پيدا سوي وي ، چي پښتني محفلونه به د خپلو ستونو او فولکلوري آلاتو (instruments) په وسيله په « برغازيو » گرموي . همدغه پياوړي هنر مندان دي ، چي تر دې وخته پوري د کاکړستان په غرو او رغو کي پخپل ښايسته آواز او خواږه ساز د خلکو مات او ستړي زړونه ټکوروي .

## د برغازيو ادبي جوړښت او تقطيع

برغازی د پښتو هغه په زړه پوري فولکلوري شاعري

ده ، چې د کاکړی غاړو غونډي د پښتو په لنډ ملي بحر کې جوړېږي . خو توپیرېې دومره دئ ،چې کاکړی غاړي تش دوې مسرې وي ،چې په مقابل کې د برغازیو مسرې تر دې زیاتې وي . دغه راز لکه څنګه چې کاکړی غاړي زیاتره اته او اته سیلابیزه وي ، چې البت ځیني بیا په کې «اووه» او «اته »هم وي . همدغه حال د برغازیو دئ ،چې زیاتره اته او اته سیلابیزه وي . خو ځیني وخت یوه و یشمه په کې اووه او اته سیلابیزه پیدا سي . همدا ډول کاکړی غاړي او برغازی په یوه وزن کې جوړېږي،چې ا لبت د برغازیو په مقابل کې په کاکړی غاړو کې د قافیې او ردیف پابندي زیاته لیدل کیږي . خو په برغازیو کې بیا د قافیې او ردیف خپل یو ځانګړی رنګ دئ . ښکاره خبره ده ، چې د کاکړی غاړو د ویلو بېل بېل طرزونه او خانګړي وزمونه(وزنونه ) دي . څو که چیري یو سړی وغواړي ، برغازی د کاکړی غاړو په بېلا بیلو طرزونو کې په اساني سره ویلای سي . او په آهنګ کې یې چنداني فوق نه راځي .

برغازی که څه هم د جوړښت په لحاظ کاکړی غاړو ته ډېرخې ورنږدې دي، خو د فني سکښت په لحاظ یو د بل سره خورا زیات توپیر لري . د برغازیو په ویړه او زرخېزه لمن کې یوه بیتیزه ، یو نیم بیتیزه ، دوه بیتیزه ، دوه نیم بیتیزه ، درې بیتیزه ، درې نیم بیتیزه ، څلور بیتیزه ، څلور نیم بیتیزه او پنځه بیتیزه برغازی لیدل کیږي . امکان لري ، چې په راتلونکي وخت کې و یو بل چاته نوري نموني په لاس ورسي . ددې لیکني په پای کې د بېلا بیلو برغازیو تقطیع وراندي کیږي :

## يوه بيتيزه برغازی

دستګيره! پرده راکې    لويه پيره! پرده راکې

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دس | ته | ګي | ره | پر | ده | را | کې | ❁ | لو | يه | پي | ره | پر | ده | را | کې |

هلکانو کور مو چيري دئ    د بوري ډکر چيري دئ

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| هل | کا | نو | کور | مو | چي | ري | دئ | ❁ | د | بو | ري | ډ | کر | چي | ري | دئ |

## یو نیم بیتیزه برغازی

پـــاتــو غــومبــر پـــه زورکـــه　　　　لـــه کښــې وریـــځ راتــوره کـــه

شپـــانـــه میـــا راتــولـــه کـــه

| | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| پا | تو | غوم | بر | په | زو | ره | که | ❀ | له | کښې | و | ریځ | را | تو | ره | که |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| شپا | نه | مه | یا | را | تو | له | که |

چــرکــی پـــه خــولــو تــوره　　　　بـــایک راوستـــه اوبـو لـــه

بـــایک راوستـــه اوبـــو لـــه

| | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| چر | کی | په | خو | لو | تو | ره | ❀ | با | یک | را | وس | ته | او | بو | له |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| با | یک | را | وس | ته | او | بو | له |

## دوه بيتيزه برغازي

بر کړد ژړو مینـي دي — بر کړد ژړو پلونه دي
هر ځای د ژړو ناري دي — کایونه دي رودونه دي

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بر | کړ | د | ژ | ړو | مي | ني | دي | ❁ | بر | کړ | د | ژ | ړو | پلو | نه | دي |
| هر | ځای | د | ژ | ړو | نا | ري | دي | ❁ | کا | یو | نه | دي | رو | دو | نه | دي |

## دوه نیم بیتیزه ابرغازی

بـازار میـان دئ خـولـکـی راړه — یـار ولیـاړ دئ خـولـکـی راړه

شـرم نستــه خـولـکـی راړه — شور مـاشور دئ خولکی راړه

سـرې غــرمــې دې خــولـکــی راړه

۞۞۞

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| با | زار | میان | دئ | خول | کی | را | ړه | ❀ | یار | و | لیاړ | دئ | خول | کی | را | ړه |
| شه | رم | نس | ته | خول | کی | را | ړه | | شور | ما | شور | دئ | خول | کی | را | ړه |

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سرې | غر | مې | دې | خول | کی | را | ړه |

## درې بيتيزه برغازې

بـــرکـــړ د زور مېـنــي دي    هـــر ځـــای د زروپـلـونـــه دي

ليا پلونه دي ليا غولي دي    بـــرکـــړ تـــه زرونـــه راځـــي

اوس څه سوه نجلۍ نه راځي    نـــو نـــه راځـــي نـــو نـــه راځـــي

| | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| بر | کړ | د | ز | رو | مې | ني | دي | ❁ | هر | ځای | د | ز | رور | پلو | نه | دي |
| ليا | پلو | نه | دي | ليا | غو | لي | دي | ❁ | بر | کړ | ته | ز | رو | نه | را | ځي |
| اوس | څه | سوه | نجل | لۍ | نه | را | ځي | ❁ | نو | نه | را | ځي | نو | نه | را | ځي |

# درې نيم بيتيزه برغازی

سنـــخـــر لــور او بـو لـــه لاړه　　　شيـــن خـــالـــی رودو لـــه لاړه

دا ديـــار کـــايـــولـــه لاړه　　　کُـــوډی وچ اوبـــولـــــه لاړه

مـــاخيـــکـــر لــرکـولـــه لاړه　　　ډبـــر وچ پـــيـنـکـولـــه لاړه

شيـــن خـــالـــی کـــايـــولـــه لاړه

| | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| سن | خر | لور | او | بو | له | لا | ړه | ❀ | شين | خا | لی | رو | دو | له | لا | ړه |
| دا | د | يار | کا | یو | له | لا | ړه | ❀ | کُو | ډی | وچ | او | بو | له | لا | ړه |
| ما | خي | کر | لر | کو | له | لا | ړه | ❀ | ډ | بر | وچ | پين | کو | له | لا | ړه |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| شين | خا | لی | کا | یو | له | لا | ړه |

# څلور بيتيزه برغازی

بـــرکـــړ د ژړو کيــلـــي دي
هـــر ځـــای د ژړو کيـلــي دي

نــه غـولـي دي نــه مېـنـي دي
هـــر ځـــای د ژړو نـــاري دي

هــر ځـــای د ژړو پـلـونــه دي
هـــر ځـــای د ژړو بـــاري دي

مېـلـــن د ژړو نــــاري دي
هـــر ځـــای يـــه اړيـويـلـي دي

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بر | کر | د | ژ | ړو | کي | لي | دي | ❀ | هر | ځای | د | ژ | ړو | کي | لي | دي |
| نه | غو | لي | دي | نه | مي | ني | دي | ❀ | هر | ځای | د | ژ | ړو | نا | ري | دي |
| هر | ځای | د | ژ | ړو | پلو | نه | دي | ❀ | هر | ځای | د | ژ | ړو | با | ري | دي |
| مي | لن | د | ژ | ړو | نا | ري | دي | ❀ | هر | ځای | يه | ا | ړي | وي | لي | دي |

## څلورنیم بیتیزه برغازی

درځـه سي ځو درځـه سي ځو　　　بیا پرتـه خراسان لـه ځو
ډکـر لـه ځو ډکـر لـه ځو　　　مالکنډ لـه ځو مالکنډ لـه ځو
توبې لـه ځو توبې لـه ځو　　　سامي لـه ځو سامي لـه ځو
بیا بېرتـه المبار لـه ځو　　　لاکی لـه ځو لاکی لـه ځو
ولـمي لـه ځو ولـمي لـه ځو

| | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| در | ځه | سي | ځو | در | ځه | سي | ځو | ❀ | بیا | پر | ته | خ | را | سان | له | ځو |
| ډ | کر | له | ځو | ډ | کر | له | ځو | ❀ | مال | کنډ | له | ځو | مال | کنډ | له | ځو |
| تو | بې | له | ځو | تو | بې | له | ځو | ❀ | سا | مي | له | ځو | سا | مي | له | ځو |
| بیا | بېر | ته | ا | لم | بار | له | ځو | ❀ | لا | کی | له | ځو | لا | کی | له | ځو |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| ول | مي | له | ځو | ول | مي | له | ځو |

# پنځه بيتيزه برغازی

راځـــه وږي راځـــه سـي څـو — چـارکـل والـي راځـه سي څـو
دکـل کـډی راځـــه سـي څـو — بـوری سـوږ دئ بـوري لـه څـو
بيـا پـرتــه خـراسـان لـه څـو — بيـاکښتـه هـنـدوستـان لـه څـو
بيـا بيـا تـوري لاکـی لـه څـو — بيـا بيـا د مـري ميـان لـه څـو
بيـا بيـا دکـوهـلـو سـر لـه څـو — بيـا بيـا بـه کـډ يبـر لـه څـو

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ر | څه | و | ږي | را | څه | سي | څو | ❀ | چار | کل | وا | لي | را | څه | سي | څو |
| د | کل | که | ډی | را | څه | سي | څو | ❀ | بو | ری | سوږ | دئ | بو | ري | له | څو |
| بيا | پر | ته | خ | را | سان | له | څو | ❀ | بيا | کښه | ته | هن | دوس | تان | له | څو |
| بيا | بيا | تو | ري | لا | کی | له | څو | ❀ | بيا | بيا | د | مه | ري | ميان | له | څو |
| بيا | بيا | د | کوهـ | لو | سر | له | څو | ❀ | بيا | بيا | به | کډ | ډي | بر | له | څو |

## (الف)

### (۱)

اور پـــوه کــــــه
ځیــنـځــی [1] پــورتـــه کـــه
چـــارګـــل د پـــه ایــرې ســوئ

### (۲)

اور پـــوه کــــــه
پیـکـــی پــرتـــه کـــه
ډېـدي [2] د پـــه ایــرې ســوئ

### (۳)

اور پـوه کــه پیـکـی پـرتـه کـه
ځیـنـځیــر د پــه ایــرې سـوئ
خــولــکــی د پـــه ایــرې ســوه
تیــکــری د پــه ایــرې ســوئ
«وی وی» د پـــه ایــرې ســوئ

---

۱. jinjǎý: یا په بله ژبه: زنځی ۲. ډېدي (dedi) یو ډول کاکړي کمیس دئ، چې د کاکړو پخوانیو ښځمنو به په غاړه کوئ. خو اوس په کاکړو کي دا فولکلورې جامې نسته، البت دا وخت د بوري په ځینو کلو کي «ډېدي» د نمونې په ډول خال خال پیدا کېدلای سي.

(۴)

اول مــــولا[۱]

نبــي نــنــګــر[۲]

عــلــي حيــدر

ســخــي ســرور

«جــلازيــي»[۳]

د «ګــوســي»[۴] غــر

(۵)

اوريـځ[۵] يــې تــکــه تــوره کــه

تــنــايــې بيــا پــه زوره کــه

بــليــا[۶] چپــه لــه کــوره کــه

شپــنــه ! ميــا[۷] د رتــولــه کــه

۱. الله تبارک و تعالی ۲ . nangar : لنګر ۳. Jálāzai :جلالزيی د سنځر خيلوکاکړو يوه لويه، غښتلې او نامداره پښه ده، چې زياتره وګړي يې په «کاکړ خراسان» پراته دي او کلا سيف الله کې پراته دي . ۴ . Gosi: د «ګوسه» مغيره حالت دئ . او ګوسه د کبزيانو (Kibziyāno) کاکړو پخواني ټاټوبی يوه خورا لويه او پراخه سيمه ده . ۵. وريځ ۶. bályā: بلا ۷ . máyā: د ميږو رمه

## ﴿ب﴾

### ﴿١﴾

بازار میان دئ خولکی راړه
لوړ مالوړ دئ خولکی راړه
بس ولیاړ دئ خولکی راړه
وړي مه جېل له خولکی راړه
اور لمبې دي خولکی راړه
غاړکی واخه خولکی راړه
پر یار کراني خولکی راړه
بې غیرتي خولکی راړه
مخلوک ډېر دئ خولکی راړه
میار نسته خولکی راړه
باران اوري خولکی راړه
یار در جار سه خولکی راړه

### ﴿٢﴾

بر کړ [1] د ژړو میني دي
مېلن د ژړو غولي دي
لیا [2] میني دي لیا غولي دي
لیا غولي دي لیا پلونه دي
لیا پلونه دي لیا لیاري [3] دي
هر خای له ژړونه راځي
برکړ له ژړونه نه راځي

﴿۳﴾

برګر د ژړو مینې دي
برګر د ژړو پلونه دي
هر ځای د ژړو ناري دي
ګایونه دي رودونه دي

﴿۴﴾

بازار میان دئ خولکی راړه
یار ولیار دئ خولکی راړه
شرم نسته خولکی راړه
شور ماشور دئ خولکی راړه
سرې غرمي دي خولکی راړه

﴿۵﴾

برګر د ژړو کیلي دي
هر ځای د ژړو ګیلي[۴] دي
نه غولي دي نه مېني دي
هر ځای د ژړو ناري دي
هر ځای د ژړو پلونه دي
هر ځای د ژړو باري دي
مېلن د ژړو ناري دي
هر ځای یه اړیلویلي[۵] دي

---

۱. Bargaṛ : په کاګرستان کې دوه برګړه دي: کم برګر او لوی برګر . ځرګنده دي وي چي د لاکی د راده پر غاړه د سپېره غره په لمن کي یو ډګر دئ ،چي خلک یې د کم برګر او لوی برګر په نامه یادوي . پر دې ډګر باندي د لوړیانو دوه کلي پراته دي ، چي پخواني ملک یې شېرا ولیانی لوڼی ژ . او اوس یې زوی ... پر مېنه پاته دي. ۲. لا ۳ . لاري ۴. کلي ۵. اړولي

(۶)

بـازار میـان دي خـولـکـیـ راړه[1]
لـوړ مـالـوړ دئ خـولـکـیـ راړه
سرې غـرمـې دي خـولکـیـ راړه
ببـیـ شیـخـي خـولـکـیـ راړه
یـار ولیـاړه دئ خـولـکـیـ راړه
سـرې تـلـوار[2] دئ خـولکـیـ راړه

(۷)

بـرکـړ د «زرو» مېـنـي دي
هـرخـای د «زرو» پـلـونـه دي
لیـا[3] پـلـونـه دي لیـا غولـي دي
بـرکـړ تـه «زرو» نـه راځـي
اوس څـه سوه نجـلـیـ نـه راځي
نـو نـه راځـي نـو نـه راځـي

(۸)

بـازار میـان دئ خـولـکـیـ راړه
لـوړ مـالـوړ دئ خـولـکـیـ راړه
تـیـکری تس کـه خولکی راړه
وه بـې شـرمـي خـولـکـیـ راړه
جیـو وجـار دئ خـولـکـیـ راړه
ببـیـ شیـخـي خـولـکـیـ راړه
دېـر تـلـوار دئ خـولـکـیـ راړه
بـازار میـان دئ خـولـکـیـ راړه

۱. راوړه ۲. تلوار، بیړه ۳. لا

﴿٩﴾

بابی تارنېي! لاس را
کادۍ راځخه ولاړې
اور پوه که پېکی پورته
ځنځی[1] د پر ایرو سوې

﴿١٠﴾

برکړ د زرو مېني دي
لیا مېني دي لیا غولي دي
لیا پلونه دي لیا باري دي
لربر د[2] زرو نه راله

برکړ د زرو نه راله

---

١. ǰanjə́y: یو ډول کاکړي زېور دئ. ٢. dá: ته

### ﴿۱۱﴾ ☆

بنګو کاکړي بیا[1]
ډاډر چي[2] لاکی غاړي
نتکو[3] بیار[4]
موږ مال له تورنګا[5]
سبا کړدو له تورنګا
بنګو کاکړي بیا

«مریواله»

### ﴿۱۲﴾

برکړ د ژړو باري دي
لیا مېني دي لیا باري دي
لیا پلونه دي، کرڅونه دي
هر ځای د ژړو مېني دي
څولونه دي بادونه دي
برکړ له ژړونه راځي

۱. biyā: راسه ۲. či: کي ۳. natko: نته ۴. biyār: راوړه، راړه ۵. toringa: څو ☆ ...... څرګنده دي وي چي دا پورته برغازی د بلوڅي په «مریواله کړدود» کي جوړه سوې ده، چي البت جوړونکی یې مری دئ. ښه خبره خو دا ده، چي زیاتره مریان په پښتو پوهیږي. او دا چي مریان له پښتنو سره سیمیان دي، نو ځکه خو د ځینو غاړو او برغازیو په جوړولوکي برخه وال دي، البت د مریانو غاړي او برغازی د پښتو او بلوڅي له تورو څخه ترکیب مومي. دوی چي ماته و کوډه پښتو وایي، نو ځکه خو دغه پورتنی برغازی ددوی د پښتو ښکارندوی ده. او دغه پورتنی برغازی موږ «دوآتشه» بللای سو.

﴿۱۳﴾

بازار میان دئ خولکی راړه
سرې غرمې دي خولکی راړه
یار ولیار دئ خولکی راړه
پروا نسته خولکی راړه
«ببی» چتې خولکی راړه
سرې غرمې دي خولکی راړه
لوړ مالوړ دئ خولکی راړه
بازار میان دئ خولکی راړه

﴿۱۴﴾

برګر[1] د «ژړو» پلونه دي
لیا باري دي لیا میني دي
لیا غولي میدانونه دي
هر ځای د «نرو» پلونه دي
چې ووزم شنه کرځونه دي

## ﴿پ﴾

﴿۱﴾

«پاتی» نری راڅوړه[2] سه
موږ سوال کوو راڅوړه سه
یا زور کوو راڅوړه سه
موږ خوله کته څوړه سه
د خدای روی دئ راڅوړه سه

۱. Bargaṛ : د کاکړستان د کبزیانو د «څاراه : cārah» په سیمه کې یو ځای دئ. ۲. راکښته، شپوه، شوه، راتا

(۲)

پــاتــو نــرۍ راڅــوړه ســـه
پـــه خــدای د وه راڅـوړه ســـه
ډېــر خــونــدکوي راڅوړه ســه
درځــــه ســي زه درځــوړه سم

(۳)

پــه غــره کــي ځـلــه بېل وتـو
زانـېــکــي ځـلــــه بېـل وتــو

(۴)

«پـاتـی» لـکـه کـتـه څوړه سـه
د خــدای روی دئ راڅـوړه ســه
زه ســوال کــوم راڅــوړه ســـه
تــلاک مـــه دئ راڅــوړه ســـه

(۵)

پــاتـو غـومبـرپــه زوره کــه
وریــځــي[1] ســـره تــوره کـــه
راځـــه میـــا را اتــولـــه کـــه
پــاتـو غـومبـر پـه زوره کـــه

(۶)

پـاتو غـومبـر پـه زوره کـه لـه کښي وریځ راتوره کـه
شپانه میا[2] راتو له که

---

۱. وریځ یې ۲ . Máyā : په کاکړي کي د مېړو و رمې ته «میا» ویل کیږي .

۷

پـاتـی نـری راځـوړه سـه
زر زر[1] لــه کـتـه څوړه سـه
پـه خـدای د وه را ځوړه سـه
یـار سـوال کـوي راځوړه سـه
سـر تـور سـردئ راځـوړه سـه
پـه قـران د وه را ځـوړه سـه
پـاتـی نـری راځـوړه سـه

۸

« پاتو! » نری درځـه ځي ځو
نـن نـه سبـا درځـه ځـي ځو
کپـی پـه پښـو کـوه ځـي ځو
دکـل کـدی[2] درځـه ځـي ځو

۹

« پـاتـو » لـه کـتـه ځوړه سـه
پـه خـدای د وه راځـوړه سـه
مـړونـه[3] دي راځـوړه سـه
توبـرونـه[4] دي راځـوړه سـه
لـورونـه[5] دي ، راځـوړه سـه
پـه قـران د وه راځـوړه سـه

---

۱. ژر ژر ، چټک ۲ کېدی ۳ . مېړونـه ، سري ، خلک ۴. تربرونه ۵ .
Lawrūna: لېورونه

﴿۱۰﴾

«پاتو» له کته ځوړه[1] سه
تر پښه د نسم[2] ځوړه سه
زه سوال کوم راځوړه سه
د خدای روی دئ راځوړه سه
تر پښه د نسم ځوړه سه

﴿۱۱﴾

«پاتوانا» وړه[3] غواړي
په مالکه یې تروه غواړي
مځکه شنه واښه غواړي
د اسمان خړي اوبه غواړي
خدای د ښه زوی درکي
سي پرغولي درته ښوري
په غولي کي د تک سه
«زوی» د اومبارک سه

## ﴿ ت ﴾

﴿۱﴾

تور پېکی اوبو له لاړه[4]
سپینه خوله له کوره لاړه
دا د یارکایو[5] له لاړه
مابه ویلده[6] دابه لاړه

---

۱. کښته ، شپوه، شوه ، راتا ۲ نیسم ۳. Wáṛa : اوړه ۴. لاړه ۵ . gāyo : خبرو ۶. wildá : ولیده

نـــاج کـــوي لـــــه کـــوره لاړه
د «بـــاجـــړ» وېـلـــو[1] لـــــه لاړه

(۲)

تـــــو تـــــو تـــــو
«شـــابـدیـن»[2] یـم د «پـــاتـو»
زه د شپـــې مـــړنـــی[3] نــــه یـم
تـــه پـــه روغ راســـه زمـــا زو[4]

(۴)

«پـاتـی» لـکـه کـتـه خوړه سـه
د خـــدای روی دئ راخـــوړه ســـه
زه ســـوال کـــوم راخـــوړه ســـه
تـلاک مــــه دئ راخـــوړه ســـه

## (ج)

(۱)

جـــــي جــــي دي مَتـــــرا[5]
مــــــابـــوبــــي نــــړا[6]
مــــا خـــــانـــدي نـــوا
ســـــرې بيــــا دی نـــوا
جـــــي جــــي دي متـــــرا

«مریواله»

---

۱. welo چې مفرد یې وياله ده: بیالو، ولو ۲. شهاب الدین ۳. maṛánáy: مېړنی ۴. . zo: د زوی مخفف دئ ۵. Matrā ۶. Naṛā

## (څ)

(۱)

څــه وړې نـجـلـۍ !څــه وړې
پــه پـلـوکـي ګـل دانــه وړې
لــه څـوانــانـو زړونـه تـه وړې

## (چ)

(۱)

چُــوري چُــوري چُــورانــي
ګــډيبــر[۱] ســـرانـــي[۲]
کــمــر کــوډي روانـــي
غرځـني چلونډي[۳] ويستلکي[۴]

(۲)

چاري[۵] مړ د[۶] بـجـارنـيـيـه[۷]
شــاشــي[۸] مــړد ګــزيـنـيـه[۹]
تـېـمبـو[۱۰] ســړي مِـلـتـړي[۱۱] آ[۱۲]

۱. gádibar: يو غر دئ ۲. پرسر باندي ۳. چلومبه ، چلونړه ۴. ويستلي ، ويشتلي ۵. چهار: څلور ۶. مرد : سړي ، کسان ، نفر ۷ بجاراني (Bijārāni) : دا په مريانو کي يوه لويه پښه ده ۸. شش : شپږ ۹. ګُزيني (Guzini) : دا د مريانو يوه بله وتلي او نامداره پښه ده ۱۰. د يو ځای نوم دئ ۱۱. Military، فوج ،اُردو ۱۲. راغله

(۴)

چـرګـی پـه خـولـو تـوره «بـایـک» راوسـتـه اوبـولـه
بایک راوسته اوبو له

## (خ)

(۱)

خـوري ادې پـرې مــه ږده
رود لــه ځـم کـالـي مینځم
نـازک راځـي کـالـي مینځم
کـالـي د خـر کـالـي مینځم

## (د)

(۱)

دسـتـکـیـره! پـرده راکـې
لـویـه پیـره! پـرده راکـې

(۲)

د چوري زرونګی پرې سوئ ډکر[1] ګـرد ژړي دانـې سوئ
ډکر ګرد ژړي دانې سوئ

(۳)

درځـه سي ځـو درځـه سي ځو
بیـا پرتـه خراسان[2] لـه ځو
«ډکر»[3] لـه ځـو ډکر لـه ځو
«مالـکند»[4] له ځو مالکند له ځو
«توبې»[5] لـه ځـو، توبې له ځو

«سامي[۶]» له ځو سامي له ځو

«لاکی» لـه ځـولاکی لـه ځو

«ولمي» لـه ځو ولمي له ځو

﴿۴﴾

دلتـــه «ژړو» نـــه راځـــي دلتـــه «ژړو» نـــه راځـــي

تللکي[۷] ده توبې له ژړو نه راځي

﴿۵﴾

د «لالو» اوربی[۸] مه ځه کاوئ زه ستـــا د پـــاره رالـــم[۹]

زه ستـــا د پـــاره رالـــم

﴿ډ﴾

﴿۱﴾

ډګـــر وچ اوبـــو لـــــه لاړه «شین خالی» پینګو[۱۰] له لاړه

شین خالی پینګو له لاړه

---

۱.dagār: ډګار ، میدان ۲ . له خراسان ځخه مراد « کاکړ خراسان » دئ . ۳ . ډګر په کاکړ خراسان کي د کاکړو جلالزیو یو بنایسته ناوه ده ۴ .Mālkand: مالکند په کاکړ خراسان کي یو غر دئ ۵ . دلته له توبې ځخه مراد « کاکړي توبه » ده. ۶ . د کاکړ خراسان تر « بادیني » نومي خای چي سړی ور واوړي ، نو سامی (sāmáy) شروع کیږي . په سامي کي شملزي توخي پراته دئ .۷. تللي ۸ . اوربی ( Orb́əy): غولی ، انګړ (اردو : انگن) ۹ . راغلم۱۰. پینـــګو (Pingo) مفرد یې پینګه ( Pingá) ده : ناور ، تالاب تالاؤ

## ﴿ ر ﴾

﴿١﴾

راځـه «سابو» راځـه ځي [1] ځو
دکـل کـډې [2] راځـــه ځـي ځـو
سـابـو نـجـلـی راځـه ځـي ځـو

﴿٢﴾

راځـــه «سبـو» راځـــه سـي ځـو
دکـل کـډې [2] راځـــه سـي ځـو
کـــرې ورې راځـــه سـي ځـو
«شاکي» لـه ځو «غبرکي» له ځو
بيـا بيـا توری «لاکی» لـه ځو
بيـا بپـرتـه «دروازی» لـه ځو
راځـــه «سبـو» راځـــه سـي ځـو

﴿٣﴾

راځـــه ورې راځـــه سـي ځـو
چـارکـل والـي راځـه سـي ځـو
دکـل کـډې راځـــه سـي ځـو
«بوری» سور دئ بوري لـه ځو
بيـا پـرتـه خـراسـان لـه ځو
بيـا کبنتـه هـنـدوستان لـه ځو
بيـاب بيـا توري «لاکی» لـه ځو
بيـا بيـا د «مري» [3] ميـان لـه ځو
بيـا بيـا د «کـوهلـو» سر لـه ځو
بيـا بيـا بـه «کـډيبر» لـه ځو

## ﴿ز﴾

﴿۱﴾

«زانګکي» خُلـه[۴] بېل وتو

تـا جـار سم خُلـه بېل وتو

کـرانـي خُـلـه بېل وتو

پـه غـره کـي خُلـه بېل وتو

﴿۲﴾

زانګـکي کـنـدا[۵] مـه کـوه زانګـکي کـنـدا مـه کـوه

زانګـکي کـنـدا مـه کـوه

﴿۲﴾

زه نـري «پـاتـو» لـه خُـم

د «ږوب» لـوړې کـه بـه مـا وړې

---

۱. چې = چې ۲. ګېډۍ، غُنچه ۳. دلته له مري څخه مراد «مرۍ قام» دئ. ۴. سره ۵. gandā: خښم، غصه

## (ژ)

(۱)

«ژړو»وطـن درپـاتـه دئ
مـوږ خـو چـارګـل د[1] دغـه دئ
د پـلار وطـن درپـاتـه دئ
مـوږ خـو ګـنـګـښ د دغـه دئ
مـوږ خـو وطـن درپـاتـه دئ
د لاس ګـنـګـښ د دغـه دئ
مـوږ خـو وطـن درپـاتـه دئ
د لاس ګـنـګـښ د دغـه دئ
د خـولـې پـېـزوان د دغـه دئ
ژړو چـارګـل د دغـه دئ
مـوږ خـو وطـن د رپـاتـه دئ
نـن نـه سبـا د رپـاتـه دئ

(۲)

ژړو غـاړه راښـکـاره کـه
توري ورځـکي[2] را ښـکـاره کـه
سـرې وزر ځـلـه خـواره کـه
لاس مـه دواړه درایـلـه کـه
مـاڅې[3] ویـلیدې[4] پـه تـن کـي
تـوري ورځـکـي مـخ سپـا
یـاره دل مـي سـوېـې ګـاره
پـه غـمـو سـوې مـو تـلا[5]

۱. دي ۲ . ورځي ۳ . چي ۴ . ولیدې ، ویلدې ۵.مبتلا ، اخته

## (س)

(۱)

«سنځر» لور رودو لـه ولاړه
مـالیده ټـالو لـه ولاړه
سره دیـار دپـاره ولاړه
دا د سر پینکو لـه ولاړه

(۲)

«سنځر» لور پینکو لـه لاړه
کار کوي اوبو لـه لاړه
سرځندي اوبو لـه لاړه
خاندي دپر کایو لـه لاړه
یـا لُوکړی[1] اوبو لـه لاړه

(۳)

سابان سردار په نري جونکي
زما یار سردار په نري جونکي
د غرو ښکار زن په نري جونکي

«مریواله»

(۴)

«سردار سابان» په مري جوکي
زما یار سردار په مري جوکي
سخي سرور
ملا دلبر
د کرد و سر
مزان میندا

پهـــــــــــه مبـــــــدا
بُـــونــــاکـــرغـــا

«مریواله»

۵

«سنـخـر» لـور اوبـو لـه لاړه
شیـن خــالـی رودو لــه لاړه
دا دیـــار کــایـو [2] لــــه لاړه
گـــودی وچ اوبـــو لـــــه لاړه
مــاخیـکـر لـرکـو لــه لاړه
ډبـر وچ پـــینـکـو لــه لاړه
شیـن خــالـی کــایـو لـه لاړه

۶

سـور د پـغـلـوتـوب [3] ســـه
تـــالـــه نـــه در خُـــم
دا واره مــــه خـــلاص کـــه
یــــا بـــه نـــه درخُـــم
ســا د پـلار تـر سپـي مـه تـر کـه
زیـــاتـــه نـــه درخُـــم

۱. Lukrə́y : چته ، مسته ۲. کایونه ، خبري ۳. پېغلتوب

### ❁﴿۳﴾❁

«سبو مبو» راځئ چې ځو
تیکری پر سر کوئ چې ځو
کپې په پښو کوئ چې ځو
«پوري» له ځو «چانګي [۱]» له ځو
یا پورته «خراسان» ته ځو
یا ښکته «نړېڅی [۲]» ته ځو

## ❁❁❁﴿ش﴾❁❁❁

### ❁﴿۱﴾❁

«شین خالی» مالو له ولاړه
مالیده رودو له ولاړه
زه پسې [۳] ځم کې خولکی راړه
د بر وچ رودو له ولاړه
دا د سر پېنکو له ولاړه

---

۱. čāngi : د حضرت میا عبد الحکیم کاکړ په مزار پوري یو رود دئ. ۲. Náṛecə́y: چینه، خېزی، څوهی. ۳. Pse : پسې : pase

(۲)

شور ماشور دئ خولکی راړه
میان بازار دئ خولکی راړه
بس ولیاړ دئ خولکی راړه
د خدای پار دئ خولکی راړه
شرم نسته خولکی راړه
تیکری تس که خولکی رړاه

(۳)

شنه کارېزه وچُوڼ[1] کېږه
زه درپسې یم و چُوڼ کېږه
دا راپسې ده و چُوڼ کېږه

## (ک)

(۱)

کېږي وږي راځه ځي ځو
راځه «سبو» راځه ځي ځو
درځه کېږي «چانکي» له ځو
لیا بیرته «دروازی» له ځو
بیا بیرته «خراسان» له ځو
توتان به خورو «بوري» له ځو
بیا بیرته «دروازی» له ځو
«رکڼ» توري «لاکی» له ځو
راځه «سبو» راځه ځي ځو

۱. čuṇ: شنهاري، چُوڼهاري، شورهاري، شوړاري، شوړهاري

(۲)

کښته کوره پې د تو سول
تو پلانکي ... پې د تو سول

(۳)

کښېنه نمر ختلی دئ
ویده و غاښ د جار سم
راځه و پښو د جار سم

(۴)

کړې وړې راځه سي ځو
کپې په پښې کوه سي ځو
تیکری پر سر کوه سي ځو
پورته «خراسان» ته ځو
هلته «کاڼوکی» ته ځو
بیا بېرته «کرکوچی» ته ځو

## (ګ)

(۱)

ګرانه چوری جوړه کې
مامر مه کې دا جوړه کې
دا زما غاړه په پوري کې
رنځوره نجلی جوړه کې
«سپره لاپې» را جوړه کې
لو خدا نتوالی جوړه کې

چارګل والی را جوړه کې
مامړ مه کې دا جوړه کې

(۲)

«ګل خاتو» شاپېری[۱]
زیاته ځو شاپېری
روان یو شاپېری
دعاګوو شاپېری

## (ل)

(۱)

لوړ مالوړ دئ خولکی راړه
بازار میان دئ خولکی راړه
سور[۲] غرمې دئ خولکی راړه
هاـ هاـ هاـ

«مریواله»

(۲)

لیا امباره لیا چینی
لیا «سره څاهان[۳]» لیا شین خالی

«کاکړی غاړه»

---

۱. ښاپېری ۲. sūr: سرې ۳.Srá cāhān: سره څاهان د کاکړ خراسان په ډکر نومې ناوه کې د کاکړ و جلالزیو یو کلی دی.

(۳)

«لاله» ځي سره ښوررړي[1]
میرړي ورې سره ښوررړي
شنه غونډیان سره ښوررړي
پلار و زوی سره ښوررړي
خورو ورور سره ښوررړي
جهان تول سره ښوررړي

(۴)

لیري دئ «رکڼ[2]»
ته «خاتو» نه ورسېدم

«کاکړۍ غاړه»

(۵)

لوړ مالوړ دئ خولکۍ راړه
«بابۍ» چتې خولکۍ راړه
بازار میان دئ خولکۍ راړه
چرګ په دوې دئ خولکۍ راړه
سرې غرمې دي خولکۍ راړه

---

۱ . ښوریږي ۲. د «رکني» او «راړه شم» په مابین کي یو ځای دئ . خلک یې «حسنیان» دي .

# ﴿م﴾

﴿۱﴾

مړه ګيان دي څي «نالي» له
کرهاني پر اوږو دي څي نالي له
تور پټکيان دي څي نالي له
لايکان دي څي نالي له

﴿۲﴾

مستانه نجلی جوړه کې
ددې غاړه راپوري کې
ما مړه کې دا راجوړه کې

﴿۳﴾

موږ څو لستوڼي پرته که
دا سره لستوڼي پرته که
چوری ستر کي راواړوه
دا سرې ستر کي راواړوه

﴿۴﴾

ما د نجلی خواکتي
اوښي په کښت کښېوتي
ما ښې په رسوا کتي
اوښي په کښت کښېوتي
ماله دغې پلا کتي
اوښي په کښت کښېوتي

﴿۵﴾

مور خو، له ژړونکوالي صبر راکې مور خو له بختوري صبر راکې

مور خو له بختوري صبر راکې

﴿۶﴾

مور خو که تورپیکی رضا ده مور خو که ورکی رضا ده

مور خو که ورکی رضا ده

﴿۷﴾

مائیکر اوبو له لاړه
مالیده «کلانه» لاړه
د ډکر اوبو له لاړه
د ډکر اوبو له لاړه
ډکر وچ پینکو له لاړه

﴿۸﴾

مور خو وطن درپاته دئ
دا خپل وطن درپاته دئ
«ژړو» تکر در پاته دئ
د پلار وطن در پاته دئ
مور خو وطن درپاته دئ

﴿۹﴾

مالیده اوبو له لاړه
دا دیار کایوله لاړه
دا د لیار شپنو له لاړه
کوډی وچ اوبو له لاړه

(۱۰)

ماستا چارګل میندلی دئ
کالداره زیری غواړم

(۱۱)

خدایه !چوری جوړه کې
مامر مه کې دا جوړه کې
نجلی له خوړو جوړه کې
دا دِک[1] یې په بل پوري کې

## (ن)

(۱)

نجلی و دیواله ته وه
دا ولاړه که دالته وه

(۲)

نجلی تر پنجره ګوري
سپور نه ګوري پیاده ګوري

(۳)

ناړي یار دُو که بیلندي
وړکی دُو که بیلندي
شین خالی دُو که بیلندي

« مریواله »

۱. dik : دق ، سیل ، نری رنځ : دق یو راز ناجوړي ده ، چې په انګرېزي کې T.B بلل کیږي .

﴿۴﴾

نـجـلـی لـه کـتـه څـوړه [1] سـه
« پـاتـی » لـه کـتـه څـوړه سـه
د خـره بـچـی راڅـوړه سـه
کسـه مـه [2] دئ بـه څـوړه سـې

﴿۵﴾

نـاري « زړو » نـاري دي
تـا غـواړي زړو نـاري دي
کـرانـي زړو نـاري دي
ایـلـه [3] د شپـنـو نـاري دي

﴿۵﴾

نـور بـدن دې خـاوري وخوري دا د « نر » ګوتي دې مه خوري
دا څلور ګوتي دې مه خوري

﴿۶﴾

نـاري « ژړو » نـاري دي
ستـا د « بـابـا » نـاري دي
نـاري ژړو نـاري دي
ستـا د « لالا » نـاري دي
نـاري ژړو نـاري دي
ستـا د « ادې » نـاري دي
نـاري ژړو نـاري دي
جـاره [4] واره نـاري دي
غـورځـه ژړو نـاري دي
ستـا د کهـلـه نـاري دي

﴿۷﴾

نـانـدانــه چوری جوړه کې
مــامــړمــه کې دا جوړه کې
دا زمـا غـاړه پــه پوري کې
مــامــړ مــه کې دا جوړه کې
نــانـدانــه نجلـی جوړه کې
مــامړه مــه کې دا جوړه کې

﴿۸﴾

نـــاري «نـــرو» نـــاري دي
پـــاس[۵] پـــر ډکـــر نـــاري دي
ستـــا د بـــابـــا نـــاري دي
نـــاري «نـــرو»نـــاري دي

## ﴿و﴾

﴿۱﴾

وړې مـــالــه خـنـدا نـــه راځـي
ستـــا د پـــاره خـــانـــدم
ستـــا دپـــاره خـــانـــدم

---

۱. کښته ، شپوه ، شوه ۲. káśa má: کســـه مـــه د «قسم مـي» مخفف دئ ۳ . مازي ۴. شا وخوا ۵. پورته ، بالا ، بره

﴿۲﴾

وه د تور پټکي څښتنه
مخ د کړی دئ پر کمه
ځې پر کمه سروبنه
په چیلم هم نه مړړې
شین لکوی د ځي تر کونه

﴿هـ﴾

﴿۱﴾

هلکانو کور مو چیري دئ
د بوري ډکر چیري دئ

## سرچینه

هغه رساله چې د زرینې پانګې په دې برخه کې لړو ډېره استفاده ځینې سوې ده، نوم یې په لاندې ډول دئ :

۞... فولکلوري سندرې، ټولوونکی او څېړونکی : سیال کاکړ، خپروونکی : د افغانستان د علومو اکاډیمي د ژبو او ادبیاتو انستیتوت، ۱۳۵۷ لمریز کال، کابل

۞...زما شخصي یادداښتونه

# د کوشنیانو سندري

پښتني احساس مجبور کم زه ودې ته
چي راټول کم «کړي مړي» د کوشنیانو

❀❀❀

«کړي مړي» په پښتو کي لوی څپرکی
پښتني فولکلوږ په دې خورا غني سو

❀❀❀

دغه ټوله اثاثه د لوی ملت ده
چي یادیږي په نامه «افغان ملت» دا

❀❀❀

ټولي سیمي د کاکړو یې کتلي
ټولي کړي دا سندري سیال کاکړ دي

❀❀❀

## د کوشنیانو و سندرو ته یوه لنډه کتنه

پښتـنـي فـولـکلور ډېر متنوع او پـه ډول ډول رنګینو مطالبو پسوللی دئ . زموږ فولکلور په دې لحاظ خورا بختور دئ ، چې لـرغونې او تـاریخي لمن یې پـه راز راز فولکلوري جواهر و ښایسته ده . دهمدې اوږدې سلسلې یوه خورا په زړه پوري او شیرینه پانګه د کوشنیانو سندري دي . دغه خوندوري سندري ډېري پخوانۍ او ښېخي ډېري زړې دي . دا امکان لري ، چې د آریایي دورې ځیني سندري زموږ و ماشومانو ته خوله په خوله او سینه په سینه را رسېدلي و ي. او همدغه جالبې سندري پـه د نـن کـوشـنیان د پښتنو و راتلونکي نسل تـه د یوه درانـه فولکلوري سوغات په ډول و رسپاري .

د کوشنیـانو سنـدري چې زیـاتـره د ‹‹ مهملاتو ››څخه عبارت دي ، د خلکو په ژبه ګـړي مـړي (gaṛi maṛi) او یا بیا ګړي ماګړي (gaṛi magaṛi)بلل کیږي . خو په حقیقت کې همدغـه ګړی مړي او یـا ګړي مـاګړي د پښتنو ماشومانو د ښه شـاعـرانـه استعداد ښکـارندوی دي . د کوشنیـانو سندري هغه منظومې خبري او خواږه ګایونه دي ، چې دپښتني چاپېریال په زړه پوري نمایندګي کوي .

د کوشنیانو سندري د بېلابیلو مطالبو څخه عبارت دي . د بـازیو (لوبو:games) څـانګـړي سنـدري وي . د مسـابقې بیا خپلي سندري وي . ارمـاني سندري بیـا بېل رنګ لري . د طنزیه او مزاحیه سندرو بیا خپل خونددئ. د بډیو ( بِجلو )سندري بیا جلا وي . د اژاتور

(اژانتُور)، آدم(الم) چو، ځینځیرکش لوبه بیامخصوصي سندري لري . دغه راز استفهامیه سندري بیا بېل خوند او ځانګړی رنګ لري .

د کوشنیانو سندري په نازکه، پسته او خوږه ژبه جوړي سوي ،چي زموږ د کرانو ماشومانو د ښه شاعرانه ذوق په زړه پوري ترجماني کوي . که څه هم د کوشنیانو په سندرو کي مهملات خورا زیات خوندي سوي دي . خو بیا هم دغه جانانه سندري خپل شاعرانه درونـدوالی له لاسه نه ورکوي . ددې فولکلوري سندررو یوه لویه کته دا ده ، چي ددې سندرو په فولکلوري غبرګي د کراني پښتو ډېر نادر ، لرغوني او سوچه توري خوندي سوي دي . او همدغه نکه توري باید د پښتو په قاموسونه کي زېرمه سي .

د کوشنیانو سندري د خندا سندري‌دي . د ساتېري سندري دي . کوشنیان د همدې سندرو په وسیله ځانونه خوشاله ساتي . یو ماشوم خاندي او نور ماشومان له ځان سره خندوي . په دې ډول کوشنیان د خپلو زړونو ژنکونه په سندررو لیري کوي . د همدې طنزیه ، مزاحیه او کومېډي سندرو برکت دئ ، چي ټر پښتنو ماشومانو باندي خپل کوشنیوالی په خندا او خوشالي راتېر سي .

هسي خو پښتنو ادیبانو د کوشنیانو سندري په ځانګړو آثارو کي خوندي کړي دي . د مثال په ډول د جناب استاد حبیب الله رفیع ، پروفېسر سیال کاکړ او ګران محمد نواز خان طائر نومونه وړاندي کولای سو. خو که چیري په لویه تاریخي پښتونخوا کي د کوشنیانو په سندرو پسې زیاته ګروېږنه او پلټنه وسي ، نو زما کلک باور دئ ، چي و موږ ته به د کوشنیانو د بېلا بیلو سندرو یوه لویه پانګه په لاس راسي . ما پخپل وار د کاکړستان د سپېڅلو وګړو فولکلوري سینې په پښتني مینه شنلي او د کوشنیانو سندري

مي ځيني را ايستلي، چي د «زريني پانکي» په دې برخه کي په مردفه‌ډول خوندي سوي دي . که چيري د کوشنيانو سندرو ي پر وخت راغونډې سوي مه واى ، نو ددې خبري امکان زيات ؤ ، چي د پښتني فولکلور دغه غوره پانګه به ډېر ژر زمونږ له لاس څخه وتلې واى .

څرګنده دي وي ، چي زما ګران شاګرد ښاغلى عبد المتين ملازى ، مرمه خېل ، سنځر خېل کاکړ ، چي په بوري کي د ډيلي (Dili) نومي کلي اوسېدونکى دئ ،و ماته يو زيات شمېر د کوشنيانو سندري راښوولي دي ،چي د « زريني پانکي» دغه خوندوره برخه زياتره د نوموړي په را ښوولو سندرو ښايسته او پسوللې ده زه د ښاغلي عبد المتين کاکړ د سپېڅلي ميني او پښتني اخلاص پوروړى يم . له ده څخه يو جهان مننه . دغه راز امير جان امير کبزيي او ښاغلي عصمت الله کبزيي و ماته د کوشنيانو زياتي سندري راښوولي دي . زه ددې دواړو ورونو د زړه له کومي منندوى يم . همدا ډول ښاغلي باز خان الميار او ښاغلي عبد الرحمن تمثيل ناسر و ماته د کوشنيانو يوه و نيمه سندره راښوولې ده . کور يې ودان او پرځواني يې برکت .

نور نو زه ستاسي زيات وخت نه اخلم . د کوشنيانو خوږو سندورته مي را بولم .په خوند يې ولولئ . او د خپلو ماشومانو په درنه فولکلوري پانګه خانونه خبر کئ :

# د کوشنیانو سندري

# (ګرېي ماګرېي=ګرېي مرې)

## الف

### (۱)

اوبښه اوبښه چوچو غاړه د رنګینه ده
لکۍ د اَربسینه ده د روب په خوا به ځي
سرې ګډوې به ګرنجوې ستا هغه مرمن[1] و یغم[2]
سي تې[3] ورله ګتې

### (۲)

اوبښه اوبښه چوچو غاړه د زربینه ده
لکۍ د اَربسینه[4] ده د روب په خوا به ځي
روړغې به ګرنجوې هغه مرمن د غیم
سي یه ته ورله ګتې

### (۳)

ای موتر د چا دئ ای د «صابرو» دئ
ډک له ښتنو دئ لاړئ پر ډېدي ځرک[5]
ډېدی ځرک ډېره وه ډېره ناخبره وه

### (۴)

اوبښه اوبښه چوچو غاړه د دَربینه[6] ده
لکۍ د اربسینه ده د «روب» په خوا به ځي
روړغې[7] به ډینګوې[8] ستا هغه مرمن ګوره

آســـــي تـــــې ورکـــــتـــــې

۵

اکـــــړي بـــــابـــکـــــړي

بـــابـــا لـــــه کښـــې راځـــي

مـــرغـــونـــی[9] تـــره کنهـــي

۶

اکــــو بــــکــــو

تيـــــن تـــــالـــــکـــــو

سوی[10] د[11] رالـی[12] پــه تـروپـکـو[13]

مـامـاجـان تـه يـا[14] را ووزه

د اوبنـــې لـــکـــی پـــرې کـــه

پـخپـل وطـن يـې کښـې کـه

وتـــــره بـــــارونـــــه

راخـلاص کـــه کـــرونـدونـــه

شـل خـلـې پـــه سـل خـلـې

کـنـزوري[15] نـوري سـل خـلـي

۱. ولاړ ۲. مېرمن ۲ . وغيم ۳ . ته يې ۴ . Arbásina: لنډی ۵ . سرک ۶ . darbina : اوړده ۷ . ږمبرغې ، ږنبرغې ۸. کړنجوې۹. ورغومی۱۰. suay : ځينې ماشومان بيا د سوی پرځای «آس» کار وي . ۱۱. دي ۱۲. راغلئ ۱۳. ترپکو ۱۴ . yā: د «يايه» مخفف دئ ۱۵. کمزوري

(۷)

اکـــو بـــکـــو
تیـــن تـــالـــکـــو
آس ولیـاړ[۱] دئ پـه تـروپـکو
و «میان خان» تـه وا را ووزه
د آسپـي لـکـی پـري کـه
پـخپـل وطـن یـې کښـې کـه
د اوښ لـکـی کـړه کـه
«بـابـو جـانـه» پـه سپـره کـه
سورکـی سپـی پسـې ایلـه کـه

(۸)

اکـو بـکـو دنبـالـکـو
«سـوی» د راغـئ پـر تبـی
انـاویـس پـر لـکـړی
خـواره سـې بـابـی
داوښ لـکـی کـړه کـئ
«بي بي جـانـه» پرسپره کئ
و کـابـل تـه یـې شـپـوه کئ

(۹)

اکـو بـکـو
دُنبـا لـکـو
«سوی» مه[۲] راغـئ پرتبی
مـا بـابـا تـه ور نـاري کې[۳]
سي د غولي کُونجک پري که[۴]

پوري وتـړه نيـلـى
دا نيلى مه د مړدکوکونجکى

۱۰

اکـو بـکـو
ديـن تـالـکـو
سوى مه وويستئ [۵] پـه شککو
«انـا» زر [۶] راځـه
د مشکي پـر وزر راځـه
د مشکي وزر پـرې کـه
پـر خپـل دا لانـې [۷] کښېـږده
بانـدي وتـړه نيـلـى
نيلى بـه خـر شنـه کـو [۸]
پـر هلکان بـه مرکـه کـو

۱۱

اکـو بـکـو
دمبـالـکـو
انـارالـه سـرې کـې
مـړکـې ويـنـو تـر لـکـې
نـه يـه هډسـتـه نـه پوښتې

---

۱.ولاړه ۲ má: مي ۳. کـړې ۴ . کـړه ۵ . وويشتئ ۶ . ژر ، چټک ۷ . دالان يې ۸ . کړو

﴿۱۲﴾

«انا» ننې راکې
نني[۱] مه وچوپان ته ورکې
چوپان وزې راکې
وزې مه و ملاته ورکې
ملا قران راکئ
قران مه و خدای ته ورکئ
خدای خور ایمان راکئ

﴿۱۳﴾

اوره اوره بل سه
د ماما تر کوره ورسه
ماما به لنکی درکې
یا به پړ ته راچکر سې

﴿۱۴﴾ ☆

انګې
بنګې
تارو تنکې
تُوت کرنی کاغذه ماغذه
جورینګ

---

۱. nanáy: نیني : nine ☆ ...څرګنده دي وي ، چې دغه پورتنی لرغونې سندره په هلمنداو شاو خوا سیمو کې پښتانه کوشنیان د ګچې ( خلیځي : x̌áliǰi، خاچ پُوچ : x̌ač puč) د ګولو پر وخت په یوخاص انداز سره وایي .)

پربرینگ
دا ترخه داکوړا
دغه پوچ که
دغه را

۞﴿۱۵﴾۞

اکو بکو
تُمبالکو
سوی دي راغئ پرتبی
ماما جان دي مرور کئ
پر دا یوه کوله ډوډی
خواره سي بابی

۞﴿۱۶﴾۞

اژنتور[1] په چپر کښې کي برَنجي
آغا راکه یو پنجي

۞﴿۱۷﴾۞

اکو ۞ بکو ۞ دِمبالکو ۞ انا راله سرې کړی ۞ مړکې ۞ ونیو تر لکی ۞ نه یه هم ستِه ۞ نه پُښتی

---

۱. د کوشنیانو د لوبي دغه خوندوره سندره په زابل کي اژانتور (ažāntūr)، چي البت همدغه د اژنتُور فولکلوري اصطلاح په کندهار کي د اژاتُور (Ažātūr) په نامه بلل کیږي .

## (آ)

(۱)

آ دُرمامدا[1] ه! غوا راوله غرمه ده
په کلي کي مېله ده
پلانی ... خواره کی مړه ده

(۲)

آبي بي لایکی
سبا به د واده کي
ډول د آدم خان دئ
سُرنا د ېتي خان[2] ده
جک نري سري دئ
تک تور پنجاپی دئ

(۳)

آسمان غمي غمي مځکه چتایی
د پولونه ځنځيري «شېرينه» به راځي

(۴)

آ بي بي لایکي کميس د ليکي ليکي
په غاړه نه غاړکی[3] لري په کوته نه کوتمی لري

۱. در محمده ۲. فتح خان ۳. ğārgə́y: غاړه کی، گلوبند

## (ب)

(۱)

بابا تللی دئ «دپرې» له
رابه سي غرمې له
ماله به ژړ کل راړي
ژړ کل به زه و خدای ته ورکم
خدای به ماته ورور راکي
وروره! وروه! زر راځه
ستا پر لنکی جنګ دئ
سور کميس مه لنډ دئ

(۲)

بابا تللی دئ مېلې ته
را به سي غرمې ته
ماته به الو راړي
الو به ورکم غوا ته
غوا به ماته پی راکي
پی به ورکم خدای ته
خدای به ماته قران راکي
وه وروره! پيدا سه
شين کميس مه تنګ دئ
ستا پر لکی جنګ دئ
زمور کره بادرنګ دئ

## (پ)

### (۱)

پــه شـنشـوبـي كـي راتـلـم
شـنشـوبـي نـار كـړى وئ
د لالا لـنـكـى تـر سـر
پـلـوڀ[۱] بـاد كـړى وئ
ادڀ غـوټ پېكـى راپرڀ كـه
لالا ښـكـار كـړى دئ
د بـابـا تـر ږيـري لانـدي
چيـنـجـو غـار كـړى دئ

### (۲)

پـه كـوځـه كـي تـرپـدم[۲]
هيـڅ پـروا نـه لـري
دكـابـل پـه پچخـانـه[۴] كي
خواره موري[۶] ورتـه نـاسـتـه

پـه دسـمـالـي وويستم[۲]
مـور و پـلار نـه لـري
ويـنـي داري داري[۵] ځـي
پـه دسـمـالـي پـاكـوي

### (۳)

پشـي پشـي مـرك نسـه[۷]
مـاښـام بـه خميره دركم
په خداى كه به كوله دركم

---

۱. پلويي ۲. تپرپدم ۳ .وويشتم ۴. pasx̌ān̄a: pacx̌ān̄a (اصل پارسي : پسِ خانه: pas-e-x̌ān̄a) ۵. ځلكي ځلكي ۶ موريي ۷ . نيسه

(۴)

پشـی پشـی مـرک نیسـه
مـاښام بـه خاکینـه درکو[1]
کسم[2] دئ کـه خاشه درکو

(۵)

پـه شنشوبي کي راتلم
شـنشـوبـي نـار کـړی ؤ
ادې غوټ پیکی راپرې کئ
بـابـا ښـکـار کـړی ؤ

(۶)

پـــړی پـــړی
پـه لـوړې کـي غـوړپـدلـی
کـه بـه دې بازی لـه نه راځي
مـورې نـوی مېـره کـړی

# (ت)

(۱)

تَـــک تَـــک
انـــا وخـــوږه خـــتک[3]
تــــوره ! لالا تــــوره !
د پـوال مــه وهــه پــه زوره
کـــه دا دپـوال ایـلــه سو
بجلي[4] دپـره ده پـه زوره

(۲)

تـــار تـــار تـــرخ چـــو
مورِ سبا «مُرغې» له خُو

---

۱. درکــړو ۲. قسم ۳. پـــه حشـــراتو کـي یو ډول خسمـــان دئ ۳. برق(electricity)

﴿۲﴾

تـــر درختـــي لانـــدي مـــار دئ
د مـــار پـــه خـولـــه کـي تـار دئ
تـــار مـــه خُـي راكـــش كـئ
پـــه تـــار پـوري د بـلـــى وئ
د بـلـــى مـــه خُـلـه خـلاص كـئ
پـــه د بـلـــي كـــي نسـوار ول
نسـوار مـــه وركـل انـاكـى تـــه
انـــاكـى مـــاتـــه نينـي راكـي
نينـي مـــه وركـي و شپـانـه تـــه
شپـانـــه مـــاتـــه اوچـكـوال راكـى
اوچـكـول مـــه وركـئ و مـلاتـــه
مـــلا مـــاتـــه كتـــاب راكـــئ
كتـاب مـه وركـئ و لـوى خداى تـه
خـداى مـــاتـــه ايـمـــان راكـئ

﴿۴﴾

تـر درختـه لانـدي مـار دئ د مـار پـه خوله كي تـاردئ
تـاري[1] زمـا پـه كـار دئ پـلار مـــه د كـــانـدار دئ
ورور مـــه تـــانـــه دار[۲] دئ اوښ مـــه پـر تـانـه[۳] گـرزي
خور مه ښايسته گرزي

﴿۵﴾

تـــر درختـــى لانـــدى مـــار دئ
د مـــار پـــه خـولـــه كـي تـــار دئ
تـــاري زمـــا پـــه كـــار دئ

یــــار مــــــه دکــــــانــدار دئ
وروره! ستــا پــر لـنـکـې جـنـګ دئ
ســــور کــمیـــــس مـــه تـــنـګ دئ

﴿۶﴾

تــــا غیـــم تــــاکـــــت [۴]غیـــم
تــــاکـــت پـــــه بـلــوڅــي غیـم
م... دي پــــــه پـــــنـــجـــي غ...

«هلمند ولایت»

﴿۷﴾

تــــه وا الــلهـم ربــنــــا ودي وه درنـــــــه بـــــلا

﴿۸﴾

تــــه وا الـــحـــمـــده ولـــوېـدم تـــر کـــنـــده
مــــاتـــه مـــي ســوه لـنـډه ځیـــري مـــي ســوه پـلـنـډه

﴿۹﴾

تــه وا الــلهـم مـصـلـي راتـولـي کـئ سپین ســري
پـــر واچــوئ کــمبــلـي ورتـــه بـنـدي کـئ لـکـړي

﴿ټ﴾

﴿۱﴾

تـــي تـــي مــنـکـوڼ مـنـکـوڼ

۱.تاریی ۲. تهانیدار ۳.تهانه ۴.tāgat

## ❁(چ)❁

❁(۱)❁

چرندک❁ د واز کوډک❁ موري بي بي❁ پلاري ازبک

## ❁(خ)❁

❁(۱)❁

خدایه! زه کوتره وای — غاړه مه کمره وای
کښته پر «لاکي» ځرای — کل مه د ماخي خوړای
ښه مین مه ښه لیدای — تور لحد مه، مه لیدای

❁(۲)❁

خدا! که زه کوتره وای — پښي مه له «مېختره» وای
کښاته[1] پر «لاکي» ځراي — کل مه د ماخي خوړای
مور و پلار مه، مه لیدای — تور لحد مه، مه لیدای

❁(۳)❁

خدایه! ما شینکي کوتره کې — پښي مه له «مېختره» کې
پورته پر «لاکي» ځرئ — کل مه د ماخي خوړئ
تور لحد مه، مه لیدای — مور وپلار مه ښه لیدای

---

۱. کښته، کته، کوزه، لاندې

## ﴿د﴾

### ﴿۱﴾

د ګــــلا د چـــــا ده　　　دا د اودلا [۱] ده
پـه کـي نـاسـتـه ګـل خـنـدا ده　　　ګـل خـنـدا غـتـه بـلـيـا [۲] ده
ګـل خـنـدا پـه مـلا نـرۍ　　　د رغـونـو شـاپـېـرۍ
سوال بـه اخـې [۳] بيـا بې ورې　　　اودلا لـه بـه ورځـې
ګل خندا به ځي [۴] راړې [۵]

### ﴿۲﴾

دا مـوتـر [۶] د چـا دئ　　　دغـه د «هـوسـی» دئ
ډک لـه سـرو ورۍ دئ　　　راوړی بـې بـخـتـی دئ
ولـيـاړ [۷] دئ پـه راده کـي　　　د رود اوبـه نـرۍ دي
راوړکي [۸] ګاځورۍ [۹] دي

### ﴿۳﴾

د «غـومبر» سپينه ګومبته [۱۰]
تـه راتـوسـه تـر تـوپـکـه
خـدايـه! مـا وبـخـښـې
زمـا مـور و پـلار و بـخـښـې
پـه کـعـبـه کـي يـوقـرآن دئ
پـه قـرآن کـي شـنـې دانـې
زه درجـارسـم ګـلـيـمـې [۱۱]

---

۱. عبد الله ۲. بلا ۳. اخلې ۴. ځين، جين ۵. راوړې ۶. Moter: متر ۷. ولاړ ۸. راوړي ۹. gǎjorә́ y خـاشـې، خـلـې، خشپـل (x̌ašpál)، خـس وخاشاک ۱۰ ګنبده ۱۱. کلمې (لا اله الا الله محمد رسول الله)

(۴)

دړه دړه دړه

کـه پـه دغـه دړه نـه راغئ

مـورې سـره غـوټـه کيـدړه

(۵)

دوکـه دوکـه ! مالـه مه راځـه

زمــا تــر شــالپـوه دئ

تابـه وخوري مابه پرپردي

يادونه : د هلمند په سمسوره فولکلوري ساحه کي دغه لاندي تشويقي سندري د ځينو ښځمنو له خوا هغه وخت ويل کيږي ، چي اتڼ د ختمېدو په آخري شيبو کي مازي يو څو اتنچياني په ميدان کي پاته سي. په ميدان کـي پـه حساب يوڅو ښځـي پاتـه سي . همدغـه لاندي دري سندري پـه ميدان کي پـاتـه سترې ښځـمنـي تشويقوي،چي بېرتـه لـه نوي‌سره په جوش او مستي کي‌راسي . او د اتڼ ميدان گرم وساتي .

(۶)

دا نــجــونــه کـوتـري دي    يــو تـــر بــل بـتــري دي

(۷)

دانــجـونــه چُـوغـكـي دي    يـو تـر بـل چــابـكـي دي

(۸)

دانــجـونــه هيـلـی دي    ســختـــي گــړنــدی دي

## (ر)

### (۱)

راځئ سي ځو توتانو له | توتانو له «خانړ[1]» راځي
راځي نجونو اوبوله | سپرو[2] خړو مندوله
نن ورځ د باران ده | سبا ورځ د توتان ده
څه نرۍ هوا چلېږي[3] | د «نازو» کډي بارړي[4]
د بدبه ده د باران | غر غړي دي د اوښان

### (۲)

رۍ رۍ رۍ | زموږ د اوښ پچه نرۍ
د روځي مږ غرارۍ[5] | د شپې ولي نه راځئ

## (ز)

### (۱)

زه شینکی کوتره وای | غاړه مه کمره وای
ناسته پر ډبره وای | کل مه د لوړې خوړای
تورلځا، مه، مه، مه لیدای

### (۲)

زما خورې در تړکه سه | زړ غوایي اور ته سه
په لهړۍ کي لمبېدې | خوا[6] د سپیني ځرکېدې
له مرو نه شرمېدې

---

۱. Xānar ۲. سپېرو ۳. چلېږي ۴. بارېږي ۵. شروشور ۶. x̌wā: تي

(۳)

زما وروره ! سُونبه سُونبه
راسه کالي واغونده تازه تازه

لور پر غونډۍ کښېنه
وزانګو[1] ته ناري که

که زانګو خولګۍ نه که در
بيا ما ته را ناري که

پرکټ به نني ويره کم
چرکي به راکړي کم

يوه به خي حلاله کم
ک... بې دموڼي دمور په غاړه کم

(۴)

ما هوسۍ ليدې
تر کېږو را غورزېدې

يوه مه خي را مړه که
پر کاکړ مه غر غړه که

کاکړ راغئ غاړي غاړي
د «بوري» غنم خو غواړي

د «بوري» غنم ترخه دي
د پلاني ... په وينو سره دي

(۵)

د «مدت» توري کړدۍ
په‌کي ناستي علي خيلي ناوکۍ

شکري جوړ يي
وسپرو تې ورکيي

پر نسپاره «شبوزيي»
پر ميدان آسپي تر پيي

(۶)

زه وړکۍ مُرغۍ ولای [2]
ناسته پر غونډۍ ولای

سر مه غوړولای وای
ادې لـه مه ور وړای وای

ادې تار تار راکړی وای
د لالا په ورامه وړی وای

---

۱. زانو ۲. وای

(۷)

زه شینکی کوتره وای — ناست پر ږېره وای
ډېره موتبره [1] وای — د خپل سهېل [2] په مخ کي وای
شنه وسره، کمره وای

(۸)

زه کِشنی [3] نجلی ولای — نوم زما هوسی ولای
په ملا باندي نری ولای — په غاړه مه غاړکی ولای

(۹)

زه کِشنی هلک ولای — نوم زما «بازک» ولای
په کوشنیانو کي چابک [4] ولای — تګ زما چابک ولای

(۱۰)

زه یو لوی سړی ولای — په ملا باندي نری ولای
په تګ باندي زمری ولای

(۱۱)

زه د کیلي [5] ملک ولای — په ګای کي ډېر چابک ولای
د ګل په شان نازک ولای — هر وخت په کلر پسي ورک ولای

---

۱. معتبره ۲. sahel: ټولی، همزولي ۳. kišnə́y: کوشنی، کوچنی، کمکی، کنکلی ۴. چټک، تېز، ګړندی ۵. کلي

﴿۱۲﴾

زه کِشـــنـــی هـــلک یـــم | پـــه ذهــن ډېــر چـــابک یــم
پـه لاس کـي سـره ګـړی لـرم | پـه غـاړه شنـه ګـنجـی[1] لـرم
پـه پښـو بـانـدي څپلی لـرم | پـر سـر بـانـدي لـنګـی لـرم
پـه هـلـکـوانـو کـي چـابک یـم | د ګـل رنــګـــه نـــازک یـــم
پـــه مـلا بـانـدي نـری یـم | د لـــوړو غـــرو زمـــری یـــم

﴿۱۳﴾

زه شیـــنـــکـــی کـــوتـــره وای
نـــاستـــه پـــر ډبـــره وای
کُـــړک کُـــړک مـــه کـــاوه
شیـــنـــکـــی غـــر ونـــړېـــده

﴿۱۴﴾

زه شیـنـکـی کـوتـه یـم | نـــاستـــه پـر ډبـره یـم
پښـــې مــــه د سـرو زرو دي | پـرې مـه پـر کـوځـرو اَدي

﴿ط﴾

﴿۱﴾

طـالـب چي څیره[3] تولـه کي | خـولـه ورتـه کـځوړه[4] کي
نـــس ورتـــه جـــوال کـــي | طـالـب دي خدای مُردار کي

---

۱. انګیا ۲. وزرو ۳. توک، وظیفه ۴. کځوړه

## (س)

(۱۳)

«سمسیاره [۱]» پر لیاره تله، دی مسېده
د «سکوو [۲]» ورور مه دئ واده
زه به وکوم مېله

## (ش)

(۱)

شین وتی زرغون وتی
په شنشوبي کي راتلم
شنشوبي نار کړی وئ
د لالک تر ملا چاړه
وتی یه باد کړی وئ

(۲)

شپانه میا د لاړه
که خولکی غواړې را واوړه
وای خواته راسه
خولکی واخه بېرته لاړ سه
یوه خولکی به درکم
دا دویمي له سبا بیا یوار راسه
میا به دپرکیان [۳] سي
په کډ به تور لوان [۴] سي
زه به خولکی درکم

خو خولکی به مه پر تا باندي تاوان سي

(۳)

شپانه «میا» در تولـه کـه
و غونډ تـه کوبی جوړه کـه

## (غ)

(۱)

غوا وه غوبنه غوا را توکه، لـه شنه غره
پـه ځوهی[5] یـه اوبوه بیا یـه بېرته خزوه[6]

## (ک)

(۱)

کشکي[7] زه کوتره وای ناسته پر ډبره وای
غاړه مه کمره وای

(۲)

کشکي زه هیلی وای ناسته پر بدنی وای
غاړه مه نری وای

(۱)

کشکی زه کوتره وای ناسته پر ډبره وای
کور مه پر «لاکی» ځاړه گل مه د ماخی خواړه

---

۱. سپه‌ساره، سه‌ساره ۲. گیشوۆ، گیسپ ( پارسي : كِشف ) ۳. تولی تولی ۴. لبوان۵. خیزی، چینه ۶. خېژوه ۷. کاشکي،(پارسي : کاش)

## (ک)

(۱)

کــوډ کــو ډی کــلا وهــي
کـلا پــه نــا رضـا وهـي
لــه نورو څـي جـليـا[1] وهـي
داســي ســړی نستــه
څي[2] دا کوډ ملا پـر ملا وهي

(۲)

کــوډ کــو ډی کــلا وهــي
لــه نــورو څــي جــلا وهــي
دونــي ســړی نستــه
چي دا کوډ کوډی پر ملا وهي

## (ل)

(۱)

لاړ[3] ســه کــنــدهــار لــه
مــالــه مــوریـنــه راړه
تــرخــه زرغــونــه راړه

---

۱. جلا ۲. چي، سي ۳. ولاړ

## (م)

(۱)

مـــا هـم يـــاري كــولـــه
خپلــه «غــاړه» مــه ويلــه
ســي ميــا مـــه ورا تــوكـــه
خـــــــر وليـــــــــاړ وئ
لــكـــى يـــه ښـــورولـــه
مـــا يــوه نـــاره پــروكـــه
يــوه مـړه وه يــوه كـړمـــه
د مـــړى عـــلاج مـــه وكــئ
د كـړمي پـه علاج نـه پهېدمه
لـپـوه كــولــمـــې د تــوســـه
زه به خاوندته څه جواب وركومه
مـاځيكـر سي كور تـه راغـم
د مرمني پـه تندي و پهېدمه
مـرمـنـي ښـرې مـــه كـوه
سحار به پر نمانځه درځخه ځمه
د بـلــي ښـې كـــه نـــه وم
و ادې ته به خوسايه[1] ورتهولومه

(۲)

«مـاجبـينـه» اوبه نه چيښي خـولــه بــه يـې تـنـاكــه سي
كور وكلى به ځين[2] پاتـه سي پـه «كـابل» كـي يو ناندانه ده
مــــورې پـــــالــــوانــــه ده

۱. خوشايه ۲. جين

(۳)

ما غومبر کاوئ
شینکی غر ونرېدئ
کي پیدا مه که ماسی[1]
پر کاکړ مه غر غره که
د کاکړ توره کړدی
په کي ناسته ناوکی
کارکیي[2] په سرې اِنځی[3]

# (ن)

(۱)

ناست وم پر ډېره ۔ دا سپرکی مُرغی مه ویستای په لکره
دا انا جواري د کرد و تکول ۔ تسپې مه اړولای
تسپې د شهیدانو د غابښو وای

(۲)

نري نري باران دئ ۔ کمیس مه د الوان دئ
د خره پر غوږو سپور وم ۔ خره را لاندي ډتي کي
بښه ۇ خلک نه وو ۔ له خندا به راته مړه وو
کولک[4] به مه سپېره ۇ

---

۱. y.mās :ə جراپه ، جوراپه ۲. کوي ۳. نیخی ۴. kolak : کُولک(kulak)

## (و)

وه بابا ظالمه — زما خبر واوره بیا ځمه
ما ځله[1] ودیې[2] — پر بَن ورکئې[3]
پر سره اور مه کړیې — زه کله مېره کوم
زه د پلار پر کور کښېنم — بښې و ښادی ستا دي
لیا دادي لیا د ماما دي

## (۲)

وه خواري ترلې — لونی سوې څه کئې[4]
ته پر بر د بروځې — د لاسو کوتي سمرې[5]
هر ځیارت[6] له ځله ځې — لونی[7] پر دنیا سوې
دغه یو سوال به منې — زمو پۀ خوا بـه نه راځې

## (۳)

ودره[8] پر غولې — که نه درې پر غولي
پر غ... به د راوځم — د پوات[9] غر به د کوري

## (۴)

وا د خم پر لک — کور پر کور د ښوورومه
سي در وښیم سبک[10]

---

۱. ولي ۲. ود وې ۳. ورکوې ۴. کوې ۵. شمېرې ۶. زیارت ۷. لیونی
۸ ودرېږه ۹. Páwāt .۱۰. سبق ، درس

### (۵)

ورندیاري[1] زوی د زاړي — غیمه سي زاړي
پلاري[2] دکاندار دئ — زانکوی[3] د ورته راړي
زانکو تال کړي[4] — هلک شین له خندا کړي

### (۶)

وختم وغروته — راکښته سوم اوبوته
لاړم د ماما کره — ماما ته مه ول زر راځه
د زري پر وزر راځه — په خپل وطني[5] کښېږده
بي بي نوره پر سپره که — تور سپی پسي ایله که
چاپړاخي[6] ورسره که — اوښه ! دري تره ایله که

### (۷)

وه پوري غوبه[7] — غوا راځوري[8] که له غره
په څوهی[9] یه اوبوه — بیا یه بېرته خېژوه[10]
غو غو غج کچی

---

۱. ورېنداري ۲. پلاریې ۳. زانکو، ځانکو ۴. کیږي ۵. وطن یې ۶. čāpṛāx̌i: چپلاخي، چلاخي، څاپیړي ۷. ğoba: د کوشنیانو په بازیو (لوبو) کي یوه ډېره خوندوره او په زړه پوري لوبه د غوبه (ğoba) ده. د کاکړستان په کلتوري او سندریزه خاوره کي انجوني د غوبه لوبه په دې ترتیب کوي: دوې انجونې راو لاړي سي، یو وبل ته لاسونه سره ورکړي. او بیا پر له څرخي. او همدغه د «غوبه» خوندره سندره بیا د خپل ځانګړي کسر «غو غو غج کچی» په ملتیا په یو خاص آهنګ سره وایي. ۸. راکښته، شېوه، شوه، تا. ۹. خېژی، چینه ۱۰. خېژوه

## ﴿هـ﴾

﴿۱﴾

هغه ده لاړې رالـه[1] مستـه پـرنـګـۍ رالـه
سم څرکـي[2] جـوړکـئ د هندوانو پـر کلـۍ[3] رالـه

﴿۲﴾

هـنـدو کـرګـنـدو مـوږ د نـه راکـړو
مـا ولـېړې[4] بـنـګـوتـه تا راړو[5] د «وهاري»[6] تمباکو

﴿۳﴾

هـلـکـه ! غـول مـلـکـه د سـر چـاړه دي ورکـه
بـازارکـي ګـرزېـدې يـو مـڅک نـه ارزېـدې

# ۞ مأخزونه ۞

هغه آثار چې د رزېني پانګي ددې جانانه برخې د ليکني په وخت کې زما تر نظر لاندې پاته سوي دي ، نومونه يې په لاندې ډول دي :

۞ ... د خلکو سندرې ، ټولوونکی او څېړوونکی : جناب استاد حبيب الله رفيع ، خپروونکی : د افغانستان اکاډيمي د تاريخ او ادب ټولنه ، چاپکال : ۱۹۷۰ ميلادي ، کابل

۞ ... په پښتو کښې د ماشومانو سندرې او صوتونه ، ليکوال : جناب محمد نواز خان طاير ، خپروونکی : پښتو اکاډمي ، د خپرېدو کال : ۱۹۸۸ ميلادي ، پېښور

۞ ... پښتني فولکلور ، ليکوال : سيال کاکړ ، خپرندويه ټولنه : پښتو ادبي شپول : چاپکال : ۱۹۷۱ ميلادي ، کوټه

۞ ... زما شخصي يادداښتونه

---

۱. راغلـه ۲. څرکې :سرک يې ۳.کوڅه ۴ . ولېږې ۵ . راوړو ۶ . Wáhāra : د بورې په سيمه کې يو کلی دئ .

# پښتو کیسی

پـه «کیسیو» د کوشنیـانو سات تېرېږي
څکـه سیـال را ټولي کړي دا کیسی دي

دا کیسی دي کـه اړونـه خوند یې یو دئ
پـه خوشالـه ماشومان د پښتونخوا دي

اچـوي چـي دوی کیسی پـه پستـه ژبـه
نه ځـایږي پـه جـامو کي کوشنیان زموږ

ښـه روزنـه پـه کیسیو د چـا کیږي
خـوندي کړي سیال کـاکړ پـه دغـه وجـه

# د پښتو و کيسو ته يوه لنډه کتنه

پښتني فولکلور چې د ټولو پښتنو يوه ګډه سرمايه او ملي اثاثه ده ، پخپله فولکوري غبږ کې د کړاني پښتو شفاهي کيسيو ته ځاى ورکوي . همدغه کيسى په هندي کې پہیلی (Páheli) ، په اُردو او سندي پہیلی، په پنجابي او هندکو کې بُجهارت (Bujhārat) ، په انګريزي کې ريډل (riddle) ، په بلوڅي کې چاچ (Čāč) اوپه براهوى کې چاچا (Čā ča) بلل کيږي . دغه راز په عربي کې وکيسى يا اړ (Ar) ته لُغز (Lūǧz) اويا يا معما (Muamā) وايي ، په عربي کې دلُغز جمع الغاز (Algaz) ده .موږ په پښتو کې د« لغاز» (Láǧāz) او «لغازي» (Laǧāzi) توري کاروو، زما په فکر د پښتو ددغه دواړو تورو ريښه (Root) د عربي په لُغز پوري نښلي . او د پښتو د لغاز او لغازي توري د همدې لُغز څخه جوړسوي توري دي . پخپله د پښتو په لغاز کې رمز (Ramz) او پېچلې ګاى پټ دئ . او همدغه رمز د عربي په لُغز او د پښتو په اړونو کې موجود وي . په عربي کې د لُغز په څنګ کې و کيسى ته معما هم ويل کيږي.

په پارسي کې يا و کيسى ته چيستان (چيست آن ؟ ) وايي. او ارواښاد حسن عميد د خپل درانه اثر« فرهنګ عميد»د دوهم ټوک پر ۱۷۱۹ مخ باندې د چيستان په مقابل کې د : « بردک » ، « پردک» او«کردک» کلمات هم راړي دي. نوموړى استاد په پورتنې فرهنګ کې په دې باره کې داسې کاږي : « لُغز را درفارسي چيستان (چيست آن ) مى گويند۔ بردک و پردک وکردک ہم گفتہ شدہ۔ »

خو په لویه تاریخي پښتونخوا کې بیا د پښتني فولکلور دغه لرغونی او خوندور ډول په بېلا بیلو نومو سره یاېږي . ځیني پښتانه یې اړونه ( aṛuna ) بولي . ځیني خلک بیا ورته دُوڼۍ (duṇə́y) چې مفرد یې دوڼه (duṇa) ده ، وایي . او همدهه کیسی ځیني خلک بیا د ټکونو (ṭákunu) په نامه یادوي .

خو خیر ... کیسی په هر نامه چې یادي سي ، خوند اور رنګ یې یو دئ . د پښتنو پر دې ملي اثاثې باندي پېړی پېړی تیري سوي دي ، خو ارځښت او اهمیت یې پر خپل ځای پاته دئ . د کیسیو خوند هغه وخت ؤ ، چې پر پښتني نغریو باندي پښتانه ماشومان به را کړه ول . او یو وبل ته به یې کیسی سره اچولې . نو د همدغه نغریو په برکت پښتو کیسی تر دا وخت پوري ژوندی پاته سوي دي .

په پښتو کي زیاتره کیسی منظومي دي. دغه درنه پانګه په سوچه تورو او خوږو کلماتو پسوللې ده . ژبه یې ښخي ساده او عامیانه ده . زیاتره منظومي کیسی هنري بڼه لري . او د دیواني شاعري غوندي د « قافیــو» مراعات په کې لیدل کېږي . ځیني کیسی د سوال او جواب پـه صورت کي وي ، چې مور ورته جوابي کیسی ویلای سو . ځیني کیسی بیا تمریني یا په بله ژبه ورزشي شکل لري . دغه راز د کیسیو یوه لویه برخه بیا په « نثري کیسیو » پوري اړه لري .

ځرګنده دي وي ، چې د پښتو ځیني منظومي کیسی د ادبي جوړښت (Compsition) په لحاظ ګټ مټ و کاکړی غاړو ته ورته دي . البت سیلابونه یې توپیر سره لري . خو د پښتو ځیني منظومي کیسی د غاړو غوندي زمزمه کېدلای سي .

د دنیا زیاتره ژبي خپلي خپلي کیسی لري . او د هر ملت وګړي وخپلي فولکلوري پانګي ته په درنه سترګه ګوري . پښتانه

ادیبان باید د کراني پښتو ټولي کیسی د خلکو له سینو ځخه را وباسي . او بیا وروسته یې په ځانګړو آثاروکي خوندي کړي . په همدې کیسیو به د پښتنو د راتولونکی وخت کلالي ماشومان خپل سات تېر وي .ځکه چې دغه کیسی د ذهني روزني لپاره بهترین خوراک دئ . او په قول د شمس الادبأ جناب حبیب الله رفیع : «کیسی د پښتنو ماشومانو یوه فوق العاده سرګرمي ده . همدا کیسی یوه ډیره فوق العاده ، مفید او ګټوره ذهني مسابقه ده .»

ما خپل کوشنیوالی د خپل کلي پر پښتني نغري باندي را تېر کړی دئ . نو ځکه خو پښتو کیسی را باندي ګراني دي . تر ا وسه پوري مي ډیري کیسی په یاد زده دي . او د یوه فولکلوریسټ په صفت خورا زیاته مینه ورسره لرم . پر پښتو کیسیو باندي زما لومړی کتاب« پښتني افکار» د یوې خوندوري ځېړني په ملتیا په ۱۹۶۹ میلادي کال ادبوالو ته وړاندي سو . اوس دا دئ ، بیا د پښتو کیسیو یوه درنه پانګه د همدې نیمګړي کتاب په دې برخه کي د الفبا په ترتیب ستاسي و درانه حضور ته وړاندي کیږي . و یې لولئ . او پخپله فولکلوري ورثه ځانونه خبر کئ.

## پښتو کیسی په چاپي آثارو کي

پښتني فولکلور په دې لحاظ ډیر بختور دئ ، چې تر ختیځ پوهانو (Orientalists) را وروسته په لویه تاریخي پښتونخوا کي د ځینو خوږمنو پښتنو د پام وړ ګرځېدلی دئ . له نومیالي فولکلوریسټ او منلي استاد محمد ګل خان نوري ځخه را نیولې ، بیا تر دې وخته پوري پښتني فولکلور د ملي ادیبانو په همت را غونډ سوی ، ځېړني پر سوي او بیا په ځانګړو آثارو کي، خوندي سوی دئ . پخپله پښتو کیسی چې د پښتني فولکلور یو سمسور ځپرکی تشکیلوي ، د ځینو پښتنو

ادیبانو په زیار او خواري په ځانګړو آثارو کي خوندي سوي دي ، چي دلته ځيني کتابونه او رسالې په لنډه توګه و تاسي ته در پېژنو :

## ۱.پښتو قيصې

پښتوقيصې چي دوې برخي لري ، « اوله برخه » يې د پښتو نوميالي پوهاند اروابښاد صديق الله خان رښتين راټوله کړې او کښلې ده . دغه راز د همدې کتاب «دوهمه برخه» غښتلي ليکوال اروابښاد غلام رحمن جرار ليکلې او را غونډه کړې ده . په دې ۱۶۴ مخيز کتاب کي ، چي په ۱۳۳۱ لمريز کال د کابل پښتو ټولني خپور کړی دئ ، پخپله خوږه ، پسته او نازنينه فولکلوري لمن کي يې ۱۷۰ خورا خوندوري ، جالبي او په زړه پوري قيصې خوندي کړي دي .

د همدې کتاب په« دوهمه برخه» کي اروابښاد جرار پر ۱۴۹ مخ باندي «۵۱» د کراني پښتو کيسې د ځينو جوابونو په ملتيا زېرمه کړي دي . د اروابښاد جرار دغه زيار د ستايلو وړ دئ . او په دغه خوندور فولکلوري کار به يې نوم تل ژوندی پاته وي .

## ۲.د خلکو سندرې

د پښتني فولکلور په لويه دنيا کي « د خلکو سندرې» يو خورا جامع (Comprehensive) ، خوندوره،په زړه پوري او معلوماتي اثر دئ ، چي شمس الادباء کران حبيب الله رفيع پخپل دې درانه ځېرنيز کتاب کي د پښتني فولکلور بېلا بېل ډولونه په مفصل ډول څېړلي دي . چي ۳۲۲ مخونه لري ، د پښتو دغه زرين کتاب د لوی استاد پوهاند علامه حبيبی د لنډې مقدمې په ملتيا په ۱۹۷۰ ميلادي کال « د افغانستان اکاډمي د تاريخ او ادب ټولني » له خوا خپور سوی دئ .

له بله مرغه ، د همدې کتاب تر «۴» شمېرې لاندې «کيسې» راغلي دي . جناب استاد رفيع پخپله ليکنه کي پښتو کيسې په ښه ډول څېړلي دي . او بيا وروسته يې د کراني پښتو ۲۵ کيسې د جوابونو په ملتيا د نمونې په ډول را وړي دي . په حقيقت کي «د خلکو سندرې» د پښتني فولکلور په دنيا کي د يوه معتبر او مستند مأخذ حيثيت لري .

# ۳.ټکونه (دمازغو جنګ)

د پښتني فولکلور په غوړېدلي ګلستان کي ټکونه (ṭakuna)نومې وړه رساله د مردان د «سميلا» اوسېدونکي جناب همېش ګل همېش ليکلې ده . په دې خوندوره او کتوره رساله کي د پښتو خورا ډېر ټکونه يا په بله ژبه پښتو کيسې خوندي سوي دي . د چاپ کال نه لري ، خو زما د معلوماتو له رويه د ۱۹۷۰ ميلادي کال را وروسته د پېښور «عوامي کتب خانه» چاپ کړې ده .

د همېش ګل همېش دغه درنه رساله ۳۲ مخونه لري . نوموړې پر دې کتوري رسالې باندي د «نوی کوشش» تر عنوان لاندي تقريباً دوه نيم مخونه سريزه ليکلې ده . او ښاغلي همېش پخپله مقدمه کي د ټکونو او پښتني حجرې په باب د خپل کوشنيوالي زاړه يادونه تازه کړي دي .

ګران همېش خپله قيمتي رساله پر ۱۴ بابونو وېشلې ده . په لومړي باب کي ۱۴ په دوهم باب کي ۱۳ ، په دريم باب کي ۱۳ ،په څلورم باب کي ۱۲ په پنځم باب کي ۱۰ ، په شپږم باب کي ۱۲ ، په اووم باب کي ۱۳ په اتم باب کي ۱۱ ، په نهم باب کي ۱۶ ، په لسم باب کي ۱۱ فولکلوري ټکونه راغلي دي . البت په څوارلسم باب کي د مؤلف خپل يو شعر د کيسې په صورت کي راغلی دئ ، چي د فولکلور په تعريف کي نه سي راتلای . ويلای سم ، چي د همېش ګل همېش په خوندوره رساله

کي ټول ۱۶۱ ټکونه د ځوابونو په ملتیا راغلي دي . ځرګنده دي وي ، چې د نوموړي لیکوال په رساله کي د ټولو ټکونو ځوابونه د رسالې په پای کي د بابو نو په ترتیب راغلي دي . د پښتني فولکلور په دنیا کي د همېش ګل دغه خوندوره او ګټوره هڅه د ستایلو وړه ده .

## ۴.پښتني افکار

پښتني افکار یا په بل عبارت پښتو کیسۍ د سیال کاکړ یو فولکلوري اثر دئ . په دې اتیا مختیزه کتاب کي د پښتو یو زیات شمېر خوندوري او په زړه پوري کیسۍ د یوې ژوري څېړني په ملتیا په الفبایي ترتیب د ۱۹۶۹ میلادي کال د جولایي په آخر کي وړاندي سوي دي . د کتاب خطاطي اروابناد نذیر خیال کړې ده . د لیکوال دا اثر به د پښتو په فولکلوري دنیا کي یو ارځښت ولري که نه ؟ د اقضاوت به د راتولونکي وخت پر نقادانوباندي پرېږدو .

امکان لري ، چې په لویه تاریخي پښتنونخوا کي به نورو درنو ادیبانو پښتو کیسۍ راغونډې کړي او یا څېړلي وي . خو زه په دې باره کي هیڅ معلومات نه لرم . هیله ده ، چې ښاغلي ادیبان او نقادان به ما وبخښي .

## ۵. د پښتو ولسي ادب لاري

اروابناد دوست شینواری یو نومیالی څېړونکی ، پیاوړی شاعر ، منلی ادیب او غښتلی فولکلوریسټ ؤ . د پښتو دې نیازمن لیکوال پخپل دې ګټور ، خوندور او څېړنیز کتاب کي د نورو ډېرو موضوعاتو په څنګ کي پښتو اړونه د «کیسۍ» تر عنوان لاندي په خورا عالمانه ډول څېړلي دي .

د اروابناد دوست شینواري دغه پورتنی کتاب په ۱۳۵۶ لمریز کال

پښتو ټولنې خپور کړی دئ . نوموړي پخپل ۴ مخیزه لیکنه کې پښتو کیسې پخپل ځانګړي انداز د خوندورو نمونو په ملتیا ځېړلي دي . اروا دې ښاده وي .

## ٦. فولکلوري ګېډۍ

د پښتو غښتلی فولکلوریسټ جناب علي محمد منګل د پکتیا په تاریخي او کلتوري حوزه کې د پښتو یو شمېر منظومې او منثوري کیسې را غونډې کړي او بیا یې د «فولکلوري ګېډۍ» تر عنوان لاندې په ۱۹۷۶ میلادي کال د کابل د پښتو ټولنې له خوا ادبوالو ته وړاندې کړې دي . په دغه ۲۰۰ مخیزه کتاب کې ګران منګل د نورو موضوعاتو په څنګ کې د ګراني پښتو« ۱۳۸» اړونه د ځینو تشریحاتو په ملتیا خوندي کړې دي . په دې کیسیو کې منظوم اړونه لږ او منثور یې زیات دي . دغه ۱۳۸ اړونه د پورتني کتاب په دریم باب کې د کیسې ( وښیه ، څه شی دئ ؟)تر سر لیک لاندې په یوه ډېره ښایسته او خوندوره پیرایه کې ځېړلي دي .

## ۷. د غرونو څوکې

د ګران عبد الکریم پتنګ دغه فولکلوري کتاب د کابل پوهنتون « د فلالوژي پوهنځي » په ۱۳۵۹ لمریز کال خپور کړی دئ . ښاغلي پتنګ پخپل دې ګټور اثر کې پښتو کیسې په مفصل ډول ځېړلي او خوندور مطالب یې ادبوالو ته وړاندې کړي دي . نوموړي لیکوال پخپله ۱۲ مخیزه لیکنه کې د «کیسې» تر عنوان داسې خوندوره او عالمانه څېړنه کړې ده ، چې د راتلونکې وخت فولکلور څېړونکی به استفاده ځینې کوي . کشکې دغه ګټور کتاب په اساني سره ویل کېدلای .

## ۸. د پښتو شفاهي ادبيات(شکل اومضمون)

د پښتني فولکلور په لويه دنيا کي به د غوتۍ خاورې دغه خورا کتور او دروند اثر تل ژوندی پاته وي . دغه ۲۵۲ مخيزه کتاب په ۱۹۸۸ ميلادي کال د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز خپورکړی دئ .

په دې ارځښتناکه اثر کي د پښتني فولکلور بېلا بېل اصناف په ښه ډول څېړل سوي دي . ددې اثر تکړه ليکوالي د پښتني فولکلور د نورو ډولونو په څنګ کي د کتاب پر ۴۱ مخ باندي تر ۱۳ شمېرې لاندي «کيسی» راوړي او د مثالونو په ملتيا يې څېړلي دي . پر پښتو کيسو باندي د غوتۍ خاورې ۵ مخيزه ليکنه ښه خوندوره او په زړه پوري ده .

## ۹. متخل

متخل(Maṭx̌ál) د پروفېسر صاحبزاده حميد الله يو معلوماتي او فولکلوري اثر دئ ، چي په ۱۹۸۹ ميلادي کال د کوټي پښتو ادبي بورډ خپور کړی دئ .په دې خوندور کتاب کي اووه کځونې (څپرکي chpters:)راغلي او په هر کځونه کي بېلا بېل معلومات زېرمه سوي دي .

البت د متخل په اوومه کځونه (káconạ)کي د پښتني فولکلور ځانګړی صنف کيسۍ (kisə́y) خوندي سوي دي . د پښتو پياوړي ليکوال جناب صاحبزاده حميد الله په دغه مخصوصه کځونه کي«۲۴۸» خورا په زړه پوري او جالبي کيسۍ د خپلي ۷ مخيزي ليکني په ملتيا ادبوالو ته وړاندي کړي دي .

خو ځرګنده دې وي ، چي تر ښاغلي صاحبزاده حميد الله ډېر وړاندي په لره او بره پښتونخوا کي بېلا بېلو اديبانو او فولکلور څېړونکو د

پښتو کيسې را غونډې کړي او په عالمانه ډول يې څېړلي دي . خو جناب صاحبزاده پخپله «اوومه کڅوړه» کې نه خو د کيسيو په باره کې د يو چا د ليکنې ذکر کوي . او نه د چاپي آثارو سر چينې او منابع ښايي . چې البت په داسې څېړنيزو کارونو کې مأخذونه را وړل ډېر ضروري وي . نو همدغه وجه ده ، چې د ښاغلي صاحبزاده په متخل کې خورا زياتې کيسې په تکراري ډول راغلې دي . خو بيا هم د کران صاحبزاده دغه کار او فولکلوري زيار د قدر وړ دئ .

## ۱۰. په پښتو کښې اړ

ډير ښه مې په ياد دي ، چې په ۱۹۹۳ ميلادي کال په باره کلې کې د پېښور د پښتو اکاډمۍ له خوا د پښتني فولکلور په باره کې يو درې ورځنی خورا درونده او په زړه پورې سېمينار جوړ سوی ؤ. په دې څېړنغونډه کې زما مقاله هم شامله وه ، چې پس له اورولو کران پروفېسر داور خان داؤد زما د نيمګړې ليکنې زياته ستاينه وکړه . په تېره بيا زما په مقاله کې يې د پښتو کيسې ډېرې خوښې سوې . او راته ويې ويل : «که ژوند ؤ ، زه به پر «پښتو اړونو» باندې يې.ايچ .ډي کوم.»

بالآخر جناب پروفېسر داور خان داؤد په ۱۹۹۷ ميلادي کال يې «پښتو فولکلور کښې اړ» تر جاذب عنوان لاندې يو خورا خوندور ، کټور او په زړه پورې څېړنيزه کتاب ، چې ۲۶۳ مخونه لري ، وکيښ . په دې ډول نوموړي ليکوال خپل زوړ ارمان تر سره کئ . زما په فکر دغه درونده اثر په څېړنيزه حواله د څان سارى نه لري . او په راتلونکي وخت کې به دغه کوټلي څېړنيز کتاب يو مستند او معتبر مأخذ ګڼل کيږي .

د پروفېسر داور خان داؤد دغه قيمتي کتاب د پښتو نوميالي ليکوال او پياوړي خطاط کران سيد محی الدين هاشمي ليکلې دئ . او

ارواښاد ډاکټر فضل الدین خټک د پښتو پردې کټور کتاب باندي « اړونه د پښتو د فوک لور یوه برخه » تر سر لیک لاندي یوه خورا درنه او عالمانه مقدمه لیکلې ده . د پروفېسر داور خان داؤد کتاب درې برخي لري . لومړۍ برخه تمهید، دوهمه برخه ضمیمه او په درېیمه برخه کي د کراني پښتو ۴۴۳ اړونه په الفبایي ترتیب خوندي سوي دي . زه پخپل وار و خواریکښ لیکوال او پیاوړي څېړونکي جناب پروفېسر داورخان داؤد ته د داسي کټور او مستند کتاب په لیکلو د زړه له کومي مبارکي وایم . پروردګار دي زموږ و دې مخلص او غښتلي عالم ته ښه ژوند ورکړي ، چي پخپل پاته عمر کي د کراني پښتو په ښایسته او تاریخي اوربل کي لا نور رنګا رنګ ګلان وروټومبي .

## ۱۱. اړونه ، ټکونه او دوړې

د پښتنو خواخوږي لیکوال ښاغلي سراج الاسلام سراج پر دې پورتني عنوان باندي یوخوندور کتاب لیکلی ، چي البت د چاپ په انتظار دئ . نوموړي لیکوال ددې فولکلوري اثر په ښایسته لمن کي د کراني پښتو« ۵۰۰ »کیسې د الفبا په ترتیب خوندي کړي دي .

په دې باره کي پروفېسر داورخان داؤد پخپل کټور تألیف چي « پښتو فولکلور کښې اړ » نومیږي ، و موږ ته ته داسي معلومات راکوي : « د اکوړي سراج الاسلام سراج یوه مسوده چي « اړونه ،ټکونه او دوړې » نومیږي ، په کال ۱۹۶۱ عیسوي کښې لیکل شوې او پښتو اکېډیمۍ پېښور ته ورکړې شوې ده . دا مسوده ۱۴۷ مخونه لري . او پنځه سوه اړونه په کښې د حروف تهجي په ترتیب درج کړې شوي دي . دا د اکېډیمۍ د قلمي نسخو په رجسټر کښې په ۳۶۷ نمبر درج ده . »

کـه څـه هم د ښاغلي سراج الاسلام کتاب تر اوسه پوري خپور سوی نه دئ . خو د خلکو د خبرتیا په خاطر یې دلته ذکر وسو . خدای دي

وکړي ، چې د نوموړي ليکوال دغه ناچاپ کتاب ژر چاپ او خواري يې برباد نه سي .

هسې خو په لويه تاريخي پښتونخوا کې د پښتو نورو... ليکوالو هم د پښتو کيسې را غونډې کړي او څېړني يې باندې کړي دي ، چې د هر چا کار پر خپل خپل ځای د قدر وړ دئ . په دې باره کې د ، اروا ښاد پروفېسرافضل رضا ، اروا ښاد رضا همداني ، عبد الحق نسيم . کران زلمي هېواد مل زيار او کار دستاينلو وړ دئ . پرته له دې کسانو که چيرې نورو... اديبانو د پښتو کيسې را غونډې کړي او يا څېړلي وي ، نوله بده مرغه و ماته ېېخي نه دي معلومې . هيله ده ، چې د پښتو کيسيو درانه ټولونکي او څېړونکي به ما وبخښي .

## ❁❁﴿الف﴾❁❁

❁.... ای وبی ❁ مېږ و ورې

❁....اَت وبَت ❁ ږيره و برت[1]

❁....ای ډکر کيدړ خوندلی[2] ❁ ډينګ په مړو بر خوندلی

❁....اړونډې بابړونډې ❁ د مور خ ... دي څوړونډې=تې، بجې، خواوي

❁....ارلمني ❁ بر لمني ❁ يو کميس اتيا لمني =قرآن شريف

❁....ارکه ده با ارکه ده ❁ څلورې کوناټې يوه يې ستر که =کوټه ،خونه، منډو

❁....اوښ ولاړ ❁ لړمونې لاړ = ښار ، بازار

❁....اړنده بابړنده ❁ په مور دي خ... څوړنده =تې ، بجې ، خواوي

❁....اکري ❁ بابکري❁ له کښې بابا راځي ❁ مرغوني ❁ تره کيي = د کښي جارېدل ، سخوښتی ، ږمونځ ، اوزی =کښی

## ❀❀❀(پ)❀❀❀

❀....په کاړ[3] کې چنچوره[4] پټه ❀ عورته له مړه پټه

❀.... په کاړ کې دربلی ❀ لېوه یووړه سپینکۍ وری

❀....په سخر کوډې څرږي[5] ❀ خولې یه خلاصي نه توېږي[6]

= د وزې تې

❀....پړ وچ راغه کړکه تښتي ❀عورته له مړه تښتي

❀.... پړ لیار څم ❀نرې پاستې غورخوم = کړنګ

❀....پړ لیار څم ❀ په ښوتو[7] لاس منډم = د مږو غار

❀.... پړ لیار څم ❀ له ریچو ډک مړکی خورم = انځر

❀....په آسمان کې کړکه وړکه ❀د ماما آسپه له بیاڼې سره ورکه

❀....په اړتنګې کې کاړه❀ زړه خړه ورته مُرداره

❀....په کندار[8] کې اوښه مړه ده ❀ وېنې زما پړ لاس پړ ته ده

❀.... په ترخه کې وڼی ❀ د پېلغې[9] نجلۍ تی

❀....په پړښه کې سرپ ❀ څلور زویه د یسپ

❀....پړ وچ راغه مه لاس لوند[10] سوۍ؟ = مېږه لنګه سوه

---

۱. برېت ۲. Xūndálay: کېندلی ۳. kāṛ: مانده، خوړ ۴. چمچې کاکړي چنچرۍ: Čančáráy ۵. څرېږي ۶. توېږي ۷. Ṣáwatu: غارو ۸. کندهار ۹. پېغلي ۱۰. نوند، لوند، کاکړي:

❀....په آسمان کې تبخی ❀ پر مځکه تور توی ❀ یې خدایه! څوکې نه سي مروایه = مړیان، مېړیان

❀....پاتو پاتو پلنه ❀ سل اویا لرکې په ک... = تبۍ

❀....په آسمان کې ییا له ځي ❀ تور مار په ازانکه ځي

❀....په آسمان کې کربوړي ❀ زموږ په کلي کې خروړي

❀....پل به د پر خوله ږدم ❀ ښی لاس به د پر خوله ږدم ❀ ته هغو به د ایله نه کم ❀ سې جک درکې کښې نه ږدم = مچن، مېچن

❀....په کور کې چمچه[9] پته ❀زاییه له مره پته

❀....پوري په گله کې ❀زما د انا سپین سکوتی جونګی

❀....پلار دي په وره را ځرېدئ ❀غ ... یه ورانه را ځرېدئ = خرک او ګوداره

❀....پر لرکانې مرغان ❀پر برکانې مرغان ❀که یواري هندو سوې ❀ بیا به نه سې ته کیامته مسلمان

❀....پـه تکـه توره خونه کې ❀ مـا وخره تـه ځوز ور واچوئ ❀ خره و ماته ک... واچوئ

❀❀❀(ت)❀❀❀

❀....تور مه تاتکه ❀ له خوږو شکرو ډکه = وزن (Wazan)، زک

❀....تور تازي ولیاړ ❀ د اوبو پر شرنګهار = کیږدۍ، کږدۍ

❀....ته ما وته کابله ❀ د کابل خرې راوله ❀ د ګونټي[1] یوله بله وله

❀....تر دا یوه را ده لاندي ❀ تر دا بله را د باندي ❀ سپرې[2] خرې کتې پر باندي = کُرسک[3]

❀.... زما یو شی دئ، وابښه خوري، پیچې[4] یه نسته = لور: Lor

❀....له پاسه راغئ ډینګر (dingar) ډول ❀ کانې آخې درې څلور ❀ په ویلي[5] هر کهول = مرک

❁.... ته ما وته لاهوره = د چرکي لکۍ توره

❁....تور اکا سپرړي [۶] ❁ هلکان کړد په خوشالړي [۷] = کتوؤ

❁....توره کتوؤ باندي ❁ لړمون مه ورته خاندي

❁....تـراى مخکـه [۸] لانـدي ❁ تـر دا بـلـه را دبـانـدي ❁ د سرو زور

❁....کتوری دئ ❁ د بلیا [۹] ورته غرړی دئ ؟ = د یتیم دنیا

❁....ته ما وته چینې ❁ سور گز د ا لیچې

❁.... ته ما وته پوتـيـه ❁ اوښ نه څي بې دینکریه

❁.... ته ما وته کارېزه ❁ سپر کونډه [۱۰] مُرغۍ تېزه

❁.... ته ما وته چینې ❁ سرې وشنې په غلا چیچې

❁....ته ما وته کوتې ❁ غاښونه پر له کوتې

❁.... ته ما وته کوتې ❁ د ناوکي لاس په ختې

❁.... ته ما وته کارېزه ❁ سپرکونډه مُرغۍ تېزه

❁....ته یا ستن ❁ مور و پلار د په چرۍ کي خله [۱۱] پلن

❁....ته یا واښ ❁ د پلار غ...د باښ

❁....توره غوا ❁ ژړه يـه كتـه ❁ كـه د دانـه كـه را خلاصـه ❁ تـه هندو يې ته [۱۲] کیامته [۱۳] = تبۍ اومړۍ (تبخې او دوډۍ)

❁....ته ما وته کوتې ❁ واښونه [۱۴] پر له کوتې

---

۱. کتوي ۲. سپېرى ۳.Kursak: کُـرسک یو ډول خوارکـي بوټـی دئ، چـي پـه ځـرمونـي (سپرلـي، پسرلـي) کـي کیږي ۴. پچي ۵. ولي ۶. سپریړي ۷. خوشالیړي ۸. ځمکه، نځکه ۹. بلا ۱۰. سپېرکونډه ۱۱. سره ۱۲. تر، در ۱۳. قیامته ۱۴. مفرد: واښ (wā ṣ): واښکی

❁....ته ما و ته هغه ❁ د چرک لکۍ کېلغه[1]

❁.... ته ما وته کېړه ❁ مړک نه ځي مرکې له

❁.... ته ما وته لاکۍ ❁ اوښ نه ځي بې لکۍ

❁....ته ما وته کابله ❁ له ما مه کوه پوښتنه

❁....ته ما وته کابله ❁ ته راغې له کمه

❁....ته ما وته هراته ❁ خولۍ د دلې پاته

❁....ته ما وته کوټی ❁ خط ولیکه پر کوټې

❁....ته ما وته اخوره ❁ د اخور کونه زوره[2]

❁.... ته ما وته هغه ځایه ❁ په تاکې لرې دوه ځایه

❁.... ته ما وته «زالاره» ❁ د سرو غنمو داره

❁.... تر ما وتر هغه ځایه ❁ په تاکۍ پُسکۍ دوه ځایه

❁....تا وا بېره ❁ د ماښام پُسکۍ د هېره

❁....تر ۋ ته تا ❁ ستا کمیس دئ په دوې تا

❁....ته یا سره ❁ غول وکه ورته څره

❁....ته یاسپانده ❁ غول وکه ورته خانده

❁....ته یا لوټه ❁ د ماښام پُسکۍ د غوټه

❁.... دلته ټک سو ❁ هلته ټک سو ❁ هندو غوزار سو ❁ غ... یې لک سو = پوڅکۍ، خمېرۍ ، ګو بلکه

❁....ته یاستن ❁ مور پلار د په پیاله کې سرره پلن

❁....ته یاپنډه ❁ مور د ټنډه

❁....ته یا سکور ❁ د ک... ور د تور

❁....تر دغه مځکه لاندې ❁ تر دا بله را د باندې ❁ د کشمشو کور کی دئ ❁ د بلیا ورته غرړی دئ = د یتیم دنیا

---

۱. کېلغه Kel ğa : کږه۲. ژوره

❁....توته توته راسه ❁ انا د په چاک چخ کم

❁....انا انا راسه ❁ د تُوت په چاک د چخ کم

❁....توره غویه ❁ تل مه غویه ❁ تل مه په غوجل کې غویه

❁....تر ما و تر وره ❁ سره انځې و غزېده ❁ غوټه غوټه پرېکېده

❁....تر ما و تر کېره ❁ مړک تښتي مرکې له

❁....ته وا سندر پړکه ❁ غول وکه ورته رېړده

❁....ته وا کوړا ❁ غول وکه ورته را

## ❁❁❁(ج)❁❁❁

❁....جاره واره جاره ❁ په کې ولیاړ دئ سوربیاڼ ❁ کړې وړې یه سترکې ❁ لکه ستورې د اسمان = قرآن شریف

❁.... جاره واره غره ❁ په کې ناست دئ «جلندر» ❁ سره خولی یه ده پر سر = زړه

❁.... جاره واره خونه ❁ په کې ناسته ده «زیتونه» ❁ په شرنګ شرنګ وهي خالونه = ژبه، ژبه

❁.... جاره واره خونه ❁ په کې ناست د «قلندر» غوندې مرونه = غاښونه

## ❁❁❁(چ)❁❁❁

❁....چرکه مو چا چرکه ❁ څلورې [1]کوناټې ❁ یوه یه ستر که = خونه، منډۀ

❁.... چرکه مه لیده ❁ له چیچُوړو [2] سره تله ❁ په انځر ننوته = سپوږمۍ، ستورې او وریځ

---

۱. څلورېي ۲. čičunu: چیچان

## ❀❀❀(ح)❀❀❀

❀....حلال مه دئ شرتک ❀ له مُردارو غوښو ډک = مسید( مسجد، ماجت ) او لمونځ غاړي

## ❀❀❀(خ)❀❀❀

❀.... خړه خره ❀ خر پرور خوړ

## ❀❀❀(د)❀❀❀

❀....د کیسا کیس کیسه دي زده ❀ که تا لانه زده ما لا زده
❀.... د غره په سر کي دېگ ❀ زموږ په کلي کي لا ل بېگ
❀.... د غره سر کمک ❀ زموږ په کلي کي اَمک
❀.... د غره پرسر خُیږکې ❀ زموږ په کلي کي رازکی
❀.... د غره پر سر څرا[1] ❀ پـه کـي نـاستـه ده تور سترکې سنتیا ❀ زرنۍ ډوډۍ په شا
❀.... د غره پر سر خُوړی[2] ❀ د لېوه د سونډې سوری
❀.... د غره پر سر مُرغان تښتي ❀ «امیر»[3] له پرنکیان تښتي
❀.... د مور دي اوږد ❀ دي پلار دي پلن = تیکری او پتکی
❀.... دي ما دي بابا ډ... ډِتا په م... کي جکه = مېچن او لاستی
❀.... د غره په سر کلاس ❀ زموږ په کلي کي اخلاص
❀....د غره پر سر اکی تښتي ❀ امیر له پنجاپی تښتي

---

۱. Cárā: په مځکه کي د ننه جلته یا په بله ژبه کَندو ۲. joṛáy : پېټی یا په بل عبارت غوځی ۳. له امیر څخه مراد د کران افغانستان باچا دئ.

❀.... د غره پر سر ایرې ❀ سوی کې پروت دئ سپرې پښې

❀....دغره پر سر لغونی ❀ لېوه و وور[1] تور مرغونی[2]

❀.... د غره پر سر سنګی ❀ لوه[3] و وړه توره ورۍ

❀.... د غره پر سر دېګ ❀ زموږ په کلي کې يو دېب

❀.... د غره پر سر تتي[4] ❀ شپانه راله ځګ څټي

❀.... دوه د لاندي ❀ دوه دباندي ❀ که ته خر نه یې ❀ دا وزه ده

❀.... د غره پر هینداره ❀ زموږ په کلي کي ورند یاره

❀.... د غره پر سر لګړي ❀ را وختې کړې ناسري

❀.... د غره په آخوا درې پسونه ❀ یوې ځیني وویستی ❀ دوه نه ځري = نغری ، نیغری

❀.... د غره پر سر کندو[5] ❀ پرورت دئ مړ هندو ❀ په خوله کې د نسوار و تُمباکو

❀.... د لالي ک... کا دانه ... پرور کي پټ کئ له بارانه

❀.... د لالي ک... چُوغړۍ ❀ مُرغی کي جوړه که ځالی

❀.... د لالي ک... غايته ❀ مُرغی نه ده ملامته

❀.... د لالي ک... ښکاره ده ❀ د مُچانو پر داوه[6] ده

❀.... د دوغزو تر میان ❀ هندو مه کئ اریان

❀....د دوو غزو تر ړت[7] ❀ هندو مه کئ تر ګوت

❀.... دلته تک سوئ ❀ الته تک سوئ ❀ تور تمبی له دوکه[8] ډک[9] سوئ

---

۱. یووړئ ۲. مرغومی ، ورغومی ۳. لېوه ۴. Táti: د غره په سر کي د اوبو و کوړم تـه وايي ۵. Kandu : جلتـه ۶. دعوئ ۷. rat: سوري ، سروي ۸. دود، لوکی ۹. ډک

❀.... د غره پر سر اِنځۍ ❀ را وختې «لونۍ»
❀.... د غره پر سر لکړي ❀ را وختې «کاکړي»

❀❀❀(ډ)❀❀❀

❀....ډک تیم❀ تس[1] تیم
❀....ډکه سته[2] ❀ تسه سته
❀.... ډینګر بول ❀ کاڼي آخي درې ځلور❀ په ویلي هر کهول = مرګ

❀❀❀(ر)❀❀❀

❀....له پاسه راغئ بور ❀ د غاړي ول یه تور ❀ دی روان د رب په زور = اوور ، وربځ ، وریځ

❀❀❀(ز)❀❀❀

❀....زما یو دغی شی دئ ❀ نور په هر ځه لندړي [3] ❀ یو په اوبو نه لندړي = سوری ،شوری ، سایه
❀.... زما دئ شی دی ❀ نې په شپا له کي پل سته ❀ نې په راغه کي پل سته ؟ = ړغانځکه [4]
❀.... زما دی خور ده ❀ پر هر ه مېنه سر غوړوي = کړدۍ
❀.... زما دی ورور دئ ❀ پر هره مېنې کور دئ = سر غسی
❀.... زما یو ورور دئ ❀ په سل جامې کې کور دئ = د سندي ګل
❀.... زما تور غویی دئ ❀ پر بوک سر وی دئ = تبنځه ، تېشه
❀.... زما کیسی ماسی ❀ په اوبو وهي بازی = ګوډی ، زی ، ژی

---

۱. tas : تش ۲. ځته ۲. لندیږي ، نودیږي ۳. ړغانځه ، کیکه

❁.... زما وته پوتـیه ❁ د پلاني ... شنه کونټیه

❁....زما د لالا ورۍ دي ❁ دوی سل سره مُوندۍ دي ❁ پـه یوه غاړه اوبه چیښي .. دا اوبه د «کاڼوکۍ[1]» دي = ځنکۍ ، وندر

❁.... زما کیسې چټو ❁ موږ دنه را کډ وو

❁.... زما کیسې ماسې ❁ ځلور زویه د هوسې ❁ ما ترلي په رسۍ ❁ دوی خلاص سوي له رسۍ = ورۍ یا وریان

❁.... زما وته کابله ❁ د کابل دروازې یو له بله و له

❁.... زما دوې خُوندي[2] دي ، کـله بې یوه غونډۍ کي کور یي ، کله یې په بله غونډۍ کي کور یي = سوی

❁.... زما یو ورور دئ ❁ تر اوبو په وچو پښو پورې وزې = سیورۍ ، سورۍ ، شورۍ ( Soray :مندوخېل) ، سایه

❁.... زما یوه خور ده ❁ ماښام له پاستي پاخه کي ❁ سحار له یو هم نه وي= د آسمان ستوري

❁.... زما یه تر خر کوډه ❁ د ملا لکړه کوډه

❁....زما یه تر هغه ځایه ❁ د ملا لکړه دوه ځایه

❁.... زما یه تر «کڅینـي» ❁ د کڅیني وریځي[3] سپیني

❁.... زما یه تر «نسکۍ» ❁ د نسکي وریځي کللکي

❁.... زما دۍ آس دئ ❁ سې تر پوم ❁ دی ځربړي[4] = ځرخی

❁.... زما کیسې ما سې ❁ ځلور زویه د هوسې ❁ ما ترلي په ځنکۍ = ورۍ ، وندر

❁.... زما کیسې غُوټو ❁ د ترخي لرګی راړه ❁ موږ کنډالي[5] په کُوټو

---

۱.kāṇokáy: د کاکړ خراسان په تاریخي سیمه کي دیو ځای نوم دئ. ۲. x̌undi : خـونـدي x̌wándi، خېـنـدي (x̌endi) ۳. ورځي ، ورجي ۴. ځربیږي ۵.gandáli : د ماشو پروړ

❀.... زما داسي خور ده ، د ستونو کوې دئ ؟ = سيزځکی ، ځيزکی

❀.... زما دی ورور دی ❀ پـر تنکـه غوړکه سپور دی ❀ کورې پر لاهور دئ = نمر

❀.... زمـا دی خـور ده ، ځـي پـه هره تنکي کي ناستـه وي ، سرې غوړولی وي = سرکړی

❀.... زما دی ورور دئ ، سهار لاړ سي ، ماخيګر يه دوه لرکي پر سر اخستي[1] وي = غوځ ، غوځی

❀.... زمـا دی ورور دئ ، ځي سحـار لاړ ، ماښام راسي ، و دېوال تـه جګ ودرړي [2] = لوړ (Lawar) ، د شپانه لرګی

❀....زما دی خور ده ، ماښام دوني مړی پخه کي ، سار [3] له ګوله نه يي = ستوري

❀.... زما کمر کمر کوندي ❀ سې غزوم ته هغوځي = سترګي

❀.... زما خوړه تاتکه ❀ له خوړو شکرو ډکه = وزن (wzan) ، زګ

❀.... زما سل وری دي ❀ سل سره چونی دي ❀ په يوه غاړه اوبه څښي ❀ اوبه د کنوکی دي = تسپې

❀.... زما دوه ګوډي ❀ په آسمان را ځړړي ❀ خولې يه خلاصي ❀ نه توېږي = د وزې تيان

❀.... زما و تر کُوله ❀ مړک درلئ کاله

❀....زما وته « ډيليه » [4] ❀ خر نه ځي بي ډينګريه

۱ . اخيستی ۲ . ودريږي ۳ . sār: سحار ۴ . Diláy : ډيلی د بوري په کلتوري ناوه کي يو کلی دئ ، چي اوسېدونکی يې ملازي ، مرمه خېل ، سنځرخېل کاکران دي . ځرکنده دي وي چي په بوري کي پر ته لـه « ډيلي » د « لاهور » او « پټان کوټ» په نامـه هم د سنځر خيلو کاکړانو دوه پخواني کلي موجود دي .

❁.... زما وته لاهوره ❁ د چرګ لکۍ ده توره
❁.... زما وتر هراته ❁ د کاسې څنډه دې ماته

## ❁❁❁(ژ)❁❁❁

❁....ژړه غوا.. ژړه یې کته ❁ که د زر نه که را خلاصه ❁ ته هندو یې تر کیامته = درخته، مندکه او هډوکی

## ❁❁❁(س)❁❁❁

❁.... سل تاکه ❁ سل لال تاکه ❁ سل مه پنجرې ❁ سل مه ربابه ❁ که د دانه که را خلاصه ❁ ستا پر پلارې[1] لیا[2] تلاکه[3] = چنونی (čáṇunә́y)، رغبل، غلبیل

❁.... سل والوتې ❁ سل پرېوتې ❁ سل بیا په غومبر کښېوتې = ریاسه (ریاشه، رشه)

❁.... سل مه مندۍ ورۍ دي ❁ په یوه غاړه اوبه چیښي ؟ = تسپې

❁.... سل الوزي ❁ سل پرېوزي ❁ سل بیا پـه غومبر کښېوزي =( ریاسه، ریاشه، رشه، واڼه)

❁.... سرې د انسان دئ ❁ لړموني د حیوان دئ ❁ اوبه په کونه چیښي، دا څه چیشي دئ ؟ = غنم

❁.... ستا کونه کا دانه موږ پټ نه سوله بارانه

❁.... سبحانه کلا هـمه ❁ سپرکی[4] خر پر لیار وهمه ❁ سپر سنه[5] په تولومه

❁.... سي لوندې[6] نه کې ❁ په بوبې نه زې = سپنسی او ستن

۱. پلار یې ۲. لا ۳. طلاقه ۴. سپیرکـی ۵. sparsana : خوسـايي، خوشايي ؟ ۶. لوندیې، نوند یې

❁.... سي [1] پـه کـي ږدې يه، پرز [2] دئ ❁ سي پـه کـي ښوروې يه، سئت دئ ❁ سي کاږې، کوپر [3] دئ = مږی

❁.... سل مه دي هندوان ❁ پر يوه خوايې مخلن = د باکس تياري، کاڼي، دانه

## ❁❁❁《ش》❁❁❁

❁.... شينکی مه کوتری ده ❁ له خارو [4] لونی [5] ده = سپاره

❁.... شين بوټی ❁ زرغون بوټی ❁ زما د لونګين بوټی

❁.... شين چمن دئ ❁ تر چمن لاندي ورځکی ده ❁ تر ورځکی لاندي سترګی ده ❁ تر سترګی لاندي څوښکی ده ❁ تر چوښکی لاندي شين کوږم دئ ❁ پـه شـنـه کوږم کي شين لږم دئ = سر، ورځکي ( ورځي ) سترګي، سونډه ( پزه )، خوله، ژبه ( ژبه )

## ❁❁❁《ښ》❁❁❁

❁.... ښه راله ❁ بابه راله ❁ پرګرد کلي خوره راله = روزه، روژه

## ❁❁❁《ک》❁❁❁

❁.... کره وره مه مورده ❁ پاتو پلنه مه خورده ❁ سورکی مُوندی مه ورور دئ ❁ دا را خلاصه که؟ = بيا له (وياله، ياله ) مځکه او غنم

❁....کاک مي رغروئ [6] ❁ ستا د خوني کونج ته ورغئ

## ❁❁❁《ل》❁❁❁

❁.... له سخره سره ځم ❁ په هره څوخته لاس چيخم = وزن، زک

❁.... له سخره سره ځم ❁ له ريچو ډک تکوني خورم = انځر

❁.... له سخره سره ځم ❁ پتکی ول ول اچوم = د غوايي متيازي

---

۱. چي ۲. فرض ۳. کُفر ۴. خاورو ۵. لپونی ۶. کپلوئ

❁.... له ما وته کېږه ❁ مړک لاړئ مرکې له

❁.... له ما وته وره ❁ مړک درلئ کهله

❁.... لـه دولس (۱۲) درس[1] (۳۰) وبـاسـه، آښـه! نو څو پاته سوې = میاست، میاشت

❁.... لـه پـاسـه راغل سره اسیان [2] ❁ خواږه خوري د باچهان = لوان، لېوان

❁.... له پاسه مه را منېږه که ❁ ږ سپین راغه مه پنېږه که = میا (د میږو رمه)

❁.... لـه کښې رالـه سُرنا ❁ سُرنا وهـي ډولونه ❁ یوه یې بُوجي خوله ❁ څلور غوږونه = غږک

❁.... لاندي کرښه ❁ باندي پرښه ❁ څلور پښې ❁ سر په کښې ❁ کیسوو، کیشوو

❁.... لـه کښې راغئ کُومل ❁ زنکي ژاړي ❁ تالوتور ❁ خُول کنډلی باندي سپور = اوښ او خُوله

❁....له پاسه راغه دوه روده [3] ❁ ورپرته سوه پنځه مړه ❁ پنډ یې کل [4] په دوه مړه = پزه، پنځه کوتي او دوې کوتي

❁.... لـه تر څه سره لیا رځي ❁ لـه تر څه سره لیار ځي ❁ له تر څه سره لیار ځي ❁ لـه تر څه سره لیار ځي ❁ لـه تر څه سره لیار ځي ❁ له تر څه سره لیار ځي ❁ له تر څه سره لیار ځي = اوښي په مهار ځي ❁ غوا یه په سونـهار ځي ❁ میږي په ناتارځي ❁ وزې په خشتهار ځي ❁ خـره پـه هشتهار ځي ❁ پشي پـه پشهـار ځي ❁ سپي په چغهار ځي

---

۱. دیرس، دېرش، دېش ۲. Asiăn ۳. روده ۴. کړل

❀.... ال ملنګ ❀ الي [1] ملنګ ❀ ميرې ډېرې ❀ شپولې [2]
تنګ = انار

❀.... لاندي ورته پنډ دي ❀ د «بامبر» [3] تور توي [4]

❀.... له کابله خرې را وله ❀ سکورې [5] يو له بله وهله

❀.... له ما وته تا ❀ ستا پَس [6] له ما ختا

❀.... له غره سره ورخې [7] ❀ لوه [8] راغئ پښې په سرې

❀.... لاندي اربه ❀ باندي پر بښه ❀ بدن په کښې ❀ څلورې
پښې = سکوړ، کيسوړ، کيشوړ

❀.... لـه پانـه سره خُم ❀ پتهکی ول ول اچوم = متيازی،
ميچاړې، بولې

❀.... لـه پاسه راغه سره بلیا [9] ❀ په خوله يه که خېږه بلیا =
اوبه او خوز

❀.... لالی راځي د پاسه ❀ غ.... وهي په دواړه لاسه

❀.... لالی راځي له کښې ❀ غ.... وهي په دواړه پښې

❀.... لوړه خړه ❀ لوړه روڼه

❀.... د «خامد خروتې خړ خروړی سپی دئ.

❀.... له ژوندو مړه ❀ لـه مړو ژوندي زېږي ❀ دا څه شي دئ ؟ =
چرګه، اګی او چيچې

❀.... لاندي کربښه ❀ باندي پربښه ❀ څلور پښې ❀ سهه (سا)
په کښي = سکوړ، کيسوو، کيشړو، کيسپ

۱. علي ۲. شپول يې ۳. د يو کلي نوم دئ ۴. Táwi: په کاکړي لهجه کي د وزو و رمې ته توی (Táwáy) او و ډيرو رمو تـه بيا توي (Táwi) ويل کيږي ۵. skori : سکاره ۶. Pas: پسکی ۷. ورخې (wrǎje): باجړ، پسته اور باران ۸. lawá: لپوه ۹. بلا .

## ❀❀(م)❀❀

❀....مور د لور په نس کې ❀ آښه ! دا څه شی دئ ؟ = هندوانه [1] ، هِندونه ، هندواڼه ، هِندوڼه

❀.... ما ته ټالو [2] ❀ سرې کمبلې به اودو

❀....میدان دئ ❀ رډی [3] دي .. چښکی [4] ده ❀ شین کُرم [5] دئ

❀ پـه شین کرم کې شین لړم دئ = تـندی ، سترګې ، سونډه ( پزه ) خوله او ژنه

❀....ته ما وته کالا چینې ❀ شنې به درکم ❀ کې په غلا چیچې

❀....مړ پروت ❀ مـا پـه بوت ❀ يو آوازې تـر خولـه خوت = ټوپک ، ټوپک ټیپک

❀.... مور د پروته لکه بُوکه ❀ پلار د ورړه د غ... څوکه = هندواڼه (هندوانه ، هندونه ) ، چاکو ، او يا پښه وکپی

❀.... ما وتر تا څو مځکې ❀ د سر دلګېدو مځکې

❀.... ما وتر کابله ❀ د کابل دروازه باد وښوروله

❀.... ما و تر کابله ❀ د کابل دروازه ما ورجوړوله

❀.... ما و تر کابله ❀ د کابل دروازه بله

❀.... ما وته کنداره [6] ❀ د سرو غنمو داره

## ❀❀(و)❀❀

❀.... ونه ده ❀ ګوګنه ده .. په ببخ کې خُله [7] پلنه ده ❀ په سر کې يو اتام دئ ❀ سې خورم کاپر [8] کرم [9] ❀ سې نه خورم ❀ ورې کړم = روژه ، روژه

---

۱. hindwana ۲. تـــال (ṭāl) ۳. ṛádəy ۴. čiskə́y ۵. kuṛam ۶. کندهاره ۷. سره ۸. کافر ۹. کېږم

❀.... ونه ده ❀ کوکنه ده ❀ په ښخ کي خُله پلنه ده ❀ پاڼکي (پاڼي) رنګو رنګ دي ❀ لرګي يې تور لونګ دي = قران شريف

❀.... وريځي سره توره که ❀ شپنه «ميا»را ټوله که ❀ « پاتو» غومبر په زوره که = تنا

❀❀❀(هـ)❀❀❀

❀.... هځي بځي ❀ اوبه ځي ❀ ډبري نه ځي

❀.... هندو کرکندو ❀ ماله راړه د « بغاوي » تمباکو

❀.... هو ګله با هو ګله ❀ پنډه ده د خرو ګله

❀❀❀(ی)❀❀❀

❀.... ير جوړنګ ❀ ځلوري تاکه ❀ که د، دا نه که را خلاصه ❀ ستا پر پلار ده مور تلاکه (طلاقه) = غوا

## سرچيني

دپښتو هغه خوندور آثار چي ما د « زريني پاڼکي » په دې برخه کي استفاده ځيني کړې ده، نوموونه يې په دې ډول دي :

❀ ... د خلکوسندرې : ليکوال : استاد حبيب الله رفيع، خپروونکی : د افغانستان اکاډيمي د تاريخ او ادب ټولنه، چاپځای : دولتي مطبعه، چاپکال : ۱۹۷۰ م، کابل

❀ ... پښتني افکار، څېړنه او ليکنه : سيال کاکړ، خپرونکی : ليکوال پخپله خطاط: اروابناد نذير خيال، د چاپ ځای : اسلاميه پريس، د چاپکال : جولايي ۱۹۶۹، کوټه

❀ ... ټکونه ( د مازغو جنګ ) ټولوونکی :همېش ګل همېش،

خپرندویه ټولنه : عوامي کتب خانه ، چاپکال : نه لري ، پېښور
۞ ... پښتو قيصې : ټولوونکي او ليکونکي : ارواښاد پوهاند صديق الله خان رښتين او ارواښاد غلام رحمن جرار ، خپروونکی : پښتو ټولنه ، چاپخونه : عمومي مطبعه ، د چاپېدو کال : ۱۳۳۱ لمريز ، کابل
۞ ... ترينو : ليکوال : سيال کاکړ ، خپروونکی : پښتو ادبي دنيا ،د چاپ ځای : اسلاميه پريس ، د چاپېدو کال : جنوري ۱۹۷۸ م ، کوټه
۞ ... متخل : ليکوال : پروفېسر صاحبزاده حميد الله ، خپروونکی : پښتو ادبي بورډ ، خطاط : عبد الرحمن بابړ ، چاپځای : قلات پبلشرز ، د خپرېدو کال : ۱۹۸۹ م ، کوټه
۞ ... پښتو فولکلور کښې اړ : څېړنه او ليکنه : پروفېسر داور خان داؤد ، خطاط : سيد محی الدين هاشمي ، چاپخانه : جدون پريس ، د چاپ کال : جولايي ۱۹۹۷ م ،پېښور
۞ ... د پښتو د ولسي د ادب لارې ، ليکوال : دوست شينواری ، خپروونکی : پښتو ټولنه ، د چاپېدو کال : ۱۳۵۶ لمريز کال ، کابل
۞... فولکلوري کېدی ، ليکوال : علي محمد منگل ، خپروونکی : پښتو ټولنه ، چاپکال : ۱۹۷۶م ، کابل
۞ ... د غرونو څوکې ، ليکوال : عبد الکريم پتنګ ، خپرندويه ټولنه : د کابل پوهنتون «د فلالوژۍ پوهنځی» چاپکال : ۱۳۵۹ لمريز ، کابل
۞ ... د پښتو شفاهي ادبيات ( شکل او مضمون ) ليکواله : غوټۍ خاورې ، خپروونکی : د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز ، د خپرېدو کال : ۱۹۸۸ م ، کابل
۞ ... فرهنگ عميد دوهم ټوک ، مؤلف : ارواښاد حسن عميد ، خپروونکی : مؤسسۀ انتشارات امير کبير ،۱۳۸۴ ، تهران
۞ ... زما شخصي ياد دا ښتونه

# فولکلوري کچکول

فولکلوري کچکول په ډېرو شيانو ډک سو
پـه کـي ستـه غـوړي دعـاوي هم ښـرواي

پښتـنـي نـومـونـه هم پـه کي خـاى سوي
لـقبـونـه خـونـدي سوي پـه کچکول کي

فـولـکـلـوري بـدلـي هم پـه کـي راغلي
يـا د نـازنـومـونـه دلتـه زېـرمـه سوي

فـولـکـلـوري ګېي منظـومـه مي راوړي
پـه دا وجـه خو کـچـکول ښـايستـه ايسي

يـا لـوګـاني مي راوړي پـه کچکول کي
سيـال کـاکړ د ا ټولي کړي دي لـه خلکو

# ښراوي (ښېراوي)

**وښـــراوو تـــه ځوک ځـــان تېنـگـواى نـــه سي**
**د مـــظـــلـــوم آواز رسيــــږي تــــر آســـمـــانـــه**

پښتني فولکلور کـه لـه يوې خوا پخپله لمن کي ښايسته دعـاوي را نغاړي نو د بلي خوا پخپله ويړه غېږ کي و ښرا وو ته ځاى ورکوي . زما په فکر د پښتني فولکلور په پراخه ساحه کي تر دعاوو ښراوي زياتي دي .ددې وجه شايد دا وي ، چي په پښتني ټولنه کي لـه هغـه وختـه ظلم ، جبر او تشدد را روان دئ . انصاف (Justice) مساوات (Equality) او وروګـلـوي (Brotherhood) زمـوږ پـه ټولنه کي وجود نـه لري . نو لـه همدې جوره په پښتني ټولنه کي لوړي ژوري زياتي ليدل کيږي . هغه د کران شفيق العالم معذور يار درنه وينا ده ، چي وايي :

**د ا دنيــــا ده زوروروو لــــره جـــوړه**
**معذور ياره ! دلتـه نـه پـرېږدي کمزوري**

معلومداره خبره ده ، چي د هر عمل (action) عـکس العمل (re action) وي . نو زما پـه فکر ښراوري د ظلم او جبر په نتيجه کي پيدا سوي دي . ا و دا وخت موږ د پښتو په لمن کي خورا زياتي ښراوي ليدلاى سو . او دا ښراوي د انسانانو د زهيرو زړونو ترجماني کوي . همدغه زهير زړونـه دي ، چي رنګ پـه رنګ ښراوي تخليقوي . او بيا وروسته يې انسانان يو دبل په ضداکار وي . ابو المعاني مرزا عبد القادر بېدل څومره ښه ويلي دي :

بترس از آهٔ مظلومان که هنگام دعا کردن
اجابت از در حق بهر استقبال می آید

په پښتني فولکلور کي د ښراوو لويه ګټه دا ده، چي پخپله ويره لمن کي د کراني پښتو راز راز سوچه او لرغوني لغات را نغاړي. په پښتو کي ښراوي په پېخر دي. د پښتونخوا هر کوټ له ښراوو څخه ډک دئ. که چيري د پښتو ټولي ښراوي را غونډي سي، نو و موږ ته به د پښتو خورا ډېر نادر او پخواني توري په لاس راسي. د ښراوو همدغه نکه او خالص توري د پښتو قاموس په ليکنه کي له قاموس نويسانو سره کامله مرسته کولای سي.

د ښراوو د کولو يو ځانګړی انداز وي. البت د ښځمنو او نرکاړو ښراوي يود بل سره توپير لري. ښراوي په هر انداز چي وسي، د يوه ويښ او با وجدانه انسان ترا:trā(کرکه) ځيني کيږي. د ښراوو ژبه سوچه او د پښتو پر محاوره عين برابره وي. ښراوي ښې دي که بدي؟ دا قضاوت د ټولني پر هغه وګړو باندي پرېږدو، چي همېشه پخپله ټولنه کي د ظلم، جبر او نا سموالي په ضد د ظالمانو سره په مبارزه اخته وي.

د ښرا او ښرې پخواني شکلونه ښېرا او ښېرې دي. البت په کاکړي کي دغه دواړه ډولونه دجمعي په صورت کي د ښراګاني (Ṣárāgāni) او يا بيا د ښراګياني (Ṣárāgiani) لهجوي بڼه لري. په يوه کاکړي-غاړه کي د ښرې (Ṣáre)کلمه په يوه ځانګړی انداز داسي خوندي سوې ده:

په تور سر په لخي پښې
ښرې کوم که قبلېدې

ښرې خو ببخي ډيري دي، خو دلته د کاکړستان او د نورو پښتني سيمو ځيني ښراوي د نموني په ډول وړاندي کيږي. البت د

کاکړستان ښراوي مي په «کاکړي : Kakari» کي په فولکلوري بڼه راوي دي . چي زياتره د ښاغلي خان محمد طالب جلالزي او قاري عثمان غني عبد الله زي په مننه وړاندي کيږي .

## «ښرې ، ښېرې، ښراکاني = ښراکياني»

۞ خدای د دواړه داره چپه که ۞ الله د مال بې برکته که ۞ د ځلورو ځنګو په خواري خبر سې ۞ پرسرت ( صورت ) د ناسور پیدا سه ۞ ذلالت دله کوره مه وزه ۞ په غبرکو چشمانو ړوند سې ۞ ګرد اهل بيت لـه پرېشاني مه سئ خلاص ۞ مرګ د، د بل په لاسه ۞ بُوټ ( بُوټی ) د وخېژه ۞ پربښه د وخېژه ۞ د مور پلار ازاري سې ۞ د ازار و پر بازار سې ۞ يه ، خدای د مزغی ( مغزی ) مات که ۞ يه ، په سترګو ړنده سې ۞ يه ، خدای د يوه مه سموه ۞ يه ، په خوله ګړه سې ۞ يه ، مزغی د دړي وړي سه ۞ يه ، په پښو ګوډ سې ۞ يه ، سونډه د پرې سه ، سونډه د را پرې که ۞ يه ، خواره خستکه سې ۞ يه ، په سترګو ګړه سې ۞ يه ، سر د تر ما سپين سه ۞ يه ، خدای د مُردار که ۞ يه ، دا سپيني سترګي د ووزه ۞ يه ، په غوږو کڼه سې ۞ يه، زوی د ومره ۞ يه ، په پښو وچن سې ۞ يه ، خدای د روغ مه را وله ۞ يه ، د زوی زړه د په خوله سه ۞ يه ، په زړا مړه سې ۞ يه ، ږيره د وخريل سه ۞ يه ، برتونه د ورزړه ۞ يه ، د خوارو مله سې ۞ يه ، خواره خجله سې ۞ الله د در په دره که ۞ ای، الله د کار وچ و دروه ۞ يه ، په خوله ګنګ سې ۞ ای ، کالی د پر در اور سې ۞ ای ، ميراث د پاتـه سـه ۞ ای ، پـه سرت چـنجن سې ۞ وی ، دا شکېدلی سر د خاري سه ۞ ای ، خدای د په دغی غضب اخته که ، سي غول بل در پاکيي ۞ ای ، پرتوک د وخېژه ۞ ای ، ميراث د و ملايانو

تـه ور پاتـه سـه ❁ ای ، کپن د پر در اورسي ❁ وی، سر د تر لاری لاندي سه ❁ تر پتي ولوړي ❁ قبر د له لړمانو ډک سه ❁ خدای د په هغه لوی شامار وخوره ❁ د ستونه د پر در وښني ❁ د مزغي په درز اختـه سي ❁ خدای د وترټه ❁ رب د کندو کپر که ❁ بليا د وخوره ❁ بليا خوړلکي ❁ پښي د ماتي سه ❁ په پښو وچنه سي ❁ تر تله دي کيږدي کاڼي لاندي سه ❁ غوښي د ، د خاورو خوړندی سه ❁ ترټی د چپه سه ❁ کيږدی د ونړړه ❁ غوښي د چينجي وکه ❁ سور تيکری سي ❁ پر مېنه د جارو تر سه ❁ کُوت د اړسه ❁ ليار د اړ سخر سه ❁ د زوی پر زنو وکرېږي ❁ د زوی پر زنو را وڅکيږي ❁ بېخ او ريښي دي وخېژه ❁ ستا د غمه مي دي خدای خلاصه کي ❁ بېخ او بتر دي وخېژه ❁ نور مي د ي نصيب خدای نه درسه کيي

# دعاوي

## پښتني فولکلور شايسته په دعاکانو دي راپاتـه دا ومـوړ تـه لـه پخوا څـه

دعا چي پـه پښتو کي يې جمع دعاوي او يا دعاکاني دي ، د دنيـا پـه ټولو ژبو کي خورا زيـات اهميت لري . البت پـه ځينو ژبو کي دعاوي زياتی او په په ځينو کي بيا يو څه کمي وي . موږ د ګراني پښتو پـه لرغوني او تايخي لمن کي ډيري شايسته او رنګ پـه رنګ دعاوي ليدلای سو . زموږ دغه فولکلوري ورثه و موږ ته له خپلو پخوانيو نيکه ګانو څخه خوله پـه خوله او سينه په سينه را رسېدلې ده . دا وخت دعاوي د پښتني فولکلور يو خورا وياړلی او رنګين څپرکی تشکيلوي . د دعاوو په جوړوالو کي پښتـنـي ښځمني د لوېي برخي خاونداني دي . خو په دې

فولکلوري میدان زموږ نرکاري هم بې برخي نه دي . د دعاوو ژبه ډېره ساده ، سوچه او د پښتو په نکه توږو پسوللې ده .

پښتني دعاوي په آريايي دوره پوري اړه لري . پښتنو له هغه وخته يو و بل په دعاوونمانځلي دي . او دغه وختيره سلسله تر اوسه پوري په پښتني تولنه کي ژوندۍ پاته ده . د هري د عا خپل خپله موقعه او محل وي . و کوشنيانو ته د مشرانو له خوا يو ډول او و ځوانانو ته بيا بل ډول دعاوي کيږي . د سپين سرو او سپين ږيرو دعاوي د زړه له بېخه را وزي . او پر انساني زړونو باندي يو ځانګړی اثر پرېږدي . پښتني ښځمني او سړي بيا وخپلو مساپر و ته ځانګړي دعاوي کوي . د هري دعا خپله ژبه اويو خاص رنګ وي . ښکاره خبره ده ، چي و پښتونخوا ته د اسلام د مقدس دين په راتګ سره پښتني دعاوو نور ښايست پيدا کړی دئ . حقيقت خو دا دئ ، چي موږ يو د بل و دعا ته محتاجه يو . نو راسئ ، دا لاندي دعاوی ولولو او پخپل ژوند کي يو و بل په ښو او خوندورو دعاوو يا د کړو :

## دعاوي

۞ خدای د زرغونه درخته که ۞ د جنت ګل سې ۞ الله د ښه در وښيي ۞ د ښمن د خوار سه ۞ نېک سړی سې ۞ د بخت والی سې ۞ د مړو مېړه سې ۞ د سيالانو سر سې ۞ هره يوه د سمه سه ۞ د مور و پلار روزي سې ۞ پر مال د برکت سه ۞ پر ښه برابر سې ۞ ښه د نصيب سه، سره له يارانو دوستانو ۞ الله د سړی که .

۞ په روا کي د خدای زوند درکي ۞ پر ښه د مخ سه ۞ نېکي د عادت وګرزه ۞ عمر د ډېر سه ۞ کړدۍ د زرغونه سه ۞ مراندي د مضبوطه سه ۞ شينکی چمن سې ۞ الله دي زموږ په سترګو ښاده

ووينه ❁ خداى دي زموږ په ستركو كمه مه وينه ❁ خداى دي آباد وويڼه ❁ خداى دي مل سه ❁ خدى دي زموږ پـه ستـركو ښاده وويڼه ❁ خداى دي ښاده لره ❁ خداى دي د غمونو ځه را وساته ❁ خداى دي د اولا غم نه دركيي ❁ خداى دي په هغه جهان هوسا كه ❁ خداى دي په دواړو جهانو ښاد او آباد لره .

# پښتني نومونه

پښتني نومونه د پښتني فولكلور يو خورا غني او لوی ځپر كی تشكيلوي . دغه سوچه او نکه نومونه و موږ ته له خپلو پخوانيو نيكه ګانو څخه په ميراث كي راپاته دي . دغه لرغوني نومونه د پښتني چا پېريال ښه په زړه پوري نمايندګي كوي . پښتانه تر ا وسه پوري خپل اصيل او وطني نومونه خوښوي او پر خپل اولادونو باندي پخواني نومونه ږدي . د ساري پـه ډول : ✿ الـڼ(Alaṇ) ✿خـانړ✿(x̌ānaṛ) پـانـدړ ✿(Pāndaṛ)باجړ (Bājaṛ) ✿رامڼ (Rāmaṇ) وراندي كولای سو.

ښكاره خبره ده ، پښتني نومونه په دوه ډوله دي :

❁...... نرينه نومونه ❁...... ښځينه نومونه

پښتني نومونه نرينه وي كه ښځينه ، دغه دواړه ډوله نومونه د پښتني ذوق ښكارندوی دي . دغه نومونه خورا ساده ، آسانه او په زړه پوري وي . پخواني آرياييانو پر خپلو اولادونو باندي همداسي نومونه ښوول . خو په مرور د زمان پښتني نومونه په اسلامي نومونو باندي واوښتل . اوس پښتني نومونه ډېر كم پيدا كيږي . د تور پېكی زرلښتي نازو ، مارزک(Mārzak) سـنـتـيا (Sanátia) ژړک (žáṛak) او داسي نور... نومونه اوس چنداني پاته نه دي .

خو د يوه ملت په ژوند كي داسي نومونه خپل ملي ارځښت

هیڅکله له لاسه نه ورکوي .د یوه ملت بیدار مغزه وکړي وخپلو پخوانیو او لرغونو نوموته د عزت په نظر ګوري . موږ باید پښتني نومونه خوندي کړو ، چي په دې ډول د سیدال خان ، ببرک خان ، شېرجان ، ارسلاخان ، عجب خان ، ګلاخان ، قایم خان ، ساوڼ او مشو خان زاړه یادونه په تازه سي . دلته لاس ته راغلي یو شمېر پښتني نومونه تاسي ته د نمونې په ډول وړاندي کېږي :

❀۞❀

❀ مَزَک (Mázak) ❀ بارس (Bāras) ❀ غوړی ❀ کوپر ❀ لاوټ (Lāwaṭ) ❀ سَوټ (Sáwaṭ) ❀ نوټی ❀ ناټی ❀ سوټی ❀ سوټې ❀ غونډی ❀ بډک ❀ مارزک (Mārzak) ❀ میر ❀ ښادو ❀ کلامتر ❀ سَټټوت (saṭaṭut) ❀ پټکی ❀ مُونډې (Munde) ❀ چُوربېګ (čurbeg) ❀ بهار ❀ ړنګه خاؤ ❀ چُڼ (cuṇ) ❀ سُونډی ❀ بادراؤ ❀ ګوډی ❀ سربابښه ❀ غوځی (ğujáy) ❀ خادام (xādām) ❀ مِشرک (mišrak) نانګه (nānga) ❀ خلټ (xálaṭ) ❀ ناډک (Nādak) ❀ لاړې ❀ اوسپرین ❀ څاکر (cākar) ❀ کُوک (kūk) ❀ ارزان ❀ ګرنجو ❀ ادو ❀ پټاس (pátās) ❀ سیدال ❀ بدال (Bádāl) ❀ بازار ❀ جنډا ❀ خیرت ❀ ګاړې ❀ کاړې ❀ ساټې ❀ باهو ❀ کناوېز ❀ پالېز ❀ ټکلې ❀ ډونګرا ❀ کوچل (kočál) ❀ ښوون ❀ کاجګ ❀ شننی ❀ اوړګی ❀ روډېون (Rodewán) ❀ مخان ❀ مېختر (mextar) ❀ ګوادی ❀ پیډو (Pidu) ❀ مچا ❀ زونی ❀ مَټ ❀ ازغی ❀ شرونی ❀ اومه ❀ مخی ❀ نی ❀ اګړ (Agaṛ) ❀ سنټیا ❀ ګډا ❀ ډاډا ❀ اوسپرین (osprin) ❀ خرګی ❀ لنډی ❀ خواږه ❀ چکن (čákan) ❀ صروتمن ❀

**بتیار** (Baṭyār) ❁ **رغبولی** ❁ **ناړي** ❁ **ولڼ** (wálaṇ) ❁ **کاغی** ❁ **اواران** ❁ **بهرا** (Bahrā) ❁ **ایسوټ** ❁ **لاکي** ❁ **شل** (šal) ❁ **دادون** ❁ **بکو** ❁ **بهرا** ❁ **مشکنبی، خروټی** ❁ **مری** ❁ **قلم** ❁ **کاکړ** ❁ **ناسر** ❁ **هوتک** ❁ **بلوڅ** ❁ **کلمتر** ❁ **توران** ❁ **شنبي** ❁ **چار شنبي** ❁ **مېخان** ❁ **غورټ** (Ǧwáraṭ) ❁ **کاریکر** ❁ **نرکوسه** ❁ **جیجک** ❁ **ختو** ❁ **کاندو** (gāndo) ❁ **لنډو** ❁ **ککل** (kákál) ❁ **کلانتر** ❁ **کونک** (kənák) **ولړ** (walar) ❁ **ککی** ❁ **غاښ** ❁ **رامڼ** ❁ **جړ** ❁ **بکوټ** (Bagwáṭ) ❁ **لاویر** (Lāwir) ❁ **کاړي** ❁ **باکلی** (Bāklấy) **باسوره** ❁ **چاخی** ❁ **توګی** (Togə́y) ❁ **ماچک** (Māčak) ❁ **خانړ** (x̌anaṛ) ❁ **پاندړ** (Pāndaṛ) ❁ **الڼ** (Alaṇ) **او داسي نور...**

# د ناز نومونه

**پښتانه چي د لرغوني تهذیب** (Civilizatoin) **او پخواني تمدن** (ancient culture) **خاوندان دي، همېشه يې پخپله ټولنه کي و اجتماعي ادبوالو ته په درنه سترګه کتلي دي. نو همدغه وجه ده، چي په پښتني ټولنه کي و مشرانو ته تل د مشرانو او کشرانو ته همېشه د کشرانو په نظر کتل سوي دي. په یوه کورنۍ کي کشران همېشه و مشرانو ته په خپل اصلي نامه نه وايي. او نه یوه ناوې پخپله خسرګنۍ کي خپل لېوروته، ایندرندي او نور... پخپلو اصلي نومونو یادوي، بلکې پر ټولو باندي د ناز نومونه ږدي. البت په مرور زمان په ښارونو کي دغه فولکلوري دودسوکه سوکه پر ختمېدو دئ. حقیقت خو دادئ چي اوس ښځي یو څېه باد رالوتی دئ، وګورو، چي پرمخ به لاڅه پېښېږي؟ دلته ځیني «د ناز نومونه» د نموني په ډول وړاندي کیږي.**

په مينه يې و لولئ او تېروختونه در په ياد کړئ :

## د ناز نومونه

۞ نازک ۞ نازکه ۞ ګرانک ۞ لونګين ۞ ملنګين ۞ لالک ۞ کُليالک ۞ صورتمن ۞ ښايسته ۞ نازولې ۞ برېښمين ۞ لونګ ۞ لونګين ۞ خيالمن ۞ لويان ۞ لوجن ۞ ببک ۞ خيالور ۞ ځوښور ۞ ګلان ۞ ورېښمين ۞ زړکی ۞ خانان ۞ زردار ۞ نازولی ۞ خوږه کی(x̌wáẓákáy) ۞ خان آغا ۞ جان آغا ۞ شاه آغا ۞ شېرين آغا ۞ ګران آغا ۞ ښه کاکو ۞ آغا ۞ آغا جان ۞ آغا مير ۞ آغا شربن ۞ قند آغا

## لوګاني (لوړي)

په کاکړي کي لوګاني (Logāni) چي مفرد يې لو (Lo) ده ، د ګراني پښتو د لوړي (Loṛi) او لوړه (Loṛa) مترادف کلمات دي . البت په پارسي کي د پښتو و همدې فولکلوري اصطلاحاتو ته سوګندها او د مفرد په صورت کي سوګند (Sawágand) ويل کيږي . موږ د دنيا په زياترو ژبو کي لوګاني ليدلای سو ، خو په پښتو کي لوګاني د شمېر لحاظ بېخي ډيري دي .

لوګاني چي د پښتني فولکلور يو زرين باب تشکيلوي ، و موږ ته له خپلو نيکه ګانو څخه په ميراث کي راپاته دي . د پښتو د غه فولکلوري پانګه د پښتنو په ټولنيز ژوند کي خورا زيات اهميت لري . اولنيو پښتنو چي به يو وار لو (Lo)يا په بله ژبه لوړه (Loṛa)وکړه ، نو بيا به پر خپله پښتو ټينګ ولاړ وو . نو همدغه وجه وه .چي يوه پښتانه به د بل پښتانه ولو (Lo)او لوړي (Loṛi) ته په درناوي کتل . خو له بده مرغه

، زموږ په دې ساينسي زمانه کې د پښتنو لوکاني بې ارځښته ګرځېدلي دي . اوس هر سړی يو و بل ته په چم کي دئ . هيڅوک د هيچا په لو (Lo)او يا لوړه (Loṛa) اعتبار نه سي کولای . نر هغه دئ ، چي خپل غرض يې تر سره کئ .

د پښتني فولکلور زياتره لوکاني په اسلامي دوره پوري اړه لري . البت تر اسلام وړاندي لوکاني ډيري کمي پاته دي . دا چي لوکاني زموږ د نيکه ګانو فوئکلوري ميراث دئ ، موږ په خورا درنه ستر ګه ورته ګورو . لوکاني د ساده پښتنو سوکندونه دي . ژبه يې کليوالي او په سوچه تورو او تکه محاوراتو پسوللې ده . البت ځيني لوکاني پخپله لمن کي وخوږ جنو لغاتو ته هم ځای ورکوي . دلته يوشمېر لوکاني ( لوړي ) د نمونې په ډول وړاندي کيږي . وېې لولئ او د اولينو پښتنو يادونه په تازه کئ :

✿ پرما د حوري مورسي ✿ د خورو د مور زنا ده ✿ په ذات د ربي قسم دئ ✿ د طهٔ تکی دئ ✿ په سيلا سل مه قسم دی ✿ زما کليمه د، د کاپر سي ✿ زما د خدای په ذات قسم دی ✿ زه به د نبي امتي نه يم ✿ نبي د زما له شپاعته بېزاره سي ✿ د بابک طلاق دئ ✿ د نيکه طلاق دئ ✿ پر ما د مور زاپيه سي ✿ په لا اِله ✿ زما د په ور نيکه قسم وي ✿ زما د خدای دواړي چپي کي ✿ له موره سره زنا ده ✿ رېبره را وخريه... په دا ک... کې راکښېږده ✿ په رېبره کي متيازي را وکه ، ستا په متيازي يې رالنده که ✿ زما د په نبي قسم وي ✿ ما د ماجت ووهي ✿ ما د مسيد ووهي ✿ ما د رب سل سپارې قران ووهي ✿ ما د نه تتکيه قرانونه ووهي ✿ زما د په «خلېزي نيکه» قسم وي ✿ زما د په «سنځر نيکه» قسم وي ✿ زما د په ذات د خدای قسم وي ✿ سونده را پرې که ، په ک ... کې را کښېږده ✿ پرتوک را وکاږه تر دا سرې را وتره ✿ زما د په «نانک»☆

قسم وي ۞ د لور پـه زنا كه مه دا كار كړی دی ۞ د زوی زنا ده ۞ زما د پـه دا راكړي رزق قسم وي ۞ زه د هندو سم ۞ پـه « نانا» مه دی ۞ زه به د كيراړ ( kirāṛ : هندو ) زوی يم ۞ ما د خدای بې ايمانه تر دنيا تر كي ۞ پر ما د خدای دا راكړی رزق و دروي ۞ سوډر دسم ۞ ما د خدای د آخري زمانې له ملايانو كي ۞ زما د خدای مخ له قبلې واړوي ۞ زما د پـه دا كړي دين ښه نه كړي ۞ زه به هندو يم كه پاته سوې ۞ خدای به مه ته يې كه پاته سوې ۞ كـې ته نبي رالېږلی وې كه پاته سوی ۞ كـه دا دنيا ستا لـه رويه پيدا سوكي ده ، كه پاته سوې ۞ زه بـه ستـا لـه دغه ډ ... پيدا يم ۞ زمـا پـه ادې كي بـه تا را اېښې وي كه پاته سوې ۞ كُرا ( kura :قران مي )ده كه پاته سوې ۞ ما به ږيره خريلې وي كه پاته سوې ۞ ما به كليمه پر تا ويلكي وي ۞ ايته ، ته زما زوړ زوی سې ، پاته نه يې ، ماښام به كورو ۞ ته به زما پر مور سپور يې كه پاته سوې ۞ زما ږيره به د سپي پر ك .... شنه وي كه پاته سوې ۞ زه به له دغه پلاره نه يم پيدا ، له خره به پيدا يم كه پتاه سوې ۞ پـه دغه سره مړی كه پاته سوې ۞ پر ما د نالت وي كه پاته سوې ۞ زه بـه سركوزی يم كه پاته سوې ۞ زه به د سپي ( خره ، خر جډال، خر جدال ، عورت كوسي ) زوی يم كه پاته سوې

---

☆ حضرت ميا عبد الحكيم كاكړ ، چې پـه خلكو كي د « ميا صاحب » ، « نانا صاحب » او « نانك» په درنو نومونو خورا زيات شهرت لري .

# ټکيه کلامونه

تکيه کلامونه د دوو تور و څخه مرکب دي ، تکيه او کلامونه . په لغت کي تکيه و بالښت يا په بله ژبه و سروړد ته وايي . دغه راز کلامونه د کلام جمع ، چي معنا يې په قاموس کي ګايونه ا و يا په بل عبارت خبري دي . خو په اصطلاحي ژبه تکيه کلام و هغه ځانګړو تورو او يا و هغه وړو جملو ته ويل کيږي ،چي يو سړی يې د بل سړي سره د خبرو په وخت کي کاروي .

دا يو څرګند حقيقت دئ ، چي د دنيا د زيا ترو ژبو ويونکي پخپلو خبرو کي مخصوص تکيه کلامونه لري . ا و هر سړی د خپل ځانګړي تکيه کلام او يا تکيه کلامونه په مرسته (Support) و خپلو خبرو ته ادامه ورکوي . که څه هم په خبرو کي تکيه کلام مناسب نه ښکاري . او نه چنداني ښه عادت (good habit)دئ . خو بيا هم خلګ خپل دغه ناوړه عادت نه سي پرېښوولای . حقيقت خو دا دئ ، چي هيڅوک و خپل تکيه کلام ته ملتفت نه وي . او که چيري يو سړی وخپل تکيه کلام ته متوجه کړي ، نو هغه به سم د لاسه دغه درته ووايي : چي ما داسي ... او يا داسي ... هيڅکله نه دي ويلي . خير ... تکيه کلام اوس د انسانانو ضرورت ګرځېدلی دئ . البت د ځينو انسانانو تکيه کلام لنډ او د ځينو د بيا ښخي اوږده وي .

تکيه کلامونه د ټولو پښتنو يوه فولکلوري ورثه ده . او دغه شفاهي پانګه و موږ ته د اولينو پښتنو څخه په ميراث کي راپاته ده . که څه هم تکيه کلامونه مهمل توري وي او چنداني معنا نه ښندي ، خو انسانان يې د يو ضرورت په خاطر پخپلو خبرو کي کاروي .

ما په کاګرستان او ځينو نورو... پښتني سيمو کي « تيکه کلامونه»

پلټلي او يو شمېر مي لاس ته راوړي دي . دلته ځيني تکيه کلامونه د نمونې په ډول وړاندي کيږي :

۞ باقي مانده ۞ باقي دواره ۞ وا د روېده ۞ سر دېې خلاص سو ۞ سر د پر خلاص سو ۞ الله نبي د خيركي ۞ باقي درته يايم ۞ باقي د وتا ته وويل كړي ۞ باقي يو من دو اړه ۞ که زوندی څوک سي ول ۞ پوه سوې ۞ بس پوه سوې ۞ ليا ګای دئ شاکی دئ ۞ اېي ! په وپهېدې ۞ كنه بابا ۞ پاته سوي دي ۞ بس وروره ۞ باد له هغه ، نه بې له خدايه ۞ منه دواره ۞ كه خير وی ۞ باقي مانده پسي راتېر سئ ۞ هغه ده ، څه يې درته ويل ۞ په ګای ورسېدې ۞ په ورسېدې ۞ په پوه سولې ۞ و تاته مه د ولړ (wálaṛ) کړي ۞ پسي راتر مه دسې ۞ سر د په وګرزېدئ ۞ بله ۞ بلې ۞ زي ۞ ماسه ۞ منه ۞ تيته ۞ زياته ۞ صاحبه ! باقي ۞ نوګواندي ۞ وينې ۞ ينې ۞ بس بيا نو ۞ هو، كه زندګي سوکي وای ۞ باقي له خيره سره ۞ زياتي بلاکی ۞ وتاته د ويايم ۞ غوړ دسته ۞ راترسې ۞ باترسې ۞ باقی من ۞ پاته سوی دئ ۞ ورته مه د وويل سي ۞ ويل كړي ۞ الوی الوی ۞ وښ وښ ۞ المه دي ۞ قسم مه نه دی ۞ الا بالله ۞ خلاښ ( ښځينه) ۞ مطلب دا ګای ۞ وا د رېدو ۞ وسپين ورور ته د ووايم ۞ سپينه وروره ۞ مطلب دا ګای دئ ۞ نو دا ۞ ګای ۞ نو بيا ۞ نو بيا دا ګای داسې ۆ ۞ باقي که خير سوی وای .او داسي نور...

# منظومې ګپې

ګپه (Gapa) مفرد او جمع يې ګپې (Gápi) دي . چې البت د کاکړو په يوه بله فولکلوري اصطلاح کې و همدې ګپه ته ورسه (wrása: وراشه) او د جمعې په صورت کې ورسې (wráse: وراشې) ويل کيږي . د پښتني فولکلور دغه ځانګړې ډول د کاکړستان په کلتوري حوزه پورې اړه لري . د مسابقې (Competition) دغه فولکلوري سندري ډيرې لرغونې دي . په کاکړستان کې به دغه منظومه سندرې د دوو کسانو په مابين کې د سوال او جواب په صورت کې ويل کېدلې . او پخوانيو خلکو به په همدغه سندرو خپل وختونه ګو ډول .

د کاکړو دغه منظومه ګپې د پښتني فولکلور يو بېل څپرکی تشکيلوي . موږ له همدغه منظومه ګپو څخه د کاکړو د شاعرانه صلاحيت په ښه ډول اندازه لګولای سو. څرګنده دې وي ، چې يوه ګپه به هغه وخت پای ته ورسېده ، چې په دوو کسانو کې به يو مات سو .

دغه منظومنې ګپې د کاکړو په سوچه پښتو کې جوړې سوې دي. د مسابقې په دې شاعرانه ګپو کې به دواړو خواوو زورونه لګول ، چې برياليتوب يې په برخه سي . بالآخره به په ګپه ګپه کې يو مات او بل به بريالی سو . خو څرګنده دې وي ، چې د ګپې په ورستيو شپبو کې به دواړو خواوو په پوچو شعرونو پيل وکئ ، چې په نتيجه کې د ګپو په فولکلوري لمن کې خوږجن کلمات ژوندي پاته سول .

زموږ په دې روښانه او ساينسي دوره کې د ګپو ځای راډيو (radio)،تېليويژن(television) ، انتر نيټ (internet) او موبايل(mobile) ونيو . پخوانی ګپې نه خو اوس د چا په ياد دي . او نه يې اوسنې خلک جوړ وي . پخوانيو پښتنو د ساتېرې دپاره وسايل نه

درلود . همدغه منظومې کېږي وې ، چې خلکو به خپل زړونه خوشاله او بیداره پرې ساتل . په پای کې د کاکړستان د منظومو کېو څخه یو شمېر خوندوري نمونې د کلا سیف الله د کران زین الله میرزیي په مننه و تاسې ته وړاندې کېږي :

## سړی او هلک

سړی : هلکه ! کولک د سوی دئ په اور
وخورې پلار و مور
هلک : هلک ول : کولک مه سوی دئ په اور
یو ته را صدقه سې
درې څلورلیا دغه ستا له کاله نور
سړی : ده ول : مالیا نازولې
غ... د، و ، م ... په م...
هلک : هلک ول : ای د لیا هغه نیاز دئ
اکا ستا عورته وغ... هغه کور

## مېره او هلک

مېره : هلکه ! وخورې پلار او مور
څنګه یه سځلی (سوځلی)یې په اور
هلک : هو، یو ته تر را قربان سې
درې څلور لیا ستا د کاله نور
مېره : ای خو د لیا زړه را باندي وسوئ
غ... د، و ،م... په م ...
هلک : ای خو د لیا نیاز (ناز) دئ
ستا عورته و غ ... هغه کور

# لقبونه

## لقبونه خوږه برخه د فولکلور ده معطره په دې پانګه پښتونخوا ده

د کاکړو په فولکلوري اصطلاح لقبونه (Laqábuna)یا په بله ژبه کسرونه (kasruna) چې البت ځيني پښتانه ورته سروکي (Sáruki)او ځيني ړ خلک بياورته نيمکۍ (nimák^ə y) وايي ، د پښتني فولکلور يوځانګړی او لرغونی ډول دئ . دغه فولکلوري پانګه زياتره په اتڼونو اويا بيا د ښاديو په نورو محافلو کي د لنډيو (ټپو : tapo) په ملتيا ويل کيږي .

• لقبونه چي د پښتني فولکلور يو خورا خوندور او ښايسته څپرکی تشکيلوي ، و موږ ته له تيرو وختونو څخه په ميراث کي را پاته دي . د پښتو دغه بادي پانګه بې سواده پښتنو جوړه کړې ، چي پراخه لمن يې په رنګينو مطالبو او ښايسته لغاتو پسوللې ده . حقيقت خو دا دئ ، چي يو لقب تر هغه بل لقب په زړه پوري او د ستايلو وړ دئ .

له ښه مرغه زياتره لقبونه د « سروکي » په نامه پښتنو اديبانو په ځانګړو آثارو کي خوندي کړي دي . په دې باره کي د شمس الادباء استاد حبيب ا لله رفيع ، جناب علي محمد منګل ، ګران محمد عارف غروال ، ښاغلي لال باچا ازمون او د نامتو څېړونکی ګران زلمي هېواد مل هڅي دستايني وړ دئ .

البت د لومړيتوب دغه لوی وياړ د « پښتو ټولني » په برخه سو ، چي د پښتني فولکلور په دنيا ́ئي يې اول وار په ۱۳۳۵ لمريز کال د « پښتني سندري » په دوهمه برخه کي يو زيات شمېر لقبونه ( سروکي ) د « نيمکۍ» يا « کسرونه » په نامه راوړي او په الفبا يي ترتيب يې خوندي

کړي دي . دغه راز په سهېلي پښتونخوا کي ښاغلي سيد خير محمد عارف پخپل کتور کتاب « داتڼ نارې » کي د پښتو « ۳۸ کسرونه » زېرمه کړي دي . د نوموړي ليکوال دغه خوندور زيار د ستايلو او منني وړ دئ.

# د لقبونو جوړښت او تقطيع

لقــبونه يا په بل عبارت د اتڼ خوندور کسرونه د جوړښت په لحاظ يو د بل سره توپير لري .ځيني لقبونه لنډي (short) او ځيني بيا اوږده(long) وي . خو د اتڼ دغـه ټول لقبونـه د پښتو په ځانګړو ملي اوزانو کي جوړيږي . اوپه حقيقت کي د هر لقب بېل خوند او جلا رنګ وي . د لقبونو په جوړولو کي دپښتنو ښځمني او نر کاړي دواړه برخه وال دي . اود پښتو دغه ځانګړي کسرونه نرکاړي او ښځمني پخپلو خپلو اتڼو نو کي لقبونه د ټپو(لنډيو) په ملتيا په يو خاص انداز سره وايي .

د لقبونو ژبه خوږه ، پسته او د پښتو په سوچه تورو پسوللې ده . البت پـه لقبونو کي سيلاييز توپير لـه ورايـه معلوميږي . او موږ و دې ښکاره توپير ته څه کوټلې قاعده نه سو ټاکلای .

دلته د ځينو لقبونو تقطيع د څېړونکو او او ويونکو د لارښوني او اسانتيا په خاطر وړاندي کيږي يو څه ورته ځير سئ :

❀(۱)❀

ژړ ګل مه یې ۞ پټ پټ د ساتمه ۞ کا ګل مه یې

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ژړ | ګل | مه | یې | ❀ | پټ | پټ | د | سا | ته | مه | ❀ | کا | ګل | مه | یې |

❀(۲)❀

پاس نمر ختلی دئ ۞ وخت د سحار ګاه دئ ۞ «بابا صاحب» له تللی دئ

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پاس | نمر | خه | ته | لی | دئ | ❀ | وخت | د | سه | حار | ګاه | دئ |

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| با | با | صا | حب | له | تله | لی | دئ |

❀《۳》❀دا تور پیکی ❀ پاس پرتندي پرې که ❀ دا تور پیکی

| | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
| دا | تور | پې | کی | ❀ | پاس | پر | تن | دي | پرې | که | ❀ | دا | بور | پې | کی |

❀《۴》❀زړه مه سوئ ذرې ذرې ❀ خدایه جانان رالوئ

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ |
| زړه | مه | سوئ | ذرې | ذرې | ❀ | خدا | یه | جا | نان | را | و | لې |

❀《۵》❀ړنکه بنکه ❀ چته ولیاړه د یار له خنکه ❀ اوبه یه راړوې له لوړه کړنکه

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | | ۹ |
| ړن | که | بن | که | ❀ | چه | ته | و | لیا | ړه | د | یار | له | خن | که |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
| او | به | یه | را | ورې | له | لور | که | ړن | که |

❀(۶)❀ پر غرو واوري اورېدي ❀ دلته باران دئ

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پر | غرو | واو | رې | او | رې | دې | ❀ | دل | ته | با | ران | دئ |

❀(۷)❀ باغـوانه یاره!

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ |
|---|---|---|---|---|
| با | غوا | نه | یا | ره |

❀(۸)❀ کودر ته ځم

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
|---|---|---|---|
| کو | در | ته | ځم |

❀(۹)❀ د شنو ونو سرونه

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د | شنو | و | نو | سه | رو | نه |

# د لقبونو غوري نمونې

ما پخپل وار د زرینې پانګی په دې قیمتي برخه کې د پښتنې اتهونو یو شمېر په زړه پوري لقبونه زېرمه کړي دي . په دې لقبونو کې زیاتره ما د نامتو سندر غاړي ګران درېش کاکړ او ښاغلي زین ا لله میرزیي څخه لیکلي دي . زه د نومیالي شاعر ښاغلي درویش کاکړ او ګران زین ا لله میرزیي د مرستې مننروی یم . ګور یې ودان او پرځواني یې برکت . دلته دالاندي لقبونه ددې دواړو درنو وروڼو په منته ستاسي و درانه حضورته وړاندي کیږي :

﴿۱﴾

« لیلو » لښته ده ✿ لښته د انار ✿ کمکو مسته ده

﴿۲﴾

پاس نمر ختلی دی ✿ وخت د سحار ګاه دئ ✿ « بابا صاحب » له تللی دئ

﴿۳﴾

زړه مه سوئ ذرې ذرې ✿ خدایه جانان رالوې

﴿۴﴾

دا تور پیکی ✿ پاس پرتندي پرې که ✿ دا بور پېکی

﴿۵﴾

«سردارو» ✿ رو روګل راوړه ✿ «خما رو» ✿ رو روګل راوړه

﴿۶﴾

راځې که ځم ✿ ځم د غرو سروته ✿ بیا نه راځم

﴿۷﴾

باد راوالوت ✿ درختي ښوري ✿ شمال را جاروت

﴾۸﴿

سندر[1] زار ✿ تور لونګ دانه دانه

﴾۹﴿

ژړ ګل مه یې ✿ پټ پټ د ساتمه ✿ کا ګل[2] مه یې

﴾۱۰﴿

رنګه بنګه ✿ چته ولیاړه دیار له خنګه ✿ اوبه یه راړوې له لوړه ګړنګه

﴾۱۱﴿

داشنې دانې ✿ بیا پرلمن کش که ✿ وړې دانې

﴾۱۲﴿

«سیلوجانې» ولیاړه سه خوله راوړه ✿ جار پر یار ګرانې ✿ ګېډۍ[4] د ګلو راوړه

﴾۱۳﴿

هیلۍ له دریابو رالې[5] ✿ جار سم، جار سم، جار ✿ شنې کوترې له باغو رالې

﴾۱۴﴿

پر غرو واورې اوریږي ✿ دلته باران دئ

﴾۱۵﴿

هله، غل دلته دئ ✿ سپینه خوله یه یووړه ✿ ناست و دیواله ته دئ

﴾۱۶﴿

راخم له ګلو[3] ✿ لمن مه ډکه ✿ پاشم له ګلو

---

۱. Sandar: په اصل کې سمدر ۲. ځینې خلک په دغه لقب کې «چارګل» او ځینې بیا «اوربل» وایي. ۳. ولاړه ۴. ګېډۍ، غُنچه، ګلدسته ۵. راغلې

﴿ ۱۷ ﴾

کلی تاته پر پرِدم ✿ وطن تاتـه پر پرِدم

﴿ ۱۸ ﴾

گرده ورِه ستا یم جانانه ! ✿ تولـه بـه در جار سم زما یاره

﴿ ۱۹ ﴾

نه راځي خوب نه راځي ✿ ماځیارت[1] له بوزه ✿ خوب پر پلنگ نه راځي

﴿ ۲۰ ﴾

تنکه گلی تنکه ده ✿ سپینه خوله یه راکه ✿ نجلی له سینې تنکه ده

﴿ ۲۱ ﴾

وه جانانه ! ✿ پرپرِده د «کابل» سیلونه ✿ ای جدایي گرانه

﴿ ۲۲ ﴾

چارگله ! بل اوروونه ته ورې ✿ پېزوانه

﴿ ۲۳ ﴾

درزی[2] دئ ✿ اورِ اورِ باران دئ ✿ شرنگی دئ

﴿ ۲۴ ﴾

ربه ! توبه ✿ گل مه[3] زرِگی یو ورِئ له خوبه

﴿ ۲۵ ﴾

ما گل راورِی ✿ جار ، له شینکی باغه ✿ ما نن راورِی

﴿ ۲۶ ﴾

ما نن ولیدې ✿ ای ژرِ پېزوانه ✿ پاروند[4] جورِ بدې

﴿ ۲۷ ﴾

مخ راوارِوه ✿ شین خال را ښکاره که ✿ پېکی وارِوه

---

۱. زیارت ۲ . drázáy : دربی ۳ . مې ۴ . پارون ، پرون

۞﴿۲۸﴾۞

راولوتې ۞ ای د سحار باده ۞ را جاروتې

۞﴿۲۹﴾۞

توره ماره! ۞ ای ژړه د غاړه ۞ توره ماره

۞﴿۳۰﴾۞

وړی[1] جوړه که ۞ سپین غمی پر کښېږده ۞ پر «راجا» زرکړې[2] جوړه که

۞﴿۳۱﴾۞

د زیږو[3] ګلو باغه ۞ وی ۞ د زیړو ګلو باغه ۞ وی د زیړو

۞﴿۳۲﴾۞

راخې که خمه ۞ وی ۞ لرې وطن دئ ۞ بیا نه راځمه

۞﴿۳۳﴾۞

«خاوک[4]» ته خم ۞ خاوک لرې وطن ده ۞ بیا نه راخم

۞﴿۳۴﴾۞

وی ۞ «ببرو» ۞ په ګل مینه ده

۞﴿۳۵﴾۞

دي اتڼ سر به چتې وړینه ۞ «مایرو» ۞ وی ۞ «ازو» ۞ لونګینه ده

۞﴿۳۶﴾۞

وی ۞ نوابه!

۞﴿۳۷﴾۞

باغوانه یاره

---

۱. اوړی ۲. زکرېې ۳. ژړو ۴. x̌āwak

۞﴿ ۳۸ ﴾۞

«یادم» ۞ «درخو» ۞ ولاړې

۞﴿ ۳۹ ﴾۞

ای ارمان ۞ زیړو ګلو باغ ته راسه

۞﴿ ۴۰ ﴾۞

ازو ګل ده ۞ دي انارو

۞﴿ ۴۱ ﴾۞

ګانه ۞ جانانه !

۞﴿ ۴۲ ﴾۞

ما ګل راوړئ

۞﴿ ۴۳ ﴾۞

ګودر ته ځم

۞﴿ ۴۴ ﴾۞

واړوئ لاسونه ۞ راواړوئ

۞﴿ ۴۵ ﴾۞

د شنو ونو سرونه

۞﴿ ۴۶ ﴾۞

جګ سه له پالانګه ۞ چرګو ناري کړي ۞ خوب به بیاوکې ۞
جار ، جار ، جانانه

# فولکلوري بدلي

**فولکلوري بدلي ډیري په زړه پوري**
**ټولي کړي سیال کاکړ دي دا له خلکو**

فولکلوري بدلي هغه لرغوني سندري دي، چي د پښتني فولکلور یو غوره څپرکي تشکیلوي. په لره او بره پښتونخوا کي داسي خوندوري بدلي ډیري جوړي سوي، چي جوړونکي یې معلوم نه دي. د بې سواده پښتنو دغه فولکلوري پانګه تر اوسه پوري د خلکو په سینو کي خوندي پرته ده. زیاتره بدلي ورکي دي. لږو ډیري چي پاته دي، هغه هم د ورکېدو په حال کي دي. په دغه بدلو کي د طنز (satire)او مزاح (Humour) خوندور مطالب له ورایه معلومیږي

فولکلوري بدلي د پښتو په سوچه تورو پسوللي دي. او دا بدلي پخپله ارته لمن کي و راز راز مطالبو ته ځای ورکوي. ما د پښتنو د بې سواده ورونو څخه ځیني فولکلوري بدلي راټولي کړي دي، چي دلته ستاسي د خولې د خوند د بدلولو په خاطر وړاندي کیږي:

## ❁ کاک ❁

بخت مه بیدار ړي [۱]
کاک مه [۲] پرڅلوره روانړي [۳]
پړتوک [۴] مه پسي راټول کئ
کاک مه وینو د «سنځر نیکه» پرڅلي
ما ول: کاکه! کاکه! چیري ځې؟ (سرچینه: خدای نظر جلالزي مشهور په تور اکا)

۱. بیدار یږي ۲. مي ۳. روانیږي ۴. پړتوک

## ❁ ملا ❁

د ملا خوله ده مزغاړی [1] — خپله خوري د بل د غواړي
سي [2] جنگ سي د دبرو — ملا پټ کئ په کمبلو

(منبع : خدای نظر جلالزی)

## ❁ ملا ❁

ملا ملا غوړي دي — ږغ مه لرئ سړي دي
ملا ملا مار دئ — د زړو مړو کار دئ

( په حواله : د خدای نظر جلالزي)

---

۱. mazǧāṛay : مز غاړی د کاکړو په فولکلوري اصطلاح د پسونو او سېرلیانو له پوستونو څخه چي کومي بنیاني (baniani) جوړي سي ، نو د دوی په ژبه ولویی بنی ته کل (Kál) و منځوی ته بنی (banə́y) اوبېخي کوشنی ته بیا مزغاړی (mazǧāṛay) وایي. خو څرکنده دي وي، چي پخپله په « مزغاړي » نومي توري کي « د : dá» موجود ، خو د وخت په تېرېدو سره غورځېدلي دئ . و بنی ته په پارسي کي انبان (anbān) او و کوشنی بنی ته بیا انبُنچه (anbūnča) ویل کیږي . ۲. څي ،چي

## ❁ مږک ❁

مږک دئ نه دئ اسان | چي بې وزني [1] هر خسمان
د مږک په ملاکي بند دئ | توپکې [2] اکر بند دئ
پنځه پنځوس کارتوسه | همېشه باسي په ښکار
مږک دئ نه دئ اسان | چي بې وزني هر خسمان
د مږک يو کارخانې دي | عجبه يې درستې دي
سحار مردان [3] راووزي | جنګ ته باسي مشينان
مږک دئ نه دئ اسان | چي بې وزني هر خسمان

( په حواله : د اروانښاد عبد الحکيم باخزيي )

## ❁ سوږسک ❁

سوږ سکه ! باچهي دي سوه بلنده
پر سرو اوښو يه راوړې د «ميونده»
په ژرنده دي کرکی وکئ کوزکه

(په حواله : د حاجي فضل محمد خان نورزي )

## ❁ طالب ❁

طالب چي خيره تولهکي | خوله ورته ګځوره کي
نس ورته جوال کي | طالب دي خداى مُردار کي

## ❁ طالب ❁

طالب چي خيره تولهکي | دا خوله ورته ګځونه کي
دا نس ورته تاغارکي | طالب دي خداى مُردار کي

---

۱. وژني ۲. توپک يې ۳. سحار مردان

## ❁ چرندک ❁

✿ چرندک د وازکوړک ✿ مورې بي بي ✿ پلارې ازبک
✿ تا غیم ✿ تاکت غیم ✿ تاکت په بلوڅي غیم ✿ مور دي په پنجي غ...
✿ بند پر بند ✿ علي بلند ✿ میږي ډیري ✿ شپولې تنګ
(هلمند ولایت)
✿ سمنو[1] مور دي منو ✿ که خدای د دې واره را شین کې ✿ مور دي کال پر کال کوو (کندهار ولایت)

## ❁ ښاخ کُړاخ برېتونه☆ ❁

ښاخ کُړاخ برېتونه پر میدان کوي جنګونه
دغه یو برېتې د زمري دئ ماته نه وړي له میدانه
مړ مه سې خالي ځوانه

☆...... دغه پورتنۍ فولکلوري سندره به و هلمند ته راغلي غزنیچي (ğazniči)ملنګ ویله، چې پوستین به یې په غاړه او پر آس باندي به سپور ؤ. دې ملنګ به پکړ کاوه. او خلکو به ودې نازولي ملنګ ته اوړه، د پرسندې (لاندي) کترې او نغدي پیسې ورکولې.
۱. samánu: حلوهٔ سمنک

# فالونه

ښــه فالونـه را ټول سوي دي لـه خلکو
پــه سمسوره کـرونده چې د پښتو ده

❁❁❁

پــه فـالـونو پسي نوکان زما دي وتلي
بريالی سوم بريالی سوم په دې کار کي

❁❁❁

پښتـنـي فـولـکـلـور غـنـي پــه ملغلرو
کې ټول کړي خواريکښ د زمانې څوک

❁❁❁

« ناسران» خو دغه پانګه « پالې » بولي
خوندي سوې په همت د سيال کاکړ دي

❁❁❁

د دې لاري لوی مخکښ «استاد رفيع» دئ
چي ټول کړي لومړي وار ده دي فالونه

## د فالونو پیدایښت

فالونه چې د پښتني فولکلور په سمسور ګلستان کې د فولکلوري ادب یو درووند باب تشکیلوي، له زړې زمانې څخه و موږ ته خوله په خوله او سینه په سینه د خپلو ښځمنو څخه را پاته دي. دغه ښځینه فولکلوري پانګه د غاړو، لنډیو، کیسیو او یا بیا د «اتڼ» د «نارو» غوندې لرغونی تاریخ خونه لري، البت د اټکل له ر ویه ویلای سو، چې د فالونو پیدایښت په اسلامي دوره کې سوی دئ. او دا وخت پر دې خوندوري پانګې باندې په سوونوکلو نه تېر سوي دي.

## د فالونو جوړونکې او ویونکې

دا خو یوه منلې خبره ده، چې د پښتني فولکلور زیاتره ډولونه ښځمنو جوړ کړي دي. او حقیقت دا دئ، چې د پښتو په کړني ادب (Folk Literature) کې زموږ د بې سواده ښځمنو ونډه ښېخې لویه ده، چې یو ژوندی مثال یې فالونه دي.

د پښتني فولکلور دغه خوندوره او په زړه پوري برخه په اسلامي دوره پوري اړه لري. د دې بادي پانګې جوړوونکې او ویونکې پښتنې ښځمنې دي. دوی فالونه په خوورا مهارت جوړوې او بیا یې د برات په شپه وایي.

## د فالونو ځانګړي مطالب

فالونه چې د ښځمنو په ساده، خوږه او روانه ژبه جوړیږي، دغه لاندې مطالب پخپله درنه او پسته غېږ کې را نغاړي:

۞ ... فالونو د پښتو ډېر پخواني او زاړه توري پخپله زرینه لمن کې خوندي ساتلي دي، چې البت د تورو په دې زړه ذخیره کې ځیني دا وخت بېخي متروک دي . د مثال په ډول خرلنډه (x̌arlanda )، دېوس (dewas) لمباتو (Lambātu )،کوجي (guji)کرکنډه ( Karkánda: لویه ډبره) او داسي نور ...

۞ ... د فالونو یوه لویه برخه په دیني مطالبو او اخلاقي ګایو ښایسته ده . د ساري په ډول دا لاندي فالونه وګورئ :

ښه نمونځ کې ښه اودس  خدای به ورکې سپین د پوس
راکـــــاړه یــــــه تــــروری

۞ ... د فالونو یوه برخه بیا په طنزیه خبرو ډکه، چې یوه خوندوره نمونه یې په دې ډول ده :

چــا و دي چــاودي پښـې  یــو مــن خــاوري پــه کښـې
نـــاوي را وکـــاړه کـــنــکــر

اویا دا فال :

ګــــاره پوري پــچـــه  لـــه خواری دي ... وچـــه
راکـــــاړه یــــــه تــــروری

۞ ... داچې فالونه ښځمني جوړوي ، نو ځکه یې ژبه سوچه ، پیرایه یې ښایسته او به درنو محاوراتو او ورځنی پښتو پسوللې ده .

۞ ... د فالونو په زرغونه لمن کې ځیني ټولنیز او طنزیه ګایونه هم ځای سوي دي.

۞ ... دغه راز د پښتني فولکلور په دې خوندور ډول کې بې سواده ښځمنو د پښتو خورا سوچه او معیاري قافیې کارولي دي . د مثال په ډول دا لاندي فال وګورئ :

د کښـې رالــه کـرکـنـډه  یو پـایځـه اوږده بلـه یې لنډه
راکـــــاړه یــــــه تــــروری

# د فالونو ځانګړي کسرونه

فالونه که یو بیتیزوي او که یا یو نیم بیتز وي ، د پښتو هر فال په یو ځانګړي کسر (kasr) پای ته رسیږي . البت په فالونو کي قبیلوي، لهجوي او یا بیا سیمه ایز توپیر لیدل کیږي . د مثال په ډول د فالونو دا لاندي کسرونه وګورئ :

... راکاړه یه کنکڼ ناوي را وکاړه کنکړ را کاړه یه تروری- راکاړه یه که سته او داسي نور ...

# سیمه ایز فالونه یو وبل ته سره ورته دي

پښتانه د تاریخي پښتونخوا په هره سیمه کي چي پراته دي ، فولکلوري مواریث یې سره شریک دي . د مثال په ډول «فالونه» د ټولو پښتنو یوه ګډه ملي اثاثه ده . دغه فالونه په «میدان وردک» کي جوړ سوي دي ، که په «مقر» کي ، په «پکتیا» کي جوړ سوي دي که په «کندهار» کي ، په کاکړستان کي جوړ سوي دي اوکه یا« د ناسرو ښځمنو» جوړ کړي دي ، دغه زرینه فولکلوري پانګه د پښتنو د ښځینه ادب یو خورا لوی اوخوندور څپرکی تشکیلوي . ټول پښتانه وخپلي دې درنې اثاثې ته د قدر په نظر ګوري .

پښتانه چي په جغرافیایي لحاظ د لویي تاریخي پښتونخوا په بېلا بیلو سیموکي پراته دي. نو همدغه وجه ده ، چي ددوی فولکلوري پانګي یو دبل سره سیمه ایز توپیر لري ،البت سیمه ایز فالونه یو وبل ته بېخي سره ورته دي . زما په خیال د پښتونخوا د یوې سیمي ځیني فالونه په مرور د زمان و یوې بلي سیمي ته رسېدلي دي . نو همدغه وجه ده ، چي په داسي فالونو کي موږ لږ و

ډېر لهجوي بدلون ليدلای سو . خو په مجموع کي ټول فالونه په يو ه ځانګړي چوکاټ کي دننه جوړ سوي دي . او و هر چاته پخپل لحن اوګرډود کي خوند ورکوي . د مثال په ډول دلته ځيني فالونه وراندي کيږي ،تاسي د دې لاندي فالونو و سيمه ايز توپير ته نوکی نوکی ځيرسئ :

لـــنډه ده خـــر لـــنـــډه    يوه پايځه اوږده بله يه لنډه
راکـــــاږه يـــــه تـــوررې

۞۞۞

د کښـې رالـــه کـــرکـنـډه    يوه پايځه اوږده بله يه لنډه
نـــاوي را وکـــاږه کـــنـــکــړ

۞۞۞

چـــا و دي چـــاودي پښـې    يـو مـن خـاوري پـه کښې
نـــاوي را وکـــاږه کـــنـــکــړ

۞۞۞

چـــا ودي چـــاودي پښـې    يـو مـن خـــاوري پښـکـې
را کـــــاږه يـــــه تـــروری

۞۞۞

دي جـنـت انـکـور پـاخـه سو    مـــا لاس وروړی نـــه ؤ
دوی پـخـپلـــه راکـــاږه سو    راکـــاږه يــه کــه ستــه

۞۞۞

دي جـنـت انـکـور پـاخـه دي    چـــا لاس وروړی نـــه ده
دوی لـــه خپـلـو راکـاږه دي    راکـــاږه يـــه تـــروری

۞۞۞

پـــه دېـوال پـوري ولاړې    لـــه تـــابَـز متيـــازي ولاړې

راکـــاږه یـــه کـــه ستـــه

جـو مـــایـــت پـوري ولاړې          لـــه تـــاخیر متیـازي ولاړې

راکـــاږه یـــه تـــروري

# په پښتني ټولنه کي د فالونو ارځښت

پښتنو چي بازارونه او ښارونه نه وو لیدلي . په غرو او رغو کي یې ژوند کاوه . د اوسني تهذیب څخه لیري او د معاصر تمدن په الفبا لا نه وو خبر . نو په داسي وخت کي د فالونو خپل خوند ؤ . په پښتني ټولنه کي فالونو ارځښت او خاص اهمیت درلود . ښځمنو به فالونه اچول او خپل بختونه به یې پر کتل .

بیـا وروستـه د پښتو په لیکنـي ادب کي باقاعده شاعرانو او لیکوالانو « منظومي او منثوري فالنامې » ولیکلې . و دغه آثارو ته پښتنو د قدر په نظر وکتل . په دغه زمانه کي د « فالنامو» بازار خورا گرم ؤ . په تېره بیا خلکو د رحمان بابا و عرفاني دیوان ته زیاته عقیده درلوده . په ایران کي خلک تر اوسه پوري و حافظ شیرازي ته کلکه عقیده لري . ایرانیان نر دي که ښځي ټول و « دیوان حافظ » ته خورا خوشبین دي . خپل قسمتونه پر گوري . او له دې « عرفاني کلام » څخه بختور فالونه راباسي .

دغه راز پـه پښتنـي ټولنـه کي فولکلوري فالونه خورا زیات ارځښت لري . هغه پښتانه چي تر اوسه پور ي تر ښار و دباندي په غرو او رغو کي ژوند کوي ، و فالو ته ټینکه عقیده لري . دوی تر اوسه پوري فالونه اچوي . او ځانونه په دې وسیله خوشاله ساتي . پښتنې ښځمني و « ښه فال » ته په ښه نظر او و « بد فال » ته بیا په بد نظر گوري . دوی همېشه خپله نېکمرغي او بد مرغي په فالونو کي لټوي .

# د فالونو جوړښت او تقطيع

زياتره فالونه د فني جوړښت په لحاظ يوبيتز او يو نيم بيتز وي . خو په دواړو صورتونو کي ځانګړي کسرونه ورسره تکرار يږي . البت د فالونو مسرۍ ځيني وخت لنډي او ځيني وخت بيا اوږدې وي . موږ د بېلا بيلو فالونه و جوړښت ته يو خاص قاعده او کليه نه سو ټاکلای . دلته د ځينو فالونو و تقطيع ته ستاسي علمي نظر را جلبوو:

# یوبیتیزه فالونه

**چاودي چاودي پښې ❁ يو من خاوري پښکې ❁ را کاږه یه ترورۍ**

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ |
| چاو | دي | چاو | دي | پښې | ❁ | يو | من | خاو | ري | پښ | کې |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ |
| را | کا | ږه | یه | ترو | رۍ |

**شين زرغون بالښت ❁ د مکې په لوري رغښت ❁ را کاږه یه ترورۍ**

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ |
| شين | زر | غون | با | لښت | ❁ | د | مه | کې | پر | لو | ري | رغښت |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ |
| را | کا | ږه | یه | ترو | رۍ |

کمیس یه خیري ده په لري ❁ خدای بې وګنډي د سرو زرو په ستني ❁ راکاږه یه تروري

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ |
| که | میس | یه | خي | ري | ده | په | له | لري | خدای | بې | و | ګن | ډي | د | سرو | ز | رو | په | ست | ني |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ |
| را | کا | ږه | یه | ترو | رې |

دي زېږي غوا مېرمنې ❁ نُور دي اوري له لمنې ❁ راکاږه یه تروري

| | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| دي | زې | ږي | غوا | مېر | مه | نې | ❁ | نُور | دي | اور | ري | له | له | مه | نې |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ |
| را | کا | ږه | یه | ترو | رې |

# یونیم بیتیزه فالونه

**دي جنت انګور پاخه سو ❁ ما لاس ورو ړی نه ؤ ❁ دوی پخپله راکاړه سو ❁ راکاړه یه که سته**

| | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ |
| دي | جه | نت | ان | ګور | پا | خه | سو | ❁ | ما | لاس | ور | و | ړی | نه | ؤ |

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ |
| دوی | په | خپه | له | را | کا | ړه | سو | ❁ | را | کا | ړه | یه | که | سته |

**جنت پوتي پوتي ❁ پیغمبر يي راخوريږي ❁ مخي پټ پخپل پټکی ❁ راکاړه یه که تروری**

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| جه | نت | پو | تي | پو | تي | ❁ | پي | غم | بر | يي | را | خو | ري | ږي |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ |
| را | کا | ړه | یه | ترو | ری |

# د برات په پنځلسمه شپه فولکلوري مراسم

هسي خو د انسانونو په ژوندون کي یوه یوه شپه قیمتي اوخورا د قدر وړ ده . خو د اسلامي عقیدې له رویه د شعبان المعظم پنځلسمه شپه چي د پښتنو په اصطلاح « ښه شپه » بلل کیږي ، خلک یې په خورا درنو مراسمو نمانځي . د پښتني ټولني ټول وګړي ودې « ښې شپې » ته په ډېره درنه سترګه ګوري . زیاتره پښتانه د شعبان المعظم و پنځلسمي مبارکي شپې ته شابرات ( شبِ برات ) وايي . او ځیني پښتانه یې بیا « پنحلسی» بولي .په دغه مبارکه شپه دپښتنو په هر کور کي اووه توکې خواړه پخیږي . دوی په دې عقیده دي ، چي په دغه مبارکه شپه د انسانانو رزق زیاتیږي . زیا تره پښتانه دغه مبارکه شپه په عبادت کي را تېره کړي .

په پښتني ټولنه کي د « ښې شپې » یوځانګړی خصوصیت دا دئ، چي پښتني ښځمني دغه مبارکه شپه په فولکلوري سندرو نمانځي . دپښتو دغه مخصوصي سندري د « پالي : Pale» یا په بله ژبه د « فالونو : Falunu» په نامه یادیږي . او په پښتني ټولنه کي د فالونو مراسم یوځانګړی ترتیب لري ، چي په لاندي ډول دئ :

په « ښه شپه» د کلي انجوني ، پېغلاني او سپین سري د یو چا په کور کي سره را ټولي سي . بیا وروسته دغه ښځمني یوه ماشومه انجلۍ و لمبوي . نوي کالي ور په غاړه او د ناوي غونډي یې سینګار کړي . بیا دوی پر دې ماشومې باندي ښایسته شال یا ټیکری واچوی . او بیا یې په خورا درناوي پر یو مخصوص ځای باندي کښېنوي .

بیا وروسته ناستي ښځي را ولاړي سي ، په یوه منګي او یا په یوه لوښي کي خوا پاکي اوبه واچوي . او بیا هره یوه په دغه منګي اویا

لوښي کې خپل خپل یو شی لکه : بنګړی ،والی ، ګوتکه ( انګشتری ) ، ګوتمی ( انګشتانه ) ، چلی ، کلي ، د سر سیخ او یا یو بل شی ... واچوي . بیا وروسته دغه ناستې ښځې سنګی یا هر هغه لوښی چې دوی خپل خپل شیان په کې اچولي وي ، را واخلي ، د ماشومې په څنګ کې یې کښېږدي . بیا ماشومه له دغه لوښي او یا منګي څخه یو ـــ یو شی را باسي . اوهغه ماشومه و ناستو ښځمنو ته یې ورښکاره کوي . او هره ښځه خپل اچولی شی په نېک فال باندې نیسي .او هره ښځه چې «نېک فال » یې را ووزي ، نو هغه پر « ښو » باندي نیسي . زړه یې په خوشاله او د زړګي ارمان یې په وخېژي . او د کومې ښځې چې « بد فال » را ووزي ، نو هغه پر « بد » نیسي . او په زړه کې یې کرکه ځیني پیدا سي . مثلاً: دا لاندې فالونه د « ښو» او « بدو» قسمتونو ترجماني کوي :

۞ ... دي جنت انګور پاخه سو ۞ مالاس وروړی نه ؤ ۞دوی پخپله را کاږه سو ۞ راکاږه یه که سته

۞ ... دسره اتلس مېرمني ۞ اتلس یخ که درلمني ۞ ناوي را وکاږه کنګر

او یا بیادا فالونه :

۞ ... پر سر دي څپری ۞ اور دي واخله ککری ۞ راکاږه یه که سته

۞ ... چا ودي چاودي پښې ۞یو من خاوري په کښې ۞ناويرا وکاږه کنګر

زه د محلي روایاتو په استناد دا ویلای سم ، چې د کاکړو ښځمني د فال تر اچولو وړاندي، لومړی وار یوه ښځه درې ځله کلمه طیبه : لا اله الا الله محمد رسول الله وایي . او بیا وروسته دغه فولکلوري سندره داسي زمزمه کوي :

۞ ... واچوئ پالونه ✿ چي خدای تېنګ کي تناوونه

او بيا چي ناستي ښځي هرفال وايي ، نو د هر فال سره دا کسر چي : ✿« راکاړه يې کنکڼ» تکراره وي . البت د ناسرو ښځمني بيا پخپلو فالونه کي ✿ « راکاړه يه ترورۍ » او د کندهار ښځمني بيا ✿ « ناوي راو کاړه کنګړ» د کسر په ډول کاروي . البت د نورو پښتنو د فالونو کسرونه به شايد بل ډول... وي ، چي و ماته نه دي را معلوم . نو ځکه خو دلته له ليکلو څخه پاته سول.

څرګنده دي وي ، چي پښتني ښځمني په « ښه شپه » اودسونه تازه کړي . او بيا تر سحار پوري ناستي وي ، خپل نفلونه کوي . چي څه وخت د سحار نمونځونه وکړي ، نو بيا وخپلو خپلو کورو ته سره ولاړي سي . په دې پورتني ترتيب د برات د پنځلسمي شپې نيکمرغي شپې او ځانګړي مراسم د خوشاليو په ملتيا پای ته ورسيږي .

# فالونه په چاپي آثارو کي

فالونه چي د پښتني فولکلور يو وياړلی اوخوندورباب تشکيلوي ، تر دا وخته پوري يې ځيني په زړه پوري نموني د پښتوپه چاپي آثاروکي خوندي سوي دي ، چي دلته دغه ګټور او خوندور آثارپه لنډ ډول وتاسي ته درپېژنو :

## ۱. د خلکو سندرې

د پښتني فولکلو ر په سمسوره دنيا کي د جناب استاد رفيع د غه پورتني اثر هغه دروند او ګټور فولکلوري مخزن دئ ، چي لومړی وار ادبوالو د دې زرين کتاب په طلايي پاڼو کي تر شمېره «۱۰» لاندي « فالونه » ويني .

جنـاب استـاد رفیع پخپلـه څلور مخیزه لیکنه کي فولکوري فالونه په ډېر ښه ډول څېړلي او وخلکو ته يې د پښتني فولکلور په دنیا کي لومړی وار ورپېژندلي دي . نو ځکـه خو استاد رفیع د فالونو په میدان کي د اولیت حق لري . دغه راز دپښتنو دې لوی لیکوال او منلي څېړونکي د خپلي خوندوري لیکني په پای کي« ۲۵ فالونه» د نموني پـه ډول اولـه پلا و ادبوالو تـه وړانـدي کړي دي . د استاد رفیع دغـه ابتدايي زیار او ژور کار دزیاتي ستاینې وړ دئ .

څرګنده دي وي ، چي د استاد رفیع دغه خورا په زړه پوري او ګټور اثر « د خلکو سندرې » په ۱۳۴۹ لمریز= ۱۹۷۰ میلادي کال د افغانستان اکاډیمي د تاریخ او ادب ټولني خپو رکړی ، چي د هر چا د استفاده وړ کرځېدلی دئ .

## ۲. پښتني فولکلور

د شمس الادباء جناب حبیب الله رفیع را وروسته سیال کاکړ دوهم لیکوال دئ ،چي « ۳۸ نوي فالونه» يې له شخمنو څخه را ټول کړي او بیا وروسته يې دغه تازه فالونه پخپل پورتني اثر کي زېرمه کړي دي . نوموړي لیکوال پخپله اووه مخیزه لیکنه کي فولکلوري فالونه د څېړني په ملتیا راوړي دي .

د سیـال کـاکـړ دغـه ۸۸ مخیزه کتاب په ۱۹۷۱ میلادي کـال د کـوټـي « پښتـو ادبـي شپـول »د نوموړي لیکوال پـه شخصي لګښت خپور کړی دئ .

## ۳. د غرونو څوکي

په پښتنو ادیبانو کي ښاغلی عبد الکریم پتنګ هغه لیکوال دئ،

چي پخپل دې پورتني كتاب كي يې د «فالونه» تر عنوان لاندي ځيني نوي فالونه راوړي او په ښه ډول ځېړلي دي .د ګران پتنګ دغه غوره كتاب په ۱۳۵۹ لمزيز كال د كابل پوهنتون «د فلالوژۍ پوهنځي» چاپ كړی دئ .

## ۴. د پښتو شفاهي ادبيات( شکل او مضمون)

غوټۍ خاوري پخپل وار په دې پورتني كتاب كي فولكلوري فالونه د نورو سر چينو او مأخذونو په وسيله څېړلي دي . زموږ ددې پياوړي ليكوالي دري مخيزه ليكنه ګټوره او د قدر وړ ده . دغه پورتنی اثر په ۱۹۸۸ ميلادي كال په كابل كي خپور سوی دئ .

## فالونه په كندهار كي

كندهار د پښتني فولكلور يوه خورا لرغونې او سمسوره حوزه ده . په دې وياړلې حوزه كي دپښتني فولكلور ډېر ډولونه جوړ سوي ، چي يو له همدغو خوندورو ډولونو څخه «فالونه» دي . دلته د خپل ګران او صميمي ملګري ښاغلي حاجي فضل محمد خان نورزي په مننه يو شېر په زړه پوري «فالونه» د نمونې په ډول وړاندي كيږي ، چي د كلتوري او تاريخي كندهار نمايندګي په وسي :

﴿۱﴾

تـــلاكــــه تـــلاكـــی ، پــر ســرې بــوخــچــكــی

نـــاوی راوكـــاړه كـــنـــكـــر

﴿۲﴾

مـــه ځـــغـــلـــه پـــر كـــاره ، خـــدای بې دركي پـر كـراره

نـــاوي را وكـــاړه كـــنـــكـــر

﴿۳﴾

د سره اتلس مېرمنې اتلس يخ که در لمنې
ناوې را وکاږه کنکر

﴿۴﴾

آسمان سو درې ورې راولوېدې د سرو زرو لکرې
ناوې را وکاږه کنکر

﴿۵﴾

آسمان سو لارې لارې راولوېدې د سرو زرو هينداري
ناوې را وکاږه کنکر

﴿۶﴾

در ماجت در شا ولاړې اور دې ولکوئ ولاړې
ناوې را وکاږه کنکر

﴿۷﴾

چاودې چاودې پښې يو من خاورې په کښې
ناوې را وکاږه کنکر

﴿۸﴾

د کښې راله کرکنډه يو پايڅه اوږده بله يه لنډه
ناوې را وکاږه کنکر

يادونه: د پښتو درانه او مشر ليکوال جناب محمد ولي ځلمي د خپل کتور کتاب «کندهار» چې د کابل «موسسهٔ انتشارات زوري» په۱۳۵۱ لمريز کال خپورکړی دئ، پر مخ ۲۶۸ باندې د «فالونه» تر عنوان لاندې يو څه خبرې کړې او بيا يې څلور فالونه بې د څه حوالې» د نمونې په ډول داسې راوړي دي:

❁ ... د مکې پر سپين بامونه ❁ پـنې وکاږه را درومه

❁ ... د کندهار انار پاخه دي ❁ ښاخونه يې په دې لوري کاږه دي
❁ ... ای نجلی ای نجلی ❁ښایسته مېره غواړي
❁ ... د کلي په سر توښ دئ بادې ښوروي ❁ روزي يې خدای ورسوي

څرکنده دي وي ، چې په دې پورتنيو فالونو کې « لومړی » او « دوهم » فال د جناب استاد حبيب الله رفيع دکتاب « د خلکو سندرې » پر ۱۲۱ مخ باندي کټ مټ همداسي ثبت سوي دي . البت په « څلورم » فال کي د کندهار درانه ليکوال محترم محمد ولي ځلمي لاس وهنه کړې ده . دغه « څلورم فال » گران روزي به خدای ور رسوي استاد رفيع د خپل مستند او معتبر اثر « د خلکو سندرې » پر ۱۲۲ مخ باندي داسي خوندي کړی دئ :

❁ ... د کلا پر سر توشی دئ ، باد يې ښوروي ❁ روزي به خدای ور رسوي

پاته سو ، د جناب محمد ولي ځلمي پخپل « کندهار » نومي کتاب کي دا لاندي فال :

❁ ... ای نجلی ، ای نجلی ❁ ښایسته مېره غواړي

زما په اند دغه پورتنی مازې شی ... ؟ هر څه چي دئ ، وي به ، خو فولکلوري فال نه سي کېدلای . ځکه چي په دې ساختگي شي... کي نه خو د فولکلوري فال شعري زور سته . او نه د فالونو په ځانگړو چوکاټونو کي ځايېدلای سي .

حقيقت خو دادئ ، چي په « کندهار » نومي کتاب کي راغلي « درې فالونه » په اصل کي د وړدگو د کلتوري ناوې دي ، نه چي د کندهار . خوکشکي چي د پورتني کتاب ښاغلي ليکوال جناب محمد ولي ځلمي پخپل اثر « کندهار» کي د گران استاد حبيب الله رفيع د چاپي کتاب « د خلکو سندرې » حواله ورکړې وای .

# د لومړيتوب وياړ

فالونه چې د پښتني فولکلور يو ځانګړی ډول تشکيلوي، له ډېره وخته دغه فولکوري جواهر د خلکو په سينو کې زېرمه پراته ول . يوازې ښځمنو به د برات په شپه استفاده ځيني کوله. د پښتني فولکلور ټولوونکي او څېړونکي د پښتو د ګړني ادب په دې ورکې او پټې خزانې بېخي خبر نه وو، فالونه د کندهار په چاپېريال کې دود ول، خو د علامه نوري غوندې انسان لانه سو پر پېښ، چې د پښتني فولکلور دغه درنه او قيمتي پانګه يې راټوله کړې او بيا يې څېړلې واى .

خو خير ... بالآخر شمس الادباء ګران حبيب الله رفيع د فالونو پر ورکه خزانه باندې د ورډ‌ګو په پښتني چاپېريال کې پېښ سو . ګروېږنه او پلټنه يې پسې وکړه . او ښې ډېرې او خورا په زړه پورې نمونې يې لاس ته راوړې . په دې ډول د استاد رفيع د لومړيتوب وياړ او لوى افتخار په برخه سو، چې د پښتني فولکلور په وېړه دنيا کې تر هر چا د مخه يې فولکلوري فالونه راټول کړل . او بيا يې د خپلې خوندورې څېړني په ملتيا پخپل کتور کتاب «د خلکوسندرې» کې د«فالونه» تر عنوان لاندې ادبوالو ته وړاندې کړل .

# پالې (Pāle : فالونه)

**دا « فالونه » فيض الله دې را ټول کړي**
**فولکلوري ادب د ده په زيار شايسه سو**

ناسران چې په غلجيو پښتنوکې يو لوي ټبر دئ، د پښتني فولکلور په بېلا بيلو پانګوکې برخه وال دې . دوی پخپله فولکلوري اصطلاح و فالونو ته « پالې : Pāle» وايي . دغه فولکلوري پانګه د

ناسرانو ښځمنو جوړه کړې او همدوی یې ساتندوی دي .

د ناسرانو پښتو ډېر سوچه ، پسته ، خوږه او د پښتو په ډېرو نادرو او ښایسته تورو پسوللې ده . ما د ناسرانو« پالې» د دوی په ژبه لیکلې او بیا مې د زریني پانګې په دې برخه کې زېرمه کړې دي .

زه د فیض الله خان ناسر منندوی یم ، چې په بوري کې زما دې نیازمن ملګري له ښځمنو څخه زما په غوښتنه « پالې » را غونډه کړې او بیا یې و ماته په ورین تندي را سپارلې دي . دا وخت فیض الله خان زموږ و ستاسې په مابین کې نسته ، خو د هغه خنده رویه ورځ به زما تل په یاد وي . پروردګار دې دغه ګلالی انسان پخپل ابدي کور کې په آرام وساتي .

څرګنده دې وي چې پروفېسر فیض الله خان ناسر د ۲۰۱۱ میلادي کال د اګست پر ۲۱ نېټه نا ببره له دې نابودي دنیا څخه جامې کت کړلې . دغه ښایسته انسان مې هر وخت و سترګو ته جګ ولاړ وي. خدای دې ښه ورسره وکړي .

دغه راز د « پالې » په ټې ورکه او لاس ته راوړې خزانه کې د بوري د هستوګې ښاغلي عبد العزیز ناسر ونډه هم شامله ده . د ارواښاد فیض الله خان د « پالې » په لویه فولکلوري پانګه کې زما د نیازمن شاګرد ګران عبد العزیز ناسر د « لسو» په شاوخوا کې فالونه شامل دي . زه ښاغلي عبد العزیز ته کوروداني وایم . ژوندی دې اوسي .

ډالۍ : د « زریني پانګې » د « پالې » خوندوره، په زړه پورې او درنه برخه خواږه ملګري ځواني مرګ پروفېسرفیض الله خان ناسر ته ډالی سوه . اروا دې ښاده وي .

# د پالې زرينې نمونې

(۱)

لنډه ده خر لنډه يوه پايخه اوږده بله يه لنډه
راکاږه يه ترورې

(۲)

چاودي چاودي پښې يو من خاوري پښکې[۱]
راکاږه يه ترورې

(۳)

جنت انکور پاخه دي چا لاس وږي نه ده[۲]
دوی له خپلو راکاږه دي راکاږه يه ترورې

(۴)

کور تر شا تِلتک[۳] ده له زړې سپين ږيري[۴] ورک ده
راکاږه يه ترورې

(۵)

ښه نمونځ کي ښه اودس خدای به ورک کي سپين ديوس[۵]
راکاږه يه ترورې

(۶)

کور تر شا چاينکه دا له رڼو[۶] لمباتو[۷] ډکه
راکاږه يه ترورې

---

۱. په کښې ، په کې ۲. دئ ، دې ۳. tiltak : برستن ، کجې ۴. سپين سرې
۵ . dewas: ديوسه، ديسه ،لويسه (lwesa) جوسه (jawsa) ،
مښخلی ۶.ra ṇu:روڼو ۷. Lambātu: مسريو

(۷)

وزي نيـــــنيـــــوزي[۱] پتيره مړی- خوري سترکي دي وزي

راکــــاږه يــــه تـــروري-

(۸)

تـر کـلا واوړه بيـا را واوړه کلاوي لستوني ډک له کلو راوړه

راکــــاږه يــــه تـــروري-

(۹)

مــه غـورځــه تـر کــاره خـدای بې درکي پر کراره

راکــــاږه يــــه تـــروري-

(۱۰)

ته په خوراسان[۲] زه په دمان[۳] داسي به سره ورسو لکه مزي د کرېوان

راکــــاږه يــــه تـــروري-

(۱۱)

تـر کـاسـه لاندي کُوجي دي کُوجي نه دي پيغمبر صاحب نمسي دي

راکــــاږه يــــه تـــروري-

(۱۲)

جـنـت پـوتـي پـوتـي پيـغـمبـر يـې راڅوړيـږي[۴]
مـخـې[۵] پـټ پـخپـل پـتـکـي راکــــاږه يــــه تـــروري-

---

۱. niniwázi: نـنوزي ۲. خراسان ۳. dáman: دامان ۴. ciirizi: کښته کيږي ، تاکيږي ، شوه کيږي ، شېوه کيږي .۵. مخ يې

۱۳

اســـمـــان ســو دړي وړي تې[1] را ولوېدې، دې[2] سرو زرو لګړي

راکـــاړه يـــه تـــروري

۱۴

کميس په ځيري ده په لري[3] خـداى بې وکنډي دي سرو زرو په ستني

راکـــاړه يـــه تـــروري

۱۵

ســـــرو زرو دانـــــې مـا پـه پچو[4] کـي مينـدې

راکـــاړه يـــه تـــروري

۱۶

تـنـدکيـــه بُـخـخـکيـــه لـــه سـرو زرو لېـونيـــه

راکـــاړه يـــه تـــروري

۱۷

مـــه بشـوره پـــه ډُوړه پېښوری لنګی دي پاته سه پرپُوله[5]

راکـــاړه يـــه تـــروري

۱۸

مـــه ګـرزه پـــه غـره کـي خداى بې درکي[6] پخپل وره کي

راکـــاړه يـــه تـــروري

۱۹

جُـومـايـت[7] پوري ولاړې[8] لـه تـاځيـر متيـازي[9] ولاړې

راکـــاړه يـــه تـــروري

---

۱. te: تر، در ۲. di: د ۳. Lári: ۴. Páčo: پُو چو ۵. Pula: کُل۶. ki: درکړي ۷. jumāyat: جماعت، ماجت، مسيد ۸. ولاړ يې ۹. ميچاړي، بولي

❀﴿۲۰﴾❀

زه نـاسته دي كـور خـواتـه زېړ[1] ختكي راغئ دِما[2] خواته

راكــــاړه يـــه تــــروري

❀﴿۲۱﴾❀

پـه اسمان كي د ه يو ستوري حُيني ورک ده دي كام[3] لوري

راكــــاړه يـــه تــــروري

❀﴿۲۲﴾❀

ستــــر كــــه دي ړنـده ده تر[4] تـه پنډه سر ه كله ده

راكــــاړه يـــه تــــروري

❀﴿۲۳﴾❀

دي زيـړي غـوا مېـرمـنـي نُور[5] دي اوري لـه لـمـنـي

راكــــاړه يـــه تــــروري

❀﴿۲۴﴾❀

كـه اور لـړونـي پـه اور كـي اورلـړونـي كــه پـلانـي ... تــه خـداى زوى وركُـو

مـوږ بــه وركـو سر تـړونـي راكــــاړه يـــه تــــروري

❀﴿۲۵﴾❀

چـــا تنـي مـــي غـــورزي دي پلاني .. تني مي غورزي

خـــدايـــه مــړ ي مــه كــي دي كـوز دي اوازي[6] كــرزي

راكــــاړه يـــه تــــروري

---

۱. zer: ژړ ۲. dima: زما ۳. قام، قوم ۴. tar: در ۵. nur: روښنايي ۶. آوازيې

﴿۲۶﴾

که بوتی دي راده [1] په غلره بوتی — پلانـي ... تـه کـوزده وکـئ
سي [2] پې [3] واچـوو مخ پوتـی — راکـــاړه یـــه تـــروری

﴿۲۷﴾

مسلـه [4] سوه غـوړي غوړي — پلانـی ... تـه ایمـان ورکـې
سي موړ یایو [5] خدای نغوړي [6] — راکـــاړه یـــه تـــروری

﴿۲۸﴾

پښـی [7] وختـــه پـــه [8] ونـــه — توده ځپیږي [9] وخوره په کونه
راکـــاړه یـــه تـــروری

﴿۲۹﴾

لـــه پـاســـه مسلـــه رالـــه — پـــه کـل عـالـم خـوره رالـــه
راکـــاړه یـــه تـــروری

﴿۳۰﴾

سـور چـرګـه وهـي نـارې — دوست [10] دي خدای سپر پړي
اوس یـــه وکـئ لـنـدارې [11] — راکـــاړه یـــه تـــروری

﴿۳۱﴾

را واچـوئ پـــالـونـــه — سي تینـګ سي مُکـامونـه [12]
راکـــاړه یـــه تـــروری

---

۱. rādá: د «رد» حالت مغیره دئ ۲. چي، چې، ځي ۳. Pe: پر ۴. masála: مصلیٰ ۵. ویایو، وایو ۶. ngwázi ۷. پیښي ۸. pa: پر ۹. ځاپیږي، چپلاخي، چلاخي ۱۰. مراد: حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ۱۱. Landāre: نندارې ۱۲. mukāmuna: اردو: مکانونه، مراد: کورونه

❁《۳۲》❁

اسمان کي شینکی تار          ملایکي په کتار[1]

راکاږه یه تروری

❁《۳۳》❁

مښه ده ګا مښه ده          په شنه چمن کي پښه ده

راکاږه یه تروری

❁《۳۴》❁

رود خړ وړ[2] سره اوړي          صبرورتنه وکئ

ګل به خندېږ لره دروړي          راکاږه یه تروری

❁《۳۵》❁

ګاره پوري پچه          له خواری دي ک.... وچه

راکاږه یه تروری

❁《۳۶》❁

پښې دي په ارغلي[3] کي          سر دي په ګري کي

راکاږه یه تروری

❁《۳۷》❁

درله پرې ایښې          بُخځکی[4] یه پُه[5] سر ایښی

راکاږه یه تروری

❁《۳۸》❁

شین زرغون بالښت          د مکي پُه لوري رغښت

راکاږه یه تروری

---

۱. قطار ۲. xaṛwaṛ: خړ پړ ۳. arğáli: ارغلی، نغری، نیغری ۴. buxcágә y: بُخچکی(اصل ترکي: بُغچه ) ۵. pu: پر



# د انجنئير
# حبيب الله خان ناسر
# څخه مننه

ګران حبيب الله خان د حاجي عبد الغفور خان زوی ، د ملا ظفر لمسی او د خدای داد خان کمال خېل ناسر کړوسی دئ . زموږ دغه خنده رويه ورور تقريباً ۴۲ کاله وړاندي په ښنين بازارکي پوري په مُچانو (Mŭcānu) نومي کلي‌کي پيدا سو .

ښاغلی حبيب الله خان يو ښه ځوان او د ډېري خوږي ښنتو خاوند دئ . ده هر وخت له ما سره همکاري کړې او زما و هري پوښتني ته يې مثبت جواب ويلی دئ . نوموړي ورور په يو ځانګړي احساس او ښنتني پېرزوينه و ماته يو شمېر فالونه را سپارلي دي . او دغه لاندي پالي (Pāle) د ګران حبيب الله خان ناسر په حواله او مننه ستاسي و درانه حضورته وړاندي کيږي :

❁﴿۱﴾❁

مېښــــه ده ګـــامېښـــه ده        پـــه شـنـو غـنـمـو پېښـــه ده
راګــــاړه يــــه ګــــه ستـــــه

❁﴿۲﴾❁

پـــه دېـــوال پـــوري ولاړې        لـــه تـــابَـز متيـــازي ولاړې
راګــــاړه يــــه ګــــه ستـــــه

﴿۳﴾

پـه آسمـان کې زرين ستورى  لـه ده ورک ده، دي قام لورى

راکـــاړه يـــه کـــه ستـــه

﴿۴﴾

زوړ غـــويـــى ولاړ کـــئ  نـوي تـه جـى خلاص کـئ

راکـــاړه يـــه کـــه ستـــه

﴿۵﴾

اول دي وليـاستـي جوړ ولـې  اوس دي پښـې و غـزولـې

راکـــاړه يـــه کـــه ستـــه

﴿۶﴾

پُـــه ســـر دي څپـــرى  اور دي واخـلـــه کـکـرى

راکـــاړه يـــه کـــه ستـــه

﴿۷﴾

دي جـنـت انگور پـاخـه سو  مـــا لاس وروړى نـــه ؤ

دوى پـخپـلـــه راکـــاړه سو  راکـــاړه يـــه کـــه ستـــه

﴿۸﴾

دا پـــوري اور ي کـــلـــي  پـه مېچـونـو سـره ولي

راکـــاړه يـــه کـــه ستـــه

﴿۹﴾

لـــنړه ده کـــرلـــنړه ده  يو پايڅه اوړده بله يې لنړه ده

راکـــاړه يـــه کـــه ستـــه

﴿۱۰﴾

لـــنړکـى بُـوخـڅـکـى  لـــه ســـرو زرو لېـونـى

راکـــاړه يـــه کـــه ستـــه

۞﴿۱۱﴾۞

پُـه مـرانـده پـوري لـرى      پِښـى خـان ورتـه خـوړلـى

راکـاړه یـه کـه سته

۞﴿۱۲﴾۞

آسـمـان سـو دړي وړي      تر را ولوېدې دي سرو زرو لکړي

راکـاړه یـه کـه سته

۞﴿۱۳﴾۞

دي کـور تـر ښـا بـالښت ده      لـه زړې ادکـي ورک ده

راکـاړه یـه کـه سته

# ۞ منابع ۞

هغه آثار چي د «زریني پانکي» په دې برخه کي استفاده څیني سوې ده، نومونه یې په لاندي ډول دي:


۞ ... د خلکو سندرې، مؤلف: استاد حبیب الله رفیع، خپروونکی: د افغانستان اکاډیمي، دتاریخ اوادب ټولنه، د خپرېدو کال: ۱۹۷۰ م، کابل

۞ ... پښتني فولکلور، لیکوال: سیال کاکړ، خپروندویه ټولنه: پښتو ادبي شپول، چاپکال: ۱۹۷۱ م، کوټه

۞ ... کندهار: لیکوال: محمد ولي ځلمی، ناشر: مؤسسهٔ انتشارات زوري، چاپځای: دولتي مطبعه، د خپرېدو کال: ۱۳۵۱ لمریز، کابل

۞ ... زما ځاني یادښتونه

# تامبُووالي بدلي

پښتني فولکلور ښايسته په دې بدلو
ټولي سوي له ښځمنو په خواري دي

❁❁❁

لا تر اوسه وې خوندي دا په سينو کي
پېژندلي دا په خلکو سيال کاکړ دي

❁❁❁

هر مطلب په لاس ورتلای سي و ناقد ته
تامبووالي ښايسته په ښو ګايو دي

❁❁❁

سيال کاکړ په اصلي شکل خوندي کړي
ښکارندوي دا د غلجيو د کړدود دي

❁❁❁

لا به ډيري تامبوالي وي لا پاته
وظيفه دا د ځوانانو چي خوندي کړي

# دتامبووالو بدلو جوړونکي او ویونکي

**تامبُو والي بدلي** (tāmbu wāli badắle) **د پښتني فولکلور یوزرغون څپرکی تشکیلوي. دغه فولکلوري بدلي په کاکړي کي الاخوري** (alā x̌ori) **او په پښتنو کي په عمومي ډول د ښادۍ بدلي** (dá Ṣadə́y badắli) **بلل کیږي . دغه خوندوري اولرغوني بدلي په هرنامه چي يادي سي ، بدي نه ا يسي .**

**د پښتو دغه شفاهي پانګه د ناسرو ښځمنو جوړه کړې ده . او همدوی یې ویونکي دي .دغه په زړه پوري سندري د ناسرانو ښځمني هغه وخت په تامبُو کي وناوۍ ته په ولاړي وايي ، چي پخپله ناوۍ په تامبُو کي د خپلو همزولو سره پر یوه مخصوص ځای باندي ناسته وي . د تامبُو بدلي ښځمني د ډول** (dol) **او یا بیا د دریاوو په ملتیا په یو ځانګړی انداز کي وایي ، چي هر شـبه یې له خوند او خوشالۍ ډکه وي .**

# د ناسري اتڼ کسرونه

**ناسران پخپله فولکلوري اصطلاح و اتڼ** (atạn) **ته اتړ** (atạr) **وايي . د ناسرو ښځمني پخپل اتړ کي « ځانګړی کسرونه » لري . او د پښتو د بېلا بیلو لنډیو ( ټپو ) په ملتیا ښځمني ځانګړي کسرونه کاروي . د ناسري ښځمنو اتړ په دې ځانګړي کسر پیل کیږي :**

**۞... ما هرو لونګینه !**

# د تامبووالو بدلو ادبي وېش

تـامبُووالـي بـدلـي پــه ډول ډول ادبـي ملـغلـرو او راز راز فولـکلوري جواهرو ښایسته دي . ما دپښتو دغه سمسوره شفاهي پانګه په هر اړخیز ډول څېړلې ده، چې د ځینو څېړنې په نتیجه کې خورا رنګین مطالب لاس ته راغلي دي . دلته د ځینو تامبُو والو بدلو خوندور مطالب د رنګینو بدلو په ملتیا و تاسي ته وړاندي کیږي :

## ۱. نوم ا یښوونه

په پښتني ټولـنه کي دا یو ډېر پخوانی دود را روان دئ، چې ناوی (naw y) یا په بله فولکلوري اصطلاح ناوکی (nawak y) ډېر خپلو لېورونو او ایندرندو بـاندي ډېـر ښایسه نومونه ږدي . او دغه فولکلوري سلسله تر اوسه پوري دپښتنو په کلو کي ژوندی پاته ده .

د تامبُو والي بدلي ددې خبري شاهدي ورکوي، چې ډېر لېورو او اینـدرنـدو بـانـدي د ناز نومونه ایښوول یو ډېر لرغوني تاریخ لري . د مثال په ډول دا لاندي بدلي د نمونې په ډول وړاندي کیږي :

نــن بیــا نــاوی ښــنــه خــالــونــه کښېــږده
نــن بیــا پُــه لېــورو نــومــونــه کښېــږده

❁❁❁

نــــاوی تــــر دوه بــــالښتــــه کښېــږده
نــــاوی پُــــه لېــورو دوه نــومــونــه کښېــږده

❁❁❁

ډېر لېوور او ایندرندو بـاندي د ناوکی له خوا ایښوول سوي ځینـي نومونه په دې ډول دي لګه : ❁ ګل آغا ❁ ګران آغا ❁ شېرین

آغا ۞ ښایسته آغا ۞ باچا آغا ۞ نازک ۞ گران ۞ گلاب ۞ خیالي ۞ کاغذین ۞ لونګین ۞ ښایسته ۞ خیالوره ۞ خیالداره ۞ نازکه ۞ خورجانه ۞ چنارګله ۞ بازي ګله ۞ شیرین ګله او نور ...

## ۲. طنزیه بدلي

د ناسرو و ښځمنو پخپلو خوندورو بدلو کي ډېر رنګین مطالب ځای کړي دي . په تېره بیا ددوی طنزیه ګایونو و بدلو ته یو نوی رنګ او ځانګړی خوند ور بخښلی دئ . د پښتو د شفاهي ادب په دې وختیره بدلو کي ډېر طنزیه مطالب خوندي سوي دي . دغه معیاري بدلي د ښځمنو د شاعرانه استعداد ښکارندوی دي .دلته د نمونې په ډول یو ه طنزیه بدله وړاندي کیږي :

۞۞۞

چا سونډان دي خره دي — دي پلاني ... سونډان دي خره دي
ښه خدای ورته اریان ده — ځي د اما جوړ کړي نه دي

## ۳. په تامبووالو بدلو کي ښراوي

تامبُو والي بدلي پخپله لمن کي رنګ په رنګ مطالب رانغاړي . په دې مطالبو کي ښراوي هم شاملي دي . څه وخت چي د یو چا زړه زهیر سي ، نو تر خوله یې ډول ډول ښراوي را وزي . هغه وخت چي د یو چا لور د پلار له کور څخه د بېلتانه په سفر روانیږي ، نو د زهیر ي مور په زهیر زړه یې یوخدای ښه خبر وي . په یوه تامبُووالِه بدله کي د زهیرو زړونو «آه :ah» د یوې ښرا په صورت کي داسي انځور سوې ده :

پـه دوو مېچـونـو مـات سـي لـونګیـه
دي لـور او دي مـور نـن رالـي بېلتـونـه

او یاد «ولور : walwar» په باب د یوې پښتنې غندنه د ښرا په صورت کې په یوه انتقادي تامبُواله بدل کې داسې خوندي سوې ده :

درې لـکــه دې وخـورې تــاخون دې سـه
لـور دې پـر دښـې کـړه شواخون دې سـه

او بیا یو ه بلـه تـامبُوالـه بدلـه کې د «ولور» ذکر په دې ډول راغلی دئ :

ښـــه ځــې تـر دا لـویـو غـرو راتېره کـړې
پـلار دې پــه ولور سو تــه یې هېـره کـړې

او دا هم پـه دې لاندې بدلـه کې د ښـرا یو ځـانګـړې نمونه خوندي سوې ده ، چې د انسان کرکه او ترا ځینې کیږي :

ناوې لستوڼي تنګ دي په ځنګلي باندې
پلاني .. ته مرګی ورکې په ځواني باندې

# ۴. دیني بدلې

تامبووالي بدلې چې په خوندور ګایو ښایسته او په درنو مطالبو پسوللي دي ، پخپله ویره لمن کې و دیني ملغلرو ته لوی ځای ورکوي . د مثال په ډول یوه خوندوره بدله د نمونې په ډول وړاندې کیږي :

نــاوې ! تسپـې در واخـلــه «لاالِــه» یــا یــه
لـــه مــوږ ســره ســې ځـې د رب ثـنــا یــاتــه

# دتامبووالو بدلو جوړښت او تقطيع

د پښتني فولکلور په ویړه لمن کي تامبُووالي بدلي یو هسک مقام لري . په دې بدلو کي زیاتره یو بیتیزه بدلي راغلي دي . خو همدغه لرغوني بدلي پخپله فولکلوري غبړ کي یو نیم بیتیزه او دوه بیتیزه بدلو ته هم ځه نه ځه ځای ورکوي ، چي البت د شمېر په لحاظ بېخي لږ دي . دلته د ځینو خوندورتامبووالو بدلو تقطیع وړاندي کوو . لږ ورته ځیر سئ :

**نـــاوی مـــه وخـــوري دا یـــو رنـکـــه لېـوروئـــه**

**تـــا بـــه یـــو ســـي دي تـــوپـکـو پـــه سـرونـــه**

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ |
| نا | وی | مه | و | خوري | دا | یو | رن | که | لېو | رو | نه |
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ |
| تا | به | یو | سي | دي | تو | په | کو | په | سه | رو | نه |

**نـاوی مـي پـه «تـامبُو» کـي سترکـي سـرې کـړې**

**پـلارې پـه لـحـد کـي کـونـډې پـرې کـړې**

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ |
| نا | وی | مي | په | تا | بُو | کي | ستر | کي | سرې | کړې |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ |
| پلا | رې | په | له | حد | کي | کون | ډې | پرې | کړې |

سحـــار ستـــر کـــه راوختـــه بـلبـلـــه ده
نـــاوی لـــه مـوره څـي پـــه زړه يـــه بلـــه ده

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سه | حار | ستر | که | را | و | خه | ته | بل | به | له | ده |

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نا | وی | له | مو | ره | څي | په | زړه | يه | به | له | ده |

❁ يونيم بيتيزه تامبُووالي بدلي ❁

نـــاوی ښـــی ولـــی دي تـخـــت ده      کـــه پـلانـي ... تـــه خـدای زوی ورکـو
نـــاوی تـــا تـنـــدی دي بـخـــت ده

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نا | وی | ښی | و | لی | دي | تخت | ده | ❁ | که | پلا | ني | ته | خدای | زوی | ور | کو |

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نا | وی | تا | تن | دی | دي | بخت | ده |

زموږ ناوې کل ده کل بې بولو          کې نوم راجخه هېر سو

دي پلاني ... ناوې بې بولو

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| زموږ | نا | وې | کل | ده | کل | بې | بو | لو | ❁ | کې | نوم | را | جه | خه | هېر | سو |

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دي | پلا | ني | نا | وې | بې | بو | لو |

# دوه بیتیزه تامبُووالي بدلي

چـا لاس ده پـــه کـــخـوړه　　　　دي پـلانـي ... لاس ده پـه کـخـوړه
خـور تـــه بـرخـــه ورکــــه　　　　دا بـــه خـــې دي پـلار لـــه کـوره

| | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ |
| چا | لاس | ده | په | که | څو | ړه | ❀ | دي | پلا | ني | لاس | ده | په | که | څو | ړه |

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| خوړ | ته | بر | خه | ور | که | ❀ | دا | به | خې | دي | پلار | له | کو | ره |

څـوک تـــر بـــنـدرو کـوري　　　　پـلانـــی ... تـــر بـنـــدرو کـوري
بیـــا بـــه نـــاري نـــه کـي　　　　سـي پـلانـــی ... ادي دي بـولـي

| | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| څوک | تر | بن | د | رو | کو | ري | ❀ | پلا | نی | تر | بن | د | رو | کو | ري |

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ❀ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ |
| بیا | به | نا | رې | نه | کې | ❀ | سي | پلا | نی | ا | دي | بو | لي |

# دتامبُووالو بدلو خصوصیات

❁ ... تـامبُووالي بدلي پـه عمومي ډول د غلجيو د ځانګړی ګړدود نمايندګي کوي .

❁ ... پـه تـامبُـووالو بدلو کي د پښتو خورا سوچـه او خالص توري خوندي سوي دي .

❁ ... تـامبُـوالـي بـدلـي د غـلـجيـو د اصطلاحـاتو او محـاوراتو ښکارندوی دي .

❁ ... زيـاتـره تـامبُـوالـي بـدلـي رواني ، سليسه او په زړه پوري دي ، البت په ځينو بدلو کي دروندوالی او ثقافت موجود وي .

❁ ... په ځينو تامبُووالو بدلو کي خوړجن کلمات راغلي دي ، چي د هغو پر ځای ما نکتې(...) لګولي دي .

# ناسري ګړدود

ناسر (Nāsar)چي د غلجيو پښتنو يو پخوانی ټبردئ ، پښتو يې ځيني لهجوي ځانګړتيا وي لري ، چي البت دغه ګړدودي مميزات يې د ځينو نورو پښتنو پـه پښتو کي هم ليدل کيږي . د نـاسرو د پښتو لهجوي توپيرونه دلته په خورا لنډ ډول بيانيږي :

❁ ... نـاسر د ځينو نورو پښتنو غوندي «معروفه يا» په «مجهوله يا» اړوي . د مثال په ډول بدلي په بدلې ، مېرمني په مېرمنې ، خوندي په خوندې ، ساندي په ساندې ، مراندي په مراندې او ښځي په ښځې بدلوي .

❁ ... نـاسران د خـروټو او سنټيا کاکړانو غوندي د «ش» ځانګړی ږغ (Sound)سم نـه سي تلفظ کولای . دوی همېشه «ش» په «ښ» بدلوي . د ساري په ډول شا په ښا ، شی په ښی ، پشي په پښي ، شک په ښک ،

شپه په ښپه ، شکر په ښکر ، شرم په ښرم ، شاعر په ښاعر او شايد په ښايد اړوي .

❁ ... ناسران د نورو غلجيو ، کاکړانو او ځينو نورو ... پښتنو غوندی د «ش» آواز په «س» اړوي . مثلاً شکه په سکه ، مياشت په مياست ، مېشته په مېسته ، شخوند په سخوند ، شړۍ (تُوس) په سړۍ بدلوي .

❁ ... ناسران د نورو غلجيو ، کاکړانو ، مرائيو او د ځينو نورو ... پښتنو غوندي د «ژ» آواز په «ز» اړوي . د مثال په ډول ژرنده په زرنده ، ژبه په زبه ، ژر په زر ، ژوند په زوند ، وژل په وزل ، ژوول په زول او ژاولي په زاولي بدلوي .

❁ ... ناسران د نورو... غلجيو غوندي د پښتو «فعلي يا» د دئ (d y)، دی (day)او يا دې (de)پر ځای په« ده: da»بدلوي . او دوی دغه « ده» د تذکير او تأنيث په دواړو صورتونوکي يو ډول کار وي . د مثال په ډول و دې لاندي يوځو جملو ته نوکی ځير سئ :

| پښتو | ناسري |
|---|---|
| سور ګل راغلی دئ . | سور ګل راغلی ده. |
| تور پېکۍ راغلې ده . | تور پېکۍ راغلې ده . |
| ابدال کابل ته تللی دئ . | ابدال کابل ته تللی ده . |
| زرغونه کابل ته تللې ده . | زرغونه کابل ته تللې ده . |

خو ځرګنده دي وي ، چي خټک ، بنوڅي ، مروت ، ګنډه پور ، دوړ(Dáwaṛ) ، وردګ ، ځدراڼ ، ځاځي ،منګل، پکتيا وال او ځيني نور ... پښتانه د تذکير په صورت کي د ناسرانو اونورو ...غلجيو غوندي د « فعلي يا » لپاره د « دئ» ، «دی» او « دې » پرځای « ده : da» کاروي . البت خټک ، بنوڅي ، مروت ، ګنډه پور ، دوړ ، وردګ ، ځدرانې ، ځاځي ، منګل ، وزير او مسيد ( محسود، مسعود) د تأنيث په صورت

کي د ناسرانو او نورو غلجيو برعکس د« فعلي يا » لپاره د « ده : da»
پر ځای « دو : do» کاروي . د مثال په ډول دالاندي مثالونه وګورئ :

| معياري پښتو | لهجوي پښتو |
|---|---|
| باچا خان راغلی دئ | باچا خان رغلی ده . |
| سور سانده راغلې ده . | سورسانده روغلې دو |
| کمال خان راغلی دئ . | کمال خان روغلا ده . |
| ښایسته راغلې ده . | ښايسته روغلې دو |
| خوشال خان راغلی دئ. | ښايسته روغلې دو . |
| خوشال خان راغلی دئ . | خوشال خان ارغلا ده . |
| ګل غوټۍ راغلې ده . | ګل غوټۍ ارغلی دو . |

۞ ... ناسران د زياترو پښتنو غوندې د پښتو ځانګړي پر (par) او يا پُر (pur) چې « حرف جار » دئ ، ښخي نه لري . او په کندهاري کړدود کي دغه لرغونی « پر » تر اوسه پوري ژوندی پاته دئ . چي البت ناسران د پښتو پر (par) او يا پُر (pur) همېشه په پُه (پُو: Pu) بدلوي .

خو څرګنده دي وي ، چي دپښتو په ګرامر کي د « پر » ځيل ځای او د « پـه » بيـا ځيـل ځـای وي . پـه انګريـزي کي د « پـر » لپاره «on» او د « په » لپاره بيا « in »استعماليږي . دغه راز په پارسي کي د « پر» لپاره بر (bar) او د « په» لپاره « در» او يا «توی» کاريږي . ا و داچي ځيني پښتانـه پخپله پښتو کي پر (par) هډو لري نه ، نو ددې خبري معنا دانه سي کېدلای ،چي د کندهاري کړدود « پر» سم نه دئ . او يا ښخي وجود نه لري .

کـه چيري يو سړی پـه پښتو کـي « پر » او « په » پر ځيل ځيل ځای سم ونه کاروي ، نو خورا زياتي ګډوډۍ منځ ته راځي . تاسي ودې لاندي يو څو جملو ته نوکی ځير سئ . او د « پر » او « په » ښکاره توپير

په پښتو، پارسي او انګليسي کي وګورئ :

۞ ... کتاب پر مېز دئ .

۞ ... کتاب بر ميز است .

۞ ... The book is on the table.

۞۞۞

۞ ... ښاغلی اسفنديار په کور کي نسته .

۞ ... آقای اسفنديار در منزل نيست.

۞ ... Mr. Asfand yar is not there in the house.

تاسي د پښتو، پارسي او انګليسي په دې پورتنيو جملو کي د «پر» او «په» ښکاره توپير پخپلو سترګو وليد . او دا خبره څرګنده سوه، چي په پارسي او انګليسي کي د «پر» لپاره «بر» او «on» راځي . دغه راز د «په» لپاره په پارسي او انګليسي کي «در» او «in» کارول کيږي . د پورتنيو مثالونو په وسيله دا خبره زباد ته وسپده، چي په کندهاري ګړدود کي د «پر» او «په» بېل بېل استعمال د پښتو له ګرامري اصولو او قواعدو (rules)سره ښځي سم معلومېږي .

موږ ښځي نه سو کولای، چي د «پر» پر ځای «په» وکاروو . دغه ډول د پښتوګرامر وهيچا ته اجازه نه ورکوي، چي د «په» پر ځای بيا «پر» استعمال کړو .او که چيري موږ د «پر» پر ځای «په»او د «په» پر بيا «پر» وکاوو، نو په داسي صورت کي بيا ګرامري ګډوډي منځ ته راځي . مثلاً که موږ داسي ووايو چي : استاد رفيع پر پارسي ډېر ښه پوهېږي . نو ښکاره خبره ده، چي په دې جمله کي د «پر» کارول سم نه برېښي .ځکه چي په دې جمله کي د «پر» پر ځای «په» راځي . نو سمه جمله به داسي وي : چي استاد رفيع په پارسي ډېر ښه پوهېږي . خير ... د پر( Par )اوپه( pa) ښکاره توپير منل او يا نه منل بيا د هرچا

خپل کار دئ .خو حقيقت هر وخت حقيقت وي .

※ ... د (da)په پښتو کي د « اضافت » علامت دئ . خو ناسران د پښتو دغه اضافت همېشه په دي (di)اړوي . د مثال په ډول : د ارسلا خان کتاب ، د شېر خان بندر او د کابل پوهنتون بيا په ناسري کړدود کي داسي اوړي : دي ارسلا خان کتاب ، دي شېر جان بندر او دي کابل پوهنتون .

# د تور ښادي پيل

د ناسرو په فولکلوري اصطلاح خورښادي (x̌or ṣādi) تورښادي (tor ṣādi) بلل کيږي . او پخپله « خور ښادي » د واده په ځانګړو بلل کيږي د يو خاص پړاؤ (Stage)نوم دئ. او په همدغه خورښادي د واده بدلي په دې ډول پيل کيږي:

خور ښادي مي د پلانی .. ده ‌ ‌ ‌ ‌ خور ښادي ده غمي مه کې

خدای په توره خوايي مه کې

دغه راز د ناسرو ښځمني « تور ښادي » په يوه ځانګړې بدله داسي پيل کوي :

که ښادي ، دي پلاني ... ده ‌ ‌ ‌ ‌ « تورښادي » ده غمي مه کې

په توره خوا يه مه کې

د پيل تر دې پورتنيو بدلو وروسته بيا د ناسرو ښځمني دغه لاندي بدلي وايي ، چي د انجينئر حبيب اللهخان کمال خېل ناسر په منئه د زريني پانګي په دې برخه کي خوندي کيږي :

※《۱》※

نن بيا دورې کړنګی ده په سرو خېمو کې

نن بيا دي ښادی ږغ ده په دې کورو کې

﴿۲﴾

په ښمښیرو کي راتلم ښمښیرو نار کړی ده
د ي پلانکي ... دي ښادی ږغ په موږ خدای کړی ده

﴿۳﴾

کار که مښو که کښته کړه لونګ اخلي
دي پلانکي .. دي ښادی ږغ ده دي زړو رنګ اخلي

﴿۴﴾

په کور غورزنده بالښته موږ وږي تږي نه یو
موږ دا ورځ له خدایه غوښته

﴿۵﴾

دي زړه پُه سر مي اور ولګیدو
دي جانان په زړه مي ګل وغوړیدو

# تامبووالي بدلي یو څیړنه او څرګندونه

که خرې دي تامبووالي ❁ جیلکی[1] خرې دي موږ خپله پې[2] وکړه دوی خرګنده[3] ویدې دي

---

❁... Tambu: د تامبو فولکلوري اصطلاح د ناسرو پښتنو په کوچاني ژوند پوري اړه لري . او پخپله د تامبو (tambu)توری د تمبو (tambu) یو اوښتی شکل دئ، په عربي کي و تامبو او یا و تمبو ته خیمه (xima) ،البت په پښتو کي د عربي و خیمه ته پښتانه خېمه (xema)وایي . او د خیمه (xima)جوړونکی «خیام» بلل کیږي . و همدغه تامبو ، تمبو ،

خیمه او خېمه ته په انګرېزي کي تېښت (tent) وايي .څرکنده دي وي، چي د واده په ورځ کومي جيکياني او يا ښځي په تامبو کي ناستي وي، وهغو ته د ناسرانو په ژبه تامبو والي (tāmbu wāli) ويل کيږي.

په ناسرانو کي «تامبو: tāmbu » يو ځانګړې فولکلوري اصطلاح ده . د دوی له کوچاني ژوند څخه رانیولې، بیا تر دا وخته پوري په ناسرانو کي دغه پخوانی اصطلاح تر اوسه پوري ژوندی پاته ده . البت په ښاري ژوندکي تامبراو په تامبو پوري «ناسري دودونو» دا وخت خپل فولکلوري ارځښت او اهميت بېخي بايللی دئ .

د ناسرانو په کوچاني ژوند کي د تامبو خپل خوند او ځانګړی رنګ ؤ . څرکنده دي وي چي څه وخت به ورابانې ( وراوال ) د واده په نېمکرغه ورځ د کور باڼو کره را ورسېدل، نو د ناسري دود سره سم به ښځمنو د شپې په آخري شېبو کي «ناوې : Nāwe» د کور د باندي په تامبُو کي کښېنوله . او بيا وروسته به يې په همدې تامبُو کي و لمبوله . په دا غرمه به خپلو همزولو ناوې د وخت او زمان له غوښتنو سره سمه تياره کړله . او بيا «تامبو والو» جيلکيانو به له ورابانو څخه د ناوي د تيارولو او سينګارولو په بدل کي پيسې غوښتې . و همدغه فولکلوري جريان ته د ناسرو په ځانګړې اصطلاح «تامبو» ويل کيږي .

د تامبو دټولو تر اداکولو وروسته بيا د ناسرانو ښځمني د« تامبو» په پيسو له بازار څخه خوږې مرې را وغواړي . او بيا د تامبو واکداره ښځه په حاضرينو کي د تامبو خوږې يا په بله ژبه شيريني په خورا انصاف سره ووېشي . په دې ډول د تامبو جوړ سوي مراسم د خوشالی په ملتيا پای ته ورسيږي .

۱. جينکياني، ليکياني، نجونه ۲. په ۳. خرکنده : x̌arkanda ( اصل : غرقنده، خوپخپله غرقنده د عربي د «غرق »او د پارسي د«کنده» مرکب دئ.)

# پروفیسر فیض الله خان ناسر



پروفېسر فیض الله خان د حاجي سمندر خان زوی او د قلندر خان اوښ خېل ناسر لمسی دئ، نوموړی تقریباً ۵۰ کاله وړاندې دې نابودي دنیا ته راغلی دئ. دغه شریف انسان د بوري په پوهنځي کې زما اعتمادي او باوري ملګری ؤ. دی د انګرېزي استاد او یو ګلالی انسان ؤ. خو د مرګي دې زوی په خوله سي، چې فیض الله خان ناسر یې نابېره د ۲۰۱۱ میلادي کال د اګست د میاشتې پر ۲۱ نېټه د خپلې درنې کورنۍ څخه بېل کړئ. د پښتنو دغه ګلالی ځوان او نیازمن انسان پس له مړیني د بوري د ناسر آباد په قبرستان کې و خپل ابدي کور ته وسپارل سو. انا لله و انا الیه راجعون.

فیض الله خان ناسر په بوري کې له ما سره خورا زیاته همکاري او مرسته کړې ده. دا چې اوس تاسې «تامبو والې بدلې» لولئ، دا ټولې د دې نیازمن ورور په همت او پښتني اخلاص له ښځمنو څخه راټولې سوې دي. کشکې چې اروا ښاد فیض الله خان پخپل ژوند کې د زرینې پانګې په دې کتوره برخه کې د خپلې راټولې کړې تامبُووالې بدلې پخپلو سترګو لیدلې وای. خیر ... موږ د مرګ او مرګ زموږ دئ. زه ددې خوا خوږي انسان د مینې او اخلاص به

همېشه پوروړی یم . زه د زريني پانګي د «تامبُووالو بدلو» دغه درونـد څېرکـی و اروابـاد فيض الله خان ناسر ته په پښتني احساس اهداء کوم . پروردګار دي دغه ګلالی انسان و نازوي .

د زريني پانګي په دې برخه کي «تامبُووالي بدلي» د اروابـاد فيض الله خان ناسر په مننه ستاسي و درانه حضور ته وړاندي کيږي . ويې لولی، او فيض الله خان ناسر هيڅکله په دعا کي مه هېروئ .

دتامبُووالو بدلو رنګيني نمونې

## ❀﴿ الف ﴾❀

❀﴿۱﴾❀

ارت[1] کـميـس کـاړه خـوري — دي تـنګ کـميـس دي وار ده
دي پـلار کـالـي راکـاړه — دي خسـر دي کـالـو واره ده

❀﴿۲﴾❀

اُکـلـی[2] کـي اوبـه تـوري
دي نـاوی ريـچـنـي مـوري

## ❀﴿ پ ﴾❀

❀﴿۱﴾❀

پلاني ... پـه ښـا دي سرو زرو چاپونه دي
پلاني ... پـه ښادي ښپرو[3] کتارونه[4] دي

❀﴿۲﴾❀

پلاني ... ته لنکی ورګئ خي به مرکو لره
پلارتي ګُونی[5] ورکئ خي به خوسيو[6] لره

---

۱. arat: پراخ ۲. uklə́y : اوکلی oklə́y: هاونګه (پارسي :هاون)؟. سپړو ۴. قطارونه ۵. gunə́y: ګونی ، بوجی ۶. x̌usāyo: خوشايو

(۳)

پُـه بزار[۱] کـي يـوتـرکـاڼ[۲] را ولـو بـيـه
پـلانـي ... سترکـه ړنده ده جوړوو بـيـه

(۴)

پـلانيـه ... ويـبنې يـې کـه ويـده يـې
دِتـا تـر کـور ې[۳] لاس تـړلـې تېـرويـنـه

(۵)

پـلانـی ... کـه هـلا کيـي کـه بـلا کيـي
سبـا تـه بـه دا خپلـه نـاوې يـو سـو

(۶)

پُـه[۴] مـخ کـي دي ، دې[۵] مـرچ ونـه[۶] ولاړه
پُـه مـخ کـي دي بـې قـدره خـور ولاړه

(۷)

پُـه مخ کـي دي دربلی[۷] پې بنده مـه سې
پُه مخ کي دي خسر[۸] مړ پې وير زده[۹] مه سې

(۸)

پُـه چـغـو چغـو[۱۰] زاړې نـجـل بـه نـه سې
کـه خسر تـه خـواست کوې خلاصه به نه سې

---

۱. Bzar: بـازار ۲. نـجـار ۳. کوريې ۴. pu: پَـه (pa) ۵. د ۶.
wána: درخته ۷. darbáləy: ۸. خَسر: xusar ، خُسر: xsar
۹. خواشيني ، خوابدې ۱۰. čağu čağu: چيغو چيغو

(۹)

پُــه دوومېـچـونـو مـات سـې لـونـګـيـنـه
دې لـور او دې مـور نـن رالـې[۱] بېـلـتـونـه

(۱۰)

پُه اې[۲] وچـه يـيـالـه[۳] کـې خـزنـده نسـتـه
پلانـی ... لړم خوړلې اوسې[۴] هـوده نسته

(۶)

پُــه تـور پېـکـي دې نـيـول لاسـونـه
کـمـکـلـي[۵] اوس بـه تـل کـې ارمـانـونـه

## (ت)

(۱)

پُــه تــوپــو تــوپــو را تــلــم
پـلانـي ... سـتـرګـه کـږې ور ولـوېـدم

(۲)

تور پېکی دې جوړ اوه پُه خيال مينه وې
اوس سي دې خوابنې رنګوي ته ګيله منه يې

(۳)

تـوره دې سُـونـی[۶] چـدړ[۷] دې ونـه ده
سُـونـی دې د خپـل خسـر پـه ويـړه ده

---

۱. راغلې ۲. دې ۳. وياله، وله ۴. اوس يې ۵. kam-mákli: کم عقلي، بې عقلي ۶. Sunə́y: پروني، پوړوني ۷. čádaṛ: څادر، چادر، پټو

## ﴿ج﴾

### ﴿۱﴾

جکه سه ناوی که کلان کورې
کمیس دي د ارتني[۱] کې تراته کورې

## ﴿چ﴾

### ﴿۱﴾

چا لویه دالانه ... د پلاني ... لویه دا لانه
ناوی پښکې[۲] ولاړه ... اخپلیت[۳] غواړي له کامه[۴]

### ﴿۲﴾

چا سوندان[۵] دي خره دي ... دي پلاني ... سوندان دي خره دي
ښه خدای ورته اریان[۶] ده ... خي دا ماجوړه کړې نه دي

### ﴿۳﴾

چا لاس ده پُه کخوره ... دي پلاني ... لاس ده پُه کخوره
خورته برخه ورکه ... دا به خي دي پلار له کوره

### ﴿۴﴾

چا سوندان دي خره دي ... ناوی مور سوندان دي خره دي
خدای ورته اریان ده ... سي دا ماجوړ کړي نه دي

---

۱. Artáne: ارتینې د « ارتینه » مغیره حالت دئ . او ارتینه د ښځمنو د یو ټوکر نوم دئ. ۲. Paṣke: پـه کښې ، پـه کې ۳. ax̌palyat: رخصت ۴. قامه ۵. sūndān: شوندان ، سوڼان ۶. iryān: حیران: aryān

(۵)

چـرکــه دورې مــه خــه بـازو بـنـد سې
پلانی ... تیک[۱] مي څرېړي پښکې[۲] بند به سې

## (ځ)

(۱)

ځې تر دا لويو غرو را تېره کړې پـلار دي پـُــه «ولـور»[۳] سـو
تـــه يـــه هېـــره کـــړې

(۲)

ځـوک تــر بـنــدرو[۴] کــوري پلانـی ... تـر بـنـدرو کوري
بيــا بـــه نـــارې نـــه کـي سي[۵] پلانی ... ادې دي بولي

(۳)

ځـوک دي غــره پُـــه ســر ناوی پـلار دي غـره پُـه سر
هــواري تـــه را ځـوړســـه ناوی! د خسـر غـرکې مره

## (خ)

(۱)

خــړې اوبــه رالــې ســر لــرکــې يـــه راوړو
پلانی ... مي منجارى دئ تور ځولي[۶] يه را وړو

---

۱. tik: گېڼه ، زېور ، ۲. paski: پـه کښي ، په کي ۳. walwar ۴. bandáro: پيوندو ۵. si: چې، چې ۶. culi: بډنگړي

(۲)

خدایه! سي لور مي زو ولې[1] ده له موره سي وزوه لـه موره بیا نه وتای له کوره

سي ووته له کوره بیا دي چیغه که په زوره

## (د)

(۱)

د سـرو زرو صـنـدوخ سـره جـلاکـئ

پلانـی ... دي مورږ خوریـی بنه یه تیار کئ

(۲)

درې لـکـه دي وخورې تـاخون دي سـه

لـور دي پردېسي کړه شواخون دي سه

## (ر)

(۱)

را ووزه لـه دا تـنـکـي کـوجـړایـه[2]

دي مـورږ کـره بـه کښېـنـې پُـه غـالیـه

(۲)

را واچـوئ تـانـونـه تـانـونـه ورېښمـان[3] دي

ویـړ نیسـئ لاسـونـه نـوکـر څـي ښـاهـدان[4] دي

---

۱. zowále: زوکړې ۲. gojáṛaya: کـوډلـه، کُـوچـلـه، جونکـړه ۳. wresmān: ورېښمین ۴. ṣahidān: شـاهـدان، کوایـان. څرکنده دي وي، چي ناسران په عمومي ډول د پښتو «ش» سم نه سي تلفظ کولای. د دې لرغوني تبر وکړي د «ش» ږغ همېشه په «ښ» اړوي.

## ❁ (ز) ❁

❁ (۱) ❁

زمـوږنــاوی څـي زاړي ګـرمـه [۱] نـه ده
دې پـــردي کـــور زور ليـدلـــى نـــه ده

❁ (۲) ❁

زموږ ناوی ګل ده ګل بې بولو          کې [۲] نوم را جَخـه [۳] هېر سو
دېلاني ... ناوی بې بولو

❁ (۳) ❁

زمـوږ دي کـلـــی لـوړه جُـمـــايتـــه [۴]
نـــاوی ! خســر دي پـروت ده بـې اُمتـــه

❁ (۴) ❁

زمـوږ پُـــه نــاوی تو [۵] سـوې مـلـغـلـرې
بـورې وراري يـــه ولېدې لـــه لـــري [۶]

## ❁ (س) ❁

❁ (۱) ❁

ســحـــار سـتـرکـــه راوختـــه واهـي کـوي
نــاوی لــه مـوره څـي زړه يـه سبهي کوي

---

۱.grama: ملامته ۲. کـه يې ۳. راځخه ، راڅخه، را ځرخه ۴. jumāyata: جماعته ۵. to : د توی مخفف دئ . ۶. ليري

(۲)

سحـــار سترکـــه راو ختـــه بلبلـــه ده
نـاوی لـــه موره خي پـه زړه یـه بلـه ده

(۳)

سحـــار سترکـــه را وختـــه ملوکـــه ده
مورې په جای [۱] کي لاس وهي ، سي لورې ورکه ده

(۴)

سحـار سبـا ده چوغلـې [۲] يـه سرې کرې
نـاوي نـارې کرې پښـې يـه راسرې کرې

(۵)

سحـــار سبـــا ده مـــالونـــه [۳] لوړي [۴]
کمیسـې پـروت ده لکـــه دي میـړي [۵]

(۶)

سحار چچک [۶] نارې کرې سي بې خوبه یم
ناوی خواري نارې کرې سي بې موره یم

## (ښی)

(۱)

ښاکی [۷] دي لـــه اوړو اوړو ښنلېـړي [۸]
پلانی ... خوارکی خوا درته ښنه [۹] کیږي

---

۱. ځای ۲ . čuğle: شغلې ۳ . پسونه ۴ . Lwári: رمیږي ۵ . miri: مړي
۶ . čičak: چرک ۷. ṣagóy: شاکی ۸. ṣnálezi: نښلي ، موښلي ۹
. ṣna : شنه

(۲)

بسه ځي تر دا لوړو غروم[۱] را تېره کړې
پلار دې پُه ولور سو ته یې هېره کړې

(۳)

بسه سو پـه لوی بند اوښان را وختو
بسه سو لـه چچکروم[۲] لاس را وختل

(۴)

بسه ځي تر دا لویو غرو را تېره کړې
پلار دې پـه ولور سو ته یې هېره کړې

## (ک)

(۱)

کـلا پُـه[۳] سـر کـلان سـرونې[۴] تـول کـاره دي
نـاوې زر[۵] تیـار وئ لېوروني[۶] تـول سپاره دي

(۲)

ناوې مې پُه تامبو کې سترګې سرې کړې
پلارې پـه لحد کې ګونډې پرې کړې

(۳)

کـور پُـه سر پښې کـورئ بـازي کـوي
پلانې ... کورئ له مور سره سیالي کوي

---

۱. ǧrom.: د «غرو مو» مخفف دئ ۲. čicǧrom: د «چچکرو مو» مخفف دئ. ۳. Pu: په: pa ۴. سرونه یې ۵. ژر، چټک ۶. لېورونه

(۴)

کور پُه سر تانونه ورپښمینان دي
را وباسئ لپوروني تول ولاړ دي

(۵)

کلي کلي سر او پایم[۱] چیري ده
کلی دي پلاني ... نړاندم[۲] چیري ده

(۶)

کلي پُه جودرغنم کي واړوه
کلي پلانی[۳] ... خرکئ مخ تې[۴] راوکئ

(۷)

که کل چکن دي ناوي! کپی کل چکن دي
ډکي دي ناوي خسر په وینو ډکي

(۸)

که خري دي‌تامبُوالي جیلکی[۵] خرړې دي مور خپلـه پې وکـره
دوی خرکنده[۶] ویدې[۷] دي

## (ګ)

(۱)

ګوره ناوکی! سي کُوډي ونه کې
پلانی ... دي پلاني .. وروره ده پرکې[۸] نه وکې

---

۱. Pāyam: د «پای مي» مخفف دئ ۲. nárandam د «نړاند مو» مخفف دئ. ۳. planáy: دلته له پلاني څخه مراد د ناوي پلار دئ ۴. ته يې ۵. جینکی، نجونه ۶. X̌arkanda: غرقنده ۷ بیدې
۸. parke: فرق يې

(۲)

ګلداري دي ناوې کېږې ګلداري
که داري دي ناوې خسر دي وینو داري

## (ل)

(۱)

له کښې لارې راځي لارې دي دړو ده
پلانۍ ... ځي ملا ترې ورېنداري خپله ده

(۲)

لوړې ناوې لوړې ځي کوتې دي جوړولې
کوتې دي جوړې نه کړې پلاني ... ولاړ ولې

(۳)

لمر را خېژي تر غونډې پوري
ناوي ناري کړي ادکي موري

## (م)

(۱)

مه زاړه ناوې زړا[1] دي ګرانه ده
دِتا[2] تر زړا دي[3] پلار مرګی اسانه ده

(۲)

مرې به پخيي بران[4] به اوري
پلانۍ... به له نازه «لالا» بولي

---

۱. ژړا ۲. dita: اِتا، ستا ۳. di: د ۴ .bran: باران، اوربښت

(۳)

مور به ناوي يو سو له ډلو سره
پلار دې خاوري بادکې له ايرو سره

(۴)

مه يه زړوئ بلايه واخلئ
سبا بې ميراثته کالي درواخلئ

(۵)

مه زاره هوښياري[۱] ناوکيه
لور دي ازل برخه دې پردې ده

(۶)

مور ناوکى زېږه لکه لُوخه[۲]
پلاني .. خيالي[۳] راکښلې له صندوخه

(۷)

مزغى[۴] دي پُه پنځه پاوه خريلى ده
تامبُو پوري دي ګز «ننى»[۵] وتلى ده

(۸)

مور ناوي پُه چغو چغو زاړې
دا له پلاره دوه کورونه غواړې

(۹)

مور تر کورو بوته ناوکى ! جيلکى دي بولي
تور پيکى دي نسته د سينې وتې دي کوري

---

۱. هوشياري ۲. Luxa ۳ خيالور :xiyāli ۴ . mazğáy:
مغزى ۵. nánə́y :ګرنګ (grang) ټنګې (tange)

﴿۱۰﴾

ناوې لستوڼي تنګ دي په څنګلي باندي
پلاني ...ته مرګی ورکې په ځواني باندي

﴿۱۱﴾

مور ناوې خیرتې[1] ده مور ته نه زاړي
پلاني ... څپلې سي وخوري بیا به ښه زاړي

## ﴿ ن ﴾

﴿۱﴾

ناوې ! هی که اوسیلی[2] که
پلار درته ولاړ دئ
د پلار زړګی نري که

﴿۲﴾

ناوې پلار دي رالېږلي کاغذونه دي
دِما[3] پُه ګراني لورګی چاکړي واکونه[4] دي

﴿۳﴾

ناوې ! مه وخورې دا یو رنګه لېوروونه
تابه یوسي دي توپکو پُه سرونه

﴿۴﴾

ناوې، زر تیارویه پُه مور نمر تودیږي
پلانی ... تر ګل نازک ده دی په نمر ویلیږي

---

۱. xitáy: هغه لرګی چي پر مځکه ولاړ وي او انسان نوک پر ووهي.
۲. awseláy. ۳. dima: زما ۴. اختیار

﴿٥﴾

ناوى وخورې دي پلار ولي                پـه لـوى سـحـار دي بـاسـي

لـكـه بشـه د جُومـې[1] مـړي

﴿٦﴾

نـاوي پـه سـره كـور واړوه لاسـونـه

نـاوي لـه هـنځـولو[2] واخـه[3] رخـصتـونـه

﴿٧﴾

نـاوي كـميـس پـه غـاړه كـړه وكـوره

لـه ډيـرو تـوبـرو[4] ووتـې سـرتـوره

﴿٨﴾

نـاوى ستركي توروه خولـه ديي اربنكه[5] ده

كور دي ، دي[6] پلاني ... دي كور له ځنكه ده

﴿٩﴾

نـاوكى اودس وكـه لـمونځ بـه كور وكې

لـمونځ بـه د پـلانـي پُـه دسمـلو وكې

﴿١٠﴾

ناوكى چيغـه كه په زوره سې مړه واوري

پـلار بـه دي پـه غـاړه كړن[7] راوړي

﴿١١﴾

نـاوى جـوړكـه د وربښمو د سمـلونـه

پلانـي .. هـنزولـي[8] ډيـر دي دربـه سينـه

---

١ جمعې ٢. همزولو ٣. واخله ٤ . تربرو ٥ . arbanga .٦ :di د ٧. كفن

٨.همزولي ، ياران ، انديوالان

﴿۱۲﴾

ناوې مي په «تامبو» کي ستر کي سرې کړې
پلار ې پـه لحد کـي ګونډې پرې کـړې

﴿۱۳﴾

نن بيا پُه اوکلي کي اوبه توري      مـور داسـي نـاوې درکـړه
بـې رنـجـو يـه سـتـر کـي توري

﴿۱۴﴾

نن بيا پُه اوکلي کي اوبه سرې      مـور داسـي نـاوې درکـړه
بـې زړا[1] يـې سـتـر کـي سـرې

﴿۱۵﴾

نـاوې مـوټـرتـه وختـه بنيښـه غـوارې
دا خـو دي خپـل ورور دي لاس چړه غوارې

﴿۱۶﴾

نـاوې زړکـي دي ولـي مـردانـه ده
تـر اې[2] خـودي سبـا سـختـه ګـنـده ده

﴿۱۷﴾

ناوې! ته[3] سرو ستر کو دي جار سم ته ولي زاړې
کـه دي ورور پُـه دې دنيـا ؤ تـابـه بيا راولي

﴿۱۸﴾

نـاوې مرانده ټينکوه مرانده دي خپلـه ده
ايـه دي، دي پـلار نـه اې بـلـه ده

---

۱. ژړا ۲. دې ۳. tá: تر، در

۱۹

نـــاوى! کـجـــاوه دي بـــرکـــه مـــرکـــه ده
نـاوى! پـلار دي چـچـکـر[۱] مـور دي وردگـه ده

۲۱

نـاوى! دي « سـرسـايـې » تيـکـري دي تور ده
نـــاوى! تـــا[۲] دي پـــلار پُـــه نيستـــى زور ده

۲۲

نـاوى! اوس بـــه دي پيـکـــى دانـــې کـو
اوس بـــه دي لـــه هَـنـزولـو ميـل پـرې کـو

۲۳

نـاوى! چـــراښپې[۳] وتـې پـــه لاس کـي نيســـه
نـاوى خسر ته لاس که وخولکى ته يې لاس نيسه

۲۴

نـاوى! بران[۴] تـه کښېنـه سي لـنده[۵] دي کي
نـــاوى! وروړک دي نستـــه ســي درنـــه دي کـــي

۲۵

نـاوى! پـه « سين[۶] » کي کښېنـه سي دي يو سي
ادکـــه مـــور دي نستـــه ســي نـــاز دي يـوســي

۲۶

نـاوى! تسپـې در واخـلـــه « لاإلـه » يـا يـه[۷]
لـــه مـور سـره سـي خـې د رب ثـنـاء يـا يـه

---

۱. čičgar ۲. ta : ستا ۳. čiraṣpe: کجاوه ۴. باران ۵. نوده ، لمده
۶. sin : درياب ۷. yāyá: وایه ، ويايه

۲۷

ناوې! ښی[1] ولی دي تخت ده          که پلانی ... ته خدای زوی ورکو

تـاوې تـا[2]تـنـدی دي بـخـت ده

۲۸

نـاوې! تـر سـر دوه بـالښتـه کښېږده

نـاوې! پُـه لېـورو دوه نـومـونـه کښېږده

۲۹

نـاوې! سـتـرګـي مـه وخـورې د ا تـوري

سبـا دي خـوربـښـې ریـچـې در ګـوري

۳۰

نـاوې دي مـوټـر تـوري غـورنـدې[3] دي

نـاوې دي پـلار دي څـه سوې نـارې دي

۳۱

نـن بیـا نـاوې ښـنـه[4] خـالـونـه کښېږده

نـن بیـا پُـه لېـورو نـومـونـه کښېږده

۳۲

نـن بیـا نـاوې کـوړنـکـه کوړنکه[5] کیـږي

پلار ګېنه[6] ورکړې پـه لـمن کي نه ځایږي

---

۱. ṣáy: راسته ، رسته ۲. tā: ستا ۳. ğwárande: چغي بُوغي ۴. شنه

۵. kuṛanga kuṛanga: کړه وړه ، بوکـه بوکه، لکه بوکه ۶. gena:

زېور (Ornament)

## ﴿ و ﴾

﴿۱﴾

وزه وزه ، نـــاوي! وزه وار دِتـــا ده
لــه تــا پــاتــه دي پـلار دېــره دنيـا ده

## ﴿ هـ ﴾

﴿۱﴾

هـوښيـاري[1] نـاوي وكـړو ارمـانـدونـه[2]
کُښل[3] مي نه کړو کنکي[4] ورورک لاسونه

# سرچينه

... زما شخصي يادداښتونه
ـد اروانښاد پروفېسر فيض الله خان ناسر او انجينئر حبيب الله خان ناسر سره ځانګړي مرکې

---

۱. هوشياري ۲ . ارمانونه ۳ . armānduna : مج : kuṣál . ۴ . kanki:
کمکي ، کمکلي ، کوشني ، کوچني ، واړه

# ناسري ګاوڼ

د ګاوڼ بدلي لاندي وې تر خاورو
سيال کاکړ کړې معرفي په اول وار

❁❁❁

دا بدلي جوړي کړي دي ښځمنو
دي خوندي دا په سينوکي د ناسرو

❁❁❁

پښتني فولکلور پسوللی په ډولونو
چي يو ډول يې د ګاوڼ بدلي هم دي

❁❁❁

نوی صنف مي د پښتو دئ پيدا کړی
ويل کيږي په ګاوڼ کي د ناسرو

❁❁❁

يم خوشاله په کالوکي نه ځايږم
چي پيدا مي کړې بدلي د ګاوڼ

❁❁❁

سيال کاکړ پر پله روان خو د نوري دئ
لا به ډيري پانګي زېرمه کړي په ژوند کي

❁❁❁

وايم زه ګوروداني «يوسف ناسر» ته
را ښوولي ده و ماته دا بدلي

❁❁❁

# د ګاوڼ د بدلو پیدایښت

موږ په یقیني ډول نه سو ویلای، چې د ګاوڼ بدلي به څومره زړې وي؟ خو دا خبره یقیني ده، چې د ګاوڼ پر ځانګړو بدلو خورا ډېر کلونه تېر سوي دي. زما په فکر ددې خوندورو بدلو د پیدایښت تاریخ د «اتڼ» و «نارو» ته ورنژدې دئ.

څرګنده دي وي چې د ګاوڼ مخصوصي بدلي د اتڼ تر ختمېدو وروسته د ښځمنو د ناستي په ځانګړي محفل کي ویل کېږي. د ناستي په دغه مخصوص پړاؤ (Stage)، کي چې کومي ځانګړي بدلي ویل کېږي، د ناستي دغه ځانګړی پړاؤ د«ګاوڼ» په نامه یادېږي. د ناسرو ښځمني د ګاوڼ په خوندورو بدلو د ګاوڼ میدان ګرم او خپل ځانګړی محفل تود ساتي.

# د ګاوڼ د بدلو جوړوونکي او ویونکي

د ګاوڼ (gāwaṇ)لغوي معنا هر څه چې وي، وي به، خو په فولکلوري اصطلاح ګاوڼ د ناسري ښځمنو د اتڼ تر ختمېدو وروسته وهغه مخصوصي او ځانګړي ناستي ته ویل کیږي، چې د اتڼ برخه والي ښځمني په میدان کي سره را غونډې سي. او یو ځای ټولي سره کښېني. او بیا وروسته د ګاوڼ د ځانګړو بدلو په ویلو پیل وکړي.

د ګاوڼ خوږې او درنې بدلي ښځمنو جوړي کړي او ددې خیالورو بدلو ویونکي پخپله دوی دي. څه وخت چې ښځمني په اتڼ کي ستړي سي، نو بیا وروسته دوی په میدان کي سره کښېني. او خپل زهیر اوستومانه زړونه د ګاوڼ په خوندورو بدلو هوسا اوخوشاله کړي.

ځرګنده دي وي ، چي وښځمنو ته په ګاوڼ کي دول ډنګيږي .
او يا بيا دوی پخپله دريا وي سره وايي . او د لاسو ځيږي ورسره ټکوي .
په دې ترتيب ښځمني د ګاوڼ په خوږو بدلو د ګاوڼ ميدان تو د ساتي .
په ګاوڼ کي لومړي وار يوه ښځه د ګاوڼ يوه ځانګړې سندره په يو
خاص آهنګ ووايي . او بيا ورروسته نوري ناستي ښځمني له همدې
ښځي سره يو ځای د ګاوڼ «ځانګړی کسر» د کورس په شکل په يو
خاص انداز تکرار وي . په دې ډول ټولي ښځمني د ګاوڼ په خوږو او
خيالورو سندرو ځانونه خوشاله ساتي اوبې سده خوندونه پر اخلي .

# د ګاوڼ بدلي

# د پښتني فولکلور يو ځانګړی ډول تشکيلوي

ګاوڼ (gāwaṇ) د پښتني فولکلور په سمسوره دنيا کي يوه ځانګړې اصطلاح ده . او دغه خورا لرغونې اصطلاح د غلجيو پښتنو د ناسرانو په ښځمنو پوري اړه لري . او پخپله په ګاوڼ پوري ځيني ځانګړي بدلي تړلي دي ، چي د ګاوڼ بدلي بلل کيږي . دغه پخواني بدلي د پښتني فولکلور يو مخصوص او ځانګړی ډول تشکيلوي ، چي ويړه لمن يې په راز راز ښايسته مطالبو پسوللې ده .

ښکاره خبره ده ، چي فولکلور خورا غني او په راز راز فولکلوري ملغلرو پسوللی دئ . اوس چي د پښتني فولکلور په ويړ ميدان کي د ګاوڼ ځانګړي او خوندوري بدلي زموږ لاس ته راغلې ، نو ددې نوو بدلو (بدل های نوين) په پيدا کېدو سره د پښتني فولکلور پر بېلا بيلو ډولونو باندي د يو بل ښايسته

خوندور ، په زړه پوري او ابتکاري صنف زياتوب وسو . نو ځکه خو زه په خوشاله زړه د زريني پانګي و ټولو ويونکو او په تېره بيا د پښتني فولکلور و درنو پلټونکو ته په اخلاصٍ او هسکه غاړه دا وايم چي : زېرى مو د ر باندي ،ګاوڼ او د ګاوڼ بدلي مو مبارک سه .

## د ګاوڼ د بدلو ځانګړی کسر

په ګاوڼ کي ناسري شخمني راز راز بدلي وايي . او دغه لرغوني او رنګيني بدلي خپل يو ځانګړی کسر (kasar)لري . او دغه مخصوص کسر د ګاوڼ و درنو بدلو ته يوخاص خوند او کيف وربخښلی دئ . د ګاوڼ چي څومره بدلي دي ، د همدې لاندي کسر په ملتيا پای ته رسيږي :

نن مي اوربدلي ، دي ليلا د باهو شرنګ ده
سهي ليلا دغه ده سي په غاړه يه لونګ دي

## د ګاوڼ د بدلو ادبي سکښت او تقطيع

د ګاوڼ ځانګړي بدلي د پښتني فولکلور يو خوندور څپرکی او نوی باب تشکيلوي . د پښتو دغه مخصوصي سندري ځانګړی جوړښت لري . د ګاوڼ ټولي بدلي دوه بيتيزه وي ، چي البت دغه په زړه پوري بدلي د يوه ځانګړي کسر په ملتيا ويل کيږي. د ګاوڼ په ځينو بدلو کي لومړی او دوهمه مسری سره هم قافيه وي . البت دربيمه او څلورمه مسری يې بيا آزاده وي . خو د ګاوڼ په ځينو بدلو کي بيا د دغه فني اصول نه مراعات کيږي . دلته د ګاوڼ د ځينو بدلو و تقطيع ته ستاسي نظر را اړوو :

# د ګاونې د دوو بدلو تقطیع

ماول: په غاړه دي تور تاره ده — تاول: تار نه ده تور مار ده

ماول: یار خودي پې وخوړ — تاول: یه دي پاړوکر ده

| | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| ما | ول | په | غا | ړه | دي | تور | تار | ده | ❁ | تا | ول | تار | نه | ده | تور | مار | ده |
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | |
| ما | ول | یار | خو | دي | پې | و | خوړ | ❁ | تا | ول: | یه | دی | پا | ړو | کر | ده | |

ماویل: یاران دي خودي — تاول: یونه ده خلور دي

ماول: کوم یو دي ښاغلی — تاول: تورپه تو یه لنګ ده

| | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| ما | و | یل: | یا | ران | دي | خو | دي | ❁ | تا | ول: | یو | نه | ده | خه | لور | دي |
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ❁ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ |
| ما | ول | کوم | یو | دي | ښا | غه | لی | ❁ | تا | ول: | تور | په | تو | یه | لنګ | ده |

# د ګاوڼ د بدلو ادبي خصوصيات

د ګـاوڼ بـدلـي پـه ډيـرو ادبـي خصوصيـاتو پسولـلـي دي، چي‌ددې پخوانی بدلو ځيني ښېګړي دلته په لنډ ډول وړاندي کيږي:

۞ ... د ګاو ڼ ځانګړي بدلـي د ناسرو په سوچه او خالصه پښتو کي جوړيږي.

۞ ... ددې خوندوري بدلو ژبه ساده، روانه او په زړه پوري ده.

۞ ... د ګـاوڼ بـدلـي د پښتو د خـونـدورو محـاوراتو، درنو خيـالاتو او نازکو تشبيهاتو ښکارندوی دي.

۞ ... د ګاوڼ په بدلو کي د پښتو ډېر نادراو نايابه لغات خوندي سوي دي.

# د ګاوڼ بدلي لټون غواړي

د ګـاوڼ بـدلـي تر خـاورو لانـدي يوه پټه خزانه ده. دغه ورکه خزانه لټون غواړي. د پښتني فولکلور دغه قيمتي سرمايه به چيري... او د چا ... و چا ... په سينو کي خوندي پراته وي؟ اوس چي د ګاوڼ بـدلـي بېخـي نـايـابـه او د ورکېدو پـه حـال کـي دي، نو په لـره او بره پښتونخوا کي د پښتني فولکلوړ شيدايان بايد خپله دغه بادي پانګه له ورکېدو څخه وژغوري.

زه لـه ډېره وخته د ګاوڼ په ځانګړو بدلو پسې سر ګردان يم. خو هغه د چا خبره: «جوينده يـا بـنـده» پـه مصداق بالآخره وماته د ګاوڼ يو شمېر خـونـدوري او په زړه پوري بدلي په لاس راغلې، چي زمـا د څېړنـي پـه پـای کـي بـه و تـاسي تـه د يوه خورا درانـه فولکلوري سوغات په ډول وړاندي سي. که خدای کول د «نيک آغاز نيک انجام» پـه مصداق به د ګاوڼ په ځانګړو بدلو پسي زمونږ لټون جاري وي. او د

خپل زيار په نتيجه کي به ډېر څه زموږ لاس ته راسي . ما د ګاوڼ د بدلو پوخ بنياد (base)کښېښوو. او که خدای کول ، د نوي کهول باشعوره اديبان به زما پردې پاخه بنياد باندي د ګاوڼ د ځانګړو بدلو و پيل کړي آغاز ته ادامه ورکړي . او زما پر دې ايښي بنياد باندي به دوی د ګاوڼ د خوندورو بدلو يو هسکه او شانداره فولکلوري ماڼۍ ودروي.

# د لومړيتوب وياړ

هسي خو د ناسري ګاوڼ ځانګړي بدلي له پخوا زمانې څخه د ښځمنو په امانتداره سينو کي خوندي پرتې وې ، خو په لويه تاريخي پښتونخوا کي ترما وړاندي د کراني پښتو يو بل بختور ليکوال پر دې پټه خزانه ( ګنجينهٔ پنهان : Hidden Treasure) باندي پښې نه سو .

خو زه خپل ځان خورا بختور بولم ، چي د پښتني فولکلور په ويړه او سمسوره دنياکي مي لومړی وار ناسري ګاوڼ (Nāsári gāwaṇ)په خوندور انداز څېړلی دئ . او په ګاوڼ پوري مربوطي بدلي مي په اول ځل په ادبوالو پېژندلي دي . او دا چي د ګاوڼ مخصوصي بدلي د پښتني فولکلور يو ځانګړی ډول تشکيلوي ، نو د پښتني فولکلور دغه نا معلومه صنف (Un known kind)لومړی وار ما ( خاوري سيال کاکړ ) په ادبوالو وپېژاند .

په دې ډول د پښتني فولکلور په زرغونه او سمسوره دنيا کي د لومړيتوب وياړ زما په نصيب سو . که خدای کول ، د پښتني فولکلور په ويړه ميدان کي به زما کړندۍ هڅي جاري وي ، چي د پښتو د عاميانه ادب ځيني نور... ناپېژندلي او ورک ډولونه په ادبوالو وپېژنم.

# د پروفیسر محمد یوسف ناسر څخه



یو جهان مننه

**پروفیسر محمد یوسف ناسر د سُرخاب خان زوی او د حیات خان ملېزي ناسر لمسی دئ . زموږ دغه تقریباً ۶۷ کلن ورور د بوري په «سانکوړی ناسران» نومي کلي کي دې نړاندي دنیا ته راغلئ . نوموړي خپل ابتدایي زده کړه په سانکوړی ناسران ، بوري او لوړ تحصیلات یې په کوټه کي پای ته رسولي دي . دی د اردو متقاعد پروفیسر دئ . او دا وخت په کوټه کي په شرافت خپل پاته ژوند تېر وي .**

**ما تقریباً یوولس کاله وړاندي په بوري کي د ګران یوسف ناسر څخه د « ګاون» د « څانګړو بدلو » په باره کي پوښتنه کړې وه ، چي نوموړي هغه وخت و ماته د ګاوڼ «څانګړی کسر » او د ګاوڼ یوه بدله را ښوولې وه . خوله بده مرغه دغه دواړه فولکلوري نمونې له ماڅخه بې ځایه سولې . خو بیا هم د ګاوڼ په بدلو پسې زما هڅې جاري وې .**

**بالآخره د ۲۰۱۲ میلادي کال د جنوري پر ۹ نېټه د کوټې په سورجګنج بازار کي ښاغلی یوسف ناسر ولید . او خپل زوړ ادبي پور مي ور په یاد کړ . نوموړي په همدغه ورځ یو وار بیا و ماته د ګاوڼ هغه « ورک کسر » او د ګاوڼ د « ورکي بدلي » په ملتیا را ولیکل . ډېر**

په خوشاله سوم ، چي خپله «ورکه خزانه» یو وار بیا لاس ته راغله .

البت ما د جناب پروفسر محمد یوسف ناسر څخه د کاوڼ د ځینو نورو بدلو د پلټولو او پیدا کولو غوښتنه وکړه . له ښه مرغه پروفېسر ناسر پخپل ور سپارل سوي کار کي بریالی سو . او نوموړي ورور زما په تش فولکلوري کچکول کي په خورا اخلاص او پښتني مینه د کاوڼ ځیني نوري ... خوندوري نمونې را واچولې ، چي دلته د پښتني فولکلور و درنو پلټونکو او ویونکو ته د یوه خورا درانه سوغات په ډول د نوموړي پروفېسر په مننه وړاندي کیږي . زه د زړه له کومي پروفېسر محمد یوسف خان ناسر ته کور ودانی وایم ، چي په کامل اخلاص یې و ماته د کاوڼ دغه ځیني بېخي نایابه بدلي په لاس راکړې. یو وار یې بیا کور ودان . او ژوند یې نیکمرغه او هوسا .

تاسي د کاوڼ دغه خوندوري او په زړه پوري بدلي ولولئ.او زما دغه نیمګړی کار نور پر مخ بوزئ .

## د کاوڼ د ځانګړو بدلو ځیني غوره بېلګي

د زرینې پانګي په دې قیمتي برخه کي د کاوڼ د ځانګړو بدلو ځیني خورا په زړه پوري ، خوندوري او غوره نمونې په دې نیت وړاندي کیږي ، چي زموږ ځوانان به زما و دغه نیمګړي کار ته ادامه ورکړي :

❁﴿۱﴾❁

ماول : په غاړه دي تور تاره ده          تاول : تار نه ده تور مار ده

ما ول: یار خودي يې وخوړ          تاول : یـه ، دی پاډوکرده

نن مي اورېدلي ، دي لیلا دي باهو شرنګ ده

سهي لیلا دغه ده سي په غاړه یو لونګ دي

۞﴿۲﴾۞

ماول: په تندي کي دي شين خال ده　　تاول: خال نه ده درياب ده

ماول: يار خودي پې ډوب کو　　تاول: يه، دى لامبوزن ده

نن مي اورېدلي، دي ليلا دي باهو شرنګ ده

سهي ليلا دغه ده سي په غاړه يه لونګ دي

۞﴿۳﴾۞

ماولى: ياران دي څو دي　　تاول: يو نه ده څلور دي

ماول: کوم يو دي ښاغلى　　تاول: تور پټو يه لنګ ده

نن مي اورېدلي، دي ليلا دي باهو شرنګ ده

سهي ليلا دغه ده سي په غاړه يه لونګ دي

۞﴿۴﴾۞

ليلا وخته په منډه　　بيا را څوره سوه په منډه

ماول: زړرى مي دربانذي　　ستا يار سپور نن په کُوړنګ ده

نن مي اورېدلي، دي ليلا دي باهو شرنګ ده

سهي ليلا دغه ده سي په غاړه يه لونګ دي

۞﴿۵﴾۞

ماويل: توره تياره ده　　تاويل: يه، دي غره سايه ده

ماول: کاړه کميس کاړه　　تاول: ښى لستوڼى تنګ ده

نن مي اورېدلي، دي ليلا دي باهو شرنګ ده

سهي ليلا دغه ده سي په غاړه يه لونګ دي

۞﴿۶﴾۞

ليلا تر اوبو باسى　　په کپن يه نينباسي

ليلا خوارې نارې کړې　　سي کپن په سينه تنګ ده

نن مي اورېدلي، دي ليلا دي باهو شرنګ ده

سهي ليلا دغه ده سي په غاړه يه لونک دي

﴿۷﴾

ماويل : يار دي کنکى ده — تاول : هو، دِما نيمى ده

ماول : څه ښه دي پې کيږي — تاول : تول سره ولهم ده

نن مي اورېدلي ، دي ليلا دي باهو شرنک ده

سهي ليلا دغه ده سي په غاړه يه لونک دي

﴿۸﴾

ماول : څه تَپه[1] تياره ده — تاول : دا دي غره سايه ده

ماويل : توره خوته يې — تاول : هو ، تور خو لونک ده

نن مي اورېدلي ، دي ليلا دي باهو شرنک ده

سهي ليلا دغه ده سي په غاړه يه لونک دي

﴿۹﴾

ماويل : پزه دي لو ده — تاول : هو ، چارګل پې[2] جوړ ده

ماول : يار به پې شرميږي — تاول : دی خو پې مين ده

نن مي اورېدلي ، دي ليلا دي باهو شرنک ده

سهي ليلا دغه ده سي په غاړه يه لونک دي

﴿۱۰﴾

ماول : راسه دِما[3] خواته — تاول : کوره ښا وخواته

ماول : څوخيزو[4] پلنګ ته — تاول : پام کوه کړنک ده

نن مي اورېدلي ، دي ليلا دي باهو شرنک ده

سهي ليلا دغه ده سي[5] په غاړه يه لونک دي

---

☆ ... kurang : کُورنګ (kurang) ۱. tiará tápa: توره تياره ، توره خربړه ، تکه (táka) توره تياره ۲. pe: پر ۳. dima : زما ۴ . خيژو ۵. Si : چي ، چې ، څي

# پوهاند سیال کاکړ

**ږیري سپینه په خدمت کي د پښتو سوه**
**پښتانه چیري مني د چا مړانه**

❁ ❁ ❁

**چي تر څو پوري یې پاته یو څه توان وي**
**سیال کاکړ به د« خوشال » ژبه پالینه**

❁ ❁ ❁

❁ **نوم : ولی محمد خان** ❁ **قلمي نوم : سیال کاکړ**

❁ **د پلار نوم : عبد الرحمن خان کاکړ** ❁ **پلارنی کلی : سرانان** Sranan (**پښین** )❁ **د زوکړي کال : ۱۹۳۵ م**

❁ د پخوانیو نیکه ګانو ټاټوبی : **چینجن ( لرغونی او تاریخي کاکړستان )** ❁ **د پلار له خوا په خته : ادک زیی ، میر داد زیی ، نتل زیی ، ښادي زیی ، لقمان زیی ، ابراهیم زیی ، ښادوزیی ، علی زیی او په لوی سر کی سنځرخېل کاکړ.** د مور له خوا په خته : **ګوري** (Gaoray) **، غفورزی ، سینزی ، مندېڼ ، علی زی ، ملوني ، بابو ، او په لوی سر کي تور ترین**

❁ **مورنی کلی : منځکی ( پښین )**

❁ **تحصیلات : ایم . اې ( پارسي ، پښتو ، اردو ) او بي . ایډ**

❁ **د زده کړي ځایونه : سرانان ، پښین ، پېښور ، لایلپور ( فیصل آباد) او لاهور**

❁ **زده ژبي : پښتو ، پارسي ، ارئو ، براهوی ، انګلیسي او پنجابي.**

❁ **د لیک ابتداء : له ۱۹۵۹ میلادي کال څخه**

❁ **لیکني : په پښتو ، پارسي او اردو**

۞......په پښتو ادب کې د ليکوال معنوي استاذان :
۞......لوي استاد علامه پوهانه عبد الحی حبيبی ۞......فاضل استاد حضرت گل باچا الفت ۞...... علامه پوهاند عبد الشکور رشاد ۞......فاضل استاد عبد الرؤف خان بېنوا ۞......لوی فولکلوريسټ استاد محمد گل خان نوري ۞...... شمس الادباء جناب استاد حبيب الله رفيع
د ليکوال په ذهني روزنه کې د ځينو نورو استاذانو نقش:
۞......محمد بُوټا ۞......مولوي علي محمد ۞...... پروفېسر خليل صديقي ۞...... پروفېسر آغا صادق حسين نقوي ۞...... او پروفېسر ډاکټر محمد انعام الحق کوثر ۞...... رسمي شغل : متقاعد ( Retired ) پروفېسر / پرنسپل ( BPS-20 ) گورنمنټ ډگري کالج لورالايي او پخواني چئېرمين (Departmnt of languages) بلوچستان پوهنتون کوټه .
۞...... د درس و تدريس ابتداء : لـه ۵/ ۱ اکتوبر ۱۹۶۴ ميلادی کال څخه
۞......تقاعد: ( Retirement ): ۱۴ اگست ۲۰۰۰ م کال .
۞......واده : ۲/ اکتوبر ۱۹۶۷ م
اولادونه : زامن : ۞...... ميرويس خان کاکړ ۞...... ايمل خان کاکړ ۞...... لوڼي : عاليه کاکړه ۞...... ملاله کاکړه ۞...... آريانا کاکړه ۞...... او زرغونه کاکړه لمسيان: ۞......سيدال خان کاکړ ۞...... خوشحال خان کاکړ ۞...... زرک خان کاکړ۞...... دريا خان کاکړ ۞...... ابدال خان کاکړ لمسياني:۞...... : مروه کاکړه ۞...... صفا کاکړه.
د کورآدرس : هاؤس نمبر : ۱- سی / آر چمن هاؤسنگ سوسايټي ، ائير پورټ کوټه
۞...... ټيليفون : 2841058 -081 موبائيل نمبر :0336-8108482

## ❁ چاپ آثار ❁

سیال کاکړ همېشه د قلم حرمت په نظر کي نیولی او تل یې ګرانه پښتو د تن په وینو پاللې ده .اوتر دا وخته پوري چي یې څومره لیکني کړي دي ، ټولي یې په خورا اخلاص ، پښتني احساس او د ملي مینې په پاکه جذبه و درنو پښتنو او ښاغلو ویونکو ته وړاندي کړي دي . تـر دا وختــه پـوري د لیـکـوال دا لانـدي نیمګـړي آثـار د علم و ادب و سمسوري او ابدي دنیا ته وړاندي سوي دي :

۱. غاړي ۲. پښتني افکار ۳. سپېڅلي ګایونه ۴. چغیان ۵. ګراني ملغلري ۶. پښتني جام ۷. پښتني فولکلور ۸. ملي دردونه ۹. غورځنګ ۱۰ . کاکړۍ ۱۱ . ترینو ۱۲ ملي ادب ۱۳ مزارات ۱۴. د کسي د لمني ، پښتو ژورنالیزم ۱۵. پښتني نومونه ۱۶ . پښتو مترادفات ۱۷. فولکلوري طب ۱۸. ادبي څېرې ۱۹. د کسي د لمني ، پښتانه لیکوال ( دوه ټوکه ) ۲۰ . پښتو او پښتانه په سهېلي پښتونخوا کي ( دوه ټوکه ) ۲۱ . فولکلوري سوغات ۲۲ . فولکلوري سندري ۲۳ . پښتو نکلونه ۲۴ . فولکلوري جواهر ۲۵. د کوشنیانو ادب ۲۶ . د کوشنیانو ژبه ۲۷. انګۍ ۲۸ . منظومه تذکره ۲۹. ادبي انځور ۳۰. سنګر ۳۱ . کاکړي ۳۲ . نثري انځور ۳۳ . پخوانۍ غاړي ۳۴ . غوره انځور ۳۵. ګنجینۀ دب پارسي ۳۶ . خزینهٔ دانش ۳۷ . زرین انځور ۳۸. فونکلوري انځور ۳۹ او همدغه نیمګړی زیار . البت که چیري ژوند وفا ورسره وکړه، نو لیکوال بـه پخپل ژوند کي یو شمېر نور ناچاپ کتابونه دعلم و ادب وسمسوري دنیا او دقلم وخاوندانو ته وړاندي کړي .

و من الله التوفیق.

په درناوي

افغان څېړنیز مرکز،کوټه

۲۸ / ۲ / ۲۰۱۲م

# ZAREENI PĀNGI

## COLLECTION AND PROPER INTRODUCTION OF DIFFERENT KINDS OF PASHTO FOLKLORE



*By:*

*Prof. Syal Kākaṛ*

**Published By:**

**AFGHAN RESEARCH CENTRE,**

*QUETTA*

MARCH, 2012

Download from:aghalibrary.com